

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب اصلي عنوان: وا اسلاماه!

لیکوال: علی احمد باکثیر

ژباړن: اجمل هېوادمل

چاپ ګڼه: اول ډیجیټل

د خپریدو نیټه: ۰۱/۱۲/۱۴۰۴ ه ش

د اړیکو شماره: +93776593562

سرچینه : قلم کتابتون www.qalamlib.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فهرست

د ژباړن سریزه: ........ 6
د لیکوال سریزه: ........ 7
لومړی څپرکی: ........ 7
دویم څپرکی: ........ 13
دریم فصل: ........ 26
پنځم فصل: ........ 67
شپږم فصل: ........ 76
اووم فصل: ........ 85
اتم څپرکی: ........ 98
نهم څپرکی: ........ 115
لسم فصل: ........ 123
یوولسم څپرکی: ........ 142
دولسم فصل: ........ 165
دیارلسم فصل: ........ 170
څوارلسم څپرکی: ........ 190
پنځلسم څپرکی: ........ 207
شپاړسم څپرکی: ........ 209

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



» قُلْ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوٰنُكُمْ وَأَزْوٰجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوٰلٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجٰرَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٍ فِى سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُوا حَتّٰى يَأْتِىَ اللَّهُ بِأَمْرِهِۦۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْفٰسِقِينَ«

[اې پېغمبره (ص)!] ووايه: «که ستاسي پلرونه، ستاسي زامن، ستاسي ورونه، ستاسي ميرمنې، ستاسي خپل خپلوان، ستاسي هغه مالونه چي ګټلي مو دي، ستاسي هغه تجارت چي د هغه په ورانېدو اندېښمن کېږئ او ستاسي د خوښي کورونه؛ تاسي ته له الله او د هغه له پېغمبر او د هغه په لار کښي له جهاد څخه ګران وي، نو انتظار وباسئ تر دې پوري چي الله خپله فېصله ستاسي مخي ته راولي. او الله فاسقانو ته لارښوونه نه کوي.» [سُوۡرَةُ التّوبَة : 24]

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژباړن سریزه:

وا اسلاماه: د ننګ او غیرت داستان:

کله چې د تاتاریانو سېلاب د اسلامي نړۍ ښارونه یو په بل پسې لاندې کول او د عباسي خلافت برم په وینو کې رنګ و، د تاریخ له تیارو څخه یو غږ پورته شو: «وا اسلاماه!»؟).

دا ناول د هغو اتلانو کیسه کوي چې له مریتوب څخه تر پاچاهۍ او له ماتې څخه تر سترې بریا پورې ورسېدل. په دې کتاب کې تاسو د محمود (سیف الدین قطز) او جهاد (ګلنار) د پاکې مینې، هجرت او سربښندنې داسې صحنې ګورئ چې د هر مسلمان احساسات راپاروي.

**ولې دا ناول باید ولولو؟**

* تاریخي حقیقت: د عین جالوت د هغې تاریخي جګړې انځورګري چې د نړۍ برخلیک یې بدل کړ.

* جذبه او ایمان: دا کتاب درته ښیي چې کله ایمان له تورې سره یو ځای شي، نو هیڅ ځواک یې مخه نشي نیولی.

* ادبي خوند: د لیکوال (علي احمد باکثیر) جادویي قلم داسې صحنې انځور کړې چې لوستونکی ځان د پېښو په منځ کې احساسوي.

دا د هغو کسانو لپاره یو الهام ښونکی سفر دی چې غواړي د خپلو اسلافو په مېړانه او د اسلام په ریښتیني عظمت ځان پوه کړي.

اجمل هېوادمل

پکتیا -ګردیز-ابراهیم خیل

(c) ketabton.com: The Digital Library

وا اسلاماه

## د ليکوال سريزه:

دا کيسه د «مصر» د تاريخ يوه له ځلېدونکو پاڼو څخه ده، چې د دغې خاورې تر ټولو د ښېښنو ډکې، عبرتناکې او حاصلخېزې دورې پورې اړه لري. لوستونکی به په دې کيسه کې مسلمانان ووينې چې د بريدګرو د تورو د کړنګا له امله ( له ختيځ څخه د مغوليانو او له لويديځ څخه د صليبيانو) له خپل اورده خوب څخه راويښېږي او د خپلو ډېرو قيمتي ديني او دنيوي ميراثونو دفاع ته ملتې رابدوهي.

د خدای پاک اراده داسې وه چې «مصر» به د دغه ستر جهاد بيرغوال وي. مصر د اسلام ستر ميراث په دوو برخليک ټاکونکو جګړو کې خوندي کړ: يوه په «فارسکور» کې له صليبيانو سره جګړه او بله په «عين جالوت» کې له مغوليانو سره جګړه.

د دغو جګړو اتل، مظفر الدين قطز، په خپلې پاکۍ، عدالت، مېړانې، زغم، صبر، وفادارۍ، سرښندنې، ارادې، هوډ، کارپوهنې او اخلاص سره د يو اصلاح غوښتونکي حاکم او کامل انسان غوره بېلګه ده.

دا برياوې د دې څرګند ثبوت دی چې په دغه مهربان ملت کې، چې د نيل سيند پر غاړو ژوند کوي، داسې يو پټ ځواک شتون لري چې که څوک وکولای شي هغه په ښه توګه راويښ او په سمه توګه يې وکاروي، نو حيرانوونکې کارنامې او معجزې رامنځته کولای شي.

باکثير

## لومړی څپرکی:

يوه شپه، سلطان جلال الدين له خپل د تره زوی او اوښې، شهزاده ممدود سره د «غزنې» په ماڼۍ کې په شطرنج لوبه بوخت و، ده وويل: «خدای دې زما پلار وبښي او رحم دې پرې وکړي! نه پوهېږم ولې يې وحشي مغل قبايل په خپل حال پرېښودل چې هماغسې د «چين» په غرونو او درو کې سرګردانه پاتې شوي وای او زموږ او د هغوی ترمنځ په کيلو مترو واټن وای.»

ممدود ورته يو نظر وکتل او پوه شو چې جلال الدين غواړي د شطرنج مهرې ټولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، نو ويې ويل: «هو زما سروره! زما تره د مغل قبايلو له پارولو څخه کومه پايله ترلاسه نه کړه؛ خو موږ بايد هغه تر حده زيات ملامت نه کړو، ځکه هغه ــرحمه اللهــ د خپل وخت تر ټولو ستر او ځواکمن پاچا وه او تر ټولو پراخ هېواد خاوند و. هغه اړ و چې خپله هېوادنۍ خاوره پراخه کړي ترڅو د سرتېرو او لښکرو ګڼ شمېر يې بېکاره پاتې نشي، نو غوره يې وګڼله چې دا پراختيا په داسې سيمه کې وي چې تر اوسه اسلام هلته نه دی رسيدلی، ترڅو له دې لارې هم خپلې دنيا ته خدمت وکړي او هېواد پراخ کړي او هم خپل دين، او اسلام د نړۍ تر ټولو ليرې پرتو سيمو پورې خپور کړي.»

جلال الدين، چې يوې ځپونکې غم او اندېښنې يې څېره نيولې وه، ممدود ته مخ ور واړاوه او ويې ويل: «وګوره، تره له دې کاره يې څه پايله ترلاسه کړه؟ هغه په دې کار سره د خپل قلمرو لويه برخه له لاسه ورکړه او د اسلام خاوره يې د مشرکو مغلو د طوفاني بريدونو نښه وګرځوله.»

«دا وحشيان هر ښار ته چې ننوځي، هغه ورانوي او وچ او لانده (هر څه) يوځای سوځوي؛ هر ملت ته چې ورسيږي، سرې يې وژني، ماشومان يې حلالوي، د اميندواره ښځو خېټې څيرې کوي او پر نجونو او ښځو تېری کوي.»

دلته ژړا جلال الدين ته مهلت ورنکړ چې خپلو خبرو ته دوام ورکړي. ممدود پوه شو چې د هغه په ذهن کې څه تېرېږي، هغه هم له جلال الدين سره يوځای شو او دواړو په ګډه وژړل. هغوی د کومې کوچنۍ خبرې لپاره نه ژړل؛ هغوی د خوارزمشاه د کورنۍ د ښځو په ياد کې ژړل، چې د خوارزمشاه مور او خويندې هم پکې وې. کله چې خوارزمشاه پوه شو چې ماته يې يقيني ده، هغوی يې له خپلو مالونو او خزانو سره له «رې» څخه «غزني» ته ولېږلو ترڅو له جلال الدين سره يوځای شي، خو مغل پر دې موضوع خبر شول، تعقيب يې کړل او په لاره کې يې ونيولو له مالونو او خزانو سره يې سمرقند ته، چې د چنګيز خان مرکز و، ولېږل.

جلال الدين خپلې اوښکې د لاس په ورغوي پاکې کړې، له زړه نه يې يو سوړ اسويلی وايست او ويې ويل: «په دنيا کې زموږ له مصيبت څخه بل ستر مصيبت نشته؛ دا څنګه کېدای شي چې د خوارزمشاه مور او خويندې چې د عزت او پاکلمنۍ نښې وې، د مغلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



طاغوتي دربار ته بوتلل شي؟ هره غميزه د زغم وړ ده، خو دا غميزه د زغم نده! د ترکان خاتون (د سلطان مور) له نشتوالي وروسته ژوند نور په څه درد خوري؟ خدایه، هغوی به اوس څه کوي؟ د هغو وحشیانو په منځ کې به څنګه ژوند کوي؟ کاشکې زما پلار هغوی په خپلو لاسونو وژلې وای، یا یې ژوندۍ په خاورو منډلي وای او یا یې سمندر ته اچولې وای، ترڅو د مغلو په اسارت کې نه وای لوېدلي او داسې نه وای ذلیلې شوې. زه فکر کوم پلار مې د هغوی له غمه په "آبسکون" ټاپو کې مړ شو.»

«ای ممدوده!ایا دا ممکنه ده؟. ایا وروسته له هغې چې هغوی ټول خراسان(اوسنی افغانستان) ونیو، "رې" ته ننوتل، "همدان" یې لاندې کړ، "زنجان" او "قزوین" یې تالا کړل او "سمرقند" یې د خپلې قوماندې د مرکز په توګه وټاکه او له هغه ځایه خپل لښکر او سرتېري هر لوري ته استوي، ته بیا هم هیله لرې چې موږ به په خپلو تورو پر هغوی بریالي شو او له خپلې خاورې به یې وباسو؟ زما پلار په "بخارا" کې شل زره سپاره سرتېري لرل، پنځوس زره په "سمرقند" کې او څو چنده نور ورسره وو، خو هیڅ یې ونشو کړای. زما پلار په هغه مېړانې، زړورتیا، نفوذ او ځواک سره (مات شو)! ایا ته ګومان کوې چې زه، چې له هر پلوه له خپل پلار څخه ټیټ یم، څه کولی شم؟ سربېره پر دې، مغل ورځ تر بلې پیاوړي کیږي او ښارونه یو په بل پسې نیسي.»

ممدود د جلال الدین د روحیې پیاوړې کولو په خاطر وویل: «ته د خوارزمشاه زوی یې، ته د تاج او تخت وارث او د هغه ځای ناستی یې؛ ته باید د دښمنانو په ماتولو او د خپل ملت له خاورې د هغوی په شړلو کې ناهیلی نشې. د جګړې بریا او ماتې ستا د پلار او هغوی ترمنځ لاس په لاس کېدله؛ یو ځل به ستا پلار هغوی ته ماتې ورکوله او بل ځل به هغوی دی مغلوب کاوه، تر دې چې مرګ ورته راغی او د خدای رضا دا وه چې په یوې لیرې پرتې ټاپو کې شهید شي؛ خو د هغه موخې نه دي مړې شوې، ځکه ته یې تعقیبوې. څوک پوهیږي، ښایي خدای ستا په وسیله اسلام او مسلمانانو ته بریا ورکړي او دښمنان ستا په لاس له منځه یوسي.»

جلال الدین وویل«خلیفه، پاچاهان او د مسلمانانو امیران په بغداد، مصر او شام کې پوهیږي چې مغلو زموږ پر خاوره څه حال راوړی دی. زما پلار په وار وار له هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه د مرستې غوښتنه وکړه، خو هغوی یې مرستې ته رانغلل او خبرو ته یې غوږ ونه نیوه؛ نو پرېږده چې هغوی هم هغه تریخ خوند وڅکي چې موږ له مغلو څخه وڅکلو. زه یوازې له هغو ښارونو ځخه د مغلو شر دفع کوم چې له پلاره راپاتې دي او اجازه نه ورکوم چې ویې نیسي.»

ممدود ورته وویل «په مصر او شام کې د مسلمانانو پاچاهان او امیران د صلیبیانو د بریدونو په ځوابولو بوخت دي. د هغوی خطر د اسلامي ځمکو لپاره د مغلو له خطر څخه کم نه دی؛ هغوی د مغلو په څېر وحشي او بې رحمه دي او سربېره پر دې، هغوی له ویجاړونکي دیني تعصب څخه برخمن دي. بل خوا هغوی یوازې د اسلامي خاورې پر پولو بریدونه نه کوي، بلکې د اسلامي نړۍ پر زړه (مرکز) باندې تالا ګډوي.»

– جلال الدین ورته وویل: «هغه څه چې تا وویل، د صلاح الدین ایوبي او د هغه د استاد نورالدین دورې ته اړوند دي؛ هغه پاچاهان چې تر دوی دواړو وروسته یې په مصر او شام کې واک په لاس کې اخیستی، د یو بل پر وړاندې په جګړو او دسیسو بوخت دي او هیڅ یو یې پروا نه لري چې د خپل مسلمان سیال پر وړاندې له صلیبیانو څخه مرسته وغواړي. په خدای قسم! که مغل نه وای، ما به پر دې خاینانو سلاطینو برید کړی وای، سرونه به مې ترې غوڅ کړي وای، د مسلمانانو خاوره به مې د هغوی له ناپاکه شتون څخه پاکه کړې وای او د خپل پلار غچ به مې ترې اخیستی وای – زما هغه پلار چې له هغوی یې مرسته وغوښته خو هغوی یې مرستې ته را ونه دانګل.»

–ممدود ورته وویل «ته له هغوی سره څه کار لرې؟ د هغوی حساب خدای ته وسپاره؛ ښایي خدای د اسلامي نړۍ په ختیځ کې ستا او ستا له شهید پلار ځخه داسې کسان جوړ کړي لکه نورالدین او صلاح الدین چې د اسلامي نړۍ په لویدیځ کې وو. نو پاڅېږه چې مخکې له دې چې هغوی (مغل) موږ ته راورسیږي، موږ پرې برید وکړو.»

– جلال الدین وویل«ما درته وویل چې زه د خپل هېواد د پولو ساتنه کوم او نه پرېږدم چې هغوی ورته ننږدې شي، له دې لارې به هغوی اړ کړم چې زما هېواد پرېږدي او لویدیځ ته مخه کړي؛ یعنې هماغه ځای ته چې د اسلام ویده پاچاهان پکې پراته دي.»

– ممدود ځواب ورکړ«که هغوی ستا پر هېواد برید وکړي، ته یې هیڅکله ساتنه نشې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولی؛ ته باید د هغوی په لور ورشې او په سلګونو واټنه لیرې ورسره مخامخ شې. که خدای پر هغوی بریالی کړې، نو ډېره ښه ده، او که داسې ونشول، نو هېواد دې شته چې ورته راوګرځې او بیا اړین چمتووالی ونیسې. سربېره پر دې، چنګیز خان به هیڅکله د لویدیځ لوري ته لاړ نشي او عراق او شام ته به پام ونه کړي، ترڅو چې د ختیځ کار یې یوې خواته کړی نه وي او د خوارزمشاه ټول هېوادونه یې نیولي نه وي.»
جلال الدین یوه تریخه چوپتیا غوره کړه؛ هغه پرله پسې خپله تندی په لاس مښه، ته به وایې په مغزو کې یې خپله رایه او د خپل تره د زوی رایه تلله او راتلله. بیا یې سر راپورته کړ او ویې ویل: «خدای دې ما ستا له سمې رایې (مشورې) څخه نه بې برخې کوي؛ دومره دې راسره بحث وکړ چې قانع دې کړم. اوس زه ستا نظر تاییدوم او هغه په کار اچوم (اجرا کوم یې). زما لپاره همدا بس ده چې ته په دې مهم کار کې زما ښی لاس یې.»

ممدود ځواب ورکړ«ګران د تره زویه! زه به ستا په لاس کې د ګوتې په څېر ستا په واک کې یم او ستا په دفاع کې وژل کېدل ماته ستر ویاړ دی.»
– (جلال الدین وویل:) «تا ماته له دې خلکو سره له جګړې پرته بله لاره پاتې نه کړه، خدای دې زما پر پلار رحم وکړي! داسې یو هېواد یې راته په میراث پرېښود چې هیڅ حسادت پرې نه کېږي (یعنې په ډېر بد حالت کې دی).»
نور نو شپه نیمه شوې وه، ممدود پوه شو چې وخت رارسېدلی چې خپلې ماڼۍ ته لاړ شي ترڅو جلال الدین استراحت وکړي. هغه د شطرنج مهرې په هغه زرین صندوق کې چې په جواهراتو سینګار شوی و، کېښودې او هغه یې بیا په بل صندوق کې چې له ابنوس لرګي څخه جوړ شوی و او د فیل غاښونه پکې کارول شوي وو، کېښود. له خپل ځای څخه پاڅېد، د جلال الدین تندی یې ښکل کړ او د تلو اجازه یې وغوښته. جلال الدین غوښتل چې خپل ملګری د باغ تر پایه بدرګه کړي؛ هغه باغ چې د ده د ماڼۍ او هغې ماڼۍ ترمنځ و چې ممدود او کورنۍ یې پکې اوسېدلو.
ممدود وغوښتل چې هغه له دې کاره وګرځوي، نو ورته یې وویل: «ګران د تره زویه! ته خوب ته اړتیا لرې ترڅو سبا په پوره ځواک سره خپل کار پیل کړې.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلال الدین په ځواب کې ورته وویل: «پرېږده چې لږ په باغ کې درسره وګرځم، پاکه هوا یې تنفس کړم او په دې رنه سپوږمۍ کې د باغ له ښکلا څخه خوند واخلم؛ څوک پوهېږي، ښايي د سپوږمۍ پوره کړۍ (بدرۍ) بیا په دې باغ کې پر ما ونه ځلېږي؟» ممدود د جلال الدین لاس ونیو او په داسې حال کې چې ورسره له مرمرینو زینو (پوړیو) څخه کښته کېده، ویې ویل: «زما سروره! خدای دې ستا ماڼۍ ستا په شتون سره تل زرغونه او ودانه لري.»

کله چې دالان ته ورسېدل، ساتونکي یې په دندو بوخت ولیدل، جلال الدین هغوی ته اشاره وکړه چې په خپلو ځایونو کې پاتې شي او له ممدود سره باغ ته ننووت. هغوی په هغو لارو روان شول چې په ژېړو شګو فرش شوې وې او د ونو له منځه تېرېدې.

جلال الدین له څو ورځو راهیسې خپله خور، جهان خاتون، نه وه لیدلې، نو له خاوند (ممدود) څخه یې د هغې احوال وپوښت. ممدود په ځواب کې وویل: «هغه د خدای د فضل او ستا د لورینې په سیوري کې روغه جوړه ده، یوازې د امیندوارۍ د بار درونډوالي (تکلیف) ستاسو حضور ته د هغې د راتلو مخه نیولې ده.»

– «هو... خدای پر هغې او زما پر مېرمن عایشه خاتون باندې لورینه کړې ده، دواړه د امیندوارۍ په نهمه میاشت کې دي. زما سلام ورته ورسوه، شاید سبا وکولی شم تاسو ووینم – ان شاء الله.»

– «زما سروره! ستاسو د هرکلي سعادت به ترلاسه کړم.»

– «ښه، نو نور ستا ماڼۍ ته ورسېدو.»

– «زه نشم کولی تا یوازې پرېږدم چې خپلې ماڼۍ ته بېرته لاړ شي، لکه څنګه چې تا زه تر خپلې ماڼۍ راوستلم، زه هم باید تا تر خپلې ماڼۍ بدرګه کړم.»

جلال الدین له هغه مننه وکړه او دی یې له دې کاره معاف کړ، خو ممدود ونه منله او له هماغې لارې چې راغلي وو بېرته وګرځېدل، ترڅو د ماڼۍ دالان ته ورسېدل چې ساتونکي یې خبردار ولاړ وو. جلال الدین په مسکا سره وویل: «ممدوده! ایا کولی شم (بیا) تا تر خپلې ماڼۍ بدرګه کړم؟»

ممدود وخندل او ویې ویل: «په دې صورت کې به ټوله شپه په باغ کې په تلو ار راتلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا کړو.»

بیا ممدود له هغه سره خدای پاماني وکړه او خپلي مانۍ ته ستون شو.

## دویم څپرکی:

جلال الدین له هغي شپې راهیسي چي له ځان سره یي تړون وکړ چي د مغلو سره د جګړې لپاره اړین چمتووالی ونیسي، هوساینه او ارامتیا یي په بشپړ ډول پر ځان حرامه کړه. هغه نږدې یوه میاشت د پوځي ځواکونو په سمبالولو، د جنګي وسایلو په چمتو کولو، د ښارونو د دېوالونو او برجونو په پیاوړي کولو او د مغلو د تګ په لاره کې د کلاګانو او سنګرونو په جوړولو بوخت و. د هغه اوښی ممدود هم په دې برخه کې د هغه نه ستړی کېدونکی ملګری او همکار و؛ او کله چي له هر پلوه ډاډه شو، نو د جګړې لپاره یي ټاکلې ورځ مشخصه کړه.

جلال الدین هم د خپل وخت د ډېری پاچاهانو په څېر له ستورپوهنې (نجوم) سره مینه لرله او هرکله به یي چي د کوم مهم کار پرېکړه کوله، د دربار له نجومیانو سره به یي مشوره کوله. کله یي چي وغوښتل د مغلو په لور حرکت وکړي، خپل ځانګړی نجوم یي راوغوښت او ورته ویې ویل چي د ده طالع وګوري. نجوم ورته وویل: «زما سروره! ته به مغلو ته ماتې ورکړې او هغوی به تاته ماتې درکړي؛ او ډېر ژر به ستاسو په کورنۍ کې یو هلک وزېږي چي په راتلونکي کې به د سترو هېوادونو واکمن شي او مغل به وځپي او ماتې به ورکړي.»

جلال الدین وویل: «دا څه وایي؟ مغل ماته ماتې راکوي او بیا زه هغوی مغلوبوم؟»

نجومی شېبه چوپ پاتې شو، ته به وایې له خپلو خبرو وېرېږي، او په پای کې یي ورته وویل: «زما سروره! بلکې (داسي ده چي) ته به هغوی ته ماتې ورکړې او هغوی به تاته ماتې درکړي.»

امیر ممدود هم په دې منځ کې ناست و، هغه پوه شو چي د نجومی خبرو جلال الدین اندېښمن کړی دی او وېرېږد چي هسې نه هغه له خپلې پرېکړې واوړي؛ نو نجومی ته یي مخ کړ او ویې ویل: «ای سړیه! له خدایه پرته هیڅوک د غیب له اسرارو خبر نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، مور ته يوازې د دې لپاره راوستلی يې چې پاچا ته زېری ورکړې، نه دا چې ويې ډار کړي؛ سربېره پر دې، پاچا هم داسې څوک نه دی چې ستا له وړاندوينو ووېرېږي.»

امير ممدود د نجومي وړاندوينو ته په پاملرنه کې له جلال الدين څخه کم نه و؛ خو ده له بدګومانی او د هغه په خبرو د نه باور له زاويې ورته کتل. هغه لا هم نه و برياله شوی چې هغه وسوسې له خپل زړه وباسي چې پرې ولکه يې کړې وه. دې عجيبه فکر شپه او ورځ بوخت ساتلی و، تر دې چې په تنګ شو او نور يې ونشو کړای چې ځان کنټرول کړي او دا خبره پټه وساتي؛ نو خپله مېرمن جهان خاتون ته يې کيسه وکړه او هغه يې د نجومي له وړاندوينو خبره کړه. ورته ويې ويل چې دی په خپل کور کې د زوی له پيدا کېدو او د جلال الدين د مېرمنې، عايشه خاتون، له خوا د نجلۍ له زېږېدو څخه وېره لري. جهان خاتون هم د خپل مېړه په وېره کې شريکه شوه، ځکه د خپل ورور له خوی او خصلت څخه خبره وه؛ خو په ښکاره يې ځان داسې وښود چې ګواکې له دې موضوع څخه هيڅ وېره نه لري، ځکه جلال الدين له خپلې خور سره مينه لري او درناوی يې کوي، نو دا ناشونې ده چې د خپل خوريي (خورزاده) بد وغواړي.

له هغې ورځې به هغې تل له خدايه غوښتل چې هغې ته نجلۍ او ورور ته يې زوی ورکړي، خو خدای يې دا غوښتنه قبوله نه کړه. له دې پېښې لا دوه ورځې نه وې تېرې شوې چې د هغې ولادت وشو او يو هلک يې وزېږاوه، او څو ورځې وروسته د جلال الدين له مېرمنې څخه نجلۍ پيدا شوه.

هغه څه چې امير ممدود ترې وېرېده، پېښ شول او هغه څه چې بايد نه وای شوي، وشول. جلال الدين د نجلۍ د پيدا کېدو په زېري سره سخت بدلون وموند، څېره يې توره او تروه شوه، خفه او غوسه شو؛ هغه دې پايلې ته ورسېد چې پاچاهي به په هر ډول چې وي، د ده د خور زوی ته لېږدول کېږي او له دې امله اندېښمن و. هغه د خپلې خور مانۍ ته لاړ ترڅو د هغې له روغتيا ډاډ ترلاسه کړي، خو کله چې يې سترګې پر هغه نوي زېږېدلي ماشوم ولګېدې چې د مور په غېږ کې پروت وه ، ونشو کړای د خپلې څېرې بدلون له خور څخه پټ کړي؛ خور يې د هغه په سترګو کې کينه او کرکه ولیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان خاتون پرېکړه وکړه چې په يوې مينه ناکې جملې سره د خپل ورور په سينه کې د کرکې هغه جوش کم کړي، خو هرڅومره يې چې هڅه وکړه، څه يې ونه شو ويلى؛ نو چوپه پاتې شوه او يوازې خپل ورور ته يې په يوې داسې جذابې او رڼې کتنې بسنه وکړه چې د مينې او محبت ټولې ماناګانې پکې څپې وهلې. مېړه يې (ممدود) هم هلته و، نو د هغې له لوري يې خبرې پيل کړې او ويې ويل: «زما سروره! دا ستا خپل اولاد دى او تر هر چا تاته ډېر ورته دى، دى بيخي د خوارزمشاه خاندان ته تللى او ما ته هيڅ نه دى تللى.»

جلال الدين په داسې حال کې چې خپل لاس يې د ماشوم پر مخ مښه او غوښتل يې په زور خپله خندا ثابته کړي، ويې ويل: «دا هماغه ځوک دى چې مغلو ته به ماتې ورکوي.»

ممدود سمدستي وويل: «د خپل ماما په رکاب او خدمت کې – ان شاء الله.»

جلال الدين وويل: «بلکې پاچاهي به له ما څخه په ميراث وړي.»

– «خداى دې نه کړي چې ستا له زوى، امير بدرالدين، پرته بل ځوک ستا له اوږده عمر وروسته ستا د پاچاهۍ وارث شي – ان شاء الله.»

– «نجومى دا ونه ويل چې بدرالدين به هماغه ځوک وي چې تر ما وروسته به پاچا کېږي او مغلو ته به ماتې ورکوي.»

«سروره! نجومى تر هغه ډېر ټيټ دى چې د غيب له اسرارو خبر وي. د هغه وړاندوينو ته اهميت مه ورکوه او پر بې ځايه خبرو يې باور مه کوه.»

امير ممدود وتوانېد چې په دې طريقه خبره له خپل نوي زېږېدلي ماشوم څخه واړوي او پر نجومي بحث پيل کړي، ځکه جلال الدين له ممدود سره د هغه په اړه اختلاف درلود.

جلال الدين پوه شو چې دليل ويل يې ګټه نه لري او له دې امله چې پر يو بېګناه او معصوم ماشوم يې شک کړى و، سرښکته او وشرمېد؛ حتى ناروغې خور يې هم هغه په خپلو مينه ناکو او زارۍ لړونکو کتلو ملامتاوه، چې دې کتلو پر ده د غشي له ټپ څخه ډېر اغېز وکړ.

جلال الدين يوه شېبه چوپ پاتې شو، ته به وايې ځان يې ملامتاوه چې ولې يې د خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خور او اوښي په حق کې، چې له زړه ورسره مينه لري، داسې بد نيت ساتلى و. بيا د خور کټ ته نږدې شو او په داسې حال کې چې د سترګو په کاسو کې يې اوښکې ځلېدې، د خپلې خور پر سپين او روښانه تندي يې ښکل کړه؛ ګواکې په دې کار سره يې له هغې څخه د هغه بد نيت له امله ښښنه غوښته چې د ماشوم په اړه يې ذهن ته راغلى و، او ژمنه يې ورسره کوله چې هيڅکله به د ده له لوري ماشوم ته زيان ونه رسېږي. جهان خاتون هم پرته له هغو اوښکو چې پر مخ يې را روانې وې، بل ځواب ورنکړ.

راغلي راپوروونو ويل چې مغل د «مرو» ښار ته ننوتي، پر «نيشاپور» يې بريد کړی، هلته يې عام وژنه کړې، ښار يې نيولی او د «هرات» په لور روان دي.

نو جلال الدين ته نور د انتظار وخت پاتې نشو او خپلو لښکرو ته يې د حرکت امر وکړ. هغه له شپېته زره کسانو سره د جګړې ډګر ته لاړ او هرات ته نږدې د مغلو له مخکښو لښکرو سره مخامخ شو. سمدستي يې پر هغوی بريد وکړ او سخته جګړه ونښته، تر دې چې هغوی ته يې ماتې ورکړه او ډېر شمېر مغل يې جهنم ته ولېږل.

جلال الدين د مغلو لښکرې تيت و پرک کړې، له هرات څخه يې وويستل او تر «طالقان» پورې يې پسې وځغلول؛ هغه ځای چې چنګيز خان له «سمرقند» وروسته د خپل نوي مرکز په توګه غوره کړی و او له هغه ځايه يې هر لوري ته لښکرې استولې.

جلال الدين مناسبه وګڼله چې په همدې برياوو بسنه وکړي او په نوي مرکز کې پر هغوی بريد ونه کړي، ترڅو خپل ځواکونه بېرته راټول کړي، د جګړې ستړيا د سرتېرو له تنو وباسي، نوي سرتېري پيدا کړي او په هغو ښارونو کې چې له مغلو يې بېرته نيولي وو، پياوړي ساتونکي پرېږدي. بيا په برياليتوب سره له خپلو لښکرو سره «غزني» ته راستون شو.

«غزني» ته د راستنېدو ورځ يوه تاريخي او نه هېرېدونکې ورځ وه. خلکو په پرتمينه توګه جشن ونيو. يوازينی څه چې د دې جشن ښکلا يې کمه کړې وه، د امير ممدود په کټ (دسکيره) کې راستنېدل وو، ځکه هغه د ډېرو ټپونو له امله د حرکت توان نه درلود. هغه د مغلو په جګړه کې خپله مېړانه په ښه توګه ثابته کړې وه، حماسې يې جوړې کړې وې او د تر ټولو لويو خطرونو په وړاندې درېدلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلال الدین د خپل شجاع او اتل اوښي په ټپي کېدو سخت خفه و او خپله ټوله هڅه يې د هغه په درملنه کې وکړه. د دې لپاره يې د هغه وخت تر ټولو تکړه طبيبان راوغوښتل، هغوی ته يې ډېرې ډالۍ ورکړې او د بريالۍ درملنې په صورت کې يې د لويو جايزو ژمنه ورسره وکړه. خو د ممدود ټپونه ډېر ژور او جدي وو، د طبيبانو مهارت هيڅ ګټه ونکړه او ورځ تر بلې يې حال خرابېده. جلال الدين به تل د هغه پوښتنې ته ورته او سهار او ماښام به يې ترې خبر اخيست.

کله چې د امير ممدود ناروغي سخته شوه او پوه شو چې اجل يې رارسېدلی، يو څوک يې جلال الدين پسې ولېږل. کله چې جلال الدين د هغه سر ته ورسېد، ممدود خپله مېرمن او شيدې خوړونکې ماشوم په غېږ کې نيولي وو او په رېږدېدلي غږ يې وويل: «ګران د تره زويه! دا ستا خور جهان خاتون ده او دا ستا زوی محمود دی؛ نو د خپلې خور پر کونډتون او د خپل خوريي پر يتيمتوب رحم وکړه او ما په نېکۍ ياد کړه.»

جلال الدين وژړل او خور يې هم په چيغو پيل وکړ. د ممدود ناپايه او بې‌سده نظر د هغوی او ماشوم ترمنځ ځرخېده. کله يې چې د هغوی ژړا وليده، جلال الدين ته يې مخ کړ او ويې ويل: «جلال الدين! مه ژاړه... له مغلو سره وجنګېږه... د نجوميانو خبرې مه منه.»

په دې وخت کې يې ژبه بنده شوه او لږ ځنډ وروسته، په داسې حال کې چې کلمه يې تکراروله، روح يې حقيقي مالک ته وسپارله.

امير ممدود چې لا يې د عمر دېرش پسرلي نه وو تېر کړي، د خدای په لاره کې شهيد شو او خپله مهربانه مېرمن او شيدې خوړونکې ماشوم يې، چې يوازې څو ورځې يې ليدلی و، يوازې پرېښودل. د جهاد درنې دندې او په دې مهم کار کې له جلال الدين سره ملګرتيا ورته اجازه نه وه ورکړې چې د خپل زړه د ټوټې له ليدو ډېر خوند واخلي. کله يې چې له نړۍ او نعمتونو سره خدای پاماني کوله، بل هيڅ ډاډ يې نه درلود، پرته له هغه پايداره نعمت او لويې خوشحالۍ چې خدای د هغو مجاهدينو لپاره چمتو کړې چې د هغه په لاره کې شهيدان شوي دي.

د ممدود مړينه جلال الدين ته ډېره درنه تمامه شوه، ځکه د خپل دولت يو پياوړی ستون

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې له لاسه ورکړ. هو، هغه داسې يو ورور له لاسه ورکړ چې وياړ يې پرې کاوه او د هغه پر اخلاص او خير غوښتنې يې پوره باور درلود. داسې يو وزير يې له لاسه ورکړ چې د دښمنانو په وړاندې جګړه کې يې د هغه پر شجاعت زړه ډاډه و. د هغه په بېلتون کې يې په ډېر درد سره وژړل او د هغه نېکۍ او خدمتونه يې هېر نکړل. د هغه مېرمن او زوی ته يې په درناوي سره د هغه ياد وساته او هغوی يې تر خپلې سرپرستۍ لاندې ونيول. پر هغوی يې د مهر او محبت وزرونه وغوړول او محمود يې د خپل زوی په څېر ګاڼه. مينه يې ورسره کوله، لارښوونه يې ورته کوله او د هغه ليرې والی يې نشو زغملی. کله به يې چې له مغلو سره له جګړې راستنېده، لومړی پوښتنه يې دا وه چې محمود چېرته دی؟ بيا به يې ور منډه کړه، په غېږ کې به يې ونيو او په ښکلولو به يې پيل وکړ. له هغه وروسته به يې خپلې لور، جهاد ته پاملرنه کوله، چې هغه يې هم د محمود په څېر خوښېدله او د بېلتون طاقت يې نه درلود.

محمود او جهاد، دا دواړه همزولي ماشومان په يوې کورنۍ کې يوځای لوی شول؛ که څه هم دوو ميندو ورته خواړه ورکول او د هغوی لپاره يې بې خوبې ګاللې، خو د يو پلار (جلال الدين) د مينې او شفقت لاس د دواړو پر سر و. هغوی د ماڼۍ په تالارونو او سالونونو کې يوځای لوبې او منډې کولې. کله به خادمانو هغوی سهار وختي د ماڼۍ باغ ته بيول او هلته به يې په چمنونو کې په لوبو پيل وکړ؛ ميندو به يې د ماڼۍ له پورتنيو پوړونو څخه چې پر باغ مسلط وو، د هغوی ننداره کوله، د هغوی معصومو او زړه راښکونکو سترګو ته به يې کتل او دا ننداره د هغوی د تېرې غمجنې ماضي او ناڅرګند راتلونکي لپاره د زړه تسلي وه. کله به چې يو له هغوی څخه په ارامه پر ځمکه راغورځېد، هغوی به يوه متينه خندا وکړه او بېرته به يې خپلو خبرو ته دوام ورکړ. کله به چې «جهاد» راغورځېدله، «محمود» به ورنږدې کېده ترڅو ورسره مرسته وکړي چې پاڅېږي؛ د دې منظرې په ليدو به يوې مور په شونډو کې د مسکا او په سترګو کې د يوې نامعلومې پوښتنې سره بلې مور ته کتل... ايا برخليک به اجازه ورکړي چې دا دوه بېګناه ماشومان اوږه په اوږه په دغه ناز او نعمت کې لوی شي او بيا يو بل ته ورسيږي، که د روزګار بدلونونه او د تقدير ناڅاپي پېښې به يې خنډ شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی به څنګه د وخت له مکر او د هغه له غافلګیرونکو مصیبتونو څخه په امان کې پاتې شي او په شته هوساینې او د پاچاهۍ په دبدبه به زړه وتړي، په داسې حال کې چې پخپله یې د مغلو په لاس د خوارزمشاه د پراخ قلمرو د دړې وړې کېدو شاهدان وو؟

د جلال الدین اوسنۍ بریا، په هره جګړه کې د مغلو ماتې، د جلال الدین له قلمرو څخه د هغوی پاکول او لوی طاغوت، چنګیز خان ته د داسې لیک په استولو سره چې «غواړې جګړه چېرته وي؟» د جګړې اعلان، د راتلونکي په اړه د میندو بدګوماني او اندېښنه نه شوه کمولی؛ ځکه د دې ټولو بریاوو مانا دا نه وه چې د هغوی شر دفع شوی او له بریدونو یې په امان دي. خوارزمشاه (پلار یې) له پوځي پلوه پر جلال الدین لوړ و، تر ده ډېر پیاوړی او باهیبته و او په عمل کې یې په ډېرو جګړو کې پر هغوی بریا موندلې وه، خو په پای کې مغل د بې‌شمېره سرتېرو، پرله پسې مرستو او د سیلاب په څېر بریدونو له امله چې د مېړیانو او ملخانو په څېر هر ځای خپاره وو، پر هغه غالب شول؛ نو دا هیله نه کېده چې جلال الدین به داسې یو کار وکړای شي چې پلار یې له هغه ټول شوکت او عظمت سره ترې عاجز پاتې شوی و.

ډېر وخت نه وه تېر شوی چې روزګار خپله وېرونکې څېره ښکاره کړه. دربار ته رارسېدلي راپورونو د دې ښودنه کوله چې چنګیز خان د جلال الدین د جګړې له غوښتنې څخه سخت غوسه شوی او یو خورا لوی لښکر یې د خپل یو زوی په قومانده رالیږلی او نوم یې پرې «د غچ لښکر» ایښی دی. هغوی د هغه غشي په څېر چې له لیندۍ ووځي، را روان شول او ښارونه یې لاندې کول تر دې چې د «کابل» دروازو ته ورسېدل.

جلال الدین هم له خپل ټول ځواک سره د هغوی په لور حرکت وکړ؛ کله چې دواړه لښکرې سره مخامخ شوې، یوه سخته جګړه ونښته چې درې شپې او ورځې یې دوام وکړ. جلال الدین به د جګړې په جریان کې پر خپلو سرتېرو غږ کاوه:

«ای مسلمانانو! د غچ لښکر له منځه یوسئ!»

په پای کې جګړه د مسلمانانو د بې‌ساري سرښندنو او فداکاریو په پایله کې د مغلو په ماتې سره پای ته ورسېده. مسلمانان په دې بریا کې د جلال الدین د یو قوماندان، سیف

(c) ketabton.com: The Digital Library



الدين بغراق، پوروړي وو؛ هماغه چې یو خورا ماهرانه تاکتیک یې پلی کړ. هغه له خپلو سرتېرو سره له لښکر څخه جلا شو او د هغه غره له شا څخه راښکاره شو چې پر جګړه مسلط و. مغل د غره له شا څخه د مسلمانانو په سیلابي برید سره غافلګیر شول، صفونه یې مات شول او تېښتې ته یې مخه کړه.

د مغلو د لښکر د ماتې خبر چنګیز خان ته ورسېد؛ هغه له غوسې د ژوبل شوي مار په څېر ځای په ځای کې تاو شو، خپل ټول ځواکونه یې راټول کړل، پخپله یې د هغوی مشري پر غاړه واخیسته او د جلال الدین سره د جګړې لپاره را روان شو. جلال الدین د هغه په وړاندې د درېدو توان ونه موند او «غزني» ته وتښتېد او هلته یې څو ورځې په خپله کلا کې پناه واخیسته. کله چې پوه شو چې د بریدګرو د شړلو ځواک نه لري او ووېرېد چې هسې نه دی او کورنۍ یې د دښمن لاس ته ورشي؛ نو خپل سامان یې وتړل، مالونه او زیرمې یې راټولې کړې او له خپلې کورنۍ او نږدې کسانو سره د «هند» په لور روان شو. د هغه د ځانګړي ګارډ اووه زره سرتېري هم ورسره ول. هغوی د خیبر له درې تېر شول، خو لا د هند دښتو ته نه وو رسېدلي چې د چنګیز مخکښنه لښکرې ورپسې راورسېدې. جلال الدین پر هغوی برید وکړ او تر هغه یې ورسره جګړه وکړه چې خواره واره یې کړل، خو کله یې چې ولیدل چې ډلې ډلې لښکرې یو په بل پسې پرې راخیژي، نو باور یې وکړ چې ماتې یې برخلیک دی؛ نو له خپلو کسانو سره د سند سیند (د اباسین سیند) په لور شاته شو ترڅو پورې غاړې ته تېر شي. مګر مخکې له دې چې د خپلې حرم‌سرای، کورنۍ او بارونو د لېږد لپاره کښتۍ پیدا کړي، دښمن پرې لومړیتوب ترلاسه کړ. کله چې جلال الدین وضعیت داسې ولید، خپلې کورنۍ او ښځو ته یې پام شو چې په منځ کې یې مور (چې د خوارزم له سقوط وړاندې ورسره یوځای شوې وه)، خور یې جهان خاتون او مېرمن یې عایشه خاتون شاملې وې. هغوی چې کله جلال الدین ولید، چیغې یې کړې: «مور باید د مغلو لاس ته ور نشو... خدای ته وګوره، موږ په خپلو لاسونو ووژنه او له دغه اسارت او شرم څخه مو وژغوره!»

دا خبرې کټ مټ د جلال الدین له ذهن سره سمې وې، ځکه ده هم غوښتل هغوی ووژني ترڅو د دښمن په لاس اسیرانې نشي؛ نو خپلو کسانو ته یې امر وکړ چې هغوی په سیند

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ډوبې کړي.
دا هغه وخت و چې لمر په ډوبېدو و او د سيند اوبو د شفق سور رنګ اخيستی و؛ نو سيند هغوی په خپله غېږ کې تېر کړل او جلال الدين په لمدو سترګو او سوځېدلي زړه له هغوی سره خدای پاماني وکړه.
دښمن هغه ته وخت ورنه کړ چې د خپلو عزيزانو او هغه کار لپاره چې له هغوی سره يې وکړ، افسوس وکړي؛ نو خپلو کسانو ته يې امر وکړ چې سيند ته وغورځېږي. ده پخپله په سر کې سيند ته ور ټوپ کړلو او نور هم ورپسې ور وغورځېدل او په لامبو يې پيل وکړ. لا له ساحل څخه ډېر ليرې شوي نه وو چې د دښمن سرتېري راورسېدل او د سيند پر غاړه ودرېدل. نښه ويشتونکو پر هغوی د غشو باران پيل کړ؛ د جلال الدين ډېر کسان په نښه شول او که توري شپې د ليدلو مخه نه وای نيولی، نو ټول به له منځه تللي وو. چنګيز خان په اس سپور د سيند غاړې ته راورسېد، په داسې حال کې چې شاوخوا يې مشعلونه ځلېدل، خو په سيند کې يې هيڅوک ونه ليدل.

نو څکه چنګيز خان يوه داسې مسته قهقهه (خندا) وکړه چې په هغې پراخه دښته کې انګازې جوړې کړې، خپل توره يې په هوا کې وښوروله او ويې ويل: «ها! اوس مې خوارزمشاه او د هغه اولاد له منځه يووړل، ينه مې سړه شوه او خپل غچ مې واخيست.» بيا يې خپلو لښکرو ته د حرکت امر وکړ او له هماغې لارې چې راغلي وو، بېرته ستانه شول.

دلته د داکټر مهدي حميدي يو شعر چې د جلال الدين دغه حالات يې په تصوير کښلی:

---

نهان مي‌گشت روی روشن روز — به زير دامن شب در سياهی
در آن تاريکه شب مي‌گشت پنهان — فروغ خرگه خوارزم شاهی
ميان موج مي‌رقصيد — به رقص مرگ، اخگرهای

(c) ketabton.com: The Digital Library



در آب / انبوه

به رود سند می‌غلطید در هم / ز امواج گران کوه از پی کوه

خروشان، ژرف، بی پهنا، کف آلود / دل شب می‌درید و پیش می‌رفت

از این سد روان، در دیده‌ی شاه / ز هر موجی هزاران نیش می‌رفت

ز رخسارش فرو می‌ریخت اشکی / بنای زندگی بر آب می‌دید

در آن سیماب گون امواج لرزان / خیال تازه‌ای در خواب می‌دید:

اگر امشب زنان و کودکان را / ز بیم نام بد در آب ریزم

چو فردا جنگ بر کامم نگردد / توانم کز ره دریا گریزم

به یاری خواهم از آن سوی دریا / سوارانی زره پوش و کمان گیر

دمار از جان این غولان کشم سخت / بسوزم خانمانهاشان به شمشیر

شبی آمد که می‌باید فدا کرد / به راه مملکت فرزند و زن را

به پیش دشمنان استاد و جنگید / رهاند از بند اهریمن، وطن را

پس آنکه کودکان را یک به یک خواست / نگاهی خشم آگین در هوا کرد

(c) ketabton.com: The Digital Library



به آب دیده اول دادشان غسل | سپس در دامن دریا رها کرد
بگیر ای موج سنگین کف زهم واکن دهان خشم، آلود | واکن!
بخور ای اژدهای زندگی خوار | دوا کن درد بی درمان، دوا کن!
زنان، چون کودکان در آب دیدند | چو موی خویشتن در آب رفتند
وزان درد گران، بی گفته‌ی شاه | چو ماهی در دهان آب رفتند

(ادبیات فارسی، اول دبیرستان، صص (۱۰۱-۹۷ ) ژباړن)

لامبووهونکو د شپې یوه برخه په لامبو او د څپو په وړاندې په مبارزه کې تېره کړه؛ هغوی یو بل په نومونو یادول، په دې توګه یې یو بل پېژندل او یو بل ته یې د صبر او زغم بلنه ورکوله. که به کله یو له هغوی څخه د ډېرې لامبو له امله ستړی شو، له خپلو ورونو به یې مرسته غوښته؛ نو هغه کسان چې ورنږدې وو، هغه به یې له ځان سره کش کاوه ترڅو لږ ځواک ومومي او بېرته یې ساه پر ځای شي. هر وخت به د جلال الدین غړ له مخکې څخه اورېدل کېده چې هغوی یې هڅول او د صبر او استقامت تلقین یې ورته کاوه. د جلال الدین غږ د هغوی د ډاډ او د زړه د قوت لامل و، مګر ناڅاپه د هغه غږ غلی شو او بیا یې وانه ورېد. دې موضوع هغوی شکمن کړل او ځینو چیغې کړې:

* «پاچا ډوب شو! نو تر هغه وروسته ستاسو ژوندي پاتې کېدل څه ګټه لري؟»

ځینو د دې خبر په اورېدو سره ځانونه خروښانو څپو ته وسپارل او مرګ ته یې تر ژوند ترجیح ورکړه. د پاچا یو نږدې ملګري دا خطر احساس کړ، نو ځکه یې د جلال الدین د غږ په تقلید پیل وکړ او د هغه په څېر یې پر سرتېرو غږ کاوه ترڅو پاتې کسان نا‌امیده نشي. د دې سړي دغه کار پر هغوی خورا ښه اغېز وکړ؛ هغوی روحیه واخیسته او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېرته يې صبر او جهاد ته مخه کړه. هغه کسان چې مرګ ته يې غاړه اېښې وه، له خپلې پرېکړې واوښتل او تر هغه يې لامبو ته دوام ورکړ چې مخکښ کسان د سيند غاړې ته ورسېدل. هغوی په لوړ غږ چيغې کړې چې: «وچې ته ورسېدو!» نو ځينې له اوبو راووتل او د ډېرې ستړيا له امله پر ځمکه راپرېوتل. هغو کسانو چې لا يې په ځان کې لږ ساه پاتې وه، په اوبو کې د پاتې کسانو د لاسونو يا جامو په نيولو سره د هغوی په راايستلو کې مرسته کوله. دا کار د شپې تر وروستۍ درېيمې برخې روان و، تر دې چې له ژغورل شويو کسانو څخه هيڅوک په اوبو کې پاتې نشول؛ ټولو خپل سرونه د خاورو پر بالښت کېښودل او په ژور خوب لاړل.
سپيده داغ د جلال الدين پر هغو څلور زره ملګرو راوخوت چې د بې‌سده جسدونو په څېر پر ځمکه پراته وو، او يوازې د لمر ګرمۍ وکولای شول هغوی راويښ کړي.
هغوی په لغړو پښو او بربنډ له خوبه پاڅېدل او د ځان پټولو لپاره يې کافي جامې نه لرلې. په دې منځ کې يې د خپل پاچا پوښتنه وکړه خو هغه يې ونه موند، نو يو لوی غم پر هغوی سيوری وغوړاوه. هغه سړي چې د جلال الدين غږ تقليد يې کړی و، هغوی ته ډاډ ورکړ چې له ليدو يې مه ناهيلي کېږئ؛ شايد پاچا له بلې خوا د دوی په پرتله مخکې وچې ته رسېدلی وي او نږدې کوم کلي ته يې پناه وړې وي. هغه ورته مشوره ورکړه چې په همدې ځای کې پاتې شي او د ونو په پاڼو، مېوو او د وچې او سيند په ښکار سره ځانونه وساتي او تر هغې حرکت ونه کړي چې د پاچا په اړه ورته خبر راشي.

ټولو دا وړانديز ومانه او يوه ډله يې وګمارله ترڅو په پراخه کچه د جلال الدين لټون وکړي. له درې شپو او ورځو وروسته يې هغه په يوه ليرې نقطه کې وموندل چې له خپلو درېيو ملګرو سره د سيند څپو هلته ور غورځولی و. کله چې سرتېري ورغلل، هغوی د خپل پاچا په ژغورل کېدو ډېر خوشحاله شول او په ليدو يې باور نه کاوه. جلال الدين امر وکړ چې د ونو له څانګو څخه کوټکونه جوړ کړي او ځانونه پرې وسلوال کړي. بيا له هغوی سره نږدې مېشتو سيمو ته لاړ او د ده او د هغه ځای د اوسېدونکو ترمنځ جګړې وشوې چې په پايله کې بريا د ده په برخه شوه. جلال الدين له هغوی څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسلې او خواږه واخیستل او پر خپلو ملګرو یې وویشلې؛ په دې توګه هغوی له لوږې او وېرې وژغورل شول او کمزوري یې په ځواک بدله شوه. له هغه وروسته یې د «لاهور» په لور منډه کړه، لاهور یې ونیوه او له خپل پوځ سره هلته مېشت شو. د دې لپاره چې په دغو سیمو کې د دښمنانو له بریدونو په امان کې پاتې شي، د لاهور شاوخوا یې یوه پرتمینه او مضبوطه کلا جوړه کړه.

کله چې هلته مېشت شو، هغه مصیبتونه او بدبختۍ یې یادې کړې چې د ده پر کورنۍ راغلې وې. د خپل پلار د جګړو او فتحو عظمت یې په ذهن کې انځور کړ؛ هغه فتحې چې د پلار قلمرو یې له «فرغانې» څخه د «هند» تر دروازو پورې پراخ کړی و او د نړۍ پاچاهانو ترې وېره لرله او د هغه د خوښۍ لپاره به یې سرونه ټیټول او د نړۍ ټوله شتمني به ده ته را روانه وه. تر دې چې د مغلو طوفان راغی؛ پلار یې د هغوی په وړاندې ودرېد او د هغوی په وړاندې یې خپل اخلاص په جهاد کې ثابت کړ. هغه د هغوی او د اسلامي نړۍ د نابودۍ ترمنځ د یو دیوال په څېر ودرېد او تل یې ورسره جګړه کوله؛ کله به دی پر هغوی برلاسی شو او کله به هغوی پر ده، تر دې چې په پای کې یې ماتې وخوړه، ځواک یې کمزوری شو، لښکر یې تیت و پرک شو او په ناچارۍ یې د قزوین (خزر) بحیرې یوې جزیرې ته پناه یووړه او له خپل کور او کلي لیرې یې په مسافرۍ کې له نړۍ سره خدای پاماني وکړه.

بیا یې خپلې هغه پېښې را په یاد کړې چې ډېر وخت پرې نه و اوښتی: دا چې څنګه یې پاچاهي توره تیاره شوه، هېواد یې وران شو او د ده او خاندان قدرت یې له منځه لاړ. دا چې څنګه یې یوازینی زوی او ولیعهد، چې لا یې پوره اته کاله عمر هم نه و، ترې وتښتول شو او د مغلو د طاغوت دربار ته یې یووړ، چې هلته یې د هغه د پښو مخې ته لکه د پسه په څېر حلال کړلو. دا چې څنګه پخپله ژوندی پاتې شو ترڅو د خپلې نازنینې مور، مېرمنې، خور او د تره او خاله د لورګانو د ډوبېدو شاهد وي، هغه هم د ده په خپل امر! او دا چې څنګه یې لور جهاد او د خور زوی محمود ترې ورک شول چې هېڅ پته یې نشته؛ څه معلومه، شاید هغوی هم له حرمسرا سره یوځای څپو ته سپارل شوي وي، یا شاید له وېرې په دښته کې پرېښودل شوي وي او یا یې شاید چا پر حال زړه سوځېدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي او د سیند له کبانو يې ژغورلي وي.

تقدير داسي ورته ليکلي وو چې په دې نړۍ کې يوازې او يوازې ژوند وکړي، بې له ښځې او اولاد څخه؛ ته به وايې دی يوازې د دې لپاره ژوندی پاتې دی چې له هغوی وروسته د درد او حسرت ترخې او مرۍ نيوونکې پيالې په سر واړوي. دا د هند کوچنۍ ټوټه چې ده نيولې وه، ورته له يو زندان پرته بل څه نه وه، چې د خپلې پاچاهۍ، خاندان او نږدې کسانو له زوال وروسته ورته تبعيد شوی و. له هغوی وروسته به د چا لپاره ژوند کوې؟ د کوم هدف لپاره د مشرۍ او امارت ستونزې او مسوولیتونه پر اوږو يوسې؟ ناڅاپه له سوچونو را ووتلو ديته يې پام شولو چې د ده او د ده د خاندان د ټولو بدبختيو اصلي عامل مغل دي؛ نو ځکه بايد ژوندی پاتې شي ترڅو له هغوی خپل غچ واخلي. اوس چې بله هيڅ هيله نه لري، نو په ژوند کې يې همدا يوازينۍ ارمان پاتې دی.

## دريیم فصل:

جلال الدين چې په ډېر درد او سوي سره يې د خپلې کورنۍ او نږدې کسانو لپاره ژړل او د هغوی په غم کې يې جگر سوځېده، نه پوهېده چې د هغه دوه محبوب ماشومان، محمود او جهاد، به لا هم ژوندي وي. که چېرې هغه خبر وای چې هغوی ژوندي دي او له ده څخه ډېر ليرې هم نه دي – ځکه هغوی په نږدې يو لوی کلي کې ژوند کاوه – نو له خوشحالۍ به يې هغوی ته وزرونه غوړولي وای او دا به د هغو ټولو ماتو او ناهيليو لپاره يوه لويه تسلي وای چې ده په خپل ژوند کې گاللې وې.

کيسه داسي وه چې کله عايشه خاتون او جهان خاتون پوه شوې چې ماتې يې يقيني ده او له مرگ يا اسارت پرته بل څه نه ور پاتې کيږي، نو نشو يې کولی لاس تر زنې کښېني او د خپلو دوو بې‌گناه د زړه د ټوټو حلالول د مغلو په وحشي خنجرونو ووينې او يا يې په سيند کې له ځان سره ډوب کړي. د هغوی مورنۍ عاطفې جوش وواهه او د خطر په وروستيو شېبو کې يې پرېکړه وکړه چې دا دوه ماشومان خپل يو باوري هندي خادم ته وسپاري. دا خادم شيخ سلامه هندي نومېده چې د خوارزمشاه له وخته يې له دې کورنۍ سره خدمت کاوه. ميندو ترې وغوښتل چې ماشومان خپل پلرني ټاټوبي (هند) ته بوځي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته ورسره ژوند وکړي. هغوی غوښتل جلال الدین هم خبر کړي، خو وخت اجازه ورنه کړه او د هغې وېرورونکې شپې هیبت دا خبره یې له یاده ووتله.

شیخ سلامه هندی د هغې بدمرغې ورځې تر مازدیګر لږ وړاندې له لښکرګاه څخه جلا شو. هغه لومړی د شهزادګانو قیمتي جامې وایستلې او د هند د عامو خلکو په څېر سیمه ییزې جامې یې ور واغوستلې. هغوی یې پر یوې کچرې (قاطر) سپاره کړل او د سیند پر غاړه غاړه د شمال په لور په چټکۍ روان شو. بیا د غره پېچلو لارو ته ننوت او د درو په منځ کې له سترګو پناه شو. کله چې شپې خپله توره پرده پر دې وړې قافلې وغوړوله، د غره په لمن کې یې یو غار ته پناه یووړه. ماشومان یې ښکته کړل، کچره یې د غار په خوله کې یوې ډبرې پورې وتړله او په غار کې یې فرش هوار کړ ترڅو هغوی پرې ویده شي. هغه ډېر وخت هغوی ته ډاډ ورکاوه ترڅو ارام شي؛ ورته ویل یې چې سبا به جلال الدین مغلو ته ماتې ورکړي او چنګیز خان به په خپلو لاسونو حلال کړي، او بیا به هغوی خپله کورنۍ وګوري. په داسې خبرو یې هغوی مصروف وساتل ترڅو خوب ورباندې غالب شو او ویده شول، پخپله هم د هغوی تر څنګ پریووت.

بله ورځ یې هغوی پر کچره سپاره کړل او د غره له لمنې څخه ښکته راغلل. کله چې لاندې ورسېدل، سلامه سویل (جنوب) لور ته وکتل خو د دښمن د پلو او سپرو سرتېرو هیڅ نښنه یې ونه لیده. نو د ښي لور څخه د سیند په لور روان شو او د لمر د زوال په وخت کې د سیند غاړې ته ورسېد. د یوې ونې په سیوري کې تم شو، کچره یې اوبه کړه او ماشومانو ته یې هم اوبه او ډوډۍ ورکړه. هغه تل هغوی په خپلو کیسو او ټوکو بوخت ساتل، هغوی به هم ورته غوږ نیوه او خندل به یې. په عین حال کې یې کښتیو ته هم پام و چې که کومه تېرېږي، غږ ورته وکړي. د مازدیګر په نږدې کې یوه لویه کښتۍ ښکاره شوه؛ بوډا ورته په لاس اشاره وکړه چې ورنږدې شي، خو کښتۍ هیڅ پام ورته ونه کړ او خپله لاره یې ونیوله. بیا یې د کب نیوونکو یوه وړه کښتۍ (قایق) ولیده. بوډا ورته په خپل څادر اشاره وکړه. هغه کښتۍ چې یو کب نیوونکی، د هغه زوی او د کب نیولو جال پکې و، ورنږدې شوه.

کب نیوونکي ترې وپوښتل چې څه غواړې؟ بوډا په هندي ژبه ځواب ورکړ او هیله یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترې وکړه چې دی او د ده دوه ماشومان د سیند ختیځې غاړې ته ورسوي او په بدل کې به ښه مزدوري ورکړي. صیاد ورسره ومنله او په وړاندیز شوي مزد ډېر خوشحاله شو، نو هغوی یې په خپل قایق کې کېنول. صیاد کچرې ته وکتل او له بوډا یې وپوښتل: «دا کچره څه کوې؟» بوډا ځواب ورکړ: «همدلته یې پرېږدو، ځکه په قایق کې یې د وړلو امکان نشته.».

کب نیوونکي وویل: «نو هغه کچره زه د ځان لپاره اخلم.» بوډا ورته وویل: «ستا دې وي، موږ ورته اړتیا نه لرو.»

کب نیوونکي خپل زوی ته وویل چې له کښتۍ ښکته شي او کچره خپل کلي ته بوځي. دا باید هېر نه کړو چې هندي بوډا (سلامه) دواړو ماشومانو ته سپارښتنه کړې وه چې هیڅ ونه وایي، ترڅو څوک پوه نشي چې هغوی د جلال الدین له کورنۍ څخه دي.

هغه پوهولې وه چې که د کښتۍ خاوند ستاسو په اصل او نسب خبر شي، لیرې نه ده چې تاسو په مغلو وپلوري. هغوی سره له دې چې کم عمره وو، د هغه په هدف پوه شول؛ ځکه د زړه بوږنوونکو پېښو دوامداره لیدلو هغوی ته د وېرې او احتیاط تجربه ورکړې وه. سره له دې چې عمرونه یې له څلورو کلونو څخه نه اوښتلو، خو د پوهې له پلوه د اوو-اتو کلونو ماشومانو په څېر ښکارېدل.

کښتۍ د سیند په منځ کې په حرکت راغله او څپو مخکې وړله. ماشومان له وېرې ډېر مظلوم او ارام ناست وو، یو بل ته یې کتل او نه پوهېدل چې چېرته ځي. سره له دې، محمود ځان زړور ښود او هڅه یې کوله چې خپله وېره له جهاد څخه پټه کړي؛ هغه خپل لاس د جهاد له ملا څخه تاو کړی و، ته به وایې په دې کار سره یې ورته ویل: «مه وېرېږه، زه درسره یم.»

بوډا له کب نیوونکي سره په خبرو بوخت شو. هغه ورته په «هند» کې د خپل کلي په اړه وویل او دا چې څنګه «کابل» ته په سفر لاړ، هلته یې واده وکړ او دا دوه ماشومان یې وشول؛ خو په ارمان سره چې مور یې مړه شوه، نو ځکه یې پرېکړه وکړه چې بېرته خپل ټاټوبي ته ستون شي ترڅو هغوی د خپلو خپلوانو په منځ کې لوی کړي. بیا د خبرو وار کب نیوونکي ته ورسېد؛ هغه هم د کب نیولو د ژوند، د هغه د خطرونو او د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښنو په اړه چې په يوه توپاني شپه کې ورسره مخ شوی و، اوږدې خبرې وکړې او په جګړه کې يې په خپل صبر او مېړانه وياړ وکړ. بيا يې د کلي، خپلې کورنۍ، د ودونو د دودونو، خوړو، خپلې غوټې، ښځې او لوبو او زامنو په اړه ورته کيسې وکړې. د خپلې وړې کروندې، چورګوړو، سويانو، شيدې ورکوونکې غوا چې ښځه يې ساتنه کوي، او د خپل ښکلي (طوطي) په اړه يې ورته وويل چې هر توری تکراروي او ماشومان يې پرې سات تېروي. محمود او جهاد هم د هغوی د خبرو له اورېدلو خوند اخيست او ورو ورو يې له زړونو وېره ورکه شوه.

بې له دې چې پوه شي وخت تېر شو او د کب نيوونکي خبرو هغوی مصروف وساتل. کله چې په هوښ راغلل، کښتۍ د سيند غاړې ته رسېدلې وه. کب نيوونکی له کښتۍ ښکته شو او مرسته يې وکړه چې هندي بوډا او دواړه ماشومان هم ښکته شي. بيا يې هغه لاره ور وښودله چې تر ټولو نږدې کلي ته تللې وه او ورته ويې ويل: «په خير لاړ شئ، خدای مو مل شه.»

سلامه ورته يو دينار ورکړ؛ که څه هم د هغوی پرېکړه له يو دينار څخه په کمه بيه شوې وه. کب نيوونکی ډېر خوشحاله شو، مننه يې ترې وکړه او ويې ويل: «نن به نور کب نيونه نه کوم، کافي کار مې وکړ، ښځه به مې له دې کاره ډېره خوشحاله شي.»

شيخ سلامه هندي «جهاد» په خپله شا کړه او په هماغه لاره روان شو چې کب نيوونکي ورښودلې وه. کله به چې پوه شو محمود له پياده تګه ستړی شوی، جهاد به يې ښکته کړه او محمود به يې په شا کړ. په همدې توګه يې په نوبت سره هغوی وړل تر دې چې د لمر له ډوبېدو وروسته کلي ته ورسېدل. شپه يې په يوه کوټه کې تېره کړه، ځان او ماشومانو ته يې خواړه واخيستل او چې کله سهار شو، له هغه کلي يې يو خره واخيسته ترڅو هغوی پرې سپاره کړي. په دې توګه يې بې له ځنډه خپل سفر ته دوام ورکړ، له يوې باندې بلې ته او له يو کلي بل کلي ته تلو تر دې چې خپل ټاټوبي ته، چې «لاهور» ته نږدې يو کلی و، ورسېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومانو په پوره امن او سلامتۍ کې – لکه څنګه يې چې د هغوی اروابښادو ميندو غوښتل – په هغه کلي کې ارام ژوند کاوه. بوډا سلامه هم د هغوی پوره خيال ساته او د هغوی د هوساينې او خوښۍ لپاره يې له هيڅ ډول هڅې دريغ نه کاوه. کله به چې خلکو ترې وپوښتل: «دا دوه ماشومان دې له کومه کړي؟» ده به ورته ويل: «دا دوه يتيمان دي، په لاره کې مې موندلي او د زامنو په څېر يې ساتم.» خو دې خبرې د کلي د خلکو تنده نه ماتوله؛ هغوی به د هغوی د اصل او نسب په اړه اټکلونه کول او ډول ډول کيسې به يې جوړولې.

اکثره خلک په دې باور وو چې دا ماشومان «شهزادګان» دي؛ ځکه د پاچاهانو په څېر جلال، تازه ګي، په نعمتونو کې د لوېيدو نښې او د نجيبتوب نښانې يې په څېرو کې ښکاريدې.

بېچاره شيخ سلامه په تنګسه کې و؛ نو د ماشومانو د ژوند ژغورلو په خاطر يې حقيقت خپلو هغو نږدې خپلوانو ته ووايه چې د خوارزمشاه او جلال‌الدين په دربار کې د ده له کاره خبر وو او د مغلو په لاس يې د خوارزمشاهانو د ماتې خبرونه اورېدلي وو. خو هغه ورته سپارښتنه وکړه چې دا راز افشا نه کړي ترڅو د ماشومانو ژوند په خطر کې نه شي. لا په کلي کې د شيخ سلامه له رارسېدو ډېر وخت نه و تېر شوی چې د جلال‌الدين شاه د احوال، له «غزني» څخه د هند په لور د هغه د تېښتې، د چنګيز خان له خوا د هغه د ماتې او د اسارت له وېرې د خپل حرم تر ډوبولو وروسته له خپلو سرتېرو سره سيند ته د غوځېدو خبرونه په ټوله سيمه کې خپاره شول. دغه راز د لاهور د نيولو او د جلال‌الدين او د هند د خلکو ترمنځ د نويو حګړو خبرونه هم ور ورسېدل. هغوی پوه شول چې جلال‌الدين «لاهور» خپله پلازمېنه ګرځولې او د شاوخوا ښارونو او کليو د لاندې کولو لپاره يې ډلې لېږلې دي؛ نو د سيمې د اوسېدونکو په زړونو کې وېره خپره شوه.

شيخ سلامه په دې منځ کې سخت راګير شو، ځکه خلکو ده او ماشومانو ته د شک په سترګه کتل او باور يې درلود چې دا د جلال‌الدين له نسل څخه دي؛ نو دی د ماشومانو ژوند ته انديښمن و او د داسې فرصت په لټه کې و چې «لاهور» ته وتښتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی لا د تېښتې د فرصت په لټه کې و چې د پاچا سرتېري پر کلي د برید لپاره راورسېدل. شیخ سلامه هغوی ته ورغی، ځان یې ور وپېژانده او د پاچا لور او د خور زوی (خوریی) یې ورته وښودل. ده له هغوی هیله وکړه چې د پاچا تر امر پورې پر کلي برید ونه کړي. هغوی یې غوښتنه ومنله، یو استازی یې پاچا ته واستاوه او پخپله د کلي بهر منتظر پاتې شول. ډېر وخت نه و تېر شوی چې پاچا په اس سپور له خپلو جنګیالیو سره راورسېد او د سلام وروسته یې وویل: «شیخ سلامه چېرته دی؟»
شیخ سلامه مخکې شو، د پاچا رکاب یې ښکل کړ او ویې ویل: «ستا او ستا د پلار غلام خدمت ته حاضر دی، زما باداره!»
پاچا له اس څخه ښکته شو، هغه یې په غېږ کې ونیو او ورته ویې ویل: «محمود او جهاد چېرته دي؟» لا د پاچا خبره نه وه خلاصه شوې چې ماشومان راغلل او د هغه په غېږ کې ځانونه ور واچول. جلال الدین هغوی په خپله سینه پورې کلک ونیولو او یو بل یې ښکل کړل. جلال‌الدین له ډېرې خوشحالۍ هر څه هېر کړل، اوښکې یې پر مخ روانې شوې او ویل یې: «زما لورې جهاد... زما زویه محمود... تاسو لا ژوندي یاست... الحمدلله، زه نور په دې نړۍ کې یوازې نه یم، په رښتیا چې موږ د یو بل لپاره ژوندي پاتې شوي یو.»
بیا یې ماشومان خپلو دوو سپرو سرتېرو ته ورکړل چې تر شا یې کښېنوي، پخپله هم په اس سپور شو او شیخ سلامه ته یې هم د سپرېدو امر وکړ. د عملیاتو قوماندان ته یې وویل: «د شیخ سلامه د درناوي په خاطر، له دې کلي او شاوخوا کلیو سره کار مه لرئ او ترې باج (خراج) مه اخلئ.»
شیخ سلامه ترې مننه وکړه او ورته د اوږد عمر دعا یې وکړه. دا خبر په کلي کې خپور شو؛ نارینه او ښځینه په پوره مینه او جوش راووتل ترڅو جلال‌الدین وګوري. د کلي سپین‌ږیري او مشران جلال‌الدین ته ورغلل او د هغه د دغه لوی احسان او کرامت له امله یې ترې مننه وکړه او ویې ویل: «موږ ستا غلامان یو، زموږ خاوره خپله خاوره وګڼه، موږ ټول ستا خدمت ته حاضر یو.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا هغوی ته سلام وکړ او ویې ویل: «موږ ټول د شیخ سلامه پوروړي یو، له هغه مننه وکړئ، نه له ما څخه.»

خلک د شیخ په لور منډه کړه او هغه یې پر خپلو لاسونو پورته کړ؛ غوښتل یې هغه د کلي په کوڅو کې وګرځوي، خو پاچا ورته وویل: «زه همدا اوس ده ته اړتیا لرم، غواړم ما له خپلو خبرونو خبر کړي، نو که اجازه ورکوئ همدا اوس یې ماته وسپارئ.»

ټولو په ځواب کې وویل: «سمه ده باداره!» او هغه یې له خپلو لاسونو راښکته کړ. هغه اس چې ورته چمتو شوی و، مخکې یې کړ او دی پرې سپور شو. پاچا له خپلو کسانو سره «لاهور» ته ستون شو او د کلي اوسېدونکو ورته د خوښۍ نارې او «ژوندي وي باچا» شعارونه ورکول تر هغه چې د هغوی کاروان له سترګو پناه شو. د شاوخوا کلیو اوسېدونکو یو بل ته د جلال‌الدین د هغه اعلان زېری ورکاوه چې پر دغو سیمو به برید نه کوي او له باج (خراج) ورکولو څخه یې معاف کړي دي. دا خبره د ټولو مجلسونو او شپنیو ناستو موضوع شوه او جلال‌الدین د هغې سیمې د خلکو د زړونو محبوب وګرځېد؛ په داسې حال کې چې تر دې وړاندې د هغوی زړونه له هغه څخه په کینې او کرکې ډک وو او له وېرې یې له سترګو د ارام خوب تښتیدلی وه. د هغو سیمو استازي له قیمتي ډالیو سره په «لاهور» کې د جلال‌الدین دربار ته ورغلل او د هغه له دغه احسان څخه یې مننه وکړه او خپله اطاعت او فرمانبرداري یې اعلان کړه. پاچا د هغوی ډالۍ په ورین تندي ومنلې او هغوی ته یې جامې او انعامونه ورکړل او په درناوي یې بېرته خپلو سیمو ته ولېږل.

جلال‌الدین د خپلو زړه د ټوټو له موندلو وروسته په بشپړه توګه بدل شو؛ د تندي تریوالي ځای تازه ګۍ واخیست او د خپګان پر ځای یې په خوله مسکا راغله. په زړه کې یې د هیلې غوټۍ وټوکېدې او داسې احساس یې وکړ چې د ټول خاندان او نږدې کسانو ارواوې په محمود او جهاد کې حل شوې دي. د هغوی لیدل د هغه د پرېښانه خاطر د ارامۍ لامل و. د خدای شکر یې ادا کړ چې نسل یې نه دی پرې شوی او په ده کې د خپل او خپلو پلرونو د تاج او تخت د بېرته اخیستلو او له وحشي مغلو څخه د غچ اخیستلو هیله بیا را ژوندۍ شوه، ترڅو د محمود او جهاد لپاره یو پیاوړی او تلپاتې سلطنت په میراث

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېږدي.
هغه څه چې د ده د هڅو په پایله کې یې د هغه هیله نوره هم پیاوړې کوله، د هغه نجومي (ستوري پېژندونکي) خبرې وې چې د محمود په اړه یې – کله چې هغه لا د مور په نس کې و – وړاندوینه کړې وه. نجومي ویلي وو چې هغه به یو لوی پاچا او د پراخو هېوادونو خاوند شي او مغلو ته به سخته ماتې ورکړي. اوس ورته د نجومي د خبرو رښتینولي ثابته شوې وه؛ ځکه مغلو د هغه یوازینی زوی او ولیعهد، امیر بدرالدین وژلی و او اوس د هغه د خور له زوی، محمود څخه بل هیڅوک د ده د ځایناستی لپاره ډېر وړ نه و. شاید خدای پاک محمود د هغې مهمې دندې لپاره چې په راتلونکي کې یې ترسره کوي، په سیند کې له ډوبېدو او د دښمن له تورو ژغورلی وي.

جلال‌الدین نور داسې احساس نه کاوه چې ګواکې د پاچاهۍ لړۍ دې محمود (د خپل تره زوی، ممدود زوی) ته په لېږدولو سره پردیو ته لاړه شي؛ بلکې محمود یې د خپل زوی په څېر ګاڼه او شاید له خپل زوی یې هم زیات ورباندې ګران و؛ ځکه امیر محمود د ځانګړو صفتونو لکه د سپک روح، ځلاند ذهن، لوړ همت او زړه راکښونکې څېرې خاوند و. د هغه سپین، جالب او ښکلی مخ د ژور خپګان په یوه شفافه هاله کې پټ و چې – که چا غوښتل یا نه – هر لیدونکی به یې په لومړي نظر ځان ته جلباوه او د دې لامل کېده چې لیدونکی خپله مینه او شفقت ترې ونه سپموي.
جلال‌الدین حیران و چې څنګه یې په هغه وخت کې ذهن ته دا خبره تېره شوې وه چې د دغه ښکلي هلک ژوند (کله چې هغه په زانګو کې و) یوازې د دې لپاره پای ته ورسوي چې د ده د تاج او تخت وارث نشي. هغه وخت دی نه پوهېده چې یوه ورځ به همدا ماشوم، د ده د خاندان یوازینی پاتې شونی او په دې نړۍ کې د ده د زړه یوازینۍ ډاډګېره وي. نو د خدای شکر یې ادا کړ چې ده ته یې دا توفیق ورنه کړ چې د بدیو لاس ور وغځوي.
دغو دردوونکو یادونو هغه دې ته اړ کړ چې د دنیا د ژوند د سپکوالي، د دې د مال او متاع د غولوني، او د هیلو او ارمانونو د پوچوالي په اړه ژور فکر وکړي. هغه د انسان د ټیټوالي، د دې فاني دنیا لپاره د بې کچې حرص، د هغه څه په اړه بخل چې د انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



مال نه دی، او د هغه څه له منځه تلو څخه د ویرې په اړه چې شاید د ده په ګټه او صلاح وي، فکر پیل کړ. ایا ده په خپلو سترګو د پلار پراخه قلمرو ونه لید چې په څو ورځو کې دړې وړې شو؟ اوس هغه ټول شوکت او عظمت ده ته د یو خوب په څېر ښکاري. ایا د واک غوښتنې او په اولادونو کې د سلطنت د پاتې کېدو حرص دی تر دې ځایه ونه رساوه چې د هغه ماشوم د وژلو فکر یې وکړ چې تر هر چا زیات د ده مهر او محبت ته اړ و؟ یوازې د دې لپاره چې یو چا په بې ځایه خبره کې ویلي وو چې دا نوی زیږیدلی ماشوم به په راتلونکي کې یو لوی پاچا شي. ایا دا سلطنت د پلار د سلطنت په څېر به تالا ترغه نشي؟ ایا ده وکولای شول چې تاج او تخت د ځان لپاره (چې لا ژوندی و) بیمه کړي، چې اوس یې د خپلو اولادونو لپاره له مړینې وروسته د تضمین هڅه کوله؟ ایا ده له روزګار څخه ضمانت اخیستی و چې زوی به یې ورته ساتي ترڅو یې ځایناستی شي؟ حیرانتیا ده! انسان څومره ناپوه او بې خبره دی! د تېرو خلکو سرګذشت او پر هغوی راغلي عبرت ناک مصیبتونه لولي، خو له هغو ټولو نصیحتونو او پندونو درس نه اخلي او پر خپله ګمراهۍ ټینګار کوي تر دې چې پخپله د نورو لپاره د عبرت او پند نمونه شي. دا بوږنوونکې پېښې به تل د ژوند د لوبې پر صحنه تکرارېږي او همداسې به روانې وي؛ په دې نړۍ کې به داسې پاچاهان راشي چې د مجازي واکمنۍ او فاني مال لپاره به خپل پلار، ورور، وراره یا د تره زوی وژني.

جلال‌الدین په خپل ځانګړي خونه کې، یوازې د خپل تخت ګوښې ته ډډه لګولې وه او په دغو فکرونو کې ډوب و، چې په دې وخت کې د سپکو او ګړندیو ګامونو غږ د هغه د فکرونو لړۍ وشلوله. د پښو له غږه پوه شو چې دا محمود دی یا جهاد؛ نو ځان یې د هغوی هرکلي ته چمتو کړ، ځکه د هغوی لیدو ته تږی و او له سهاره یې نه وو لیدلي. له ځایه پاڅېد او دروازه یې خلاصه کړه. جهاد یې ولیده چې د ده په لور په منډه راځي، هغه یې په غېږ کې ونیوله او پر تخت یې د ځان تر څنګ کښېنوله. هغه حیران شو چې د جهاد په وړه مرۍ کې د ژړا غوټه ولې ماته شوه. هغه یې په خپله سینه پورې ونیوله او په خورا مینه یې ورته وویل: «زما ګرانې جهاد! لورکۍ ولې ژړې؟»

هغې ژړا ته دوام ورکړ او ځواب یې ورنه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



* «ایا له خپل کوچني اس څخه راغورځېدلې یې؟»

هغې په سر اشاره وکړه چې «نه».

* «ایا محمود وهلې یې؟ ایا ستا کومه ښکلې نانځکه (عروسک) یې ماته کړې؟ ایا داسې خبره یې درته کړې چې خفه شوې یې؟»

د دغو ټولو پوښتنو ځواب «نه» و او هغې لا هم خپل سر ښکته نیولی و. د هغې ترلی لاس پر سترګو و، ته به وایې نشي کولی د پلار سترګو ته وګوري. جلال‌الدین خپل لاسونه د هغې پر مخ کېښودل، مخ یې خپل لور ته راواړاوه او ویې ویل: «زما ګرانې لورې! نو بیا ولې خفه یې؟ ایا خپل پلار ته یې نه وایې؟»

کله چې هغې د پلار دا سپېڅلې مینه ولیده، لږ ارامه شوه او پلار ته یې وویل: «حتمًا مغلو محمود وژلی دی؛ هغه له سهاره له هغوی سره د جګړې لپاره وتلی او تر اوسه نه دی راغلی.»

پلار ته یې له دې خبرې خندا ورغله او په مسکا سره یې ورته وویل: «ولې د تل په څېر ورسره په اس سپره بهر نه وې وتلې؟»

جهاد وویل: «هغه نن زه له دې کاره منعه کړم؛ ځکه هغه له مغلو سره یوې لویې جګړې ته ووت او وېرېده چې زه اسیره نشم.»

پاچا نشو کولای خپله خندا کنټرول کړي، خو کله یې چې د جهاد پر مخ د خپګان نښې ولیدې، نو ځان یې کنټرول کړ؛ ځکه هغې تمه نه لرله چې پلار دې یې د داسې یوې «لویې پېښې» هرکلی په خندا وکړي. پاچا په خپله تېروتنه پوه شو، نو پرېکړه یې وکړه چې د خپلې لور د احساساتو د درناوي او د هغې خبرو ته د ارزښت ورکولو لپاره خپله تېروتنه سمه کړي. نو ځکه یې ناڅاپه خپله زنه ټوله کړه، تندی یې تریو کړ او په یو ارام خو درانه غږ یې وویل:

* «د محمود له لوري ډاډه اوسه؛ هغه یو زړور جنګیالی دی او مغل هېڅکله نشي کولای هغه ووژني.»

* «هو، هغه زړور جنګیالی دی، خو هغه یو کس دی او هغوی زرګونه کسان دي!»

(c) ketabton.com: The Digital Library



* «رښتیا دې ووېل، خو لومړی ماته ووایه: ایا هغه په خپل (بورو) اس سپور نشو؟ خپل فولادي خولۍ یې پر سر نه کړه؟ خپله زغره یې وانه غوستله؟ خپله تېره توره یې تر ملا نه کړه؟ خپله اوږده نېزه یې پر اوږه نه کړه؟ خپله لیندۍ یې په شا ونه ځړوله او خپل سپر یې په مټ کې ونه نیوه؟»

* «هو، هغه له خپلو ټولو وسلو سره بهر ووت.»

* «ایا ته یقیني یې چې کوم شی ترې پاتې شوی نه دی؟»

* «نه، ځکه ما پخپله هغه شیان ورته تیار کړل او د اغوستلو په وخت کې مې ورسره مرسته وکړه.»

* «نو ډاډه اوسه! د هغه توره به د هغوی تورې ماتې کړي، نېزه به یې د هغوی نېزې له منځه یوسي، زغره او خولۍ به یې د هغوی له غشو او د تورو له ګوزارونو وساتي، او لیندۍ به یې هغه کسان په نښه کړي چې لیرې دي. او کله چې ټول یوځای پرې برید وکړي، نو اس به یې له هغوی وژغوري او هیڅوک به یې دوړو ته هم ونه رسېږي.»

* «خو هغه تر اوسه نه دی راغلی.»

* «شاید هغه له هغوی سره جګړې ته ترجیح ورکړې وي او تر هغې یې نه پرېږدي چې په بشپړه توګه یې له منځه نه وي وړي، او یا شاید هغوی ماتې خوړلې وي او تېښته یې کړې وي او محمود ورپسې اخیستی وي. ایا تر وتلو وړاندې یې تاته څه ونه ویل یا یې درڅخه کومه غوښتنه ونه کړه؟»

* «امممم له ما یې هیڅ ونه غوښتل... رښتیا ، له ما یې وغوښتل چې هغه ښکل کړم، خو ما دا کار ونه کړ.»

* «زما لورې جهاد! تا غلطي وکړه چې له خپل جنګیالي څخه دې هغه کوچنۍ مچکه (بوسه) ودرېغوله چې د هغه لپاره تر هر څه ارزښتمنه وه؛ دا خو تاته کوم تکلیف نه و.»

* «ما هغه له جګړې څخه د هغه بېرته راستنېدو وخت ته پرېښوده، البته په دې شرط چې فاتح او بریالی راشي.»

* «دا خو د بریا مچکه ده چې ته یې د خپل جنګیالي د مېړانې په بدل کې اخلې، خو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې مهمه او ګټوره د مخه ښې (رخصتولو) مچکه ده؛ چې په هغې سره ته هغه په پوره عزم، ایمان او ټینګې پرېکړې سمبالوې. دا مچکه د دښمن په وړاندې له هغو ټولو وسلو څخه ډېره اغېزناکه ده چې هغه لرې. نو اوس پوه شوې چې څه غلطي دې کړې؟»

* «خپله غلطي به جبران کړم؛ کله چې هغه له جګړې په بريا سره راستون شي، دوه ځله به يې ښکل کړم.»

* «دا خو به اسراف وي! په دې سره به ستا د مچکو ارزښت د هغه په وړاندې کم شي. جهاد، ستا مچکې بايد ارزښتمنې وي! کله چې هغه راغی يوازې پر يوې مچکې بسنه وکړه او بله هغې بلې ورځې ته وساته چې بيا جګړې ته ځي. ښه، اوس په هغه ښکلې خوله خپل پلار يو ځل ښکل کړه.»

جهاد خپل لاسونه د پلار له غاړې تاو کړل او هغه يې ښکل کړ، بيا يې په خندا ځان د هغه په غېږ کې واچاوه. جلال‌الدين خپل بل غومبری (مخ) ور واړولو او ورته يې وويل: «يوه کوچنۍ مچکه له دې لوري هم.»

جهاد ځان د هغه له غېږې خلاص کړ، د هغه په وړاندې ودرېده او ويې ويل: «زما باداره! زما مچکه بايد ارزښتمنه وي!»

دا يې وويل او د دروازې په لور وتښتېده او پلار ته يې اشاره وکړه چې ورپسې ورشي. جلال‌الدين هم ورپسې شو. هغه دهلېز ته ننوته او له هغه ځايه لوی تالار ته په منډه لاړه او د کړکيو د يوې اوږدې پردې تر شا پټه شوه. کله چې پلار يې تالار ته ننوت، ودرېد ترڅو پوه شي چې ښکلې لور يې چېرته پټه شوې ده، خو پوه نشو. هغه نه غوښتل چې پردې يوې خوا کړي او ويې لټوي، نو ځکه يې يو چال وچلاوه ترڅو هغې له پناه ځای څخه راوباسي. هغه د دروازې په لور وکتل او په لوړ غږ يې وويل: «ښه راغلاست محموده! زما زويه چېرته وې؟»

لا يې خبره نه وه خلاصه شوې چې د يوې پردې تر شا يې يو حرکت احساس کړ؛ هغې خوا ته يې ورمنډه کړه، جهاد يې له پردې راوويستله، په سينه پورې يې ونيوله او په پرله پسې ډول يې د هغې غومبري(مخ) ښکلول او ويل يې: «يوه مچکه له دې لوري هم!»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«هیڅکله دې نه خوشې کوم، تر څو چې دې بل مخ هم نه وي ښکل کړی.» په پای کې هغې مجبوره شوه د پلار غوښتنه ومني او بل مخ يې هم ورته ونيوه؛ ده هم د هغې سر په خپلو لاسونو کې ونيوه او په خپل مخ پورې يې کلک کړ ترڅو د ښکلولو وخت يې اوږد شي.

کله يې چې هغه پر ځمکه کېښوله، هغې سمدستي د دروازې په لور وکتل چې محمود وګوري، خو چې هيڅوک يې ونه ليدل، پلار ته يې مخ کړ او ويې ويل: «تا خو داسې وښودله چې محمود راغلی، خو هغه خو نه دی راغلی؟»

پلار يې په خندا ځواب ورکړ: «ما قصداً دا کار وکړ ترڅو ستا پټنځای پيدا کړم او دې چل مې کار ورکړ.»

ماشومه شېبه چوپه شوه، ورو ورو يې د مخ رنګ بدل شو او په داسې حال کې چې نږدې وه وژاړي، ويې ويل: «ما خو درته وويل چې هغه به بېرته رانشي، حتماً مغلو ورباندې بريا موندلې يا يې اسير کړی دی.»

جلال الدين ټيټ شو او خپل لاس يې د خپلې لور په ځلاندو طلايي وېښتانو کې تېر کړ او ورته ويې ويل: «ګرانې! درته ومې ويل چې د محمود له لوري ډاډه اوسه؛ ځکه مغل به هيڅکله ورباندې بر لاسي نشي او شايد همدا اوس په لاره کې وي.»

جلال الدين دا ځل د لومړي ځل په څېر په پوره ډاډ دا خبره ونه کړه؛ په رښتيا هم د محمود نشتوالی اوږد شوی و او ورو ورو د هغه په ذهن کې هم شکونو ځاله کوله او اضطراب ورباندې غالب کېده. هغه ووېرېده چې ښار ته نږدې په چکر کې به محمود ته کومه پېښه شوې وي، نو مناسبه يې وګڼله چې له شيخ سلامه سره په دې اړه مشوره وکړي. هغه د خپلې لور لاس ونيو او ويې ويل: «يا الله جهاد! راځه چې د خپل زړور جنګيالي هرکلي ته ورشو!»

هغه په ډېرې سستۍ له پلار سره قدم په قدم روانه شوه، ته به وايې پوه شوې وه چې هرکلي ته يې نه ځي، بلکې لټون ته يې ځي.

ښکته پوړ ته راغلل او د خدمتګارانو او ساتونکو له مخې تېر شول. جلال الدين شيخ سلامه هندي ته غږ کړ، هغه له خپلې خونې راووت او د پاچا په لور په منډه ورغی، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله ورنږدې شو، يو تعظيم يې وکړ او د امر په تمه ودرېد.
جلال الدين ترې وپوښتل: «امير محمود چېرته دی؟»
شيخ سلامه ځواب ورکړ: «زما باداره! هغه لا له ګرځېدو بېرته نه دی راستون شوی.»
* «ايا ښوونکی (مربي) يې هم ورسره تللی که يوازې تللی دی؟»
* «هغه نن خپل ښوونکي ته امر وکړ چې له پښو تر سره وسله وال شي، ځکه هغه غوښتل له مغلو سره جګړه وکړي.»
د جلال الدين پر شونډو يوه کوچنۍ مسکا راغله، خو ويې نشو کړای هغه اندېښنه او پرېشاني پټه کړي چې پر مخ يې خپره وه، نو ويې ويل: «ايا داسې نه ګڼې چې نن يې له ټاکلي وخت څخه ډېر ځنډ کړی دی؟!»
* «هو زما باداره! هغه – خدای دې وساتي – د اس سوارۍ ډېر شوقي دی او له دې کاره هيڅ نه ستړی کېږي. ښوونکي يې ماته شکايت وکړ چې هغه هره ورځ له تمرين بېرته راوستلو کې له ډېرو ستونزو او زحمت سره مخ کېږي.»
پاچا خپلې لور ته وکتل او ويې ليدل چې هغه د محمود په اړه د هغوی له خبرو ډېره مضطربه او پرېشانه شوې ده، نو د هغې د ډاډينې لپاره يې وويل: «سلامه! لاړ شه او زما او زما د لور جهاد د اسونو د تياولو امر وکړه، ترڅو په ګډه د خپل زړور جنګيالي هرکلي ته ورشو.»

شيخ د پاچا د امر د پرځای کولو لپاره شاته په شا روان شو ترڅو د درناوي له امله يې شا پاچا ته نشي، خو لا څو ګامه ليرې شوی نه و چې له کلا بهر يې د محمود د اس غږ واورېد. پاچا وويل: «سلامه! بېرته راګرځه، وګوره! دا محمود دی، زما په ګومان بېرته راستون شو.»
جهاد د پلار امر ته منتظره پاتې نشوه، سمدستي بهر ته ووتله او جلال الدين هم ورپسې شو. هغوی يو کوچنی (بورو) اس وليد چې په ځغاسته را روان و خو سپور ورباندې نه و. کله چې اس هغوی ته را ورسېد، سرعت يې کم کړ، لکۍ يې راځوړنده کړه، سر يې ټيټ کړ او په شهارو کولو يې پيل وکړ. جلال الدين يې لګام ونيو او د اس په څېړلو يې پيل وکړ، په داسې حال کې چې سخته اندېښنه او اضطراب ورباندې غالب و. کله يې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اس پر مخ، غاړه او اوږو وینه ولیده، سخت ووېرېد او یقین یې وکړ چې هغه له کوم لوړ کمر راغورځېدلی دی. ته به وایې دې پښې هغه وچ کلک کړی و او د هر ډول غبرګون ځواک یې ترې اخیستی و. د یو څه وخت لپاره بې حرکته ودرېد او نه پوهېده څه وکړي، خو جهاد د پلار لمن نیولې وه او هغه ژړا یې په خپله مری کې ډب کوله چې نږدې وه چاودنه وکړي او هغه زندۍ کړي. په همدې وخت کې په لاره کې یو لوی اس ښکاره شو...

چې په ارامه مخکې را روان و، یو سړی ورباندې سپور و او یو ماشوم یې مخې ته کینولی و. جلال‌الدین ته هیڅ شک پاتې نشو چې محمود ټپي شوی او ښوونکی (مربي) یې په خپل اس راوړ. نو مناسبه یې وګڼله چې خپله کوچنۍ لور له هغه ځایه لیرې کړي ترڅو دا صحنه ونه ویني ، نو شیخ سلامه ته یې امر وکړ چې هغه د قصر دننه بوځي. کله چې سلامه هغه د پلار له جامو څخه جلا کړه، اوښکې یې وبهېدې او په چغو او فریاد یې پیل وکړ.

جلال‌الدین بې اختیاره د اس په لور روان شو. هغه په بشپړه توګه ګنګس شوی و تر دې چې په نیمه لاره کې اس ته ور ورسېد. ماشوم یې د ښوونکي له لاسونو واخیست؛ هغه ښوونکی چې له وېرې یې لاس او پښې لړزېدلې او نه پوهېده څه وایي. پاچا ورته داسې په غوسه وکتل چې نږدې و هغه سړی وسوځوي، او له هیبته یې دا هم هېر کړل چې د خپل بادار د درناوي لپاره له اسه راکښته شي. بیا له اسه راکوز شو او سخت لړزېده.

پاچا ورسره خبرې ونه کړې او ټپي امیر یې په ډېرې چټکۍ او احتیاط قصر ته یووړ. ساتونکو ته یې اشاره وکړه چې سمدستي طبیب حاضر کړي او پخپله د قصر پورتني پوړ ته لاړ، په داسې حال کې چې ساتونکي په وېره او اضطراب ورپسې منډې وهلې.

طبیب پاچا ته ورغی او ویې لیدل چې هغه پر ټپي امیر ټیټ شوی او د هغه نبض ګوري ترڅو ډاډه شي چې ژوندی دی، خو د اندېښنې له امله یې حواس کار نه کاوه او ګومان یې کاوه چې نبض نه وهي، په داسې حال کې چې نبض یې لګېده. کله چې پاچا طبیب ولید، یوې خوا ته شو ترڅو هغه ته لاره خلاصه شي. لومړی کار چې طبیب وکړ، د هغه د جګړې جامې یې ترې وایستلې او بیا یې نبض ورته وکتلو. پاچا داسې ناست و ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



به وایې پر سکروټو ناست دی؛ د طبیب مخ ته یې کتل ترڅو د هغه د مخ له تغیراتو څخه حقیقت پوه شي. طبیب هم په ځواب کې ځنډ ونه کړ او ویې ویل: «زما باداره! امیر محمود ژوندی دی او په دې اړه هیڅ اندېښنه مه کوئ، یوازې ډېرې ستړیا بېهوښه کړی دی.» بیا یې له خپل بکس څخه یوه شیشه راوویستله چې سور رنګی مایع پکې و، یوه وړه پنبه یې په کې لوند کړه او د امیر محمود د پوزې شاوخوا یې ور تېره کړه او لږ ګلاب یې هم پر مخ ور وپاشل. بیا یې د هغه کالي یوې خوا ته کړل؛ د بدن په بېلابېلو برخو کې کوچني او سطحي ټپونه تر سترګو کېدل، یوازې د ښي وریځې (ابرو) ټپ یې یو څه ژور و. طبیب یې وینه پاکه کړه، سپین پوډر یې ورباندې وپاشل، پنبه یې ورباندې کېښوده او په یوه سپینه ټوټه یې د هغه سر وتړلو.

همدا چې طبیب وزګار شو، امیر یو ټکان وخوړ، سترګې یې وغړولې او د خونې په چت کې یې ګرځولې؛ بیا یې په داسې حال کې چې هڅه یې کوله کښېني، وویل: «زما دښمنان چېرته دي؟ هغه ډارن او پست فطرته چېرته دي؟ زما له وېرې وتښتېدل!»

کله چې جلال‌الدین د هغه حرکت او خبرې ولیدلې، نور یې زغم ونه کړای شو؛ ورنږدې شو، هغه یې په خپله سینه پورې کلک کړ او د سر په ښکلولو یې ورته پیل وکړ او ویې ویل: «الحمدلله، زما زویه محموده ته ښه یې؟ زما د زړه ټوټې محموده، ته روغ یې؟»

محمود خپل لاسونه د هغه له غاړې تاو کړل او یو څه وخت یې د هغه مخ ته وکتل، ته به وایې دا سړی یې چې د یو څه وخت لپاره هېر کړی و، بېرته ور په یاد شو؛ بیا یې پر وچو او ښکلو شونډو یوه مسکا خپره شوه او ویې ویل: «ګرانه اکا! ته دلته ولې راغلی یې؟ ایا له تازه دمو ځواکونو سره زما مرستې او جګړې ته راغلی یې؟»

جلال‌الدین وویل: «هو محموده جانه! له خورا لوی ځواک سره ستا مرستې ته راغلی یم او ټول مغل به له منځه یوسو.»

محمود شاوخوا وکتل، خپل ځان ته یې وکتلو او ویې ویل: «زما توره چېرته ده؟ زما اس کومه دی؟»

جلال‌الدین ورته هیڅ ځواب نه درلود. طبیب هم پوه شو چې د دې ماشوم حواس لا په بشپړه توګه په ځای نه دي؛ نو راټیټ شو، د هغه لاسونه یې د پاچا له غاړې خلاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل، پر بستر یې وغزاوه او په نرمۍ یې ورته وویل: «اوس جګړه درېدلې ده او ته خوب او استراحت ته ډېره اړتیا لرې، نو ښه استراحت وکړه چې له هغې وروسته به له دښمنانو سره جګړه پیل کړو.»
دا یې وویل او پر امیر یې برستن هواره کړه؛ لا یې سر پر بالښت سم نه و ایښی چې لېمې یې سره ورغلې او په ژور خوب لاړ.
خو په دې منځ کې د محمود ښوونکي (سیرون) شیخ سلامه ته پناه وروړه او د امیر ټوله کیسه یې ورته له پیله تر پایه تېره کړه او زیاته یې کړه چې د هغه په ساتنه کې یې هیڅ ډول ناغېړي نه ده کړې. سیرون شیخ سلامه ته وویل: «خو امیر ډېر لېونی، سخت سری او په اس سواری مین دی. هغه په اس ځغلولو نه ستړی کېږي؛ نه استراحت کوي او نه درېږي. کله چې د لوبې میدان ته ورسېږي، اس په خپله خوښه ځغلوي او شاوخوا ته هیڅ پام نه کوي؛ شاید له کوم لوړ کمر وغورځېږي او یا په ژوره کنده کې پرېوځي. کله چې ما وګوري چې د هغه د ژوند ساتلو لپاره ورپسې اس ځغلوم ترڅو ورته ورسېږم، هغه پر خپل اس تازیانه وهي او نور هم تېزېږي. زه مجبور یم چې له هغه سره له سیالۍ لاس واخلم ترڅو د هغه سرعت لږ شي، ځکه کله کله د هغه له بېباکه ځغلولو وېرېږم. کله مې چې اس ورسره په پای کې یوځای شي، د هغه د اس لګام ونیسم او هغه له زین څخه پورته کوم، خو دا کار وروباندې ډېر بد لګېږي؛ ځکه غوسه کېږي او ما په تازیانو او لغتو وهي او تر هغې نه ارامېږي چې بېرته یې پر اس کېنوم. هغه نن په وسلو پوره سمبال راووت او سهار یې ماته وویل چې نن به له مغلو سره یوې سختې او لویې جګړې ته وځي او ماته یې امر وکړ چې خپله توره له ځان سره واخم، ځکه شاید زما مرستې ته یې اړتیا پېښه شي. کله چې له ښاره ووتلو، اس یې د نږدې ځنګل په لور بوتلو، ما ترې وپوښتل: چېرته ځې؟ هغه راته وویل: دښمنان هلته دي او ماته یې امر وکړ چې ورپسې شم او خبرې ونه کړم.
ورپسې روان شوم، کله چې د ځنګل ونو ته نږدې شوو، ودرېد او ماته یې اشاره وکړه، زه هم ورسره ودرېدم. خپله لیندۍ یې راوویستله، د غشو بکس یې ماته راکړ او یو په بل پسې یې غشي اخیستلې، د لیندۍ په چله کې یې ایښودلې او د ماهرو نښه ویشتونکو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښېر يې خوشي کول؛ غشو به غږ کاوه او د ونو پاڼې او شاخونه به يې ماتول. کله کله به يې ماته ويل: وګوره، په دې غشي مې دوه جنګيالي وويشتل.

دا کار يې په دومره جوش او احساس سره کاوه چې زه يې هم جذب کړم او داسې مې وګڼله چې رښتيا هم په يوه جنګي ميدان کې يم، نه د يو کوچني امير په وړاندې چې لوبې کوي. کله يې چې کڅوړه له غشو خالي شوه، ليندۍ يې په شا کړه، توره يې له تېکي راوويستله او ماته يې هم د همداسې کولو امر وکړ. بيا يې په داسې حال کې چې توره يې پورته کړې وه، ځو ګامه مخکې لاړ او کله چې ونو ته ورسېد، ماته يې وويل: وهه يې! نو هغه به د ونو ډېونه په توره وهل او ما هم د هغه په څېر کول. همداسې مو دوام ورکړ ترڅو زما لاسونه ستړي شول او ومې ليدل چې د هغه مخ سور او له تندي يې خولې بهيږي، خو هغه لا هم توره وهله تر دې چې زړه مې پرې وسوځېد؛ کله يې چې وليدل زه ولاړ يم، په غوسه يې راته وکتل او چيغه يې کړه: وهه يې اى سړيه!»

د هغه له کاره حيران شوم او نه پوهېدم چې څنګه يې له دې حالته وباسم، تر دې چې يو په زړه پورې چل ذهن ته راغی؛ نو ما هم له ځانه ډېره مېړانه وښودله او د ونو په ډډونو مې سخت ګوزارونه پيل کړل. ومې ليدل چې هغه زما په دې کار ډېر خوشحاله شو، وينه يې نوره هم توده شوه او جذبه يې زياته شوه، نو يو په بل پسې يې پرله پسې بريدونه پيل کړل. په دې وخت کې ما په لوړ غږ چيغه کړه: «د دښمن لښکر مات شو! زما باداره وګوره، ستا له تورې تښتي!»

دي چل مې کار ورکړ او ښه اغېزه يې وکړه. امير چې کله دا خبره واورېده، له توره وهلو يې لاس واخيست، مخ يې وځلېد او څېره يې د ګل په څېر له خوشحالۍ وغوړېده؛ څومره ښکلې ننداره وه! هغه له خپل اس سره او اس له هغه سره، د بريا د غرور په نشه کې د فتحې نڅا کوله. ته به وايې حيوان هم پوه شوی و چې بادار يې څومره لويه فتحه کړې ده، نو ځکه يې د هغه په وياړ کې ځان شريک کړ. داسې ښکارېده چې د شجاعت هغه ډېر غرور چې د امير عقل يې نيولی و او له احساساتو سره يې لوبې کولې، اس ته هم لېږدېدلی و او هغه يې هم په خپل دام کې راګير کړی و!

امير يو څه وخت د اس له لګام سره لوبې وکړې؛ کله به يې کش کړ او کله به يې خوشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ، اس به هم پر خپلو پښو نڅا کوله، کله به یې سینه مخکې کړه او کله به یې ټیټه کړه، او د نشه یي کس غوندې به ښي او چپ لور ته ځنګېده. شاید په همدې وخت کې زړور جنګیالي احساس کړه چې کار یې لا نه دی ختم شوی او باید دښمن نور هم شاته وتمبوي او پسې واخلي؛ نو ځکه یې خپل اس د ځنګل منځ ته وځغلاوه. ما د خطر احساس وکړ او ووېرېدم چې له کومې ونې سره ونه لګېږي او یا په کومه کنده کې پرېنوزي، نو چیغه مې کړه: «باداره! دښمنان دې خواته وتښتېدل!» هغه د میدان په منځ کې زما په لور راوګرځېد، ما هم دور وخوړ او بېرته د میدان منځ ته مې ځان ورساوه؛ ده هم اس وځغلاوه، ځان یې راته ورساوه او له ما څخه مخکې شو او په لوړ غږ یې وویل: «پونده یي کړه!پونده یی کړه! باید دښمن ته ورسېږو.»

د هغه غږ پر اس اغېزه وکړه او له ما څخه مخکې شو، زما پر مخ او څېره یې دوړې باد کړې او له ډېرې سختۍ وروسته هم ورته ونه رسېدم. هر څومره چې به زه ورنږدې کېدم، هغه به نور هم سرعت اخیستلو ترڅو له ما مخکې واوسي؛ دا د هغه د هرې ورځې کار و، خو نن یې داسې ځواک، نشاط او برید وښود چې تر اوسه مې نه و لیدلی. ما خپل ځان د یو داسې اتل په وړاندې لید چې ته به وایې د جګړې د ډګر مېړنی دی، نه د یو داسې ماشوم په وړاندې چې لا یې اووه کاله نه دي پوره شوي. قسم درته کوم، که زما پر غاړه د هغه د ساتنې او نګرانۍ مسؤلیت نه وای، نو د هغه په څېر ځغاسته مې په ځان نه پیرزو کوله. بدن مې ستړی شو، ځواک مې ختم شو او دومره ستړی شوم چې نږدې وه مړ شم، خو هغه لا هم په پوره ځواک او خوشحالۍ کې و؛ ته به وایې د داسې یو خوځښت سرچینه ده چې نه وچیږي. له ده څخه زما حیرانتیا کمه نه وه، خو بله خوا کوچني اس ته یې هم هک پک وم؛ اس یې ځغاسته کوله او ما هم ورسره ځغلول، ته به وایې دا پراخه دښته یوه قالینه ده چې زموږ تر پښو لاندې نغښتل کیږي؛ کله به یې موږ ناڅاپه د غونډۍ سر ته خېژولو او کله به یې بېرته ژورې کندې ته راغورځولو!

کله چې موږ په داسې حالت کې وو، ناڅاپه مې هغه ژوره کنده ولیده چې د سېلاب له امله جوړه شوې وه او امیر ورته نږدې کېده. زما د سر وېښتان ځیږه شول (وډار شوم)،

(c) ketabton.com: The Digital Library



امير ته مې د خطر خبرداری ورکړ او ناره مې کړه چې د اس لګام کش کړي، خو هغه زما خبرې ته هيڅ پام ونه کړ او همداسې يې اس څغلاوه. ته به وايې هغه ما مبارزې ته راغواړي؛ کله چې يقيني شوم چې هغه کندې ته رسېدلی، نو په پوره ځواک مې خپل اس وځغلاوه، ورنږدې شوم او د غوندۍ په غاړه مې هغه له زين څخه راپورته کړ او د اس د لګام يوه خوا مې په زور کش کړه. بېچاره اس خپل توازن له لاسه ورکړ، بل لور ته کږ شو او له موږ سره يوځای پر ځمکه راولوېد. خو هغه کوچنی اس، کله چې له خطر څخه خبر شو، هڅه يې وکړه چې ځان کنټرول کړي، خو د ډېر سرعت له امله ونه درېد، نو خپل پاتې سرعت يې چپ لور ته چې ژوروالی يې کم و، واړاوه او هلته وغورځېد؛ زه يوه نشوم چې پر هغه څه وشول او هغه مې بيا ونه ليد تر هغه چې دلته ستاسو سره مې وليد. له راغورځېدو وروسته زه بېهوښه شوم او کله چې په هوښ راغلم، امير مې وليد چې لوېدلی، بدن يې سوړ شوی او رنګ يې تښتېدلی دی؛ هغه مې پر خپل اس کېښود او دلته مې راوړ.»

کله چې د ښوونکي خبرې دلته ورسېدې، سخت سرچکر ورته پيدا شو. شيخ سلامه هغه په خپله سينه پورې ونيو او هغه بسترې ته يې بوتلو چې تر شا يې وه؛ هغه په پرله پسې ډول ويل: «زه ډېر ستړی يم، تاته د خدای روی دروړم چې د پاچا په وړاندې زما سپارښتنه وکړه او زما عذر ورته ووايه، ځکه زه د هغه له سزا څخه وېرېږم.»

شيخ ورته وويل: «مه وېرېږه! زموږ بادار پاچا به هيڅکله تا ونه غندي او زه هيله لرم چې د هغه د تر ټولو ګران شخص (محمود) په حق کې د دې نېکۍ له امله به تاته انعام هم درکړي.» بيا يې يو داسې څښاک (شربت) ورته راوړ چې د بېخوبي ضد وه او ورته يې وويل: «دا وڅښه، ستا لپاره ښه دی او روغتيا دې بېرته راګرځوي.» بيا يې ورباندې شړۍ هواره کړه او يوازې يې پرېښود چې ښه خوب وکړي.

بل سهار، امير محمود روغ رمټ له خوبه راويښ شو او د پرونۍ پېښې هيڅ نښه پکې نه وه، پرته له هغې پټۍ چې پر سر يې تړلې وه. کله چې جلال‌الدين هغه په داسې حالت کې وليد، ډېر خوشحاله شو، هغه يې ځان ته نږدې کړ او ويې ويل:

«سهار دې په خير، ای د مغلو ماتوونکيه! زما زويه! تا هغوی ته داسې ماتې ورکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې بيا به د خوځېدو توان ونه لري.»
محمود د خپل اکا د ستاينې له امله د حيا يوه مسکا وکړه او جلال‌الدين دوام ورکړ: «خو زما زويه! پام کوه چې بيا خپل ژوند په خطر کې وانه چوې؛ کله چې دې په ځنګل کې دښمن ته ماتې ورکړه، بايد د هغوی په تعقيب پسې نه وای وتلی، بلکې بايد دې خپل لښکر سمبال کړی وای او د دښمن د احتمالي (شپني بريد) لپاره دې لازم چمتووالی نيولی وای.»
محمود وويل: «ما غوښتل دښمن زموږ د هېواد له پولو دومره ليرې وباسم چې بيا يې د دې سيمو خيال هم په سر کې رانشي.»
* «که د دښمن تعقيب درته دومره مهم و، نو خپل يو قوماندان دې بايد لېږلی وای ترڅو هغوی پسې لاړ شي او تيت و پرک يې کړي؛ هيڅکله دا کار په خپله مه کوه، ځکه دا ستا او ستا د لښکر په زيان دی.»
* «له ما سره له سيرون پرته بل څوک نه و او هغه هم يو ډارن قوماندان دی، هيڅکله يوازې د هغوی په تعقيب پسې نه وځي.»
* «د سيرون په حق کې داسې مه وايه؛ هغه ډارن نه دی، بلکې يو با تدبيره قوماندان دی. د هغه مېړانه هغه د هغو خطرونو له ليدلو نه منع کوي چې په وړاندې يې دي، او بې تدبيره مېړانه هيڅ ګټه نه لري. ايا هغه تاته ونه ويل چې له کندې سره پام کوه؟ خو تا يې خبره وانه وريده. ته نږدې وې چې په هغې کې وغورځې، نو ستا ژوند د هغه پوروړی دی او بايد ترې مننه وکړې.»
کله چې محمود دا واورېدل، غلی شو، هيڅ ځواب يې پيدا نه کړ او پر مخ يې د خپګان نښې څرګندې شوې؛ ته به وايې د داسې يو کار په خاطر چې د ده په ګومان ښه و، ملامتېدل ورباندې بد ولګېدل. جلال‌الدين پوه شو چې د امير په واړه ذهن کې څه تېرېږي او زړه يې ورباندې وسوځېد، نو په نرمۍ يې د هغه لاس ونيو، په مينه يې په خپله سينه پورې کلک کړ او ورته ويې ويل: «زه ستا له شجاعت او مېړانې سره مينه لرم، يوازې درڅخه غواړم چې له خپل شجاعت سره تدبير هم ملګری کړې ترڅو يو ښه قوماندان شې. زه ډېره هيله لرم چې زما پر نصيحت عمل وکړې او زما هيله پوره کړې؛ او زه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر هغې درڅخه راضي نشم ترڅو چې دې په خپل شرافت راسره لوظ (پيمان) نه وي کړی چې بيا به هيڅکله خپل ځان په خطر کې نه اچوې.»

محمود چې خپګان يې کم شوی و، وويل: «په خپل شرافت درته وعده درکوم چې بيا به هيڅکله ځان په خطر کې نه اچوم.»

* «او دا چې خپل مخې ته به ګورې.»

* «او دا چې خپل مخې ته به ګورم.»

* «او دا چې کله دې په وړاندې خطر وليد، ودرېږې به.»

* «او دا چې کله مې په وړاندې خطر وليد، ودرېږم به.»

* «او دا چې خپل اس به تر وروستي بريده نه ځغلوي.»

محمود يوه شېبه تم شو؛ جلال‌الدين پوه شو چې دا ډول لوظ پر محمود ډېر سخت تمامېږي، نو خبره يې داسې سمه کړه:

* «مګر په هغه دښته کې چې کږلېچونه او لوړې ژورې ونه لري.»

* «او دا چې خپل اس به تر وروستي بريده نه ځغلوم، مګر په هغه دښته کې چې لوړې ژورې ونه لري.»

جلال‌الدين په پوره مهرباني د هغه پر مخ لاس تېر کړ او ورته ويې ويل: «اوس مې د خپل زړور جنګيالي له لوري خاطر جمع شو، نور نو کوم خطر هغه نه ګواښي.»

محمود ته خپله ملګرې جهاد ور ياده شوه او له پلار (اکا) څخه يې وپوښتل چې جهاد چېرته ده؟ ځکه له پرون راهيسې يې نه وه ليدلې. جلال‌الدين ځواب ورکړ چې جهاد پرون راغلې وه، خو ته ويده وې او هغې نه غوښتل چې تا له خوبه ويښ کړي.

له هغه وخته چې شيخ سلامه جهاد خپلې (کنيزې) ته وسپارله ترڅو د محمود د ټپونو ننداره هغه بېهوښه نه کړي، هغه ډېره نګرانه او بې‌قراره وه. هغې په پرله پسې ډول ژړل او چيغې يې وهلې او غوښتل يې محمود وګوري – په داسې حال کې چې طبيب د هغه په درملنه بوخت و. کله چې طبيب خپل کار پای ته ورساوه او جلال‌الدين د محمود له حاله ډاډه شو، جهاد ته ورغی او هغه يې د ويده محمود سر ته راوسته او ورته ويې ويل: «هغه د جګړې له امله ډېر ستړی شوی او بايد يوازې پرېښودل شي چې ښه خوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



او استراحت وکړي.»

جهاد یوازې د محمود مخ ته په کتلو بسنه وکړه؛ هغه پټې چې د محمود له سر څخه تاو شوې وه، هغه یې ووېره وله. پلار ته یې د پوښتنې په ډول وکتل، پلار یې په ارامه ورته په غوږ کې وویل چې د مغلو له قوماندان سره د مبارزې پر مهال د هغه د تورې له امله یو کوچنی ټپ پرې لګېدلی، خو محمود هغه ته ماتې ورکړې او په یو ګوزار یې د هغه سر دوه نیمې ټوټې کړی دی؛ طبیب هم ټپ تداوي کړی او تړلی یې دی، د اندېښنې ځای نشته او سبا به روغ شي، بیا به ته هغه ته د مغلو په وړاندې د بریا مبارکي ورکړې.

هغه شپه جهاد د محمود او د هغه د تندي د ټپ په فکر کې وه. زړه یې ورباندې سوځېده، هغې ته د پلار خبرې ور یادېدې چې محمود څنګه د مغلو له قوماندان سره جګړه کړې او په یوه ګوزار یې د هغه سر دوه نیم ټوټې کړی دی؛ هغه د خپل اتل ملګري د ځواک له امله ډېره حیرانه شوې وه او زړه یې غوښتل چې همدا اوس هغه وګوري او د بریا کیسې یې له خپلې ژبې واوري.

هغې د خیال مرغۍ والوزوله او محمود یې د جګړې په ډګر کې ولید چې له دښمنانو سره جنګېږي؛ هغه پر خپل (بورو) اس سپور و، توره یې په لاس کې ځلېدله او ښي او چپ لور ته یې بریدونه کول او جنګیالي یې پر ځمکه راغورځول. ناڅاپه د مغلو قوماندان ورته راووت، یو څه وخت یې سره مبارزه وکړه او د تورو ګوزارونه تبادله شول؛ هغه په یو مناسب فرصت کې وتوانېد چې د محمود پر تندي یو ګوزار وکړي خو هغه ژور نه و. محمود غوسه شو او په بې‌باکۍ یې ورباندې برید وکړ او د هغه پر سر یې داسې توره ور وار کړه چې سر یې ورته دوه ټوټې کړ.

بیا په فکر کې لاړه چې سبا به څنګه ورسره مخ کېږي، څنګه به ورته مبارکي وایي او څه ډالۍ به ورکوي. بیا یې ور په یاد شول چې وعده یې ورسره کړې وه که له جګړې بریالی راغی، نو ښکل به یې کړي. پرېکړه یې وکړه چې پر خپله وعده وفا وکړي؛ نو لومړی به هغه ښکلوي او بیا به د ګلانو یوه دسته ورته ډالۍ کوي، ځکه محمود له ګلانو سره مینه لري. دا پرېکړه یې خوښه شوه او په ډېره خوښۍ یې خوب ته اجازه ورکړه چې د هغې د سترګو مېلمه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار وختي په خوشحالۍ له خوبه پاڅېده، د قصر باغ ته لاړه او له هر ګل څخه يې څو خانګې وشکولې او خپلې کنيزې ته يې ورکړې ترڅو ترې يوه ښکلې دسته جوړه کړي. کنيزې هغه ګلان برابر کړل او جهاد ته يې سرې ورېښميني جامې چې غاړې او څنډې يې په سپينو زرو ښايسته شوې وې، ور واغوستلې. ويښتان يې ورته ږمنځ کړل او په ورېښمين بند يې د هغې په شا وتړل. بيا يې يو تور هندي خولۍ چې په سرو زرو ښايسته شوې وه پر سر ورته کېښوده چې مخې ته يې د سپوږمۍ (هلال) په څېر څو مرغلرې ټکوهل شوې وې.

جهاد د ګلانو دسته راواخيسته او د محمود خونې ته ورغله. محمود چې کله هغه وليده، راپاڅېد. جهاد سر ټيټ کړ، د محمود تندی يې ښکل کړ او بيا يې د ګلانو دسته ورته ونيوله او ويې ويل: «زما دا ډالۍ ومنه، ای مېړنيه جنګياليه!»

محمود د جهاد په ليدو او د هغې په مينه ناکې ډالۍ سره خپله ټوله ستړيا هېره کړه.

محمود د ګلانو دسته بوی کړه او ويې ويل: «د دې ښکلې ډالۍ نه مو مننه.»

جلال‌الدين په داسې حال کې چې خندل يې، جهاد ته وويل: «نو زما ډالۍ چېرته ده، ګرانې جهاده؟»

جهاد موسکۍ شوه او ويې ويل: «ته هيڅ ډالۍ نه لرې، ځکه ته د مغلو جګړې ته نه وې تللی.»

جلال‌الدين وويل: «محموده! کاشکې زه هم له تا سره د مغلو جګړې ته وتلی وای، ترڅو جهاد داسې يوه ډالۍ ماته هم راکړې وای.»

دا يې وويل او دواړه ماشومان يې په غېږ کې ونيول، په خپله سينه پورې يې کلک کړل او ويل يې: «خداوند مو برکتي کړه ماشومانو! خدای مو بختور کړه زما اولادونو!»

## څلورم څپرکی:

سلطان جلال‌الدين په «هند» کې په خپل کوچني هېواد کې يو ډېر غمجن ژوند تېراوه. درانه يادونه تل ورسره مل وو؛ د له لاسه وتلي تاج او تخت يادونه، د خپلو هغو عزيزانو يادونه چې په خپلو وينو کې رنګ شول، او د هغه پلار يادونه چې په پرديسۍ، بېکسۍ او جلاوطنۍ کې يې له فاني نړۍ سره مخه ښه وکړه؛ هغه پلار چې د قدرت پر مهال يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبدبې سترګې برېښولې، زړونه يې لړزول او غبرګ يې هر ځای انګازې کولې. د هغو ورونو يادونه چې د مغلو په لاس ووژل شول؛ هغوی چې د سلطنت زينت، د عظمت نښان او د ښکلا مثالونه وو. د هغې نيا او تروركګانو يادونه چې د مغلو اسيرانې شوې او د مغلو د طاغوتي دربار په لور يوړل شوې، هغوی چې يو وخت يې قصرونو ته تازه ګي بخښله. د هغې مهربانې مور، وفادارې مېرمنې او د هغو پيغلو خويندو يادونه چې سلطان پخپله د هغوی د ډوبولو (غرقولو) امر صادر کړ او په خپلو سترګو يې د دغه حکم د پلي کېدو ننداره وکړه (ترڅو د مغلو لاس ته ورنشي). د هغه يوازينی ډاډګيرنه د هغه دوه ګران ماشومان، محمود او جهاد وو؛ جلال الدين به ډېر وخت له هغوی سره تېراوه، د هغوی کوچنۍ او معصومې نړۍ ته به ورننووت، لوبې به يې ورسره کولې، د هغوی په ساده خبرو او پاکو خوبونو کې به ورګډېده او په دې توګه به يې د ژوند غمونه او دردونه هېرول.

سره له دې هم، هغه د هېواد له چارو او د لښکر له پياوړي کولو غافل نه و. هغه په دوامداره توګه د «لاهور» شاوخوا سيمو له اميرانو سره په جګړه بوخت و؛ د هغوی بريدونو ته يې ځواب ورکاوه او کله نا کله به يې په خپله وربانديې يرغل کاوه. سلطان په ورته وخت کې د خپلو تېرو سيمو له خبرونو ځان خبراوه او د مغلو خوځښتونه يې تر دوربين لاندې لرل، هغوی ته يې نقشې جوړولې او مناسب فرصت ته په تمه و ترڅو په خپل وخت بريد وربانديې وکړي، خپل غچ ترې واخلي او د خپل ځان او پلار هېوادونه د هغوی او د هغوی د نوکرانو او لاس پوڅو څخه ازاد کړي. مغلو د تاج او تخت او حکومت کولو سره مينه نه لرله؛ هغوی به پر ښارونو بريد کاوه، هر څوک به چې مخې ته ورغلل ـــ که سړی و، که ښځه او که ماشوم ـــ يا به يې وژل او يا به يې اسيرول، مالونه به يې لوټل او د ابادۍ ټولې نښې به يې له منځه وړلې. بيا به له غنيمتونو او اسيرانو سره خپلو سيمو ته بېرته ستنېدل او ويجاړ شوي او لوټ شوي ښارونه به يې په خپل حال پرېښودل؛ هغوی ته دا مهمه نه وه چې له هغوی وروسته څوک واک ته رسېږي. خو له يو څه وخت وروسته به يې بيا پر همدغو ښارونو بريد کاوه او همدا لومړنۍ سناريو به يې بيا تکراروله. هغوی د ځينو ښارونو له اوسېدونکو سره تړون کاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هر کال به درنه جزيه ورکوي ترڅو بيا بريد ورباندې ونه کړي او د هوکړې په صورت کې به يې د هغو خلکو له منځه يو واک غوښتونکی کس چې د مغلو په اشارو به نڅيده، د واکمن په توګه ټاکه.

هغه ښارونه چې جلال‌الدين ترې وتلی و، همدا حال درلود. په دغو ښارونو کې چارې د يوې ظالمې او مستبدې ډلې په لاس کې وې چې يوازينۍ موخه يې د مال او شتمنۍ ټولول وو. هغوی به په بېلابېلو ډولونو د خلکو مالونه غصبول، پر خلکو يې درنې ماليې اېښودې، د سوداګرو مالونه يې لوټل او که چا به د شکايت غږ پورته کړ، سزا يې يا مرګ و او يا سپکاوی او شکنجه.

جلال‌الدين په دغو ښارونو کې بې‌شمېره پلويان لرل چې د هغه د بېرته راستنېدو ارمان يې کاوه او په پټه به يې هغه د خلکو له حالاتو خبراوه. هغوی به د واکمنانو د ظلم، ستم، فساد او بغاوت راپورونه ور رسول، سلطان به يې بېرته راستنېدو ته هڅاوه، د بريا زيری به يې ورکاوه، د جلال‌الدين د راستنېدو په صورت کې يې د هر اړخيز پاڅون وعده ورکوله او ورته ويل به يې چې چنګيز خان په خپلو سيمو کې له ترکي قبايلو سره په اوږدو جګړو بوخت دی.

جلال‌الدين فرصت مناسب وباله او پرېکړه يې وکړه چې دا چانس له لاسه ورنه کړي. نو په ډېره چټکۍ روان شو او د خپل لوی قوماندان، «پهلوان ازبک» پرته يې بل هيڅوک د بريد له پلان څخه خبر نه کړل. هغه په هند کې په خپله امارت کې د ساتنې لپاره په کافي اندازه لښکر له پهلوان ازبک سره پرېښود او پخپله له پنځه زره سرتېرو سره روان شو. هغه دا پنځه زره کسان په لسو ډلو ووېشل او د هرې ډلې لپاره يې يو امير وټاکه او امر يې وکړ چې هره ډله دې په جلا توګه او له بېلابېلو لارو سفر پيل کړي ترڅو خلک د هغوی له حرکت څخه خبر نشي.

سلطان جلال‌الدين تر روانېدو وړاندې د خپلو دواړو ګرانو ماشومانو په اړه ډېر فکر وکړ؛ هغه د ډېر وخت لپاره په دې کې متردد و چې ايا هغوی له ځان سره بوځي او که يې په «هند» کې پرېږدي. د هغوی بېول د لارې له خطرونو، ستړياوو او د دې ستونزمن سفر له مشقتونو سره مخ کېدل وو؛ او که چېرې هغوی روغ رمټ هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسپېږي، نو بيا به يې د خپل او د پلار د هېوادونو د ببرته ګټلو په هغې خونړۍ جګړه کې ورګډوي چې يوازې خدای پاک پوهېږي پايله به يې څه وي. دا کار به يو ځل بيا له مغلو سره د مخامخ کېدو لامل شي، او چا ورته ضمانت ورکړی و چې هغه به پر داسې يو قوم برلاسی شي چې لښکر يې پای نه لري، بريدونو ته يې هيڅ خنډ نشته او له هغوی څخه د خدای له رحم پرته بل هيڅ پناه ځای نشته.
بل خوا، که يې هغوی په «هند» کې پرېښي وای، نه يې د هغوی بېلتون زغملی شو او نه هم ماشومانو د هغه ليرې والی زغملی شو. په دې نړۍ کې د ده له کورنۍ څخه يوازې همدغه دوه تنه پاتې وو او د هغوی هم له ده پرته بل څوک نه و. سلطان هغوی له ډېرې سرګردانۍ او ناهيلۍ وروسته موندلي وو؛ هغوی د ده د هيلو د بېرته راژوندي کېدو لامل شوي وو، ژوند يې پرې روښانه و، په ژوند کې يې يوازينۍ ډاډګيرنه وه او د ده د له لاسه وتلې پاچاهۍ او کورنۍ يوازينۍ نښې وې. ايا هغوی په يوې داسې پردۍ خاوره کې پرېږدي چې نه پوهېږي عاقبت به يې څه وي؟ شايد کله چې د «لاهور» شاوخوا يو هندي امير خبر شي، د لاهور د نيولو تمه ورته پيدا شي او د ده د ځای ناستي له کمزورۍ څخه په ګټې اخيستنې پر لاهور بريد وکړي او هغه لاندې کړي، چې په هغه صورت کې به دواړه شاهزادګان د هغوی اسيران شي او د هغوی له تورو څخه به يې د خلاصون هيڅ هيله پاتې نشي.
جلال‌الدين دواړه لارې وسنجولې او هغه يې غوره کړه چې دده په نظر خطر يې کم و. هغه غوره وګڼله چې هغوی له ځان سره بوځي، ځکه دا پرېکړه يې زياته خوښه وه او زړه يې ورته کېده؛ ځکه چې په دې توګه يې هغوی ليدلی شول. که يې بريا نصيب شوه خو ډېره ښه، او که خدای ناخواسته بخت ورسره ياري ونه کړه او ماتې يې وخوړه، نو بيا خو د ژوند هيڅ هيله نه پاتې کېږي او د پناه هيڅ ځای به نه وي؛ نو غوره ده چې هغوی هم له ده سره يوځای ووژل شي ترڅو د ده په څېر د ذلت او بدبختۍ سره مخ نشي.
ته به وايې جلال‌الدين له وړاندې د داسې ورځې په انتظار و؛ ځکه هغه له ماشومتوبه د هغوی پر اس سوارۍ او د جنګي وسلو پر کارولو ډېر ټينګار کړی و او هغوی يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سختۍ، مشقت، له خطرونو سره د مبارزې او پر مصيبتونو د برلاسي کېدو لپاره روزلي وو.

هغوی څو څو ځله له سلطان يا هندي شيخ سلامه څخه د خپل نيکه (خوارزمشاه) کيسې، له مغلو سره د هغه د شخړو خبرونه او له هغوی سره د جلال‌الدين د جګړو کيسي اورېدلي وې. دې خبرونو هغوی هڅول او په جوش کې يې راوستل. جلال‌الدين به محمود ته د هغه د پلار (امير ممدود) د مېړانې او د مغلو په وړاندې د هغه د جګړو او د هغوی له قوماندانانو سره د مبارزې کيسې ډېرې کولې. هغه ورته د «هرات» د جګړې خبرونه څو ځله تکرار کړي وو؛ هغې جګړې چې پلار يې پکې تاريخي مېړانه وښودله، دښمنان يې خوار او زليل کړل او په پای کې ټپي شو او د همدغه ټپ له امله د خدای په لاره کې شهيد شو. محمود به هم له حماسو ډک شو او ارمان به يې کاوه چې کاشکې يې په هغو جګړو کې ګډون کړی وای او مغلو ته يې داسې درس ورکړی وای چې هيڅکله يې هېر نه کړي.

د محمود باطني احساس ورته ويل چې کله لوی شي، نو له مغلو سره به جنګېږي او د خپل پلار غچ به ترې اخلي؛ او د هغو جنايتونو غچ به هم اخلې چې هغوی يې د نيکه، اکا، مور، نيا او پاتې کورنۍ په حق کې کړي دي. دغه احساس د هغه ټول وجود نيولی و، تر دې چې په خوب او ويښه کې ورسره مل و او کله به پرې داسې غالب شو چې بې‌حاله به يې کړ. نو د خپل باطني غوښتنې د څرګندولو او ځان سپکولو لپاره به د خيال نړۍ ته لاړ؛ له مغلو سره به يې جګړې کولې، بريا به يې ګټله، هغوی ته به يې ماتې ورکوله، اتلان به يې ور وژل، تر واټنو واټنو به ورپسې و او بيا به په برياليتوب سره ښار ته راستنېده؛ ښار به يې ورته په ګلانو ښايسته کاوه، ډولونه به يې ورته وهل او ګلابونه به يې وربانديې پاشل.

جهاد هم په دغو احساساتو کې له هغه سره ملګرې وه او هڅاوه به يې. هغې ليدل چې دا جګړې د هغې د لوی اتل (محمود) د هيلو د پوره کېدو لامل ګرځي او له مغلو څخه د کينې او غچ اخيستنې اور يې لړ مړ کوي. هغې به د محمود د جګړو، مېړانو او اتلوليو کيسو ته په ډېر خوند سره غوږ نيوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حتی جلال‌الدین به هم محمود خپلو جنګي کارونو ته هڅاوه، د هغه په خیالونو کې به ورګډېده، د هغه حماسي به یې اورېدلې، مننه به یې ترې کوله او په ډېره مهربانۍ به یې ورته لازمې جنګي لارښوونې کولې. هغه خپلو درباریانو او خدمتګارانو ته هم امر کړی و چې د محمود د خیالونو او ادعاوو تصدیق وکړي.
کله چې محمود او جهاد د جلال‌الدین پر هغې پرېکړې خبر شول چې غواړي د مغلو په لور د جګړې او د هېواد د بېرته ګټلو لپاره روان شي، له خوشحالۍ په خپلو کالو کې نه ځاییدل. تر دې چې جلال‌الدین په حیرانتیا له ځانه وپوښتل: «ما ولې غوښتل هغوی په هند کې پرېږدم او له ځان سره یې یونسم؟ دا کار خو د هغوی د خوښې خلاف و او وربادنې ډېر بد به لګېدلی وه! شاید ما به هیڅکله نه وای لیدلي چې هغوی دې خوښه پاتې شي، مګر دا چې په زور مې پاتې کړي وای.»

جلال‌الدین له خپلو قوماندانانو سره روان شو. هغوی تر «سند سیند» پورې پر آسونو لاړل او هلته له خپلو آسونو او ټولو جنګي وسایلو سره په هغو لویو کښتیو کې سپاره شول چې جلال‌الدین له وړاندې چمتو کړې وې او د سیند بلې غاړې ته واوښتلو.
سرتېري هم ډله ډله روان شول تر دې چې د «خیبر» په دره کې سره یوځای شول. له هغه ځایه ټول په ګډه د «کابل» په لور روان شول. جلال‌الدین په پټه خپل کسان خپلو پلویانو ته ور ولېږل او هغوی یې له خپل راتګه خبر کړل؛ هغوی د هغه په راتلو ډېر خوشحاله شول او دا خبر یې په ښار کې خپور کړ. خلکو هم د ښار د واکمن او د هغه د ډلې په وړاندې پاڅون وکړ، هغوی یې ووژل او جلال‌الدین پرته له کومې لویې جګړې ښار ته ننووت او واک یې په لاس کې واخیست.

دا خبر نورو ښارونو او پلازمېنو ته هم ورسېد. مغلو او د هغوی پلویانو له هغه سره جګړې ته ځانونه چمتو کړل او چنګیز خان ته یې لیک ولېږه او مرسته یې ترې وغوښته؛ خو جلال‌الدین د مغلو د مرستې تر رسېدو وړاندې وربادنې برید وکړ او ښارونه یې یو په بل پسې پرته له ډېر زحمت څخه فتحه کړل. کله به چې هغه د ښارونو دروازو ته ورسېد، د ښار اوسېدونکو به پر خپلو واکمنانو پاڅون کاوه او له جلال‌الدین

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره به يې مرسته کوله. خاين واکمنان به هم د چنګيز خان په لور تښتېدل. تر دې چې جلال‌الدين «کرمان» ته ورسېد، بيا «اهواز» ته لاړ او هغه يې ونيو او وروسته يې «آذربايجان» تر خپلې ولکې لاندې راووست، تر هغه چې پر ټول ايران واکمن شو.
محمود او جهاد تل له جلال‌الدين سره ملګري وو او هر چېرته به چې هغه تلو، هغوی به يې هم له ځان سره وړل. هندي شيخ سلامه او سيرون د هغوی په خدمت کې وو. محمود له خوشحالۍ په جامو کې نه ځاييد؛ هغه د خپل اکا په رکاب کې له يوه ښاره بل ته تلو. د هر ښار دروازې به د هغوی پر مخ پرانيستل کېدې، ډولونه به وهل کېدل، خلکو به د هغوی د ليدو او هرکلي لپاره صفونه جوړول او د پاچا او د هغه د وليعهد لپاره به يې شعارونه ورکول. خو له دې ټولو سره سره، د هغه زړه غوښتل چې د مغلو مخونه وګوري، نو تل به يې له اکا څخه پوښتل: «زموږ دښمنان مغل چېرته دي؟ هغوی کله زموږ سره جګړې ته راځي؟»
جلال‌الدين به په مسکا ورته ويل: «بيره مه کوه، هغوی به ډېر ژر زموږ سره جګړې ته راشي. ان شاء الله چې خدای پاک به موږ پر هغوی بريالي کړي.»
چارې بېرته عادي حالت ته راوګرځېدې او د ټولو ښارونو په منبرونو کې د سلطان جلال‌الدين خوارزمشاه او د هغه د وليعهد محمود بن ممدود په نوم خطبې ولوستل شوې. د واک له ترلاسه کولو وروسته د سلطان لومړی کار دا و چې د خپل پلار ياد تازه کړي. هغه په يوې لويې ډلې کې د خپل پلار د زيارت لپاره هغې ټاپو (جزيرې) ته لاړ چې پلار يې پکې ښخ و؛ د هغه د قبر ترڅنګ يې اوښکې تويې کړې او د بخښنې دعا يې ورته وکړه. بيا يې د هغه د هډوکو د راايستلو امر وکړ او د ټولو ښارونو د مشرانو او مخورو په وړاندې يې هغه د «ازدهن» په کلا کې خاورو ته وسپارلو او پر قبر يې يوه پرتمينه ګونبده جوړه کړه چې د هغې په جوړولو او سينګار کې يې تر ټولو ماهرو معمارانو څخه کار واخيست او ډېره شتمني يې وربانديې مصرف کړه.
کله چې د ګونبدې د جوړولو کار پای ته ورسېد، خبر ورغی چې چنګيز خان د خپل يوه زوی په مشرۍ يو ستر لښکر له ده سره جګړې ته رالېږلی دی. سلطان هم جګړې ته چمتو شو او له څلوېښت زره سرتېرو سره روان شو. د هغه ځانګړی لښکر چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



«خلاص» په نوم یادېده او له هنده یې له ځان سره راوستی و (چې شاوخوا درې زره کسان ترې پاتې وو)، د لښکر په مخکښنه برخه کې و.
د «مرو» په دښته کې له مغلو سره مخامخ شول او د دواړو لښکرو ترمنځ سخته جګړه ونښته. د «خلاص» لښکر په دې جګړه کې ډېره مېړانه وښوده او مقاومت یې وکړ، خو ډېری یې ووژل شول؛ د مسلمانانو صفونه ګډوډ شول او جلال‌الدین له بریا څخه ناهیلی شو. هغه پرېکړه وکړه چې په دې جګړه کې شهید شي. نو محمود ته چې تر شا یې پر اس سپور و او له جوش او جذبې ډک و، مخ ور واړاوه او ویې ویل: «ای محموده! دا هم هغه مغل چې تا یې د لیدو ارمان کاوه. زه غواړم په خپله له هغوی سره وجنګېږم، ته زما تر شا زما ساتنه وکړه او پام کوه چې هغوی دې اسیر نه کړي.» د محمود څېره روښانه شوه او په دې یې وویاړل چې اکا یې وربانديې باور وکړ. سلطان د دې ماشوم له مېړانې او د مرګ په لور له تلوسې حیران شو، مخکې لاړ، خپل سرتېري یې وهڅول او پخپله جګړې ته ننوت. کوچني شاهزاده هم د هغه تر شا پر اس سپور توره وهله. دې ننداري مسلمانان ولړزول او په ټول وجود کې یې د مېړانې جذبه راویښه کړه، نو د پاچا په دفاع کې یې سخت جنګ وکړ. د جګړې په ګرمۍ کې، په داسې حال کې چې پاچا او مسلمانانو تر وروستي ساه جنګ کاوه خو جګړه لا هم د مغلو په ګټه وه، ناڅاپه د مغلو صفونه ګډوډ شول او د هغوی له شا څخه غبرونه پورته شول چې ویل یې: «الله اکبر! الله اکبر! مورږ د خدای سرتېري یو! ای مسلمانانو! له مشرکانو سره وجنګېږئ!»
مسلمانان حیران شول او ځینو داسې ګومان وکړ چې دا به پرښتې وي چې خدای پاک د مسلمانانو مرستې ته رالېږلې دي. نو پر مغلو یې برید وکړ او چیغې یې وهلې: «الله اکبر!» ډېر وخت تېر نه و چې مغل مات شول، خو د تېښتې لاره یې نه لرله، ځکه د بخارا او سمرقند د جنګیالیو د تورو خوراک شول. د بخارا او سمرقند خلک د مغلو له حرکت وروسته ورپسې روان شوي وو او د جګړې په منځ کې یې له شا څخه وربانديې شېبنی برید وکړ. په دې توګه مسلمانانو له دواړو خواوو پر مغلو برید وکړ او یو تن یې هم ژوندی پرې نه ښود؛ دواړو ډلو مسلمانانو د مرو په دښته کې چې د مغلو له مړیو ډکه وه، سره وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مرو په دښته کې لویه بریا ترلاسه شوه او مغل د بخارایي او سمرقندي غازیانو په مټ تیت و پرک شول.

سلطان جلال‌الدین د سمرقند او بخارا له جنګیالیو مننه وکړه او ورته یې وویل: «تاسو په رښتیا د خدای سرتېري یاست. تاسو هغه پرښتې یاست چې خدای له اسمانه د مسلمانانو مرستې ته رالېږلي وئ. زموږ ژوند او بریا ستاسو پوروړې ده.» جلال الدین د هغوی ستاینه وکړه، خلعتونه (انعامونه) یې ورکړل او وړاندیز یې ورته وکړ چې د ده په لښکر کې شامل شي، هغوی هم ومنله.
امیر امر وکړ چې ټول اسیران دې ووژل شي. د چنګیز خان زوی هم په اسیرانو کې و؛ سلطان امر وکړ چې هغه راولي ترڅو په خپل لاس یې ووژني. کله چې یې هغه راوست، محمود راپاڅېد او ویې ویل: «ګرانه اکا! ته به چنګیز خان ووژنې، د چنګیز زوی ستا د توري وړتیا نه لري، نو هغه زما توري ته پرېږده.»
ناستو کسانو د محمود په دې خبره وخندل او جلال‌الدین ورته وویل: «رښتیا وایې، هغه ووژنه خو په دې شرط چې له درېیو ګوزارونو زیات پرې ونه کړې.» محمود مخکې لاړ او د مغلو شاهزاده ته نږدې شو چې په زنځیرونو تړل شوی و. بیا یې خپله توره دوه ځله په هوا کې وڅرخوله او د هغه پر غاړه یې داسې راخوشي کړه چې سر یې پر ځمکه ولوېد. حاضرینو تکبیرونه وویل او د شاهزاده د قوت ستاینه یې وکړه. محمود خپل اکا ته مخ کړ او ویې ویل: «یوازې په یو ګوزار مې ووژاه!»
جلال‌الدین راپاڅېد، هغه یې په غېږ کې ونیو او ویې ویل: «خدای دې تاته برکت درکړي ای مېړنیه!» د دې وېروونکې ماتې او د خپل زوی د وژل کېدو خبر چنګیز خان ته ورسېد؛ هغه سخت غصه شو او پرېکړه یې وکړه چې پخپله جګړې ته ورشي او تر هغه بېرته رانشي ترڅو چې د جلال‌الدین ولیعهد، سړي، ښځې او ماشومان یې د پسونو په څېر نه وي حلال کړي. خو هغه په خپل هېواد کې د ترکي قبایلو سره په اوږدو جګړو بوخت و، نو ځکه یې له جلال‌الدین څخه غچ اخیستل وځنډول.
جلال‌الدین داډه و چې یوه ورځ به چنګیز خان د غچ لپاره راځي او دا غچ به ډېر لوی او وېروونکی وي؛ نو ځکه یې باید یوازې د «مرو» په بریا زړه نه وای ښه کړی، بلکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې وېروونکې ورځې ته یې باید ځان چمتو کړی وای. خو هغه په ماوراءالنهر کې د خپلو جاسوسانو او استازو له لارې پوه شو چې چنګیز خان لړترلړه تر شپږو میاشتو پورې خپلې کورنۍ جګړې نه شي پای ته رسولی.
جلال‌الدین پرېکړه وکړه چې په دې موده کې لازم چمتووالی ونیسي ترڅو د چنګیز خان د لښکرو په وړاندې د ودرېدو وړتیا ولري. هغه ولیدل چې هېواد یې ضعیف او کمزوری دی؛ د مغلو د پرله پسې بریدونو، لوټماری، وژنې، وحشت، ویجاړۍ او د خاینو او ظالمو واکمنانو د واکمنۍ له امله په هېواد کې ویجاړي، فقر، قحطي او اقتصادي رکود خپور و. هغه باور درلود چې هېواد یې نه شي کولی هغه ته دومره مال، تجهیزات، اسونه او وسلې ورکړي چې د مغلو د ستر لښکر مخه پرې ونیسي.
هغه څو ورځې په دې فکر وکړ چې څنګه خپله دا کمزوري له منځه یوسي. له ډېر فکر وروسته هغې پایلې ته ورسېد چې پخوا یې پلار (خوارزمشاه) هم ورته رسېدلی و؛ یعنې په «شام» او «مصر» کې له خلافت او نورو مسلمانو پاچاهانو او امیرانو څخه د مرستې غوښتنه. ځکه هغوی په ناز او نعمت کې وو او قوي مالي سرچینې یې لرلې؛ که هغوی د خپلې شتمنۍ یوه کوچنۍ برخه چې د هغوی پر حال یې هیڅ اغېز نه کاوه، ده ته ورکړې وای، نو ده کولی شول د مسلمانانو د دښمن په وړاندې ودرېږي.
جلال‌الدین دا هېر نه کړل چې پلار یې په دې لاره کې هیڅ پایله ترلاسه نه کړه او هیڅ یو پاچا ورسره مرسته ونه کړه؛ ځینو په ښه انداز بښنه وغوښته او ځینو خو حتی ځواب هم ور نه کړ. خو ده نه غوښتل بیره وکړي او د وتلو دا یوازینۍ لاره پر ځان وتړي.
هغه د ځان لپاره دا پلمه کوله چې شاید هغوی د صلیبیانو په جګړو او کورنیو ستونزو بوخت وو چې د ده د پلار چیغو ته یې غوږ ونه نیوه.
که څه هم په زړه کې پوهېده چې هغوی مرسته نه ورسره کوي او ځان ته (فریب) ورکوي، ځکه هغه څه یې ترې غوښتل چې پلار ته یې هم نه وو ورکړي، خو بله چاره یې نه لرله!
جلال‌الدین په «بغداد» کې خلیفه او د «مصر» او «شام» امیرانو ته لیکونه واستول. په لیکونو کې یې د ټولو اسلامي سیمو لپاره د مغلو خطر روښانه کړ او هغه جنایتونه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته بیان کړل چې هغوی د ده د خلکو په حق کې کړي وو. له هغوی یې وغوښتل چې په جګړه کې مرسته ورسره وکړي ترڅو د نورو اسلامي هېوادونو او مغلو ترمنځ خنډ شي. خو قاصدان خالي لاس بېرته راستانه شول او د ده برخه هم د پلار په څېر وه.
جلال‌الدین سخت په غصه شو او د هغوی له دې مخ اړولو پرېشان شو. نو پرېکړه یې وکړه چې له مغلو وړاندې له همدغو (مسلمانو واکمنانو) سره وجنګېږي، هغوی تنبیه کړي او مالونه یې ضبط کړي ترڅو له مغلو سره پرې جګړه وکړي. هغه مناسبه وبلله چې له «ملک اشرف» څخه پیل وکړي، ځکه هغه ورته توند ځواب ورکړی و او ویلي یې وو: «هغه دومره ناپوه نه دی چې له جلال‌الدین سره مرسته وکړي ترڅو سبا پر ده برید وکړي؛ د ده لپاره جلال‌الدین او وحشي مغل هیڅ توپیر نه لري.»
جلال‌الدین له غصې نړدې و چې وچوي؛ قسم یې وخوړ چې د ملک اشرف پر خاوره به داسې یرغل وکړي چې د هغه دا خبره رښتیا شي چې ګواکې دی او مغل یو شان دي.
جلال‌الدین له خپل لښکر سره د «خلاط» په لور روان شو، هلته یې برید وکړ، خلک یې ووژل، مالونه یې لوټ کړل او کلي یې ویجاړ کړل. بیا یې پر «حران»، «رها» او نورو ښارونو یرغل وکړ او هغومره قتل او غارت یې وکړ چې بې‌شمېره غنیمتونه یې ترلاسه کړل. هغه داسې کارونه وکړل چې مغلو به کول.
هغه غوښتل همداسې مخکې لاړ شي او د شام ټول ښارونه ویجاړ کړي او تر مصر ځان ورسوي، خو له خپل هېواده ورته لیکونه راورسېدل چې د چنګیز خان له خوځښته یې خبر کړ. نو په چټکۍ بېرته را روان شو ترڅو له خپل اصلي دښمن سره مخ شي. خو ته به وایې چې خدای پاک غوښتل هغه د هغو بې‌ګناه مسلمانانو د وژلو په خاطر مجازات کړي چې هیڅ دښمني یې ورسره نه وه کړې؛ هغه یوازې د خپل هوا او هوس له امله چې سترګې یې ور ړندې کړې وې، د مغلو په څېر جنایتونه کړي وو. کله چې بېرته خپل هېواد ته راستنېده او له «کردستان» څخه تېرېده، د خپلو زړونو د ټوټو، محمود او جهاد د لیدو تلوسه ورسره وه، خو هغوی یې ونه موندل! هغه هر چېرته پسې وګرځېد، خو ته به وایې چې ځمکې تېر کړي وي. د هغوی دواړه ساتونکي، هندي شیخ سلامه او د هغوی مربی سیرون هم ورسره لادرکه شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان او سرتېري يې په هغه ځای کې مېشته شول چېرته چې هغوی (ماشومان) ورک شوي وو. هغه خپل سرتېري د هغوی د لټون لپاره شاوخوا ټولو سيمو ته واستول، خو هېڅ درک يې ونه موندل شو. بله ورځ يې د مربي «سيرون» جسد د دوو غرونو ترمنځ په يوه تنګه لاره کې وموند؛ سينه يې د خنجرونو په ګوزارونو ځيرې شوې وه او ماغزه يې پر ډبرو پاشل شوي وو. داسې ښکارېدل چې مجرمانو هغه لومړی په خنجرونو وهلی او بيا يې له غره راغورځولی وي.

جلال‌الدين پوه شو چې شهزادګان له خپلو دوو خدمتګارانو سره تښتول شوي او سيرون يې د مقاومت له امله وژلی دی. هغه خپلو سرتېرو ته امر وکړ چې د دواړو غرونو په شاوخوا کې لټون وکړي او پخپله هم ورسره لاړ، خو هېڅ خبر يې ترلاسه نه کړ. نږدې وه چې جلال‌الدين له غمه مړ شي. هغه له ډوډۍ خوړلو لاس واخيست او پرېکړه يې وکړه چې تر هغو به دا ځای نه پرېږدي چې د هغوی په اړه يې معلومات نه وي ترلاسه کړي.

له بلې خوا، د ده د ځای ناستو له خوا پرله پسې ليکونه ورته رسېدل چې چنګېزخان او لښکرې يې له سيند څخه تېرې شوي، پر «بخارا» يې بريد کړی، هغه يې وران کړ او د بخارا د خلکو د هغې اتلولۍ غچ يې په خورا بد ډول ترې اخيستی چې د «مرو» په جګړه کې يې د مغولو په لښکر له شا بريد کړی و. اوس هغوی د «سمرقند» په لور روان دي ترڅو هلته هم ورته ناورين رامنځته کړي.

خو جلال‌الدين د محمود او جهاد په غم کې ډوب و. کله به يې د ليکونو ځواب نه ورکاوه او کله به يې د لارې د نږدېوالي وعده ورکوله. که به کوم ملګري د ژر وتلو نصيحت ورته وکړ، هغه به ورباندې غصه شو او چغې به يې کړې: «ای خاين! پر تا افسوس ای خاينه! ايا ته ما ته وايې چې خپل اولادونه پرېږدم؟ مخکې له دې چې سر دې له تن څخه جلا کړم، زما له سترګو پناه شه!»

د جلال‌الدين خوی بدل شوی او ډېر تندخويه شوی و. هغه په داسې يوې سرګردانۍ او اندېښنې اخته و چې هېڅوک ورته نه شو نږدې کېدای او خلکو به په ډېر احتياط ورسره خبرې کولې. غم او غصې دومره فشار ورباندې راوړ چې شرابو ته يې مخه کړه او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوامداره توګه یې څښل، تر دې چې روږدی شو او تل به مست و.
هغه به شپه او ورځ چغې وهلې: «محموده! جهاده! چېرته لاړلئ؟ څنګه مو زه یوازې پرېښودم؟ ما هم له ځان سره بوځئ یا بېرته راشئ... ای غلو! ستاسو زړه څنګه پر جهاد او محمود سخت شو؟ څنګه مو اجازه ځان ته ورکړه چې هغوی له ما غلا کړئ چې ان یوه شېبه هم بې له ما ژوند نه شي کولای؟ زما سر واخلئ، هغوی خو یوازې دوه بېګناه ماشومان دي! جلال‌الدین بن خوارزمشاه، د هند، ایران، خراسان او ماوراءالنهر پاچا بوځئ او هر څه چې ورسره کوئ ویې کړئ؛ ویې وژنئ، شکنجه یې کړئ، په دار یې کړئ، ویې سوځوئ یا یې چنګېزخان ته لاس تړلی واستوئ. که مال غواړئ، هغوی راولېږئ او زه درسره د خدای لوظ کوم چې کورونه به مو له سرو زرو، سپینو زرو او جواهراتو ډک کړم. که غواړئ له پاچاهۍ تېرېږم. ای دښمنانو! ای دوستانو! هو، که زما دوه بچیان بېرته راولېږئ، زما دوستان به شئ. پر ما رحم وکړئ! ایا نه پوهېږئ زه څوک یم؟ زه یو بدبخته او بېچاره یم! زه یوازې او فراري یم! د پلار پاچاهي مې لاړه او هغه له غمه په جزیره کې مړ شو. مغولو مې ورونه او کاکاګان راڅخه حلال کړل، زما انا او عمه‌ګانې یې وینځې کړې. هو، زما انا «ترکان خاتون» د پاچاهانو لور او د پاچاهانو مور وه

کله به چې شپه شوه، هغه به بې کچې شراب څښلو، چیغې به یې وهلې، ناسمې او بې مانا خبرې به یې کولې او عجیبه حرکتونه به ترې سرته رسېدل؛ تر هغه چې سر به یې له مستۍ دروند شو، خمار به پرې غلبه وکړه او پر خپل تخت به پریووت. هغه به تر سهاره پورې هذیان (بې‌سده خبرې) ویل او کسانو به یې اورېدل چې هغه له ځانه پوښتنې کوي او پخپله ځواب ورکوي، ځان ملامتوي او بیا ښځنه غواړي. هغوی واورېدل چې یوې شپې یې ویل:
«ای بخارایي سړیه! ای بخارایي مسلمانه! ته داسې ښکارې لکه د خدای د کور (بیت الله) حاجي چې یې، یوه شېبه ودرېږه چې برکت درنه ترلاسه کړم.»
— «ته داسې سړی یې چې ډېر بد او ناوړه کارونه دې کړي دي، زه وېرېږم چې ستا په وړاندې د درېدو په وخت کې د خدای (ج) له لوري راباندې عذاب نازل نه شي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



— «بلکې زه یو درملوتی، بېچاره او مصیبت ځپلی سړی یم؛ د پلار پاچاهي مې له لاسه ووته او هغه له غمه په یوه ټاپو کې مړ شو، مغلو مې ورونه او اکاګان په تورو ووژل او زما نیا یې وینځه کړه...»

— «بس ده، اوس پوه شوم چې څه غواړې ووایې.»

— «ای نېک او صالح واکمنه! وینم چې ژاړې، څه شي وژړولې؟ آیا ته هم زما په څېر مصیبت ځپلی یې؟»

— «نه، بلکې زه ستا په حال ژاړم...»

— «زما په حال؟! نو ته له ما سره مینه لرې...»

— «هو، زه له تا سره مینه لرم ای جلاله!»

— «ای جلاله! زما اروابناد پلار به تل همدا رنګه غږ راباندې کاوه. اجازه راکړه مخ دې سم وګورم. ته کټ مټ زما پلار «خوارزمشاه» ته ورته یې.»

— «زه خوارزمشاه یم ای جلاله!»

— «نو ته په خپله زما پلار یې... پلاره! پلاره!»

— «ما ته مه نږدې کېږه، هلته پر خپل ځای پاتې شه!»

— «ولې ګرانه پلاره؟»

— «زه دې پلار نه یم!»

— «زما پلار نه یې؟! خو تا همدا اوس ونه ویل چې خوارزمشاه یې؟»

— «هو، زه خوارزمشاه یم، زه محمد بن تکش یم.»

— «نو بیا خو زما پلار یې؟ ایا ته له ما څخه کرکه لرې؟»

— «زه د خدای په وړاندې ستا له عملونو بېزاره یم او که مې شوای کولی، له تا به مې هم بېزاري اعلانوله. آیا ته له مشرکو مغلو سره له جهاد څخه وروسته بېرته راوګرځېدې او له مسلمانانو سره دې جګړه وکړه او د هغوی وینې دې پر ځمکه تویې کړې؟»

— «زما موخه د هغو پاچاهانو ادب کول وو چې له مغلو سره په جهاد کې مې ترې مرسته وغوښته خو هغوی زه ناهیلی کړم، کټ مټ لکه تا چې ترې مرسته وغوښتله او هغوی ناهیلی کړې.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــــ «ښه، اوس چې ته ادعا کوې، ایا هغه پاچاهان دې ونیول؟ که دې پر هغو مؤمنو رعیتونو لاس کېښود چې په خپلو هېوادونو کې په امن او ارامۍ کې اوسېدل؟ سرې دې یې ووژل، مالونه دې یې لوټ کړل، کورونه او پټي دې یې ویجاړ کړل او تر ټولو بد دا چې د خدای په وراندې دې د هغوی ښځې وینځې او ماشومان مریان کړل... ایا ته خوښ یې چې همداسې کار ستا له ښځو او اولادونو سره وشي؟»

ــــ «ای افسوس! همدا بلا زما پر اولادونو هم راغله... محمود او جهاد رانه وتښتول شول، ارمان پر محمود او جهاد!»

ــــ «دا یو پوره جزا ده، بې له کوم کمي او زیاتي! په یاد لره چې تا څومره ماشومان له خپلو مېندو او پلرونو جلا کړل چې هغوی ته تر خپلو اولادونو ګران وو.»

ــــ «آه پر محمود او جهاد! هغوی څه ګناه کړې وه چې زما د ګناهونو سزا ګالي؟»

ــــ «پر هغوی اوښکي مه تویوه، همدا ورته غوره وه چې د خدای له لارې ستا له انحراف وروسته له تا جلا شي.»

ــــ «خو زه له هغوی سره مینه لرم او د هغوی د لیرېوالي طاقت نه لرم.»

ــــ «ستا مینه د هغوی په هیڅ درد نه لګېږي او له تا وروسته هغوی ته هیڅ زیان هم نه رسوي؛ نو خپل وخت د هغوی په لټون کې مه ضایع کوه، ځکه ته به هغوی بیا هیڅکله ونه مومې.»

ــــ «زه به هغوی هیڅکله ونه وینم! نه، هیڅکله نه، زه به هغوی وینم... زه به پسې ګرځم او پیدا کوم به یې... له ما لیرې شه... نه، بېرته راشه، ای نېک بخارایي سړیه! بېرته راشه... حج ته لاړ شه، خپل رب ته زما لپاره دعا وکړه، شاید زما ګناهونه وبښي... محموده! جهاده!»

ورځې په جلال‌الدین تیریدې او حال یې ورځ تر بلې خرابېده، تر دې چې ملګري یې د هغه له رغېدو ناهیلي شول او د هغه د عجیبه چلند او لېونتوب په وړاندې یې د صبر کاسه ډکه شوه. په همدې حال کې، د چنګیز خان د پرمختګ او یو په بل پسې د ښارونو د نیولو، وژلو، لوټلو او ویجاړولو تازه خبرونه ورته رسېدل، تر دې چې مغول «تبریز» ته ورسېدل. د هغوی لپاره دا ډېره سخته وه چې د داسې یو بې‌سده سلطان په وړاندې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جوړېدو هیله یې نه وه، لاس تر زنې کښېنې او انتظار وباسي چې مغول راشي او هغوی له خاورو سره خاورې کړي. نو ځکه، هغوی په پټه سلطان پرېښود او له خپلو بخارايي او سمرقندي مجاهدينو وروڼو سره يوځای شول؛ هغوی چې پخوا د مسلمانو وروڼو په وړاندې د جلال‌الدين د جګړې پر مهال له هغه جلا شوي وو، يو کس يې خپل امير ټاکلی و او د تبريز او ديار بکر ترمنځ يې د مغولو له مخکښو لښکرو سره سختې مبارزې کړې وې او هغوی ته يې ماتې ورکړې وه.

کله چې دا خبر خپور شو چې چنګيز خان د سختې ناروغۍ له امله او په دې وېره چې په پردۍ خاوره کې مړ نشي، خپل هېواد ته بېرته ستون شوی، د مجاهدينو د بريا هيله نوره هم زياته شوه. چنګيز خان ته د خپل ستر دښمن (جلال‌الدين) د بد حال خبرونه رسېدلي وو، نو ځکه يې د لښکر په مشرۍ کې خپل شتون او په پرديسۍ کې ناروغي د هغه د ماتولو لپاره اړينه ونه بلله. خو له تګ وړاندې يې کلک امر وکړ چې د بريا په صورت کې بايد جلال‌الدين ونه وژل شي؛ هغه امر وکړ چې هر ډول وي هغه بايد ژوندی ونيول شي ترڅو چنګيز پخپله هغه محاکمه کړي او خپل غچ ترې واخلي.

ډېر وخت تېر نه و چې مغول ډله ډله د يو ويجاړونکي سېلاب په څېر په حرکت راغلل او هر لوري ته خپاره شول. مسلمانان پوه شول چې د هغوی د مخنيوي ځواک نه لري، خو څرنګه چې يې د حق په لاره کې د مړينې تړون کړی و، د دښمن په وړاندې د يو کلک دېوال په څېر ودرېدل، تر دې چې دښمن د هغو اتلو مجاهدينو د ټوټه ټوټه جسدونو له پاسه تېرېدو پرته يو ګام هم مخکې نه شو اخيستی.

کله چې دا کلک سد مات شو، د مغولو د بريد توپان هرې خواته خپور شو، تر دې چې د هغوی او د جلال‌الدين د اوسېدو ځای ترمنځ يوازې څو ميله فاصله پاتې وه. هغوی د باد په څېر چټک هلته ورسېدل، ځکه هغوی په جاسوسۍ او د دښمن د احوالو په معلومولو کې بې‌ساري مهارت درلود.

د جلال‌الدين يوازې څو محدود کسان ورسره پاتې وو. په داسې حال کې د خپل ستر سلطان پرېښودل ورته ګران وو، نو غوره يې وګڼله چې هر ډول وي د هغه دا حال وزغمي او تر پايه ورسره پاتې شي. کله چې مغول راورسېدل، هغوی د خپل امير د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفاع لپاره چمتو شول، یو څه اوبه یې د هغه پر سر واچولې، هغه یې پر آس سپور کړ او په تېښته یې وژغوره.

په دې وخت کې جلال‌الدین په هوش راغی او په خطر پوه شو. هغه د «آمد» ښار په لور لاړ خو هلته یې پرېښنود. د دښمن یوې ډلې هغه کلابند کړ؛ که هغوی غوښتل په اسانۍ یې وژلی شو، خو موخه یې د هغه ژوندي نیول وو. سلطان دفاع وکړه او ځینې یې ووژل، د هغه ځانګړي ساتونکي هم مخکې شول او دښمن یې په ځان بوخت کړ ترڅو سلطان وتښتي.

مغولي سپرو ورپسې منډې کړې، خو هغه په اس‌سوارۍ کې بې‌ساری و او ویې شو کولی چې هغوی تر شا پرېږدي. هغه «میافارقین» ته نږدې شو او غوښتل یې د هغه ځای له پاچا څخه پناه وغواړي. یو کلي ته ننووت، خو دښمن یې لا هم په تعقیب کې و؛ نو سترګو په رپ کې له هغه ځایه ورک شو او یو غره ته پورته شو چې هلته د کردانو یوه قبیله اوسېدله چې د لارې نیولو او غلو شهرت یې درلود. امیر یوه ته پناه وروړه او ورته یې وویل: «زه سلطان جلال‌الدین یم، ما ته پناه راکړه او زما ځای له دښمنه پټ وساته، په بدل کې به زه تاته پاچاهي درکړم.»

کرد سړي هغه خپل کور ته بوت او خپلې مېرمنې ته یې امر وکړ چې د هغه خدمت وکړي. په دې منځ کې، یو بل کرد سړی چې جلال‌الدین پرې ظلم کړی و، هغه یې وپېژاند او ورپسې شو. هغه پوه شو چې سلطان د کوم کور دننه دی. انتظار یې وکړ چې د کور خاوند بهر ووځي. کله چې خاوند د یو ضرورت لپاره بهر لاړ، هغه مظلوم کرد چې د غچ په لټه کې و، له نیزې سره کور ته ننوت او ویې ویل: «ولې دا خوارزمی نه وژنئ؟»

د کور مېرمنې وویل: «دا ناممکنه ده، زما مېړه هغه ته پناه ورکړې ده.»

کرد سړي وویل: «دې سړي ته پناه نشته! دا هغه سلطان دی چې زما ورور یې، چې تر ده ډېر غوره و، په "خلاط" کې وژلی دی.»

جلال‌الدین ډېر زړور و، هغه حتی یوه خبره هم ونه کړه. کله چې کرد سړي خپله خبره پای ته ورسوله، خپله نیزه یې په ټول قوت سره د سلطان په لور ورګوزار کړه. سلطان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترې ځان غړوند کړ او نیزه تر شا په دېوال کې ننوته. جلال‌الدین په چټکۍ نیزه له دېواله راویستله او ورته یې وویل: «اوس دې ستا ورور ته لېږم!»
کرد سړی پوه شو چې وژل کېږي، نو ویې ویل: «غواړې ما هم د خپل ورور په څېر ووژنې؟ ما لا وړاندې ستا د بچیانو په تښتولو سره خپل غچ درنه اخیستی دی!»

د دې خبر اورېدل د جلال‌الدین لپاره د نېزې له ګوزارونو هم ډېر دردناک وو؛ د هغه ټول وجود وپرېکېد او خپل اندول یې له لاسه ورکړ. کرد سړی د سلطان د حېرانتیا، رډو سترګو او په لاس کې یې د نېزې لړزېدو ته هک‌حریان پاتې شو. وېرې اخیستی و او هرې شېبې ته په تمه و چې نېزه به یې زړه ور وڅیري. خو کله چې یې د سلطان غمجن غږ واورېد چې ویل یې: «له هغوی سره دې څه وکړل؟»، نو باور یې شو چې سلطان لا هم ژوندی دی. کرد سړي، چې لږ وېره یې کمه شوې وه، وویل: «هغه دواړه زما په منګولو کې دي او تر هغه چې امان رانه‌کړې، هغوی تاته نه سپارم.»
جلال‌الدین، په داسې حال کې چې مخ یې له خوشحالۍ ځلېده، وویل: «ما امان درکړ.»
کرد وویل: «تر څو چې دې نېزه له لاسه نه وي غورځولې، ستا پر خبره باور نه کوم.»
جلال‌الدین د نېزې د غورځولو په وخت کې وویل: «لاړ شه او هغوی دواړه ماته راوړه، زه به هر وخت چې وتوانېدم، تاته انعام درکړم.»
کرد سړی د دروازې په لور لاړ؛ هغه هره شېبه تمه لرله چې نېزه به یې پر شا ولګېږي. کله چې له کوره بهر شو او ځان یې د جلال‌الدین له برید څخه خوندي وباله، په لوړ غږ یې وویل: «ای بې‌چاره! له منګولو دې وتښتېدم، ما ستا دواړه ماشومان د شام پر مریي پلورونکو (برده‌فروشانو) پلورلي دي، نو هغوی به هیڅکله تاته بېرته رانشي!»
کرد سړي غوښتل چې وتښتي، خو سلطان یې ولید چې د هغه چا په څېر چې څوک یې راوڅرخوي، تلې تلې کېده، تر دې چې پر اړخ راولوېد او ویې ویل: «لا حول ولا قوة إلا بالله! محمود او جهاد د مریانو په څېر وپلورل شول!»
کرد سړی بېرته راوګرځېد، نېزه یې راواخیسته او د جلال‌الدین په تخرګ (اړخ) کې یې ننوېسته؛ نېزه یې د پښتیو په منځ کې بنده شوه. جلال‌الدین د کرد سړي په وړاندې هیڅ مقاومت ونه کړ، بلکې تسلیم شو او ویې ویل: «دا غوښه دې درته مبارک وي ای کرد

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړیه! ته د هغه سړي سیال شولې چې چنګیز خان یې سیال نه شو! ما ووژنه او له دې ژونده مې خلاص کړه چې له محمود او جهاد وروسته پکې هیڅ خیر او برکت نشته.»

کرد سړي غوښتل نېزه له پښتیو وباسي خو ویې نه شو کړای؛ جلال‌الدین ورسره مرسته وکړه او ویې ویل: «ژر کوه ما ووژنه، تبریکي درته وایم.»

کرد سړي نېزه د جلال‌الدین په سینه کې دومره په زور ښخه کړه چې څوکه یې ځمکې ته ورسېده او ویې ویل: «اوس مې له ژونده بې‌غمه کړې.»

د جلال‌الدین له سترګو اوښکې رواني شوې، د دروازې په لور یې وکتل، ته به وایې چې په وړاندې یې کوم سیوریویني، تر دې چې روح یې له بدنه ووت. هغه په دوامداره توګه ویل: «ای نېک بخارایي! ای بخارایي حاجي! خپل رب ته زما لپاره دعا وکړه، شاید زما ګناهونه وبښي او له خطاګانو مې تېر شي!»

## پنځم فصل:

جلال‌الدین په داسې حال کې له نړۍ رخصت شو چې د محمود او جهاد په اړه نور په هیڅ نه پوهېدو، یوازې دا ورته معلومه وه چې هغوی تښتول شوي او د شام پر یوه مریي پلورونکي پلورل شوي دي؛ خو دا چې څنګه وتښتول شول او وروسته ورباندې څه تېر شول، تر ابده ورته د یوه نه سپړل کېدونکي راز په څېر پاتې شول.

د هغوی د ورکېدو کیسه داسې وه چې سلطان جلال‌الدین له حده زیات له ښکار سره مینه لرله. کله به داسې کېدل چې د جنګ او مبارزې لپاره د سفر په اوږدو کې به د هوسیو یا ځنګلي خرو کومه ډله له څنګ تېره شوه، نو ده به خپل لښکر پرېښود او په هغوی پسې به روان شو، تر هغو به نه راګرځېد ترڅو چې به یې یو نه و ښکار کړی. بیا به یې خپلو څو کسانو ته امر وکړ چې ښکار را واخلي. هر کله به چې د دربار نږدې کسانو نصیحت ورته کاوه او له هغو خطرونو به یې خبراوه چې ده او لښکر ته یې لرل، نو ده به وعده ورسره کوله چې بیا به دا کار نه کوي؛ خو لږ وخت به نه و تېر چې سترګې به یې پر بل ښکار ولګېدې او پسې به روان شو. خپلو نږدې کسانو ته به یې ویل چې دی نشي کولای ښکار خوشې کړي. د سلطان دې عادت ورو ورو پر خورني (خورزاده)

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې هم اغېز وکړ، ځکه کله به چې جلال‌الدين په «هند» کې ښکار ته تلو، هغه به هم ورسره ملګری و او ډېر ځله به داسې کېدل چې محمود له «سيرون» سره يوځای د صحرايي سويانو ښکار ته تلو.

کله چې جلال‌الدين د «ملک اشرف» پر خاوره له بريد څخه وزګار شو او ويې غوښتل چې په چټکۍ خپل هېواد ته ستون شي ترڅو له چنګيز خان سره مخامخ شي، د دې کار بېړې هم هغه له ښکار څخه ونه ګرځاوه. د لارې په پيل کې له يوې هوسۍ سره مخ شو، په هوسۍ پسې لاړ او شاوخوا يو ساعت يې خپل سرتېري پر خپل حال پرېښودل. هغوی هم انتظار ورته وکړ ترڅو چې بېرته راغی.

د «خلاط» يوې ډلې خلکو ته هغه څه ډېر سخت او دردوونکي وو چې جلال‌الدين يې د کورنيو، ماشومانو او ښځمنيو په حق کې کړي وو. نو په خپلو کې يې عهد او پيمان وکړ چې په هر ډول وي هغه به وژني، که څه هم دا کار د هغوی د ژوند په بيه تمام شي. کله چې د هغه له سفر څخه خبر شول، د سرتېرو په پل پسې روان شول او تعقيب يې کاوه.

هغوی د داسې فرصت په تمه وو چې سلطان له لښکره جلا شي يا يې ساتونکي غافل شي ترڅو بريد ورباندې وکړي؛ خو کله چې يې د هغه له وژلو نااميده شول، پرېکړه يې وکړه چې دوه ماشومان يې وتښتوي. هغوی د سلطان جلال‌الدين ماشومان ليدلي وو چې پر آسونو سپاره دلته او هلته ګرځېدل او په يو ځای کې نه پاتې کېدل، بلکې هره شېبه به د لښکر په يوه څنډه کې وو؛ کله به يې له سلطان سره خبرې کولې، کله به د لښکر پای ته تلل او ننداره به يې کوله يا به يې له ځينو سپاهيانو سره خبرې کولې. کله نا کله به له لښکره وروسته پاتې شول او چې کله به لېر لرې شول، نو پر آسونو به يې يو له بل سره سيالي کوله چې کوم يو ژر لښکر ته رسېږي.

محمود طبعاً په سيالۍ کې له خپل ملګري (جهاد) څخه تکړه و، خو د هغه زړه يې نه ماتاوه او کله کله به يې د هغه د خوشالۍ لپاره په قصدي ډول اجازه ورکوله چې هغه سيالۍ ترې وګټي او ترې مخکې شي. په هر حالت کې «شيخ سلامه هندي» او «سيرون» له هغوی سره وو، پام يې ورته کاوه او يوه شېبه يې هم يوازې نه پرېښودل. دې چارې سلطان جلال‌الدين له هغوی څخه ډاډه کړی و او هيڅ اندېښنه يې نه ورته لرله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی د لښکر په پای کې روان وو چې سترګې یې پر یوې صحرايي سوې ولګېدې چې د غره په لمن کې په واښو کې ګرځېده. محمود د هغې د نیولو لپاره لاړ، جهاد هم ورپسې روان شو او دوه ساتونکي هم ورپسې لاړل ترڅو هغوی بېرته راولي، تر دې چې ټول د غره په پېچومي کې ورک شول. د لښکر هیڅ غړي ورپسې ونه کتل، ځکه پوهېدل چې دوه ساتونکي له شهزادګانو سره دي او ټولو ته دا یو عادي کار ښکارېده چې شهزادګان به جلا کېږي او لږ وروسته به بېرته راګرځي.
خو هغه څه چې د لښکر هیڅ یو غړی پرې خبر نه و، دا و چې اووه تنه کردان په لږ فاصله کې ورپسې وو او د ونو او غونډيو شاته پټ پټ روان وو. هغوی په ډېر هوښیارۍ داسې روان وو چې هر څه یې لیدل خو چا هغوی نه لیدل. هغوی محمود ولید چې د سوې په لټه کې د غره یوې څنډې ته لاړ او جهاد او دوه ساتونکي هم ورپسې شول. نو فرصت یې غنیمت وګاڼه، په غره یې دوره وواهله او له یوې ډبرینې لارې راکښته شول او ناڅاپه یې هغوی محاصره کړل. یوه یې په چټکۍ محمود را ونیو، له آس څخه یې راکښته کړ او خوله یې ور وتړله؛ دویم یې جهاد ونیوله او ورته کار یې ورسره وکړ. نورو یې شیخ سلامه او سیرون وګواښل چې که چیغې ووهي یا د تېښتې هڅه وکړي، دوی او دواړه شهزادګان به ووژني.

سیرون وغوښتل چې د مرستې لپاره چغې کړي، خو شیخ سلامه ورته اشاره وکړه چې غلی شي او هر څه چې هغوی (تښتوونکي) وايي، اطاعت یې وکړي. نو هغوی دواړه د دوو شهزادګانو د ژوند د ژغورلو لپاره په ناچارۍ تسلیم شول او دعاګانې یې کولې چې د لښکر ځینې کسان یې د پیدا کولو لپاره راشي.
خو هغو سنګدلو (تښتوونکو) دا خبره هېره نه کړه او هڅه یې وکړه چې مخکې له دې چې څوک خبر شي، له خپلو اسیرانو سره په چټکۍ وتښتي. نو دوو کسانو یې هغه دوه تنکي ځوانان تر شا پر آسونو سپاره کړل او په چټکۍ سره د ډبرینې لارې په لور روان شول. نور هم په داسې حال کې چې سرې تورې یې په لاس کې وې او نور دوه اسیران ورسره وو، ورپسې روان شول ترڅو د بل غره لمنې ته ورسېدل. دلته سیرون هڅه وکړه چې د هغوی له منګولو وتښتي، خو یو تن یې په چټکۍ سره په نېزه د هغه پر زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې ګوزار وکړ چې په خپل ځای یې وچ کړ. هغوی هغه پورته کړ او د غره بنې لور ته له یوه ژور ځوړند ځایه یې لاندې وغورځاوه. له هغه وروسته یې د هغه د آس مهار واخیست او د غره په پېچومو او تنګو او خطرناکو درو کې روان شول.
په دې غره کې د بدذاته او هوښیار کردانو یوه قبیله اوسېدله چې کار یې پر قافلو برید او غارت و. هغوی به مسافر وژل او ښځې او ماشومان به یې اسیران کول، بیا به یې پر هغو مریي پلورونکو پلورل چې د دې مریانو د اخیستلو لپاره به راتلل. مریي پلورونکو به دا مریي د عراق، مصر او شام بازارونو ته وړل.
محمود او جهاد لا یوازې څو ورځې په هغه غره کې وو چې یو مریي پلورونکی غره ته راغی. غلو هم د هغوی د نومونو له بدلولو وروسته، هغوی سوداګر ته وښودل. سوداګر دواړه شهزادګان خوښ کړل او په سل دیناره یې واخیستل. خو کله یې چې شیخ سلامه سوداګر ته وښود، تجار د هغه له اخیستلو ډډه وکړه او ویې ویل: «زه به دا مړژواندی بوډا څه کړم؟» شیخ سلامه د سوداګر له دې خبرې ډېر خفه شو، ځکه ده غوښتل چې د یو څه وخت لپاره نور هم له شهزادګانو سره پاتې شي، ښایي هغوی ورته اړتیا ولري، ترڅو چې د داسې سخت او ستونزمن ژوند سره عادت شي چې د هغوی له پخواني ژوند سره یې بشپړ توپیر درلود. کله چې سوداګر د هغه له اخیستلو انکار وکړ، هغه ډېر نا امیده او غمجن شو؛ خو بالاخره یې خپل زړه ته داسې تسلي ورکړه چې که اوس هم ورسره وي، نو په بازار کې به خو خامخا سره جلا کېږي، نو هغوی یې خدای ته وسپارل.
خو ده وغوښتل چې هغوی ته څو نصیحتونه وکړي، شاید په دې نوي ژوند کې یې په درد وخوري. له همدې امله یې له پلورونکو هیله او زاري وکړه چې اجازه ورکړي یو څو شېبې له هغوی سره یوازې خبرې وکړي او نصیحت ورته وکړي. هغوی هم اجازه ورکړه. یو لامل چې هغوی دا غوښتنه ومنله دا و چې محمود ډېر په عذاب و او تل به یې شکایت کاوه او تښتوونکو ته به یې بد رد ویل. ده به تل ویل چې دی د سلطان جلال‌الدین خوریی (خورزاده) دی او جهاد د سلطان لور ده، او هر څوک چې هغوی وپلوري یا یې واخلي، له سلطان سره به یې کار وي. هر غل به چې ورنږدې کېده، ده به

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لغتو او سوکانو واهه او هغوی به هم په ځواب کې دی واهه ترڅو غلی شي. جهاد به هم تل ژړل، یوه شېبه یې هم اوښکې نه وچېدې او ډوډۍ یې نه خوړله، تر دې چې ډېره کمزورې شوه، مخ یې ژیړ شو او ژوند یې له خطر سره مخ شو. شیخ غلو ته وویل چې که لږ وخت ورسره یوازې خبرې وکړي، نصیحت به ورته وکړي چې دا تندوالی او تاوتریخوالی پرېږدي او له ژړا او نافرمانۍ لاس واخلي؛ دا کار به د شهزادګانو او سوداګر دواړو په ګټه وي. ده دا خبرې په ډېر حکمت او وقار سره وکړې، هغوی هم د ده خبرو ته غوږ ونیو او وړاندیز یې ومانه.

کله چې ورسره یوازې شو، په داسې غږ چې له نرمۍ، زړه سواندۍ او محبت څخه ډک و او په کې د غم او سختۍ نښې وې، ویې ویل: «زما ګرانو شهزادګانو! ومو لیدل چې څنګه په مصیبت کې راګیر شوو، باید د دې بلا او مصیبت په وړاندې صبر وکړو ترڅو خدای پاک یو لاره راوباسي. انشاءالله ډېر ژر به دا ستونزه حل شي. تاسو کم عمره یاست او لا نازک یاست، خو له دې سره سره خدای پاک تاسو ته داسې هوښیاري او ذکاوت درکړی چې له ډېرو مشرانو څخه مخکې یاست. تاسو د باچا اولادونه یاست، نو باید د باچاهانو په څېر صبر ولرئ. بېصبري او بېقراري هیڅ درد نه دوا کوي، بلکې ستاسو سختي او مشقت نور هم زیاتوي او ښایي په داسې ناروغۍ مو اخته کړي چې پایله یې مرګ وي. دا به زما د بادار سلطان جلالالدین لپاره ډېره ناګواره وي کله چې له مغولو سره له جګړې وزګار شي، ځکه هغه به تاسو پسې ګرځي او تاسو به پیدا نشي کړی.

ای زما ګرانو ماشومانو! دې سړي تښتوونکو تاسو تښتولي یاست او پر دې مریې پلورونکي یې پلورلي یاست. دا ستاسو په ګټه ده چې تر څو چې له ده سره یاست، روغ او جوړ اوسئ ترڅو تاسو په ښه بیه وپلوري. نو د هغه خبرو ته غوږ ونیسئ او اطاعت یې وکړئ ترڅو هغه هم له تاسو سره ښه چلند وکړي. هغه مه مجبوروئ چې تاسو ته بد رد ووایي یا مو سپکاوی وکړي. هغه ستاسو په ارزښت پوهېږي او ستاسو له قیمتي وجود څخه هم خبر دی؛ هغه به خامخا تاسو په ډېره لوړه بیه وپلوري. تاسو به له امیرانو، بډایه خلکو هم لوړ وپلوري داسې چې له باچاهانو او خلیفه ګانو پرته بل څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



مو وانه اخلي. تاسو به د هغوی په مانیو کې هوسا ژوند ولرئ ترڅو چې دا وړوکی امتحان پای ته ورسېږي. انشاءالله زما بادار سلطان جلال‌الدین به پر مغولو بریالی شي او زه به ستاسو د حال په اړه هغه ته لیک ولیکم. هغه به د نړۍ په هر کونج کې ستاسو پسې کسان واستوي او تاسو به بېرته ورته ورشئ او خوشاله به شئ. خو د دې لپاره چې هغه تاسو په اسانۍ پیدا کړي، باید زما خبرو ته غوږ ونیسئ: په هیڅ صورت هیچا ته مه وایئ چې تاسو د سلطان جلال‌الدین اولادونه یاست. دا حقیقت له هر چا پټ وساتئ، ځکه دا خبره به تاسو ته داسې ستونزې جوړې کړي چې تاسو ورته هیڅ اړتیا نه لرئ...»

«...خو که دا راز تر مناسب وخته پټ پاتې شي، تاسو به په اسانۍ وکولای شئ چې هغه (سلطان) خپل ځای ته راوغواړئ. د خدای شکر دی چې دې غلو ستاسو د نومونو په بدلولو زموږ کار اسانه کړی دی؛ نو تاسو دواړه باید دا نوي نومونه وکاروئ او له دې کاره هیڅ مه خفه کېږئ، ځکه دا نومونه یوازې د لنډ وخت لپاره دي ترڅو دا سختې ورځې تېرې شي. هغه ورځ به راشي چې د "قطز" نوم به مړ وي او د "گلنار" په نوم خدمتگاره به وجود نه لري، او یو ځل بیا به شهزاده محمود بن ممدود او شهزاده جهاد (د سلطان جلال‌الدین لور) په "غزني" کې د سلطان مانۍ ته ستانه شي، ترڅو زما د بادار سلطان جلال‌الدین له اوږده عمر وروسته د خوارزمشاهي کورنۍ سلطنت په میراث یوسي.

خو زما باداره، محموده! ایا د هغه ستورپوه زېری دې په یاد دی چې تاته یې د یوې لویې پاچاهۍ بشارت درکړی و؟ هغه ویلي وو چې ته به مغولو ته سخته او بنسټونکې ماتې ورکوي.» شیخ یوه شېبه غلی شو، لکه د شهزاده تایید ته چې په تمه وي.

محمود وویل: «هو، هغه مې په یاد دی، خو نن سبا نور پرې باور نه لرم.»

شیخ وویل: «زما باداره! داسې مه وایه، ځکه ته به بالاخره پاچا کېږې او مغولو ته به ماتې ورکوې، زما بادار (سلطان) په دې کې هیڅ شک نه لري.»

محمود وویل: «داسې نه ده او نه به داسې وشي چې یو مریي دې سلطان شي. زه نه غواړم پاچا شم، یوازې دا راته بس ده چې زه او جهاد خپل ماما ته ستانه شو او مغولو ته ماتې ورکړم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیخ وویل: «د حضرت یوسف (ع) کیسه در په یاد کړه چې څنګه په ډېره ټیټه بیه د مصر پر عزیز وپلورل شو، خو ډېر وخت نه و تېر شوی چې د مصر سلطنت ته ورسېد. زما زړه وایي چې ستا برخلیک به هم د یوسف په څېر وي؛ په دې توپیر چې یوسف د نبوت له کورنۍ و او ته د امیرانو او پاچاهانو له کورنۍ یې. کاشکې زه ژوندی وای چې تاسو مې د دې هېواد په واکمنۍ کې لیدلي وای، خو زه یو زوړ سړی یم او ګومان نه کوم چې عمر مې دومره وفا وکړي چې هغه د خوښۍ او خوشحالي دوران وګورم.»

جهاد د شیخ خبرو ته په پوره پام غوږ نیولی و او پرله پسې یې خپلې اوښکې پاکولې. هغه د شیخ د خبرو په رښتینولۍ ډاډه شوه، کله چې د شیخ خبرې تمامې شوې، هغې ورته وویل: «ته به له موږ سره یې، ته به تل زموږ په څنګ کې یې او یوه شېبه به مو هم نه پرېږدې.»

شیخ وویل: «ای زما کوچنۍ شهزادګۍ! خدای دې ستا دا خبره قبوله کړي. خو زه به همدلته پاتې شم، ځکه سوداګر زما د زړښت له امله زما په اخیستلو راضي نه شو. مګر زه به انشاءالله ډېر ژر تاسو د سلطان جلال‌الدین په وړاندې وګورم او له هغه وروسته به تر مړینې ستاسو تر څنګ یم. ښایي زما دلته پاتې کېدل زموږ په ګټه وي، ځکه په دې ډول زه خپل هېواد ته نږدې یم او هغه ته به ستاسو په اړه لیک واستوم او هغه به ډاډه کړم چې تاسو ژوندي یاست.»

شیخ احساس کړه چې وخت یې پوره شوی او باید دا دوه نوي ځوانان پرېږدي ترڅو د غلو غوسه را ونه پاریږي. نو یو ځل بیا یې خپلې ټولې خبرې په لنډیز ورته تکرار کړې چې په ذهن کې یې پاتې شي؛ ټینګار یې وکړ چې په هیڅ ډول څوک له خپل حقیقته خبر نه کړي او د خپل نوي بادار اطاعت وکړي ترڅو هغه هم ورسره ښه چلند وکړي. بیا ورنږدې شو، هغوی یې په غېږ کې ونیول او ویې ویل: «تاسو ساتونکي خدای ته سپارم، خدای پامان.» هغوی دواړو په ژړا پیل وکړ او د شیخ سر یې ښکل کړ. شیخ چې کله هغوی لږ ارام کړل، له هغوی سره یوځای هغې ډلې ته ورغی چې سوداګر ورته په تمه و ترڅو هغوی له ځان سره بوځي. بیا یې سوداګر ته مخ کړ او ویې ویل: «باداره! ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی ته نصیحت وکړ چې ستا فرمانبردار واوسي او هغوی به ستا له امره سرغړونه ونه کړي. نو ته هم پام ورته کوه، دوی لا کوچني دي او ډېره تجربه نه لري، رحم وربانديې کوه او خدای دې په دوی تا برکتي کړي.»

هغوی په حیرت کې شول چې ویې لیدل هغه نوی ځوان، چې له هغې ټولې سختۍ او سرکشۍ وروسته اوس ارام او نرم شوی او هغه هیبت او غرور یې مات شوی دی؛ او همدارنګه هغه ماشومه نجلۍ چې غم او اندوه یې لېړې شوي او زړه یې ډاډه شوی دی.
هغوی پرته له کومې سرغړونې او جګړې په خپل نوي بادار پسې روان شول، خو کله چې سوداګر هغوی له خپلې قافلې سره یوځای کړل، سترګې یې له اوښکو ډکې شوې، شیخ ته یې مخ ور واړاوه او تر هغه یې ورته لاسونه ښورول ترڅو چې ورو ورو له سترګو پناه شول.
غلو په خپلو کې اختلاف درلود چې له شیخ سره څه وکړي؛ یوه وویل: «پرېږدئ چې لاړ شي هر چېرته ځي، لاړ دې شي.» بل وویل: «غوره ده چې ویې وژنو.» دریم وویل: «کار ترې اخلو، پرېږدئ چې لرګي راته راوړي.» په پای کې یې پر دې پرېکړه سره اتفاق وکړ چې هغه له ځان سره وساتي، ښایي بل سوداګر یې واخلي.
شیخ سلامه هم په هغه شېبه چې خپل زندان ته ننوت، پر ځمکه راولوېد او په ژړا یې پیل وکړ، هغه هم داسې ترخه ژړا! چې هیلې یې ختمې شوې وې او هغه ورځې یې یادولې چې د خپل لوی بادار، سلطان خوارزمشاه او همدارنګه د سلطان جلال‌الدین په خدمت کې و. هغه هر څه چې په دې موده کې پر دوی تېر شوي وو او په پای کې دا پېښه چې پر دې درنې کورنۍ راغله، د هغه په سترګو کې ټولې هغه صحنې تیریدلې؛ چې څنګه به دا دوه شهزادګان د مریيتوب او سپکاوي بار ته غاړه ږدي څنګه به د مریانو په بازارونو کې پلورل کیږي او څنګه به د مالکانو ترمنځ لاس په لاس کیږي.
هغه څه چې د ده درد او حسرت یې زیاتاوه دا و، چې ده د هغوی د امین او باوري خدمتګار په توګه، پر هغوی له خپل نفوذ او د هغوی له اعتماد څخه ناوړه ګټه پورته کړې وه او هغوی یې د دې مصیبت منلو ته راضي کړي وو. ده هغوی دې ته اړ کړي وو چې له خپل هغه هیبت، ایمان او عزت څخه تېر شي او د مریانو په څېر د هغه چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اطاعت وکړي چې هغوی يې په سل ديناره اخيستي وو. ده د هغوی له سادګۍ، خوشبينۍ او کم‌تجربګۍ څخه ګټه اخيستې وه او هغوی يې له هغه حقيقت څخه نه وو خبر کړي چې په مخ کې يې دی، بلکې هغوی يې بې‌لارې کړي وو او په درواغو يې ورته ويلي وو چې دا مصيبت به ډېر دوام ونه کړي او ژر به بېرته خپل پخواني حال ته وګرځي. هو، هغه د بادار له سپکاوي او پر هغوی له سختۍ څخه وېرېده. هغوی يې چې کومې فرمانبردارۍ ته هڅول، له خيرخواهۍ او مرستې پرته يې بل مقصد نه درلود؛
ده په خپله ژبه هغوی راضي کړل، په دې هيله چې د يو څه وخت وروسته به بېرته د سلطان جلال‌الدين غبرګې ته ستانه شي. که هغوی په حقيقت پوه شي او دا ښکلی خوب يې له منځه لاړ شي، نو د هغوی حال به څه وي؟ هغوی نشي کولای د مريیتوب له منګولو وتښتي او د بندګۍ له قيد څخه ازاد شي. تر ټولو بده دا چې دا دوه شهزادګان له ماشومتوبه سره روږدي وو، يوځای لوی شوي وو، هيڅکله سره جلا شوي نه وو او د يو بل د لرېوالي توان يې نه درلود. کله چې له مريي پلورونکي سره روان شول، ګومان يې کاوه چې تل به سره يوځای او يو د بل تر څنګ وي. تصور يې نه کاوه چې ښايي د مريانو بازار به هغوی سره جلا کړي؛ يو به د ختيځ د کوم سړي لاس ته ورشي او بل د لويديځ. له دې امله چې تل سره يوځای وو، ګومان يې کاوه چې هيڅکله به سره جلا نشي، يوځای به ژوند کوي او يوځای به مري. اصلاً يې دا فکر لا نه کولو چې دوی به سره جلا کوي، ځکه دا کار يې ناممکن بللو. هغوی نه پوهېدل چې مريي پلورونکي دې انس او الفت ته هيڅ اهميت نه ورکوي او دې اوږدې دوستۍ او ورورولۍ ته په هيڅ ارزښت نه قايلېږي. هغوی يوازې پيسو ته اهميت ورکوي او هر هغه لور ته ځي چې ګټه په کې وي. نو که چېرې يو کس هغوی دواړه واخلي، دا به يوه حيرانوونکې پېښه او عجيبه تصادف وي، نه دا چې د هغوی يوځای پاتې کېدل هدف يې وي.
دا ټول افکار د بوډا په دردمن زړه کې يو يو تېر شولو، يو سخت درد يې وجود ونيو او له ژونده ستړی شو؛ هيله يې لرله چې مرګ ورته راشي او له دې غم او رنځ څخه يې وژغوري. څو ورځې تېرې شوې او ډوډۍ يې ونه خوړه تر دې چې ډېر کمزوری او ناتوانه شو. يوه شپه يې سخته تبه شوه او ټوله شپه يې په بې سده (هذيان) خبرې کولې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سهار غلو ولیدلو چې مړ دی. هغه یې په همغو جامو کې ښخ کړ او خاورې یې ورباندې واړولې.
شیخ سلامه هندي مړ شو، او کله چې مړ کېده، دا فکر هم نه و کړی چې د هغه بادار او ولي، سلطان جلال‌الدین بن خوارزمشاه به هم څو ورځې وروسته په همدې غره کې سا ورکوي او له ده څخه لږ لرې به ښخېږي؛ په داسې حال کې چې د دې ځای اوسېدونکي ورسره پردي دي او په منځ کې یې هیڅ دوست نشته.

## شپږم فصل:

سوداګر، قطز او ګلنار «حلب» ته بوتلل او هلته د خپل یوه پېژندوي په کور کې ورسره مېشت شو. سوداګر هغوی ته نوې جامې ور په غاړه کړې او په هیڅ کار یې نه مجبورول. هغوی یې په کور کې هم زنداني نه کړل، بلکې ازاد یې پرېښودل چې په خپله خوښه د محلې منځ ته لاړ شي. د لارې په اوږدو کې یې ورسره ډېره مهرباني کوله، خواړه یې ورکول او پر سورلۍ د سپرېدو او کوزېدو پر مهال یې ورسره مرسته کوله؛ خبرې، دردِ دل او لوبې یې ورسره کولې او په فارسي ژبه یې په کیسو او ټوکو ټکالو د هغوی سره سرګرمي کوله، تر دې چې هغوی ورسره مینه پیدا کړه. د هغوی اندېښنه او اضطراب کم شو او سوداګر ته یې د یوه دوست په سترګه کتل، نه د هغه مالک په سترګه چې هغوی یې په پیسو اخیستي دي.
سوداګر د هغوی په عمر یو بل مریی (غلام) هم درلود چې «بیبرس» نومېده. له هغه سره یې چلند ډېر توند او خشن و؛ واهه یې او په کور کې یې بندي کاوه او اجازه یې نه ورکوله چې د دې دواړو په څېر ازاد وګرځي. دوی په پیل کې د سوداګر له دې چلنده حیران وو چې څنګه له دوی سره دومره ښه رویه کوي او پر هغه بل هلک دومره سختي کوي؟ خو کله چې یې بیبرس او د هغه سرکشي او بد اخلاقي ولیدله، نو حیرانتیا یې له منځه لاړه. هغه به تل د نافرمانۍ په لټه کې و. دوی پوه شول چې د هغوی بادار حکیمانه چلند کوي او له هر چا سره هغسې رویه کوي چې د هغه سرع ښایي. له دې سره سره، د دې دواړو زړه پر هغه بور (سره سپین) هلک سوزېده چې له آبي سترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې مکر او حيله ورېدله. قطز به د بادار له سترګو پناه له هغه سره نېکي کوله او د خپلو خوړو او خوږو يوه برخه به يې هغه ته ورکوله؛ هغه هلک به سمدستي هر څه تېر کړل او له همدې لارې د هغوی ترمنځ يوه کلکه دوستي پيدا شوه. خو د ګلنار که څه هم زړه پرې سوزېده، خو ترې تېنتېدله؛ د هغې ښکلو سترګو د هغه د داسې کتلو تاب نه درلود چې د تېرو غشو په څېر وو.

څو ورځې لا نه وې تېرې شوې چې د «حلب» د بازار وخت راورسېد. د هرې اونۍ د چهارشنبې په ورځ به خلک د «شام» له ټولو ښارونو او کليو څخه حلب ته راتلل ترڅو راکړه ورکړه وکړي او ګټه ترلاسه کړي. بازار په يوه پراخه ميدان کې جوړېده، لويې خيمې به يې په کې درولې وې او بازار په څو برخو وېشل شوی و. يوه برخه يې حبوباتو او غلو ته ځانګړې شوې وه، بله برخه ټوکرانو او وړين، پنبې، کتان او وربېښمين جامو ته. يوه برخه لوښو، څراغونو او نورو د کور وسايلو ته وه؛ يوه برخه مسالو، عطرو، تېلو او تقويه کوونکو درملو ته. يوه برخه وينځو او غلامانو ته او يوه برخه اسونو او څارويو ته ځانګړې شوې وه، چې هره برخه د ځانګړي بازار په نوم يادېدله؛ لکه د غلو بازار، د مريانو بازار، د اسونو بازار او داسې نور.

د چهارشنبې په سهار سوداګر امر وکړ چې درې واړه مريان يې غسل وکړي. ده ورته نوې جامې ور په غاړه کړې، وېښتان يې ورته جوړ کړل، عطر يې وروباندې ووهل او د مريانو لوی بازار ته يې بوتلل.

بيبرس نه تلو او سوداګر يې لاس نيولی و او په زور يې کشاوه او بد رد يې ورته ويل. خو قطز او ګلنار يې ازاد پرېښي وو. هغوی په دې خوشالی روان وو چې ګواکې د دې لويو مراسمو ننداره ته ځي، تر دې چې د مريانو بازار ته ورسېدل. هلته لويې خيمې وې چې له سپينو، تورو او نورو رنګونو وينځو او غلامانو ډکې وې او پر هرې ډلې يو دلال ولاړ و چې د هغوی د پلورلو مسووليت يې پر غاړه درلود. دلال به خپل نظر کې نيول شوي مريي ته امر کاوه چې پر ستېج باندې ودرېږي او بيا به يې په موزونو او ښکلو کلمو د هغه مريي د صفتونو په بيانولو پيل کاوه ترڅو پيرودونکي (مشتريان) راجلب کړي او مريی ترې واخلي. دلالانو په دې برخه کې ځانګړې مهارت درلود او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينو به يې له شاعرانو مرسته غوښتله ترڅو د وينځو او غلامانو په صفت کې ورته قطعې وليکي، او دوی به د پلورلو پر مهال د هر مريي په مناسبت يوه قطعه انتخابوله او لوستله به يې. يو دلال يو ښکلی ترکي مريی پر ستېج درولی و او داسې ناره يې وهله:

واخلئ، مه کوئ ځنډونه

دا ښايسته، ښکلي هلکونه

بدي به هيڅ ترې ونه وينئ

چې واېخلئ، پښېمان به نه شئ

تر سرو زرو هم غوره دي

مطيع دی، حکم ته سترګې په لاره

بل دلال يو تور پوستی «نوبي» مريی (د سوډان د نوبې سيمې اوسېدونکی) پر ستېج ودراوه او داسې نارې يې وهلې:

داسې ښکلی ځلمی واخلئ

دا تکړه غښتلئ «نوبي» واخلئ

غاښونه يې د سپينې مياشتې غوندې

رنګ يې تور د تورې شپې غوندې

هر څوک چې وي، پر ځمکه يې ولي

زور او بازو يې وګورئ، هر څه يې مني

ای وروره! له هرې ګوټې يې هنر ورېږي

د باوري مريي په نوم په هر ځای پېژندل کېږي

د کورنی لپاره د اعتماد سړی دی

لکه عنبر، په بيه ډېر ارزانه سړی دی

د خيمې په بل ګوټ کې، يوه دلال يوه ښکلې ترکۍ وينځه د پلورلو لپاره وړاندې کړې وه او داسې يې ويل:

ګواکې دا د رڼا له نسله ده

د حورې او پرې په څټه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښایسته ده او په نېک خټه جوړه
ګواکې له جنت څخه راغلې ده دلته
په توره او تروږمۍ شپه کې
دې روښانه میاشتې ته وګورئ
قد او قامت یې څومره رسا دی
وګورئ، سترګې یې څومره ښکلې دي
لکه د عنبر په څېر خوشبویه ده
لکه د «بانه» د ونې ښاخ ده
رومې ده، ژر یې بوځئ له ځان سره
دا ښایسته واخلئ د نېک بخت په نیت سره
ځلېږي، څومره ښکلې او رنګینه ده
وېښتان یې د سرو زرو په څېر دي
مخ یې لکه د اصلي یاقوتو په څېر
لعاب یې لکه د خوږو شرابو په څېر
ځمکنۍ ده که د اسمانونو ملکه؟
آبي یې دي سترګې، د ښکلا نښه
تازه ده لکه د سهار سپېدې
نرۍ یې ملا دی، د ښکلا ننداره

کله چې مریي پلورونکي هغوی یو دلال ته وسپارل، دلال هغوی ښه له نږدې وکتل او شاوخوا یې ورته وڅرخېد ترڅو یې صفتونه ښه درک کړي. بیا یې د هغوی نومونه په خپل کتاب کې ولیکل او د هر نوم لاندې یې د هغوی صفت، عمر، اصل او هغه لږ تر لږه بیه ولیکله چې مالک یې غوښتله. بیا یې هغوی د نورو مریانو ترمنځ پر یوه ځانګړې پیزي کښېنول.

بیبرس په پوره ډاډ او اعتماد سره ناست و او هیڅ د خفګان یا اندېښنې نښه په کې نه وه. هغه په خپلو تېرو سترګو خلکو ته کتل؛ کله به یې چې کوم تور پوستی مریی، بدشکله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وينځه يا بدبويه غلام وليد، نو خندل به يې او قطز ته به يې اشاره کوله. ده د دلال تندو کتلو ته هيڅ پام نه کاوه. دلال به تندی ورته تريو کړ ترڅو يې ووېروي، خو بيبرس به ورته ژبه راويستله او وريځې به يې ورته ښورولې.

قطز او ګلنار ډېر خفه وو او نه پوهېدل چې شاوخوا يې څه تېرېږي. هغوی داسې فکر کاوه چې ګواکې خوب ويني، نه دا چې ويښ دي. خو بيا به يې راياد شول چې غلو هغوی وتښتول او پر مريي پلورونکي يې وپلورل. هغوی لا هم په دې کې شک درلود چې هغه سوداګر چې دوی يې دلال ته وسپارل، همغه سړی دی چې له لومړۍ ورځې يې ورسره دومره ښه چلند او مهرباني کوله. اوښکې يې په سترګو کې راګرځېدې او په پټه به يې د خپلو جامو په څنډو پاکولې. که چېرې د نورو په مخ کې د کمزورۍ ښودلو وېره نه وای او دا چې د خپل دغه شوخ او خندروي ملګري (بيبرس) په وړاندې کم را نشي، نو اوښکې به يې پر مخونو روانې شوې وای.

وخت ډېر په ځنډ تېرېده. هغوی دواړو ليدل چې څنګه وينځې او غلامان د پلورلو لپاره وړاندې کېږي او پيرودونکي هغوی د مال او شيانو په څېر اړوي راړوي؛ هر څوک چې يې خوښ شي، اخلي يې، پيسې يې ورکوي او له ځان سره يې بيايي. خو هغه څوک چې مشتری نه لري، په نااميدۍ بېرته پر پوزي کښېني. تر دې چې د دوی دواړو او بيبرس وار راورسېد.

دلال لومړی بيبرس پر ستېج ودراوه. جامې يې ترې ايستلې وې او يوازې عورت يې پټ و. هغه په خپلو نريو پښو، پلنې سينې او وتلو بازوګانو چپ او ښي لور ته کتل. دلال لاس د هغه پر نس او شا ټپولو او ويل يې:

تاوان نه لري، بوځه دا ځوان

دا نوی زلمی واخله، ای مېلمنو هم به دې مدافع وي، هم ستا ياور

هم به ساتونکی وي د خپل سرور

هم زور لري او هم په ننګ پوره دی

دښمن به ستا له کوره ترې لېرې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګیالی دی، د میدان قهرمان

روښانه به یې وي تل د آیندې دوران

لکه د شېر په څېر کوي دا خیزونه

زړور دی، تېز دی، ماتوي صفونه.

یو سړی چې له بنې او جامو یې ښکارېده چې مصری سوداګر دی، مخکې راغی او هغه یې واخیست. دلال له هغه څخه سل د سپینو زرو دیناره واخیستل. مریي پلورونکي هیله نه لرله چې هغه به تر پنځوسو دینارو لوړ وپلوري، خو کله چې دلال ولیدل چې مصري سوداګر هغه تر نظر لاندې نیولی او اخیستونکی یې دی، نو بیه یې تر سلو دینارو پورې پورته کړه. په دې ډول دلال ته نه یوازې د دلالۍ مزد ورسېد، بلکې د هغې اضافي پیسې نیمه برخه (پنځه ویشت دیناره) هم ورته ورسېده چې مالک ټاکلی وه. دلال له دې معاملې ډېر خوشحاله شو، نو مصري سوداګر یې وهڅاوه او ورته ویې ویل: «وا یې خله... خدای دې درته برکتي کړي، خو پدې خبیث هلک پام کوه چې ډېر خطرناک او نافرمانه دی.»

بیبرس په عربي نه پوهېده، یوازې څو کلمې یې پېژندلې، خو د دلال د لاس له اشارو او د غږ له غونې څخه یې د هغه په مطلب پوه شو. نو په ډېر غرور پر سټېج پورته شو، خپل زور یې وښود او په هماغه غرور ببرته راکښته شو او د خپل نوي بادار لور ته لاړ. هغه داسې ګامونه اخیستل چې ګواکې ځمکه شلوي. مصري سوداګر د بیبرس له اخیستلو وروسته هغه ځای پرېښود، بلکې په خپل ځای کښېناست او هغو دوو نورو نوراني ماشومانو ته یې کتل؛ ګواکې غوښتل یې هغوی هم واخلي یا یې لږ تر لږه بیه معلومه کړي. کله چې دلال غوښتل هغوی دواړه وړاندې کړي، د خلکو ګڼه ګونه زیاته شوه. په حاضرینو کې د «دمشق» یو ښکلی سړی و چې په څېره کې یې د شتمنۍ او سوکالۍ نښې څرګندې وې. د سر او ږیرې سپینو وېښتانو یې وقار او هیبت نور هم زیات کړی و. هغه سهار وختي د مریانو بازار ته راغلی و، د ټولو دلالانو کړیو ته یې سر ورښکاره کړی و او مریان یې له نظره تېر کړي وو. کله به یې چې کوم هلک یا نجلۍ ولیدله، درېده به او ښه به یې ورته کتل، تر دې چې زموږ د دلال یعنې «حافظ

(c) ketabton.com: The Digital Library



واسطي» کړی ته راورسېدلو.

کله یې چې سترګې پر قطز او ګلنار ولګېدې، زړه یې په ټوپونو شو او له ځان سره یې وویل: «بالاخره مې خپل مطلوب پیدا کړ.»

هغه لږ ځنډ وکړ او هغو دوو ماشومانو ته ځیر شو. څومره به یې چې ډېر ورته کتل، هغومره یې مینه ورسره زیاتېدله. بیا یو ځل د نورو دلالانو کړیو ته لاړ، ګواکې غوښتل یې ځان ته ثابته کړي چې تر دوی غوره نه پیدا کیږي، یا یې غوښتل د خلکو او په ځانګړي ډول د دلال پام له ځانه بل لور ته کړي ترڅو دلال د ده په مینه پوه نشي او بیه یې ورته لوړه نه کړي. بیا بېرته هماغه ځای ته راغی او داسې ځای کښېناست چې هغوی دواړه په کې ښه لیدل کېدل. هغه په داسې ډول هغوی ته کتل چې خلک پوه نشي او په تمه و چې د هغوی د وړاندې کولو وخت راورسېږي.

ډېر وخت نه و تېر شوی چې قطز او ګلنار هم د دغه سپین ږیري او ښکلي سړي کتو ته متوجه شول؛ هغه کتل چې د نورو خلکو له کتلو سره یې توپیر درلود.

هغوی دواړو به کله نا کله په پټه خپلې اوښکې پاکولې، خو دا کار یې د هغه ښکلي سپین ږیري له نظره پټ نه پاتې کېده چې دوی یې تر څارنې لاندې نیولي وو. په پیل کې هغوی د هغه له کتلو اندېښمن شول او داسې یې انګېرله چې ګواکې هغه ورته ځیر دی ترڅو وګوري دوی څه پټوي او د هغوی ذلت وګوري؛ خو ډېر وخت نه و تېر شوی چې د هغه د څېرې له نېکۍ او د سترګو له پېرزوینې څخه پوه شول چې هغه ورسره مینه لري. بیا دوی هم ورسره لېوالتیا پیدا کړه او د هغه کتلو ته یې په مینه او ډاډ سره ځواب ورکړ. هغه سړی هم د هغوی په احساس پوه شو او په څېره کې یې خوښي ښکاره شوه؛ که خلک نه وای، نو ورغلی به و او دواړه به یې په غېږ کې نیولي وو، لکه یو پلار چې خپل اولادونه له ډېرې جلاوالي وروسته په غېږ کې نیسي. د دې دواړو احساس هم د هغه په څېر و؛ داسې یې انګېرله چې هغه یې دوست دی او د هغوی د بدبختۍ له رازه خبر دی او د ژغورلو لپاره یې راغلی دی.

دواړو په یو وخت کې په خپلو سرونو کې دا فکرونه پالل، ګواکې په یو ډګر کې سره سیالي کوي. دا کومه د حیرانتیا خبره نه وه، ځکه هغوی یوځای لوی شوي وو او دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره رورږدي وو چې يو د بل په زړه پوهېدل، ګواکې په يوه زړه احساس کوي. هغوی په بې صبری انتظار کاوه چې وار يې ورسيږي او د پلورلو لپاره وړاندې شي؛ هغوی هيڅ شک نه درلود چې دا سپين ږيری به يې اخلي او لوړې بيې ته به ارزښت ور نکړي.

دوی د هغه د راز اورېدو ته تږي وو، خو له هغه وروسته چې دوی واخلي او له دغه بازاره يې وباسي چې د دوی کرامت يې ټيي کړی او سپک کړي يې وو.

د بيبرس له پلورلو وروسته، دلال وليدل چې خلک د دې دوو ماشومانو ليدو ته راټول شوي دي. خلکو ګومان کاوه چې هغوی خور او ورور دي، ځکه ډېر ورته وو او وينه يې يوه وه. دلال د دوی په وړاندې ودرېد او نه پوهېده چې په کوم يوه پيل وکړی. هغه عادت درلود چې په کم ارزښته مريي پيل وکړي ترڅو خلک په حلقه کې پاتې شي او انتظار وکړي چې بل به څوک وي. دی حيران و چې کوم يو مخکې کړي، ځکه لا ډاډه نه و چې کوم يو ډېر ارزښت لري. خو قطز د هغه حيرانتيا ور ماته کړه؛ پاڅېد او پر سټېج (سکوه) باندې ودرېد. دلال هم اعتراض ونه کړ. د قطز مخ له شرمه داسې سور شوی و چې نږدې و وينه ترې وڅڅيږي. کله چې خلکو ورته کتل، دلال ناره کړه:

تر سپينو زرو هم دی ډېر غوره

دا نوی زلمی واخله، ای باداره

دی پاتې د شاهانو له نسله دی

په ظاهره ښکاري، لوړ اصله دی

رښتونی دی، نېک دی او امين دی

وګورئ حيا ته يې، څومره نېک بين دی

لکه څاڅکی او بحر داسې يې وګورئ

په هوښ کې تر هر چا پورته يې وګورئ

لکه د زمرک (شېر) غوندې بې‌باکه دی

شجاعت يې بې‌ساری، نيت يې پاکه دی

هر لور ته ور اوړي دا نظرونه

د بې‌زويه خلکو دي پرې اميدونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی باعث د هر چا د افتخار دی

همېشه په فکر د ننګ او د کار دی

که نه وای اړتیا مې، دا «ایاز» به مې نه پلوره

دا داسې جوهر دی، چې په زړو به مې نه پلوره

لا دلال خپلې خبرې نه وې تمامې کړې چې مینه والو ورباندې هجوم ور وړ او هر یو یې د ترلاسه کولو هڅه کوله. هغوی د بیې په لوړولو کې سره سیالي پیل کړه تر دې چې بیه دوه سوه او اویا ته ورسېده. دمشقي شیخ پوره درې سوه دیناره وویل او بل چا جرئت ونه کړ چې بیه تر دې لوړه کړي. دلال هم هغه دمشقي شیخ ته وسپاره او مبارکي یې ورکړه. هلک په خوښۍ سره د خپل نوي بادار لور ته لاړ، د هغه تر څنګ ودرېد او د خدای شکر یې ادا کړ چې بل چا ترې ونه کړای شول هغه واخلي.

سپین ږیري د هغه د زړه ترلاسه کولو لپاره خو ښې خبرې ورته وکړې. قطز پوه نه شو چې هغه څه وایي، خو دا یې درک کړه چې مینه ورسره کوي. ده هیله لرله چې په عربي پوهېدلی ترڅو یې ځواب ورکړی وای، نو یوازې په یوې موسکا یې بسنه وکړه. دلال هغوی ته ډېر وخت ورنه کړ، د ګلنار لاس یې ونیو او ستېج ته یې پورته کړه. د ټولو پام هغې ته واوښت. د ګلنار مخونه لکه د سور ګل په څېر شوي وو او قطز او د هغه بادار ته یې کتل؛ ګواکې له هغه یې غوښتل چې دا هم واخلي او بل چا ته اجازه ورنه کړي چې ویې نیسي. د خلکو لېوالتیا دلال ته څرګنده وه، په ځانګړي ډول د دمشقي شیخ پام. ده کولای شول هغه سمدستي پر شیخ وپلوري او نارې ونه وهي، خو ویې نه غوښتل خپل عادت بدل کړي او نه یې شوای کولای د دې ښکلې نجلۍ د صفتونو له بیانولو تېر شي، نو غږ یې کړ:

که ووایې چې ګل ده، نو دا صفت لږ دی

دا د سهار په څېر د شبنم یو څاڅکی دی

ګواکې جوړه له پاکو بلورونو ده

د شپې میاشت ده، له نوره جوړه ده

تر هر څه ډېره بارزښته او نایابه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر سپینو او سرو زرو ډېره ښکلې ده

تر ورېښمو نرمه او نازکه ده

ښایسته ده، بېنظیره او ملکه ده

شیرینه ده، خوږژبې او د ننګ لور ده

دی د پاچاهانو او د ننګیالیو لور ده

تاوان به هیڅ ونه کړې په دې سودا کې

که وزن یې په سرو زرو کړې په بازار کې

هر څوک به پرې کوي ډېر افتخارونه

ګټیالی به وي چې پرې وکړي لګښتونه.

خلکو یې په اخیستلو کې بېړه کوله، خو دمشقي سړي بیه لوړوله تر دې چې درې سوو دینارو ته ورسېده. ده هوډ کړی و چې تر دې پورته نه ځي او نږدې و چې هغې خپل سیال ته پرېږدي (چې لس دیناره یې بیه لوړه کړې وه)، خو کله یې چې قطز ته وکتل، ویې لیدل چې تندی یې تریو شوی، شونډې یې وچې شوې او له سختې اندېښنې رپېږي؛ د هغه د سترګو اوښکو ترې هیله کوله چې بیه لوړه کړي ترڅو له خپلې ملګرې جلا نشي. د شیخ زړه ورباندې وسوځېد او مهرباني ورباندې غالبه شوه؛ یو دم یې څلوېښت دیناره بیه لوړه کړه ترڅو د خپل سیال لاره بنده کړي. سیال یې چې ولید نه شي کولای ورسره سیالي وکړي، بیه یې نور پورته نه کړه. کله چې دلال اعلان وکړ چې ګلنار پر دمشقي شیخ وپلورل شوه، هلک ډېر خوشحاله شو. دمشقي شیخ د ګلنار لپاره درې سوه او پنځوس دیناره دلال ته ورکړل او دواړه یې له ځان سره بوتلل. هغوی له خوښۍ باور نه کولو چې د جلاوالي له خطره وژغورل شول.

## اووم فصل:

دوی په «دمشق» کې، د قصاعین په محله کې د خپل نوي بادار شیخ غانم مقدسي سره مېشت شول. د هغه په لویه مانۍ کې چې د انګورو، انځر، منو او زیتونو له ونو ډک بڼ یې چاپېره و. شیخ غانم مقدسي د دمشق له ګوتو په شمېر مخورو او پېژندل شویو څېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه وه. هغه له خپلو پلرونو څخه لوی جایدادونه او پراخې ځمکې په میراث وړې وې. هغه یو نېک سړی و، صدقه یې خوښوله او د علم په مجلسونو کې یې ګډون کاوه. دی زوړ شوی و او له یوه زوی «موسی» پرته یې بل اولاد نه درلود؛ د هغه پر روزنه او ادب یې ډېرې پیسې لګولې وې ترڅو یو صالح شخص شي، د ده نوم ژوندی وساتي او په کورنۍ کې د ده ځای ډک کړي، خو موسی د پلار د غوښتنې پر خلاف یو فاسد، شرابخور او جوارګر هلک شو چې د بدو او لیونیو دوستانو ملګری و. پلار یې ډېره هڅه وکړه چې هغه له دې لارې وګرځوي، خو ویې نه شول کړای. موسی ورځ تر بلې سرکشه کېده او پلار یې د هغه له اصلاح څخه ناهیلی شو. نو هغه یې ازاد پرېښود چې هر څه کوي، ویې کړي او داسې فرض یې کړه چې ګواکې زوی نه لري؛ که د هغه د مور شفاعت او زارۍ نه وای، نو دی به یې له کوره شړلی و ترڅو ځان یې له شرمه خلاص کړی وای.

له خپل زوی څخه ناهیلۍ هغه دې ته اړ کړ چې یو روغ رمټ او فرمانبردار هلک واخلي، ښایي هغه د زوی په څېر وګڼي، اعتماد ورباندې وکړي، زړه ورسره وتړي او په هغه کې داسې نېکي او رښتینولي وګوري چې په خپل زوی کې یې نه وه لیدلې. ده تر ډېره وخته د مریانو په بازارونو کې د داسې هلک په لټه کې و ترڅو خپل ورک شوی هدف یې په قطز کې وموند او سمدستي یې واخیست، ځکه په څېره کې یې نېکي او ځوانمردي ولیده. کله چې یې ګلنار ولیده، نو مناسبه یې وګڼله چې هغه هم واخلي ترڅو د لور په څېر ورسره وي او دی او زړه مېرمن یې ورسره زړونه خوشاله کړي.

د خدای په خوښه، د دغه سپین ږیري پوهه (فراست) د دې دوو ماشومانو په اړه سم وختلو. لا څو ورځې نه وې تېرې شوې چې هغه د هغوی په اخلاص او له ده سره په ژورې مینې پوه شو. ده هم مینه ورسره کوله، قدر یې یې کاوه او د هغوی په پالنه او څارنه کې یې ډېر کوښښ کاوه. یو کس یې وګماره ترڅو هغوی ته عربي ژبه وښیي او هغوی د خپل ذکاوت او هوښیارۍ له امله په ډېر لږ وخت کې عربي زده کړه او مهارت یې په کې پیدا کړ.

په دې وخت کې په هر ځای کې د خونړي چنګیز خان د مړینې خبر خپور شو؛ دا چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه قوم له سلطان جلال‌الدین سره په جګړه بوخت وو، کله یې چې د خپل مشر د مړینې خبر واورېد، له مسلمانانو سره یې جګړه پرېښوده او بېرته وګرځېدل. خلک له دې خبره ډېر خوشحاله شول، وېره یې له منځه لاړه او د خدای شکر یې ادا کړ چې هغوی یې د دغو وحشي جنګیالیو له شره وژغورل، چې یوازې هلاکت، تباهي او عذاب یې له ځان سره راوړل. همدارنګه هغوی ته د کردانو په غرونو کې د سلطان جلال‌الدین د وژل کېدو خبر هم ورسېد. ځینې یې په مړینه خوشحاله شول، ځکه هغه د ملک اشرف په خاوره کې ځینې ناسم کارونه کړي وو، او ځینې نور پرې خفه شول ځکه هغه او پلار یې له مغولو سره جنګېدلي وو او اسلامي خاورې ته یې د هغوی د بریدونو مخه نیولې وه.

دا خبرونه په دمشق کې خپاره شول او د خلکو د مجلسونو او بنډارونو توده موضوع وګرځېده. خلکو به د جلال‌الدین، خوارزمشاه او مغولو ترمنځ د پېښو کیسې کولې او هغه بدبختۍ یې یادولې چې د هغوی پر کورنیو راغلې وې، تر دې چې پاچاهي یې له منځه لاړه او قدرت یې وپاشل شو او د هغوی له کورنیو هیڅوک پاتې نه شول. خو هیڅوک نه پوهېدل چې د جلال‌الدین لور او خورزه د هغوی د ښار په یوې لویې ماڼۍ کې د یوه مخور سړي په کور کې ژوند کوي. قطز او ګلنار د جلال‌الدین په مړینه ډېر غمجن شول. هغوی هیله لرله چې یو وخت به سره یوځای کیږي خو اوس یې هیلې پرې شوې او ډاډه شول چې تر پایه به د مریيتوب په بند کې پاتې شي. هغه څه چې د هغوی زړونه یې ډاډه کول او غم یې ور کماوه، د هغوی د بادار نېکي او احسان و، چې له امله یې هغوی ډېر ژر خپل غمونه هېر کړل.

کلونه په چټکۍ تېر شول، پېښې یوې بلې پسې راغلې او د شیخ غانم مقدسي په کور کې د هغوی د پاتې کېدو څخه تر لسو ډېر کلونه تېر شول. په دې کلونو کې هغوی رالوی شول؛ قطز یو مړنی ځوان او ګلنار یوه پېغله شوه. د دوی ترمنځ مینه او الفت هم ورسره رالوی شو او له یوې مرحلې بلې ته واوښت تر دې چې په پاکې مینې بدل شو. هغوی داسې یو بختور ژوند درلود چې تر دې وړاندې یې کله هم نه و تجربه کړی؛ داسې چې د پاچاهۍ نعمتونه او له هغه وروسته سختۍ یې ټولې ترې هېرې کړې. نړۍ ورته یو بڼ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیند، ګل، غوټۍ او د نور وړانګې وګرځېده، چې ټولې ورځې یې ښکلې او ټولې شپې یې د سهار په څېر رڼې وې!

د هغوی نوي بادار، شیخ او مېرمنې یې د دې پاکې او بېداغه مینې خبر وو او د دې لپاره یې هڅه کوله چې دا اړیکه نوره هم پیاوړې کړي. هغوی دا دواړه د خپلې مینې تر سیوري لاندې نیولي وو او ژمنه یې ورسره کړې وه چې کله هم مناسبه موقع برابره شي او د شیخ د فلج ناروغي (چې په کې اخته شوی و) لږه کمه شي، هغوی به د یو بل په نکاح کړي. کله چې د شیخ ناروغي اوږده شوه، هغه پرېکړه وکړه چې د هغوی راتلونکی تضمین کړي؛ نو وصیت یې وکړ چې د ده د جایداد او مال یوه برخه دې هغوی ته ورکړل شي او که چېرې دی د هغوی له واده کولو مخکې مړ شي، نو هغوی ازاد دي.
په هغه جنت کې چې دې دوو مینو ژوند پکې کاوه، یو شیطان هم و چې د هغوی صفایي یې خرابوله او زهر یې شیندل ترڅو هغوی له هغه ځایه وباسي. کله چې فاسد او پست موسی ولیدلو چې قطز د ده د پلار اعتماد ترلاسه کړی او پلار یې د خزانې کلۍ او د مال او املاکو اداره هغه ته سپارلې ده، نو غیرت او کینه یې راوپارېده. قطز به د شیخ صدقات او نفقې په خپلوانو او نږدې خلکو وېشلې، د مانۍ سودا به یې کوله او د خدمتګارانو او مریانو معاشونه به یې ورکول؛ ټول درهم او دینار د هغه په لاس کې وو.
دا خبره پر موسی ډېره درنه تېرېده او خفه و چې ولې خپله جیبي خرڅ د خپل پلار له مریي څخه اخلي. له همدې امله یې له قطز سره کینه زیاته شوه؛ ځکه موسی به ډېر کله د خپلو بېځایه لګښتونو او فساد لپاره پیسو ته اړتیا لرله او له قطز څخه به یې غوښتلې چې د پلار له خبرتیا پرته ورته له ټاکلې اندازې زیاتې پیسې ورکړي، خو قطز دا خبره نه منله او ورته ویل به یې: «دا زما د بادار مال دی. زه یوازې یو امانتدار یم او په امانت کې خیانت نه کوم. له خپل پلار څخه اجازه واخله، که هغه اجازه راکړه، هر څومره چې غواړې در به یې کړم.»
هغه به قطز ګواښه (تهدیداوه)، خو قطز ورته هیڅ ارزښت نه ورکاوه.
ګلنار هم د هغه له ځورونې او اذیت څخه په امن کې پاتې نه شوه. هغه به په مختلفو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارو ورته مزاحمت كاوه او داسې خبرې به يې ورته كولې چې له شرمه به يې تندى خولې شو او غوږونه به يې سره شول. كله چې د هغه مزاحمتونه زيات شول، هغې خپلې ماليكې (د موسى مور) ته شكايت وكړ. مور يې موسى ډېر ملامته او توبيخ كړ او ورته ويې ويل چې ګلنار د قطز مېرمن ده او په هيڅ صورت هغې ته نشي رسېدلى. مور يې وګواښه چې كه بيا يې مزاحمت وكړ، نو مقرري به يې بنده كړي او له كوره به يې وشړي. دې خبرې د قطز په وړاندې د موسى كينه او غيرت نور هم زيات كړل. قطز به له دغه فاسد ځوان سره نېكي كوله، زړه يې ورباندې سوزېده او د هغه ځوروني به يې زغملې؛ پلار ته يې يې شكايت نه كاوه ترڅو هغه خفه نشي او ناروغي يې زياته نشي. قطز به تل موسى ته نصيحت كاوه چې شراب او فساد پرېږدي يا يې لږ كړي او وعده يې ورسره كوله چې له پلار سره به يې خبرې وكړي ترڅو ترې راضي شي او جيبي خرڅ يې ور زيات كړي. خو په مقابل كې د موسى كينه ورسره زياتېدله او نور هم سپين‌سترګى او سركشه كېده.

د شيخ غانم ناروغي نوره هم سخته شوه او په مانۍ كې ټول خلک د هغه په حال اندېښمن شول، خو له زوى (موسى) پرته. هغه له دې حاله خوشحاله و او ويل به يې چې د پلار له مړيني وروسته به دى هر څه شي او په جايداد او مال به يې هر څه چې زړه يې وي، ترسره كړي؛ له قطز څخه به غچ واخلي او ذليل به يې كړي، ګلنار به ترې واخلي او هغه به مجبوره كړي چې د ده هر امر ومني. كله چې ډاډه شو چې د پلار مرګ يې نږدې دى، نو له حده يې پښې واړولې او له خپلو همپياله ملګرو سره به يې په مانۍ كې شراب څښل او بد مستى به يې كولې. تر دې چې يوه شپه يې مور ترې پوزې ته راغله او امر يې ورته وكړ چې له كوره ووځي. هغه خبره وانه ورېده او مور ته يې كنځلې وكړې؛ كله يې چې مور ټينګار وكړ، نو پر هغې يې بريد وكړ ترڅو ويې وهي، خو په دې وخت كې قطز راورسېد، هغه يې لېرې كړ او پر ده او د ده پر مستو ملګرو يې دروازه وتړله. موسى نه پوهېده چې څه ووايي؛ كله به يې مور ته بد ويل، كله به يې پر پلار لعنت وايه او كله به يې قطز ته ښكنځلې كولې. ټوله شپه همدا حال و تر دې چې شرابو دى او ملګري يې له پښو وغورځول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيخ غانم مقدسي د يو اوږد عمر وروسته چې په نېکو کارونو، تقوا، له فقيرانو او مسکينانو سره په مرسته او پر يتيمانو او کونډو په لګښت کې يې تېر کړی و، سا ورکړه. خلکو ورته وژړل او په نشتوالي يې ډېر خفه شول. کله به چې يې د هغه زوی موسی را ياد شو، نو ډېر به ورته سختېدل چې له داسې يو نېک سړي څخه داسې فاسد زوی پاتې شوی.

قطز او ګلنار يو مهربان او زړه سواندی پلار له لاسه ورکړ. هغوی ډېرې اوښکې تويې کړې او په پوره اخلاص يې د هغه له زړې مېرمنې سره غمشريکي وکړه او خدمت ته يې ودرېدل. هغوی د هغې په خاطر د موسی وهل او ټکول هم زغمل؛ ځکه د شيخ غانم له مړينې وروسته موسی د هغوی ځورولو او شکنجه کولو ته مخه کړه. هغه به په لاس او ژبه پر قطز بريد کاوه، خو هغوی د خپل وفات شوي بادار او د هغه د غمجنې مېرمنې د درناوي په خاطر په صبر او چوپتيا ځواب ورکاوه. هغوی په تمه وو چې د غمرازۍ ورځې تېرې شي او د واده لپاره مانۍ پرېږدي او بل ځای ته لاړ شي ترڅو خپل ارام او نېکمرغه ژوند پيل کړي؛ ځکه بادار يې د هغوی لپاره د هر څه غم خوړلی و.

هغوی نه پوهېدل چې موسی ورته دام ايښی او د يو شمېر بدذاته فقهاوو (د دربار ملايانو) سره يې اړيکه نيولې ده؛ هغوی د ده د پلار هغه وصيت باطل کړی و چې په کې د قطز او ګلنار د ازادۍ او هغوی ته د جايداد د ورکړې يادونه شوې وه. موسی د وصيتنامې د باطلېدو او د هغوی د مرييتوب د دوام خبر راوړ. هغوی ته دا ډېره درنه وه چې په يوه شيبه کې يې ټولې هيلې په سيند لاهو شوې؛ نه دا چې يوازې د خپل نېک بادار تر سرپرستۍ لاندې پاتې شول (ځکه دا خو ورته د زغم وړ وه)، بلکې اوس د يوه فاسق او ظالم شخص ملکيت شول چې غوښتل يې هغوی وځوروي او غچ ترې واخلي.

کله چې بوډۍ مېرمن پوه شوه چې زوی يې له هغوی سره څه کړي، نو ډېره غوسه شوه، پر هغه يې لعنت ووايه او هغوی ته يې ډاډ ورکړ چې ملاتړ يې کوي او اجازه نه ورکوي موسی ورته زيان ورسوي. هغې وعده ورسره وکړه چې د ميراث د وېش پر مهال به هڅه وکړي چې دا دواړه د دې په برخه کې راشي، ترڅو بيا يې ازاد کړي، واده يې وکړي او د ژوند لپاره يو څه پيسې هم ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسی د مور له ارادې خبر شو، نو د میراث وېش یې وځنډاوه ترڅو د هغې مخه ونیسي. په دې موده کې به یې ګلنار خپلې غوښتنې ته رابلله او ورته ویل به یې: «ته اوس زما مال یې او نشې کولای له ما سرغړونه وکړې.» خو ګلنار به ترې تښتېده او خپلې مالیکې (د موسی مور) ته به یې پناه وړله.

کله به چې په نرمۍ ورته راغی، نو ورته ویل به یې: «زه تا د خپلې مېرمنې په توګه انتخابوم او د دې مانۍ مالیکه به شې. د دې ځای واک به ستا په لاس کې وي او قطز به ستا مریی (غلام) وي.» خو د ګلنار ځواب یوازې چوپتیا او مخ اړول وو.

کله چې دا کیسه اوږده شوه او موسی د هغې له خوښۍ ناهیلی شو، د غوسې اور پرې بل شو او قسم یې وخوړ چې هغه به له قطز څخه جلا کوي او غچ به ترې اخلي. هغه د خپل پلار وصي (هغه څوک چې د میراث واک ورسره وي) ته ورغی او ادعا یې وکړه چې ګلنار د ده او د مور ترمنځ د جنجال لامل ده؛ ده وویل که دا «خبرکشه» وینځه وپلورل شي، نو دی ژمنه کوي چې له مور سره به ښه چلند کوي. هغه د ګلنارې پر پلورلو ډېر ټینګار وکړ او یو دلال یې هم له ځان سره راوستی و ترڅو ورته پیرودونکی پیدا کړي (دلال ته یې هم د دې کار لپاره پیسې ورکړې وې). وصي هم وینځه دلال ته وپلورله او دلال هغه پر یوه مصري سړي وپلورله.

د موسی مور د ګلنارې له پلورلو چې د هغې له خبرتیا پرته شوي وو، ډېره حیرانه او خفه شوه. وصي یې ملامته کړ او ټینګار یې وکړ چې معامله فسخه کړي، خو هغه ښښنه وغوښته او ویې ویل چې دا کار اوس د ده له وسه وتلی، مګر دا چې هغه مصري سړی راضي شي. بوډۍ ورته امر وکړ چې مصري ته لوړه بیه وړاندیز کړي ترڅو ګلناره بېرته ورکړي؛ خو موسی له مصري سره شرط ایښی و چې په هیڅ صورت به یې بېرته نه ورکوي. مصري هم وړاندیز ونه مانه او پر خپلې وینځې یې ټینګار وکړ. وصي هم مجبور شو چې ګلناره ور وسپاري. کله چې ګلناره پوه شوه چې ژر به خپل نوي بادار ته وسپارل شي، ډېر یې وژړل او د خپلې مالیکې جامو ته یې لاس واچاوه: «زما مالیکې! ما ووژنه خو هغوی ته مې مه سپاره!» بوډۍ مېرمن هغه په سینه پورې ونیوله او په داسې حال کې چې اوښکې یې روانې وې، ویې ویل: «ګلنارې! ته پوهېږې چې زما له

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسه څه نه دي پوره. په خدای قسم، ته مې تر خپلې لور ډېره خوښېدې او ډېره هڅه مې وکړه چې ودې ساتم؛ خو څه وکړم، هغوی زما له خبرتیا پرته پلورلې یې. خدای دې زما پر زوی لعنت واوروي، څومره مې ځوروي! کاشکې شنډه وای او دا مې نه وای زېږولی! ای موسی! زه ستا په وړاندې یوازې خدای لرم!»

قطز ولاړ و، ورته کتل یې او ژړل یې. کله یې چې ولیدل موسی له دلال او خپلو کسانو سره را روان دی، اوښکې یې پاکې کړې او د ډېرینې مجسمې په څېر کلک ودرېد. کله چې ګلنارې هغوی ولیدل او پوه شوه چې بله چاره نشته، د خپلې مالیکې جامې یې پرېښودې او د خپل محبوب «قطز» لور ته ورغله. دواړو یو بل په غېږ کې ونیول؛ یو اوږد وخت یې یو بل د وداع (مخې ښې) په غېږ کې نیولي وو او د خپلو مچیو له لارې یې د زړه اور او د جلاوالي حسرت یو بل ته لېږداوه.

د هغوی ساه ګانې او اوښکې سره ګډې شوې وې او شاوخوا هر څه ترې هېر وو. ناڅاپه د موسی غږ هغوی له خپل عالم څخه راویستل چې په ډېرې کینې یې چیغه کړه: «له یو بل جلا شئ ای خاینانو! دا پرېږده ای پست فطرته غلامه!»

قطز ورته داسې وکتل چې د موسی زړه وترهیدلو، خو موسی ځان کنټرول کړ او ویې ویل: «نور یې په غېږ کې نیول ګټه نه لري، ته به دا بیا هیڅکله ونه وینې!»

قطز د خپلې محبوبې لاسونه له خپلې غاړې لېرې کړل او ورته ویې ویل: «ګلنارې! ته مې په خدای وسپارلې. خدای به په خپل قدرت سره موږ بیا سره یوځای کړي.»

ګلنار په داسې حال کې چې ترې لېرې کېده، ورته ویل یې: «ته مې په خدای وسپارلې ای محموده! ته مې په خدای وسپارلې ای زما محبوبه!» بیا د خپلې مالیکې لور ته ورغله او په ژړا کې یې د هغې د سر ښکلول پیل کړل او د هغې سر یې په خپلو اوښکو لوند کړ. بوډۍ مېرمنې له ډېر غمه خپلې ګوتې په غاښونو کې نیولې وې او ژړل یې. دلته قطز مخکې راغی، د هغې لاس یې ونیو او ویې ویل: «بس کړه ګلنارې! پر خدای توکل وکړه او خلک مه منتظر کوه؛ ډاډه اوسه چې خدای شته او هر وخت چې وغواړي، کولای شي موږ بېرته سره یوځای کړي.»

موسی دلال ته اشاره وکړه او ویې ویل: «دا بوځه سړیه! مه پرېږده چې دلته مو وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې ځایه ضایعه کړي.»
دلال د هغې لاس ونیو او له ځان سره یې بوتله؛ د ګلنار سترګو به کله خپلې مالیکې او کله خپلې محبوبې ته کتل، تر دې چې له سترګو پناه شوه.
قطز د یوې بې‌ساه مجسمې په څېر هماغه شان ولاړ و. ده خپلې مالیکې ته کتل او هغې ده ته، تر دې چې موسی هم د دلال او دهغه د کسانو په پل پسې لاړ. دلته نو قطز ژړا کنټرول نشوی کړی، خپلې مالیکې ته نږدې شو، د هغې د سر او لاسونو ښکلول یې پیل کړل او ویل یې: «ستا مننه کوم زما مالیکې! ای نېک‌کاره مېرمنې! تا خپله ټوله هڅه وکړه او دا چې څه پېښ شول، ستا هیڅ ګناه په کې نشته.»
بوډۍ ورته وویل: «خدای دې درته نېکي درکړي زما زویه! ته زما د زوی په څېر یې. که غواړې زه به دې ازاد کړم ترڅو هر چېرته چې دې زړه وي، ولاړ شې.»
قطز وویل: «زما مالیکې! ستا خدمت زما لپاره بس دی، خو زه وېرېږم چې موسی به مې وځوروي او اوس چې زما د صبر کاسه ډکه شوې، هسې نه چې ورته زیان ورسوم او دا کار ستا د خپګان سبب شي.»
بوډۍ وویل: «اعوذبالله چې زه دې د موسی په خاطر خفه شم! که هغه ووژنې، ما به یې له شره خلاصه کړې.»
قطز وویل: «دا مناسبه نه ده چې زه د خپل هغه بادار زوی ته زیان ورسوم چې زما عزت یې کړی او راسره نېکي یې کړې.»
قطز له بیګم (مالیکې) څخه اجازه واخیسته او د خپل نږدې ملګري حاج علي فراش لور ته ورغی. هغه یو صالح سپین‌ږیری و او د دمشق د یو شتمن او مشهور سړي ابن‌زعیم په خدمت کې و. هغه د شیخ غانم مقدسي د مانۍ نږدې په یوه بل قصر کې اوسېده. قطز به ډېر وخت هغه ته ورتلو؛ هغوی به د یوې لویې چوترې پر سر چې د ونو ښاخونو پوښلې وه او د ابن‌زعیم د بڼ په دروازه کې وه، کښېناستل. قطز به ورسره د زړه خواله کوله، د خپلو دردونو کیسې به یې ورته کولې او په خپلو کارونو کې به یې مشوره ورسره کوله. هغوی به د هرې موضوع په اړه خبرې کولې. حاج علي له قطز سره ډېره مینه لرله. هغه په خپل قوي بصیرت او ربښتیني اټکل سره درک کړې وه چې دا مریی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې ښکلې څېرې او ځوانمردانه چلند سره، يو داسې راز لري چې له ټولو خلکو يې پټ ساتي. ده ډېره هڅه کړې وه چې د خپل ځوان ملګري له رازه پرده پورته کړي، خو بريالی شوی نه و؛ مګر د وخت په تېرېدو يې ګومان نور هم پياوړی شو. هغه خبرې چې ده به د بنداړونو پر مهال په هنر سره د هغه له ژبې ايستلې وې، سره يوځای کړې او د دغه ځوان د اصل او نسب په اړه يې يو نادود انځور په خپل ذهن کې جوړ کړی و.

هغه قطز ته ښه راغلاست ووايه او لکه د تل په څېر يې پر چوتره فرش وغوړاوه؛ د هغه د بادار پر مړينه يې ورته تسليت ووايه او د هغه د ښو صفتونو يادونه يې وکړه. قطز ورته د پلار له مړينې وروسته د موسی له ځورونو او د خپلې محبوبې ګلنار له جلاوالي شکايت وکړ او ويې ويل چې نور له ژونده ستړی شوی دی. حاج علي ورته ډاډګېرنه او هيله ورکړه.

په دې وخت کې موسی په لاس کې د قمچينې (شلاق) سره له دروازې راننوت. کله چې دوی ته نږدې شو، قطز ته يې په غوسه وکتل او ويې ويل: «دلته څه کوې سړيه؟ لاړ شه مانۍ ته او خپل کارونه کوه.»

قطز ځواب ورنه کړ او مخ يې ترې واړاوه. د موسی غوسه وپارېده او شلاق يې پورته کړ چې ويې وهي، خو قطز هغه په هوا کې ونيولو. موسی ونه شوای کړای شلاق د هغه له لاسه وباسي. دلته قطز ورته وويل: «که وغواړم په همدې شلاق دې وهم. ستا په څېر يو شرابخور مست نشي کولای زما غوندې يو څوک ووهي. زه يوازې ستا د پلار د درناوي له امله له وهلو دې تېرېږم.»

موسی قطز ته پر تندي يوه څپېړه ور کړه؛ د قطز مخ سور شو او په داسې سترګو يې ورته وکتل چې ګواکې اور ترې ورېږي. د موسی زړه له وېرې ډک شو او په داسې حال کې چې د قطز پلار او نيکه ته يې کنځلې کولې، له هغه ځايه لاړ. قطز په خپل ځای ناست و، د موسی شلاق يې په لاس کې و او تر هغه يې ورپسې کتل چې موسی ورک شو. يو څه وخت په همدې حال پاتې شو، بيا يې خپل مخ په لاسونو کې ونيو، ځان يې پر ځمکه وغورځاوه او په ژړا شو. د حاج علي زړه ورباندې وسوځېد، پر شا يې لاس ورته واهه او ورته ويل يې: «قطزه! دومره يې مه سختوه، ولې ژاړې؟ ايا د يو بې‌غيرته او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمزوري سړي د يوې سپکې ښېرې په خاطر ژاړې؟»
قطز په داسې حال کې چې اوښکې يې وچې شوې وې، سر راپورته کړ او ويې ويل:
«خدای دې وبښه، ايا ته داسې انګېرې چې زه د هغې ښېرې له امله ژاړم؟ زه د دې لپاره ژاړم چې هغه زما پلار او نيکه ته کنځلې وکړې، په داسې حال کې چې زما پلار او نيکه د هغه تر پلار او نيکه زر ځله غوره وه.»
حاج علي وويل: «ای قطزه! غوسه دې داسې څه ويلو ته اړ نه باسي چې حقيقت نه لري. په خدای قسم چې ته په خپله تر هغه زر ځله غوره يې، خو ستا پلار او نيکه د هغه له مسلمان پلار او نيکه غوره نه دي، ځکه د اسلام شرف تر هر څه لوړ دی.»
قطز وويل: «ايا ته ګومان کوې چې زما پلار او نيکه کافران وو؟ په خدای قسم چې هغوی پښت په پښت مسلمانان وو!»
حاج علي د داسې چا په څېر چې پر خبره يې شک لري، حيرانتيا وښودله. پر قطز دا خبره درنه تمامه شوه چې ملګری يې پرې د درواغو ګومان کوي، نو ويې ويل: «حاج علي! ايا تا د جلال‌الدين خوارزمشاه نوم نه دی اورېدلی چې له مغولو سره يې جهاد کاوه؟»
- «هو، په نړۍ کې به څوک وي چې د هغه نوم يې نه وي اورېدلی.»
- «زه د جلال‌الدين د خور، جهان خاتون زوی يم او پلار مې د هغه د تره زوی، شهزاده ممدود دی. زما نوم محمود دی؛ هغو غلو چې زه يې تښتولی وم، قطز نوم راباندې کېښود او زه يې وپلورلم – خدای دې ورته خپله سزا ورکړي.»
د حاج علي څېره روښانه شوه او ويې ويل: «اوس مې نو بصيرت رښتيا شو او ګومان مې ستا په اړه سم وخوت. په هغه خدای قسم چې له هغه پرته بل معبود نشته، په لومړۍ ورځ چې مې ته وليدې، زړه مې راته وويل چې ته د ماوراءالنهر د کليو کوم عادي مريی نه يې؛ ته د يوې لويې کورنۍ او نسب خاوند يې. کله چې مې و ازمويلې او ناسته ولاړه مې درسره وکړه، پوه شوم چې ته له خلکو يو راز پټوې. نو اټکل مې وکړ چې ته د کوم پاچا يا امير زوی يې چې زمانې راغورځولی او د مريانو د پلورونکو لاس ته ورغلی يې. له هغې ورځې راهيسې هڅه کوم ستا په راز پوه شم. ډېر ځله مې ستا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصل په اړه وپوښتل، خو تا به تل ویل چې په دې اړه په څه نه پوهېږې. خو په پای کې مې دا پایله ترلاسه کړه چې ته د جلال‌الدین بن خوارزمشاه له اولادونو څخه یې.»

قطز په حیرانتیا ورته وکتل او ویې ویل: «ایا مخکې له دې چې زه درته ووایم، ته پرې پوه شوې وې؟»

- «هو، په خدای قسم چې ډېر پخوا پرې پوه شوی وم.»

- «په خدای چې ډېره عجیبه ده! حاج علي څنګه پوه شوې؟»

- «کله چې دې پایلې ته ورسېدم چې ته د پاچاهانو یا امیرانو اولاد یې، نو د پاچاهانو د کیسو په کولو مې پیل وکړ او ستا د مخ بدلون ته مې کتل چې د هر پاچا یا امیر د نوم په اخیستو به څنګه کېده. کله به مې چې د جلال‌الدین او له مغولو سره د هغه د کیسو یادونه کوله، ستا په څېره او شونډو کې به مې یو ډول بدلون لیده. دا ازموینه مې څو ځله تکرار کړه او یقیني شوم چې ته له جلال‌الدین سره تړاو لرې او شاید د هغه له اولادونو یې.»

قطز موسک شو او د حاج علي پر هوښیارۍ یې حیرانتیا وښوده او ویې ویل: «اوس پوه شوم چې ولې ته د پاچاهانو او سلاطینو له خبرو سره دومره مینه لرې او تل دې راته کیسې کولې.» قطز لږه شېبه چوپ شو، بیا بېرته په غم کې ډوب شو او په ژړغوني غږ یې وویل: «ته راته رښتیا! ووایه چې له دې مصیبت او ناخوالو سره څه وکړم؟ تر کومه چې زه پوهېږم، ته د نظر او مشورې خاوند یې. موسی زما او زما د محبوبې ګلنار د ازادۍ وصیت باطل کړ، په دې یې بسنه ونه کړه او زموږ ترمنځ یې جلاوالی راوست او هغه یې پر یو مصري سوداګر وپلورله. په خدای چې زه او زما د ماما لور ګلناره یې سره جلا کړو. موږ له کوچنیوالي سره یوځای رالوی شوي وو او تر ننه کله هم نه وو جلا شوي. ماته ووایه، زه څنګه هغې مانۍ ته لاړ شم چې نه په کې هغه څوک شته چې زما عزت یې کاوه او زه یې د زوی په څېر منلی وم، او نه په کې ګلناره شته چې زما د ژوند ارام او د غمونو مرهم وه؟ څنګه د هغه پست او ذلیل سړي خدمت وکړم چې زما ازادي او خوشحالي یې راڅخه واخیسته او سپکاوی یې راته وکړ؟ هغه مانۍ ماته اوس لکه دوزخ داسې ده، د لیدو وس یې نه لرم. نو څنګه په کې پاتې شم؟ ولې دا خلک ما مریی کوي په داسې حال کې چې موږ زه ازاد زیږولی یم؟ ایا په ځمکه کې داسې عدالت

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشته چې زما حق له دې ظالمه واخلي؟ حاج علي ولې چوپ یې؟ خبرې وکړه، ووایه څه وکړم؟»

دلته نو ژړا نوره اجازه ورنه کړه چې خبرې وکړي. حاج علي یو څه وخت چوپ پاتې شو، ګواکې د خپل ملګري لپاره د یوې حل‌لارې یا قناعت بښونکي ځواب په لټه کې و؛ بیا یې ورته وویل: «خو ستا مالیکه (بیګم) په هغه مانۍ کې ده، هغه تا غواړي، عزت دې کوي او هیڅکله نه غواړي چې د موسی له خوا تاته کوم زیان ورسېږي.»

قطز وویل: «هو، هغه راسره مینه لري، زما قدر پېژني، ما خپل زوی ګڼي او وعده یې راسره کړې چې د میراث د وېش پر مهال به ما په خپله برخه کې راولي او بیا به مې ازاد کړي، خو هغه کمزورې ده، واک او قدرت نه لري. هر څه د هغې د زوی په لاس کې دي او هغه یې د غوښتنو مخه نشي نیولی. زه وېرېږم چې موسی زما مالک شي، غچ به رانه واخلي او زما په سپکاوي او عذابولو کې به له حده تېری وکړي. حاج علي، ما وژغوره! ما خلاص کړه!»

- «خدای دې خلاص کړه زما زویه! پر ځان یې اسانه کړه ای قطزه! خدای به له دې سختۍ څخه درته کومه لاره وباسي.»

- «ته په دې خبرو یوازې راسره خواخوږي کوې او ډاډ راکوې. خو یوازې خواخوږي زما درد نه دوا کوي. د هغه عذاب څخه د خلاصون لپاره چې زه په کې یم، د یوه لاره چاره ولټوه»

- «ستا د خلاصون لپاره مې یو فکر کړی دی، خو باید دوه یا درې ورځې صبر وکړې ترڅو لاره پیدا کړم.»

- «تر دې زیات هم صبر کوم، خو تاته په خدای قسم درکوم! ووایه چې په سر کې دې څه پلان دی؟»

- «ستا کیسه ابن‌زعیم ته کوم. کله چې هغه پوه شي چې ته د سلطان جلال‌الدین له اولادونو څخه یې، ستا لیدو ته به ډېر لېواله شي. هغه او شیخ ابن‌عبدالسلام له مغولو سره په جګړه کې جلال‌الدین ته د مرستو لېږلو ته ډېر ارزښت ورکاوه. کله چې دې ورسره ولیدل، د شیخ غانم له زوی (موسی) سره خپلې ځینې ستونزې ورته بیان کړه. زه به ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې تایید کړم او هغه څه به ورته ووایم چې نن یې زما د سترګو وړاندې درسره وکړل. شک نه لرم چې زړه به یې دربانديې وسوځي او مینه به درسره وکړي. زه به ترې وغواړم چې تا له هغوی څخه واخلي، او ګومان نه کوم چې هغه په دې کار کې ځنډ وکړي. پوه شه چې زما د بادار ابن‌زعیم په خدمت کې به نېکمرغه شې؛ هغه به تاته د اروابناد شیخ غانم په څېر یا تر هغه هم غوره وي.»

- «زما ګرانه ملګریه! یوازې دا چې ستا تر ځنګ ژوند وکړم، زما لپاره بس دی. خو زه وېرېږم چې موسی کله پوه شي چې زه هلته خوشحاله کېږم، نو حاضر به نشي چې ما ستا پر بادار وپلوري.»

- «موږ نه پرېږدو چې موسی په دې اړه په څه پوه شي. زما بادار به په خپله ستا غوښتنه له وصي (د میراث له ساتونکي) څخه وکړي او وصي به د هغه د غوښتنې په منلو کې زړه نا زړه نشي. نو ډاډه اوسه او له هیڅ شي مه وېرېږه، ځکه زه هر څه په پوره دقت درته چمتو کوم.»

- «حاج علي، خدای دې درته برکت درکړي! تا زما ستونزه حل کړه، خدای دې ستا ستونزې د قیامت په ورځ حل کړي.»

قطز له خپل ځای څخه پاڅېد او ویې ویل: «اجازه راکړه چې مانۍ ته لاړ شم او په خپلو کارونو بوخت شم، ښایي مالیکه مې اړتیا راته ولري. ډېر ناوخته مې کړ، سبا به دې بیا وګورم – ان‌شاءالله.»

## اتم څپرکی:

لا دې ورځې نه وې تېرې شوې چې «حاج علي فراش» هغه نقشه چې د خپل ملګري د ازادولو لپاره یې جوړه کړې وه، په پوره بریا سره پلې کړه. قطز د «ابن زعیم» ملکیت ته انتقال شو او پدې توګه د «موسی» له لاسه، او د هغه له ځورونو، اذیتونو او سپکاویو څخه وژغورل شو او د ژوند یوه پاڼه یې واوښته.

هغه دا پاڼه په اوښکو او حسرت سره وتړله؛ ځکه سره له ټولو سختیو، دا د هغه د ژوند تر ټولو ښکلې او نېکمرغه ورځې وې. په همدې شپو ورځو کې د مینې رڼا د هغه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه کې وځلېده او هغه يې له نوره ډک کړ؛ د زړه د تورو کونجونو غم، اندوه او نهيلي يې د نشاط، مسکا او هيلې په رڼا بدلې کړې. په دې دوران کې هغه او ګلنار په ارامۍ او سلامتۍ کې د يوه مهربانه بادار او د هغه د نېکې مېرمنې تر سرپرستۍ لاندې ژوند کاوه. دوی په دې موده کې د امنيت، ډاډ او ثبات خوند وڅکلو چې په ماشومتوب کې يې نه و ليدلی. څکه تر دې وړاندې دوی په يوه داسې ډک له اضطراب چاپيريال کې اوسېدل چې انديښنې او بېقرارۍ ورباندې حاکمې وې، جنګونو او بريدونو ګواښل او سهار او ماښام يې له ناوړو او مصيبت بارو پېښو ډک و. تر دې چې د «شيخ غانم» په کور کې مېشت شول او د هغه مهربانۍ او نېکۍ، د يتيمۍ تريخوالی، د مريتوب ذلت او د غربت او بېوطنۍ درد ورڅخه هېر کړل. هلته يې يو رضايتبښونکی، ارام او هوسا ژوند درلود او تر ټولو لوی نعمت چې په دې موده کې ورته نصيب شو، د مينې نعمت و.
قطز که هر څه هېر کړي، هغه ورځ نه هېروي چې له خپل بادار سره د «نابلس» له سفر څخه راوګرځېد. کله چې ماڼۍ ته داخل شو او مېرمنې (خاتون) ته يې سلام وکړ، ګلنار يې هلته ونه ليده. د هغې ليدو ته ډېر تږی و، نو خونې ته يې ورغی؛ ګلنار لکه همدا اوس چې له حمامه راوتلې وي، د آينې مخې ته ناسته وه او خپل اوږده او زرين وېښتان يې پر اوږو راخواره کړي وو، ږمنځ کوله. هرکله چې يې د قطز تصوير په آينه کې وليد، يوه تبسم يې وکړ، خو ورته يې ونه کتل او هماغسې په خپلو وېښتانو بوخته پاتې شوه.
قطز په پټه خوله کرار کرار خونې ته ورغلی و ترڅو هغه له شا څخه حيرانه (غافلګيره) کړي او د تل په څېر يو بل په غېږ کې ونيسي. سره له دې چې هغه خپل انځور په آينه کې وليد او پوه شو چې ګلنار هم وليد، خو هغه له چوکۍ پورته نه شوه او مخ يې قطز ته راوګرځاوه، يوازې يې مسکا وکړه. قطز ورته حيران شو، يوه شېبه غلی ودرېد، ګويا غوښتل يې د دې عجيب بدلون په راز پوه شي. بيا يې د تل پر خلاف چې په خوښۍ او شور به يې غېږ ورباندې کاوه، په ټيټ غږ ورته وويل: «ګلنارې! زه له نابلس څخه راغلم.»
د هغه حيرانتيا هغه وخت زياته شوه کله چې يې وليدل هغې په ډېرې ارامۍ او وقار سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ راوګرځاوه او په داسې غږ یې چې ګویا له کومې بلې لورې سرچینې څخه راوځي، نه د هغې له بې‌حرکته او خوبجنو شونډو، وویل: «شکر دی چې په سلامتۍ راغلې.»

قطز د هغې خمارو سترګو ته وکتل، داسې عجیبه معناګانې یې پکې ولیدې چې تر اوسه یې د هغې په سترګو کې نه وې لوستلي؛ ګویا هم هغه ځان ته رابولي او هم یې له ځانه لیرې کوي؛ هم ورسره انس اخلي او هم ترې پردۍ کېږي؛ هم پرې باور کوي او هم وربانديې شک کوي؛ هم ورته تسلیمېږي او هم ترې نافرماني کوي. بیا ډېر وخت تېر نه شو چې مخ یې بېرته آینې ته کړ او د وېښتانو په ږمنځولو بوخته شوه، لکه هیڅ چې نه وي شوي.

قطز په حیرانتیا د هغې تر شا ولاړ و، نه پوهېده څه ووایي او څه وکړي. داسې احساس یې درلود لکه یو څوک چې بې اجازې داسې کور ته ننوځي چې هلته هیڅ حق نه لري. هغه تر دې دمه له هغې څخه داسې چلند نه و لیدلی. د دوی خونو یو له بل سره توپیر نه درلود او په دې برخه کې یې هیڅ ستونزه نه لرله. نو دا کوم عجیب او غریب خنډ و چې د دوی ترمنځ حایل شوی و؟ هغه خنډ چې په سترګو نه لیدل کېده خو تر پوخ او پلن دیوال هم کلک و. دلته و چې قطز د شرم او وېرې احساس وکړ، چې هسې نه په دې حال کې یې څوک وګوري. هغه هره شېبه تمه لرله چې د مانۍ کوم غړی راداخل شي او ملامت یې کړي چې «دلته ولې ولاړ یې؟».

هغې ته یې چې وکتل، نور یې هغه کوچنۍ ګلناره، د خپل تره لور (د جلال الدین لور) ونه لیده چې یوځای ورسره لوی شوی و او د لاهور په خاورو کې یې لوبې کولې او پر کوچنیو اسونو به سپاره وو... بلکې په ځای یې یوه پوره او بالغه ښځه ولیده چې ترمنځ یې هیڅ نږدېوالی نه وه. د هغه نظر د هغې له اوږدې غاړې څخه چې د سپین زرین لمر په څېر وه، اوږو او نرې ملا ته لاړ او د پښو تر سپینوالي پورې ورسېد. وېرې واخیست، نور یې د درېدو وس نه درلود، په شا شا د دروازې لور ته لاړ او لکه څنګه چې راغلی و، په ارامۍ سره بېرته ووتلو.

دا د دې دوو مریو شویو شهزادګانو په ژوند کې د جلاوالي ورځ وه؛ په دې ورځ یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوره پای ته ورسېده او بله دوره پیل شوه. د وخت په تېرېدو سره، هغه لا هم دا ورځ په بشپړ وضاحت سره په یاد لري، ګویا همدا پرون وه.

لا د قطز د نوي بادار په پناه کې د اوسېدو او د موسی له ځورونو څخه د خلاصون څو ورځې نه وې تېرې شوې، چې د ګلنار فراق (بېلتون) ور یاد شو. د هغه ساه د خپلې له لاسه وتلې محبوبې په حسرت کې وسوځېده؛ رنګ یې ژېړ، بدن یې ډنګر او باړخوګان یې د ډېرې ژړا او بې خوبۍ له امله وپړسېدل. داسې ښکارېدل لکه د موسی مصیبت چې د بېلتون درد ورڅخه هېر کړی و؛ کله چې هغه ستونزه ختمه شوه او د نوي بادار په کور کې یې د هوساینې ساه واخیسته، نو خپل لوی مصیبت یعنې د ګلنار بېلتون ته وزګار شو. هو، کله چې انسان په دوو مصیبتونو اخته شي، نو کوچنی مصیبت ورباندې فشار راوړي او د لوی مصیبت د هېرولو لامل ګرځي، تر دې چې ګمان کېږي هغه لوی غم هېر کړی دی؛ خو د کوچني مصیبت له منځه تلو وروسته، لوی غم بېرته راګرځي او زړه بوختوي.

د ابن‌زعیم زړه په خپل خوارزمي مريي وسوځېد، نو ډېره نېکي یې ورسره وکړه او هڅه یې وکړه هغه له غمه وباسي. هغه به یې ځان ته نږدې کاوه او ورته ویل به یې: «زما زویه! نور د خپلې ښکلې ګلنار لپاره غم او غصه بس کړه، که ته وغواړې زه به د هغې په څېر یا تر هغې هم ښکلې وینځه تاته په نکاح کړم.»

خو قطز به په پوره ادب او درنښت ځواب ورکاوه: «نه زما باداره! زه نه غواړم له هغې پرته له بل چا سره واده وکړم، که څه هم تر هغې ښکلې وي. هغه زما د تره لور ده، مور یوځای لوی شوي یو او له ماشومتوبه تر اوسه له یو بل نه یو جلا شوي.»

بادار به ورته ویل: «قطز! حق جانب یې، ځکه مور نشو کولای تاته د جلال الدين د لور په څېر یوه شهزادګۍ په نکاح کړو، خو زه درته نصیحت کوم چې پر خپل ځان رحم وکړه او د خپلې روغتیا او ځوانۍ د ساتلو لپاره هڅه وکړه هغه هېره کړه، ښايي خدای پاک بیا تاسو سره یوځای کړي.»

ابن‌زعیم خپل خدمتګار حاج علي فراش ته سپارښتنه وکړه چې د قطز پاملرنې او د هغه د غم هېرولو لپاره له هیڅ ډول هڅې دریغ ونه کړي. حاج علي د خپل نږدې ملګري په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړه د بادار سپارښتنو ته اړتیا نه لرله؛ هغه د قطز د ارامولو او ورسره د خواخوږۍ لپاره له هرې لارې کار واخیست. حاج علي ډېر خوږ ژبی او نېک چلنده سړی و، هغه د زړه د ناروغیو طبیب او معالجه کوونکی و. هغه به تل له خپل غمجن ملګري سره بوخت و، ډاډګېرنه به یې ورکوله، کیسې به یې ورته کولې او د چکر لپاره به یې د ښار بېلابېلو سیمو او د «الغوطه» باغونو ته بیوه. هغه به یې د بازارونو ګنې ګوښې او په جوماتونو کې د علم مجلسونو ته بیوه، تر دې چې ویې شوای کولای د هغه د زړه د غم او اندوه دیوال مات کړي او نور یې وخت ته وسپارلو ترڅو یې برخلیک معلوم کړي.
له دې مرحلې وروسته، ځوان مریي یو ډول الهي جذبه او میلان پیدا کړ او زړه یې له عبادت او پرهېزګارۍ سره وتړل شو. هغه به فرض لمونځونه په خپل وخت ادا کول او نفلونه یې هم کول؛ ډېر تلاوت به یې کاوه او د جامع جومات د علم په مجلسونو کې به یې ګډون کاوه، په ځانګړې توګه د شیخ عز بن عبدالسلام په درسونو کې. هغه د شیخ د درسونو دومره مینه وال و چې یو درس یې هم نه له لاسه ورکاوه. هغه یوازې د هغه یا نورو علماوو په حضور کې په لوستلو بسنه نه کوله، بلکې په مجلسونو کې یې حضور او غوږ نیولو ته پاملرنه کوله. بادار یې ابن‌زعیم هم هغه هڅاوه او هیڅکله به یې داسې کار ورته نه سپاره چې هغه د درس له مجلس څخه راګرځوي.
ښاغلی ابن‌زعیم د ابن عبدالسلام له تر ټولو لویو ملاتړو او نږدې ملګرو څخه و. پر هغه یې پوره باور درلود، نېکي یې ورسره کوله، اړتیاوې یې ور پوره کولې او په خپل مال او ځان یې د هغه د دعوت ننګه کوله. ډېر ځله داسې شوي وو چې د شیخ په خاطر د چارواکو تر غضب او د زورواکو تر ظلم لاندې راغلی و. شیخ هم د همدې استقامت، اخلاص، دیني غیرت او اصلاح سره د مینې له امله هغه ډېر خوښاوه؛ سره له دې چې شیخ په خپله ډېر عفیف او زاهد و، خو د ابن‌زعیم ډالۍ یې منلې، په داسې حال کې چې له نورو شتمنو څخه یې هیڅ نه قبلول. ابن‌زعیم د هغه پلوي کوله او د خلکو زړونه یې هغه ته مایل کول او پدې لاره کې یې خپل مال مصرفاوه؛ د شیخ ابن عبدالسلام ډېر نفوذ د ابن‌زعیم د هڅو پایله وه.
ښاغلی ابن‌زعیم د یوه نېک او شکرګزار شتمن بېلګه وه چې په خپل مال کې یې د خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاک حق نه و هېر کړی. هغه به پر فقیرانو، مسکینانو، کونډو او یتیمانو انفاق کاوه او عقیده یې لرله چې دین او وطن ورباندې حق لري او تر څو چې دا حقونه ادا نه کړي، ربښتینې ازادي نه شي موندلی. له همدې امله که به په دین کې کومه بدعت ښکاره شو، هغه به ډېر غوسه کېده او د له منځه وړلو هڅه یې کوله. که به پر وطن کوم مصیبت راغی، د هغه د کمولو لپاره یې هڅه کوله او که به کوم خطر وطن وګواښه، دفاع ته به یې ودانګل؛ په داسې حال کې چې د «دمشق» ډېرو شتمنو د ګېډې ډکولو او د خوندونو او شهوتونو له پوره کولو پرته بل غم نه درلود.
هغه شیخ ابن عبدالسلام د یوه داسې عالم بېلګه ګڼله چې پر خپل علم عمل کوي او د دین او وطن خیرخواه دی؛ داسې څوک چې باور یې درلود عالمان په حقیقت کې د خلکو د لارښوونې لپاره د پیغمبرانو وارثان دي. هغه په نېکۍ امر او له بدۍ منع کوله او د خدای په لاره کې یې د هیڅ ملامتونکي له ملامتۍ وېره نه لرله. په خپل دین یې تجارت نه کاوه او خپل علم یې د دنیا د لاسته راوړلو وسیله نه ګرځوله. هغه د امت او وطن په ګټو کې سستي نه کوله او الهي ایاتونه یې د دنیا په ناڅیزو متاعګانو نه پلورل. له همدې امله ابن‌زعیم هغه ډېر خوښاوه او په خپل مقام او شتمنۍ یې د هغه ملاتړ کاوه؛ په نېکۍ او تقوا کې یې ورسره همکاري کوله، په داسې حال کې چې په هغه زمانه کې ډېرو علماوو د مال له ټولولو، د عامو خلکو له بې‌لارې کولو او د ظالمو حکامو له ملاتړ پرته بل کار نه درلود.

یوه ورځ شیخ د ابن‌زعیم لیدو ته د هغه کور ته راغی. ابن‌زعیم د هغه ډېر درناوی وکړ او د هغه په راتګ یې خپله خوښي څرګنده کړه. کله چې د دوی مجلس ګرم شو، قطز هغوی ته د ګلابو شربت راوړ. کله چې شیخ هغه ولید، د کور خاوند ته یې وویل: «دا ځوان څوک دی؟ زما ګمان دی چې څو ځله مې د درس په مجلس کې لیدلی دی.»
ابن‌زعیم ځواب ورکړ: «دا زما د ګاونډي شیخ غانم مریی و، په دې وروستیو کې مې اخیستی دی؛ هغه له تا سره مینه لري، ستا د درس په مجلسونو کې ګډون کوي او ستاسو ارشاداتو ته غوږ ږدي.»
شیخ په داسې حال کې چې په ځېرکتیا یې د قطز مخ ته کتل، وویل: «دی یو صالح او سم

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځوان دی.»

ابن‌زعیم وویل: «هو، هغه نېک دی او له یوې ډېرې معتبرې کورنۍ څخه دی...» کله چې شیخ خپله څښاک پای ته ورساوه، پیاله یې بېرته قطز ته ورکړه. قطز د شیخ د ستاینې له امله شرمنده (خجالت) شوی و. ابن‌زعیم لا هم خپل دغه ستر میلمه ته د خپل مریي په اړه خبرې کولې چې: «دا د سلطان جلال الدین بن خوارزمشاه له کورنۍ څخه دی، کله چې دوی کوچني وو، غلو هغه او د سلطان لور وتښتول او د حلب په بازار کې یې وپلورل او شیخ غانم مقدسي دواړه وپېرل...» تر پایه یې کیسه ورته تېره کړه.

شیخ د دې خبرو په اورېدو حیران شو او دا مبارک ایت یې تلاوت کړ:

> (قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَن تَشَاءُ وَتَنزِعُ الْمُلْكَ مِمَّن تَشَاءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَاءُ ۖ بِيَدِكَ الْخَيْرُ ۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ) [آل عمران: ۲۶]

> «وایه (ای رسوله!): اې الله! د ملک (پادشاهۍ) خاونده! هر چا ته چې وغواړې پادشاهي ورکوې او له هر چا چې وغواړې پادشاهي اخلې، او هر چا ته چې وغواړې عزت ورکوې او هر څوک چې وغواړې ذلیل کوې، ټول خیر ستا په لاس کې دی، بېشکه چې ته پر هر څه قادر یې.»

> هغه یوه شېبه غلی شو او بیا یې وویل: «بېچاره جلال الدین! مسلمانو پاچاهانو هغه یوازې پرېښود او ناهیلی یې کړ. هغه په یوازې ځان له مغولو سره جګړه وکړه تر دې چې بالاخره یې له منځه یووړ. خدای دې هغه بدۍ وبښي چې ده په دې خاوره کې د مسلمانانو په حق کې کړې وې؛ که دا لغزش ترې نه وای شوی، نو هغه به له نېکو مجاهدینو څخه و.»

ابن‌زعیم وویل: «ما هغه پدې نیت اخیستی چې ازاد یې کړم، او که له ده سره زما مینه او د ده د راتلونکي ژوند په اړه زما اندېښنه نه وای، تر اوسه به مې ازاد کړی وای.»

شیخ وویل: «اې ابن‌زعیمه! خدای دې تاته خیر درکړي. ښه کار دې کړی دی، جلال الدین د دې مستحق دی چې د اولاد یې ساتنه وشي. ایا هغه نه راغواړې چې تر تګ وړاندې یې یو ځل بیا وګورم؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن‌زعیم پورته شو او له قطز سره بېرته راغی او هغه یې شیخ ته راوستلو. شیخ په ډېره ورین تندي ورسره چلند وکړ او د هغه زړه یې لاس ته راوړ، هغه یې ځان ته نږدې کېناوه او ورته یې وویل: «موږ ټولو له جلال الدین سره مینه لرله؛ هغه له مغولو سره جنګېده او د اسلامي خاورې دفاع یې کوله. ته د هغه خورځی (خوریی) یې او زموږ په وړاندې ځانګړی درناوی او ځای لرې. خدای پر تا احسان کړی چې د دغه ښاغلي په لاس کې یې ورکړې؛ هغه له نېکو مجاهدینو څخه دی، د مسلمان لپاره د هغه په خدمت کې هیڅ عیب نشته، هغه ته ازاد کړی یې او نوره نېکي به هم درسره وکړي.»

قطز د شیخ لاسونه ښکل کړل او په داسې غږ چې د شیخ د خبرو د اغېز له امله ژړا ورسره ګډه وه، ویې وویل: «زه د خپل بادار ابن‌زعیم د احسان مریی او بنده یم. نه غواړم چې ما ازاد کړي او نه غواړم چې د هغه د خدمت له شرفه بې برخې شم.»

ابن‌زعیم وویل: «قطز! ته زما زوی یې، موږ ټول د دین او د ابن عبدالسلام خدمتګاران یو.»

پدې توګه شیخ ابن عبدالسلام قطز وپېژانده او هرکله به چې قطز د هغه درس ته ورغی، شیخ به هغه ځان ته نږدې کیناوه او پاملرنه به یې ورته کوله. شیخ به تل د هغه د بادار ابن‌زعیم حال ترې پوښتلو او سلامونه به یې ورته لېږل؛ کله به یې ورسره پیغامونه هم لېږل. ډېر وخت تېر نه شو چې د قطز د هوښیارۍ، غوره نظر، مېړانې او د مهمو چارو د سمبالښت له امله، هغوی وربانديې پوره باور وکړ او هغه یې د خپلو رازونو امین وګرځاوه.

نه یوازې په دمشق کې، بلکې په نورو شامي سیمو او اسلامي خاورو کې د سیاسي او اصلاحي حرکتونو په اړه هغوی له قطز پرته پر بل چا اعتماد نه درلود. له همدې امله، قطز په هغه لنډه موده کې چې د ابن‌زعیم په خدمت کې و، د پاچاهانو او امیرانو له حالاتو، د واک پر سر له سیالیو او د صلیبیانو په وړاندې د هغوی له دریځونو څخه خبر شو. هغه د شیخ او د هغه د ملګرو په سیاست او اهدافو پوه شو، چې هدف یې د اسلامي خاورو یووالی، د قوي مشري رامنځته کول او له شامه د صلیبیانو ایستل او د ختیځ له لوري د مغولو د بریدونو مخنیوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې سیاست غوښتنه دا وه چې د دې لوی ماموریت لپاره یوازې د هغو ځواکمنو او وړو مسلمانو پاچاهانو ملاتړ وشي چې له صلیبیانو سره یې د دوستۍ لاس نه وي غځولی، او د هغو امیرانو د واکمنۍ ختمولو لپاره هڅه وشي چې له دښمن سره متحد یا د هغوی تر اغېز لاندې دي. د لومړۍ ډلې (صالحانو) په سر کې د مصر امیر، ملک صالح نجم الدین ایوب و، او د دویمې ډلې (خاینانو) په سر کې د هغه تره او د دمشق امیر، ملک صالح عمادالدین اسماعیل و. د دواړو ترمنځ سخته دښمني او د واک پر سر سیالي وه. نو د حیرانتیا ځای نه و چې دوی د مصر له پاچا سره مینه کوله او دعا یې ورته کوله، خو د دمشق له پاچا سره یې دښمني کوله او هغه یې د اسلام خاین ګاڼه.

شیخ ابن عبدالسلام له ملک صالح ایوب سره په اړیکه کې و او هغه یې هڅاوه چې د خپل نیکه، ستر مجاهد صلاح الدین ایوبي په څېر شام له صلیبیانو پاک کړي. شیخ ورته د شام د ولس د ملاتړ ډاډ ورکاوه. ملک صالح ایوب به هم په ځواب کې ورته ویل چې کله مناسب فرصت او پوره چمتووالی برابر شي، دا کار به وکړي.

بل لور ته، صالح اسماعیل (د دمشق امیر) د شیخ له حرکتونو خبر شو او ویې غوښتل هغه ونیسي، خو د ولس له پاڅون او د شیخ د پلویانو له غبرګون څخه وېرېده، نو دا کار یې وځنډاوه. کله چې صالح ایوب د شام لور ته د راتګ اراده وکړه، صالح اسماعیل سخت ووېرېد او پرېکړه یې وکړه چې مخکې تر دې چې د مصر پاچا برید وکړي، دی باید پرې حمله وکړي. نو هغه د «حمص» او «حلب» له امیرانو مرسته وغوښته او له صلیبیانو (فرنګیانو) سره یې هم لیکلې هوکړه وکړه چې د مصر د سلطان په وړاندې به د ده ملاتړ کوي. د دې خیانت په بدل کې، هغه صلیبیانو ته د صفد او سقیف کلاګانې، د هغوی سیمې، صیدا، طبریه او نورې ساحلي سیمې وروبښلې. هغه پدې هم بسنه ونه کړه، بلکې صلیبیانو ته یې اجازه ورکړه چې دمشق ته ننوځي او له دمشقیانو څخه وسلې او جنګي لوازم واخلي.

دې ناوړې پېښې شیخ ابن عبدالسلام ته د هغه خطر جدیت وښود چې اسلامي خاوره یې ګواښله. شیخ سمدستي ملک صالح ایوب ته یو جدي لیک ولیکه او هغه یې سمدستي جهاد ته وهڅاوه. شیخ ورته خبرداری ورکړ چې که سستي وکړي او دښمن خپل هدف ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسېږي، نو د خدای له غضب او عذاب سره به مخ شي. هغه ورته وويل چې که په خپلو ديني دندو کې لنډون وکړي، د ټولو بدو پايلو مسووليت به د ده پر غاړه وي او خپله پاچاهي، دنيا او اخرت به وبايللي. له هغې وروسته شيخ له خپلو مريداينو سره ناستې زياتې کړې او په هغوی کې يې د هيواد د دفاع لپاره د جهاد جذبه راپاروله. دا ټول کارونه په پټه کېدل تر دې چې د جمعې ورځ راغله او جومات له خلکو ډک شو.

شيخ ابن عبدالسلام د خطيب له ځانګړې دروازې داخل شو او منبر ته پورته شو. ټولې سترګې ورته راوګرځېدې او داسې چوپتيا خپره شوه چې ګويا د خلکو پر سرونو مرغۍ ناستې دي. شيخ د خدای حمد او ثنا وويله، پر پيغمبر (ص) يې درود وويلو او بيا يې د جهاد د فضيلتونو په اړه خبرې پيل کړې. هغه بيان کړلو چې څنګه پيغمبر (ص) او اصحابو يې له مشرکانو سره مبارزه وکړه ترڅو د الله کلمه پورته کړي او اسلام په ختيځ او لويديځ کې خپور کړي. هغه وويل چې خدای مسلمانان د ځمکې وارثان وګرځول تر هغه چې هغوی په دين ولاړ وو. خو کله چې دوی خپله لاره بدله کړه، خدای هم د هغوی حال بدل کړ او دښمنان يې وربانديې مسلط کړل، هغوی يې خاوره ټوټه ټوټه کړه، نعمتونه يې ترې واخيستل او مسلمانان يې ذليل او شکنجه کړل. دا هر څه د خدای له لوري دي ترڅو ريښتيني او دروغجن سره جلا شي؛ او د دې امت د وروستيو کسانو اصلاح به هم په هغه څه کېږي چې د پيل کسانو اصلاح پرې شوې وه، او هغه يوازې د خدای په لاره کې جهاد دی.

بيا يې له حاکمانو (اولی الامر) څخه د اطاعت وجوب بيان کړ ترڅو د دنيا او اخرت چارې يې سمې شي، خو ورسره يې د حاکم دندې هم په ګوته کړې: د دين خيرخواهي، د هيواد ساتنه، او د خلکو د دين، ناموس، ځان او مال دفاع. هغه په ډاګه کړه: «هر سلطان، پاچا يا امير چې د مسلمانانو د خاورې په ساتنه کې سستي وکړي او هغه د کافرانو منګولو ته وغورځوي، نو د خدای او مسلمانانو ذمه له هغه څخه پاکه ده؛ هغه په خپله خپل اطاعت لغوه کړی او پر ځان يې ظلم کړی دی. له داسې ظالم سره مرسته دا ده چې د هغه لاس ونيول شي، ترڅو خاوره ضايع نه کړي، د مسلمانانو شوکت مات نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي او دښمنان پياوړي نه کړي.»

بيا يې دا مبارک ايت تلاوت کړ: ...

> (وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ ۚ وَمَا تُنفِقُوا مِن شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ) [الانفال: ۶۰]

> «او د هغوی (مشرکانو او دښمنانو) مقابلې لپاره چې څومره قوت او روزل شوي اسونه برابرولی شئ، تيار يې کړئ؛ چې په هغو سره د الله دښمنان، خپل دښمنان او نور هغه دښمنان وويروئ چې تاسو يې نه پيژنئ خو الله يې پيژني. او د الله په لاره کې چې هر څه مصرف کړئ، (بدله به يې) تاسو ته پوره درکول شي او پر تاسو به هيڅ ظلم نه کيږي.»

> بيا يې د وسلو او جنګي لوازمو د برابرولو، په اسونو د جهاد، د سمندري بېړيو د جوړولو او د ځواک د نورو وسايلو د برابرولو فرضيت بيان کړ، ترڅو مسلمانان پر خلکو شاهدان اوسي او د پالونکي د دې وينا مصداق وګرځي چې فرمايي:

> (وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ) [المنافقون: ۸]

> «او عزت يوازې د الله، د هغه د رسول او مؤمنانو لپاره دی.»

> بيا  دې پايلې ته ورسېد چې پر دښمن د وسلو پلورل په مطلق ډول حرام دي او پدې کې هيڅ رخصت او استثناء نشته.

هغه يو شمېر هغه پلورل شوي (خودفروخته) علماء چې خلکو ته يې ناسمې او باطلې فتواوې ورکولې، د خدای کلام يې په مناسب ځای کې نه کاراوه، الهي ايتونه يې په ټيټه بيه پلورل، د حق خبرې له ښکاره کولو يې ډډه کوله او له پاچاهانو څخه وېرېدل ـــپه داسې حال کې چې د پاچاهانو له پاچا (الله) څخه يې هيڅ وېره نه لرلهـــسخت وغندل او ويې ويل: «هر هغه مسلمان چې پر دښمن وسله وپلوري، يا يې په پلورلو کې لاس ولري او مرسته ورسره وکړي، هغه له خدای، رسول او مسلمانانو سره خيانت کړی دی.» او دا ايت يې تلاوت کړ:

> (وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ) [المائده: ۵۱]

(c) ketabton.com: The Digital Library



> «او له تاسو څخه چې څوک له هغوی (کفارو) سره دوستي وکړي، نو هغه له هغوی څخه دی.»

> دا ایت یې درې ځله تکرار کړ او بیا کېناست.

په دویمه خطبه کې یې لومړی د اسلام او مسلمانانو د عزت او د هغو کسانو د بریا لپاره دعا وکړه چې شتون یې د مسلمانانو په ګټه وي. د شیخ عادت دا و چې په پای کې به یې د صالح اسماعیل (د دمشق حاکم) لپاره دعا کوله، خو په دې خطبه کې یې هغه دعا قطع کړه او یوازې د هغو کسانو په دعا یې بسنه وکړه چې د اسلام او د خدای د دین نصرت کوي.

شیخ خپله خطبه پای ته ورسوله او لمونځ ودرېد. خلکو په هغو خبرو باور نه کاوه چې شیخ په خپله خطبه کې وکړلې. هغه په صالح اسماعیل باندې سخت برید وکړ او په پوره صراحت او وضاحت یې د هغه کړنې وغندلې. که خلکو د سورت فاتحې د تلاوت پر مهال د شیخ غږ پرته له کومې لړزې او اضطراب څخه اورېدلو—ګویا ده په منبر هیڅ خطرناکه خبره نه ده کړې—دوی ګمان کاوه چې سر به یی له تن جلا کړي. د هغې حیرانوونکې خطبې له اورېدو وروسته چې د لوی جومات په ګوټ ګوټ کې د تندر په څېر وغړېده، یوازې خدای پوهېده چې د لمونځ کوونکو په زړونو کې څه تېرېدل او زړونه یې له کوم ډول اضطراب او پرېشانۍ سره مخ وو.

خلک په داسې حال کې له جامع جوماته ووتل چې یوازینۍ خبره یې د شیخ ابن عبدالسلام خطبه وه. چا چې خطبه اورېدلې وه، پر هغو یې ویاړ کاوه چې نه یې وه اورېدلې؛ او چا چې نه وه اورېدلې، هیله یې کوله چې کاشکې د خپل عمر یوه برخه یې ورکړې وای خو دا خطبه یې اورېدلې وای. ټول اورېدونکي د خطبې پر حیران والي متفق وو، خو د حیرانتیا په لاملونو کې یې اختلاف درلود؛ ځینې د شیخ بلاغت او فصاحت هک پک کړي وو، ځینې د هغه د دلیل او برهان ځواک، ځینې د هغه روانو خبرو او یوې ډلې بیا د هغه مېړانې او زړورتیا ته ګوته په غاښ وو.

له بلې خوا، ټول خلک د دې وینا د عواقبو په اړه اندېښمن وو، خو د هغې جزا په اړه یې نظرونه بېل وو چې صالح اسماعیل (د دمشق حاکم) به یې شیخ ته ورکړي. ځینو ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغه به ووژني، ځينو ويل زنداني به يې کړي، يوې ډلې ويل تبعيد به يې کړي او شتمني به يې ضبط کړي؛ او ځينو بيا ګمان کاوه چې يوازې له خطابت څخه به يې عزل کړي. خو ټول پر دې خفه وو چې له دې وروسته به د شيخ غږ له منبره وانه وريدل شي.

په هغه ورځ صالح اسماعيل په دمشق کې نه و. کله چې ورته د شيخ د خطبې خبر ورسېد، نو امر يې وکړ چې هغه له دندې ګوښه، ونيول او زنداني شي ترڅو چې دی په خپله دمشق ته راشي او پرېکړه وکړي. د شيخ ملګرو ورته مشوره ورکړه چې له هېواده ووځي او د تيښتې ټول وسايل يې ورته برابر کړل، خو هغه ونه منله. هر څومره يې چې پرې ټينګار وکړ، شيخ ورسره ونه منله. هغوی د پټېدو وړانديز وکړ، خو شيخ دا ځل هم مخالفت وکړ او ويې ويل: «په خدای قسم نه تښتم او نه پټېږم؛ دا د جهاد پيل دی او موږ لا تر اوسه هيڅ نه دي کړي. ما خپل ځان هر ډول پېښنو ته چمتو کړی او خدای د صابرانو عمل نه ضايع کوي.»
شيخ ونيول شو او زنداني شو، چې دا پر خلکو ډېره سخته تېره شوه. د هغه پلويانو پاڅون وکړ او د هغه د ازادۍ غوښتنه يې وکړه. هغوی پرېکړه وکړه چې د شيخ په هغې وصيت عمل وکړي چې ويلي يې وو: «تاسو هغه څه بدل کړئ چې ما په خپله ژبه بدل نه کړای شول؛ د کافر دښمن ته د وسلو پلورلو دا ناپاکه لړۍ بنده کړئ او هر څوک چې ستاسو بازار ته د وسلو اخيستلو لپاره راځي، وې شړئ.»
له هغې وروسته داسې ورځ نه تېرېدله چې څو تنه فرنګيان (صليبيان) چې د وسلو اخيستلو لپاره دمشق ته راغلي وو، د شيخ د پلويانو لخوا ونه وژل شي. دا لړۍ تر عامو خلکو پورې ورسېده او هغوی دومره زړور شول چې د ورځې په رڼا کې به يې فرنګيان ترور کول. فرنګيان له دې حاله په تنګ شول او صالح اسماعيل ته يې شکايت وکړ او هغه يې له خپلو متحدينو سره په چل ول تورن کړ. د هر وژل شوي فرنګي تاوان (ديت) به صالح اسماعيل ورکاوه، چې دا پر هغه ډېر دروند بار و. هغه ووېرېد چې هسې نه متحدين يې ورسره ژمنه ماته کړي او دی د مصر د پاچا په وړاندې يوازې پرې نږدي.
هغه هڅه وکړه چې دا پاڅون مړ کړي خو بريالی نه شو، نو اړ شو چې شيخ ازاد کړي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو پر هغه يې شرط کېښود چې له کوره به نه وځي، فتوا به نه ورکوي او له خلکو سره به نه ګوري.

د شيخ او د هغه د مريدانو ترمنځ دا واټن پر هغوی ډېر تريخ و. دلته و چې ابن‌زعيم خپل مريي قطز ته امر وکړ چې د سر جوړولو (سلمانی) کسب زده کړي. قطز دا کسب په ډېر مهارت زده کړ او په لباس او حرکاتو کې پوره د سلمانيانو په څېر شو.خلک د ابن زعيم په دې هوښيارانه چل ډېر خوشحاله شول او قطز يې د شيخ کور ته واستاوه.

ساتونکو هيڅ شک ونه کړ چې دا د شيخ د سر جوړولو لپاره راغلی سلمان دی. کله چې قطز کور ته ننووت، شيخ قطز د هغه له غږ څخه وپېژانده او په ليدو يې ډېر خوشحاله شو. قطز هغه ته د ابن‌زعيم او نورو ملګرو خبرونه، د صالح اسماعيل نقشې او د فرنګيانو د ترور په اړه راپورونه ورکړل. شيخ ورته وويل: «ورته ووايه چې خپل کار ته دوام ورکړي او زما په خاطر د باطل د دفع کولو الهي فريضه پرې نږدي.»

سلمان قطز به تل د شيخ کور ته تللو او د هغه او ملګرو ترمنځ يې د رابط رول لوباوه؛ هغه به شيخ د هېواد له حالاتو خبراوه او د هغه لارښوونې به يې ملګرو ته رسولې، چې هغوی به د زندان او شکنجې له وېرې پرته عملي کولې.

کله به چې د سياست خبرې ختمې شوې، شيخ به له قطز سره په نورو موضوعګانو خبرې کولې. کله به د سلطان جلال الدين او خوارزمشاه په اړه خبرې کېدې او کله به شيخ د قطز هغو کيسو ته غوږ نيوه چې د هند، خراسان او د خپل تره د جګړو په اړه يې کولې. په دې ترڅ کې، قطز د هغه ستورپوه (نجومي) کيسه ورته وکړه چې ورته ويلي يې وو: «ته به د يوې لويې خاورې پادشاه شې او مغولو ته به تاريخي ماتې ورکړې.»

قطز د شيخ نظر وپوښت. شيخ ورته ځواب ورکړ: «دا يوازې اټکلونه دي چې کله سم او کله ناسم خېژي؛ زموږ شريعت د ستورپوهنې (نجومی) څخه منع کړې ده، ځکه دا د غيب خبرې دي او له خدای پرته بل څوک په غيب نه پوهېږي...»

پدې وخت کې شيخ د قطز په څېره کې بدلون وليد، لکه يو څوک چې له کومې لويې مسلې ناهيلی شوی وي. نو شيخ خپله خبره بشپړه کړه او ويې ويل: «زما زويه! دا د شرعې حکم دی. پيغمبر (ص) له خپل هوا او هوس څخه خبرې نه کوي، د هغه وينا

(c) ketabton.com: The Digital Library



الهي وحې ده. د هيڅ چا ايمان نه بشپړيږي ترڅو چې په پوره ډول شرعې ته تسليم نه شي او د حکمونو په منلو کې په خپل زړه کې هيڅ تنګسه احساس نه کړي. زه نه غواړم ستا هيلې په اوبو لاهو کړم؛ لکه څنګه چې مې مخکې وويل، دا اټکلونه دي چې کله سم او کله ناسم خېژي... ته څه پوهيږې، ښايي ستا په حق کې دا خبره سمه ثابته شي؟ نو خوشحاله اوسه زويه!»

قطز وويل: «دا يوازې يوه دروني جذبه وه، خو زه پر شريعت ايمان لرم او احکامو ته يې تسليم يم.»

شيخ ورته مبارکي ورکړه او د هغه د خير او بريا لپاره يې دعا وکړه.

يوه ورځ قطز په داسې حال کې شيخ ته راغی چې څېره يې ځلېدله، پوره ډاډه و او د حمام نښې پرې ښکارېدې؛ له سر او جامو يې د خوشبو بوی راتلو. شيخ په مهربانۍ ترې وپوښتل: «څه پېښه ده؟ ايا تېره شپه دې واده کړی دی؟»

ځوان مسکی شو او ويې ويل: «نه زما شيخ او باداره! ما قسم خوړلی و چې له خپلې تره لور ګلنار پرته له بل چا سره واده نه کوم. خو تېره شپه مې په خوب کې نبي کريم (ص) وليد. خپل بادار مې پرې خبر کړ او هغه راته وويل: حمام وکړه او ځان خوشبو کړه؛ نو ځکه داسې درغلم لکه څنګه چې مې وينې.»

شيخ وويل: «ډېر ښه دې کړي او بادار دې هم ښه مشوره درکړې ده. اوس خپل خوب راته تير کړه.»

د ځوان زړه په درزا شو او يو ډول لړزه ورباندې راغله، ګويا شيخ ته د خوب په کيسه کولو کې يې يو ډول وېره لرله، خو د شيخ ورين تندي او پاملرنې هغه خبرو ته وهڅاوه او ويې ويل: «تېره شپه مې خوب وتښتېد او يو ډول دروند فشار مې احساس کړ؛ نو پاڅېدم، اودس مې وکړ، نفل او وتر لمونځونه مې وکړل او خدای ته مې دعا وکړه، بيا بېرته خپل ځای ته لاړم او ويده شوم. په خوب کې مې وليدل چې په يوه بې اوبو او بې وښو دښته کې مې لاره ورکه کړې ده. پر يوه تيږه کېناستم او په ژړا مې پيل وکړ. په همدې حال کې وم چې يو ډله سپاره راغلل؛ په سر کې يې يو سپين پوستی، ښکلې څېره لرونکی سړی و چې ډېر وينتان يې درلودل او تر غوږونو يې رسېدل. کله يې چې زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وليدم، خپلو ملګرو ته يې اشاره وکړه او هغوی ودرېدل. له اسه راښکته شو، ماته رانږدې شو، زه يې په قوت سره پورته کړم، پر سينه يې لاس راکېښود او ويې ويل: پاڅېږه اې محموده! له دې لارې لاړ شه چې مصر ته تللې، ته به پاچا شې او مغولو ته به ماتې ورکړې.»

«زه حيران شوم چې هغه زما (اصلي) نوم څنګه پېژني؛ ومې غوښتل ترې وپوښتم چې ته څوک يې؟ خو هغه د پوښتنې فرصت رانکړ، پر خپل اس سپور شو او لاړ. ما په لوړ غږ چغه کړه: ته څوک يې؟

يو ملګري يې چې ورپسې روان و، ماته مخ راواړاوه او ويې ويل: افسوس پر تا! دا محمد (ص) دی.»

«زه ناڅاپه له خوبه راويښ شوم، په داسې حال کې چې زما پر سينه مې د هغه د ګوتو يخنۍ احساسوله. له ډېرې خوښۍ خپل بادار ته ورغلم، خو هغه په اوداسه بوخت و، صبر مې ونه کړ چې اودس يې خلاص شي. حاج علي فراش ته ورغلم، هغه ويده و، راويښ مې کړ او ورته ومې ويل: يو لوی خوب مې ليدلی، د خدای رسول (ص) مې ليدلی. هغه له بسترې راپاڅېد او په خوښۍ مې لور ته راغی چې کيسه ورته وکړم. ورته ومې ويل: لومړی خپل بادار ته کيسه کوم.»

هغه راته وويل: «نو راځه چې دواړه ورشو او يوځای يې واورو.»

موږ دواړه ورغلو، بادار مې وليدلو چې له اودسخانې راووت، زموږ په يوځای راتګ حيران شو. حاج علي ورته وويل: «ده په خوب کې رسول الله (ص) ليدلی او غواړي کيسه يې درته وکړي.»

بادار مې مسکی شو، ماته راغی او ما هر ټوله کيسه ورته تيره کړله. هغه ډېر خوشحاله شو، ماته يې زيری راکړ او ويې ويل چې غسل وکړم. غسل مې وکړ او هغه په خپلو عطرو زه خوشبو کړم او راته ويې ويل: «که زموږ شيخ (ابن عبدالسلام) ته ورغلې، دا خوب ورته تير کړه او وګوره چې تعبير يې څه دی.»

شيخ يوه شيبه په حيرانتيا کې ډوب شو او بيا يې وويل: «اې قطزه! ته لا هم د پاچاهۍ او مغولو ته د ماتې ورکولو په فکر کې يې! تر دې چې نبي کريم (ص) درته راغی او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیرى یې درکړ. لکه څنګه چې دې وویل، دا یو ډېر لوى خوب دى؛ که دا رښتیا وي، ته به د مصر پاچا شې او مغولو ته به ماتې ورکړې، ځکه پیغمبر (ص) فرمایي: چا چې زه په خوب کې ولیدم، په حقیقت کې یې زه لیدلى یم، ځکه شیطان زما په بڼه ځان نه شي ښکاره کولى.»

شیخ په ټوکو کې ورته وویل: «که ستا دا خوب رښتیا شو او د مصر پاچا شوې، نو ماته به څه (زیرى) راکوې؟»

قطز په داسې حال کې چې مسکا یې پر شونډو خوره وه، یوه شېبه غلى شو، ګویا شیخ ته ځواب تیاروي. بیا یې په داسې حال کې چې سترګې یې ځلېدلې، وویل: «بادار‌ه! که تاسو له دنیا سره مینه لرلى، نو سره او سپین زر به مې درکړي واى؛ خو زه به د خپلې پاچاهۍ په ټولو چارو کې ستاسو مشورې ته راګرځم، شریعت به قائموم، عدالت به په هر ځاى کې خپروم او د جهاد هغه سنت چې خلکو له منځه وړى، بېرته به یې راژوندى کوم؛ دا زما لخوا تاته زیرى ده.»

شیخ د هغه په نېک ځواب ډېر خوشحاله شو، مخ یې د سپوږمۍ غوندې روښانه شو او ویې ویل: «په رښتیا چې ته رښتونى او نېک سړى یې اې قطزه او پر مسلمانانو د پاچاهۍ وړتیا لرې.» بیا یې لاسونه اسمان ته لپه کړل او ویې ویل: «اى پالونکیه! د خپل بنده قطز خوب رښتیا کړه، لکه څنګه چې دې د خپل نبي یوسف (ع) خوب رښتیا کړى و.»

لا د شیخ دعا نه وه بشپړه شوې چې د قطز له سترګو اوښکې روانې شوې. شیخ لومړى فکر وکړ چې دا د خوښۍ اوښکې دي، خو ډېر ژر د هغه ژړا دومره زیاته شوه چې د سلګیو غږ یې پورته شو. شیخ ورنږدې شو او د ژړا لامل یې ترې وپوښت. ځوان په ډک زړه ځواب ورکړ: «باداره! زه یقین لرم چې خداى ستا دعا قبلوي؛ نو خپله محبوبه ګلنار مې رایاده شوه. پر ما ډېره سخته ده چې هغه بیا ونه ګورم. غواړم دعا راته وکړې چې هغه هم وګورم او واده ورسره وکړم.»

د شیخ زړه په قطز وسوځېد او یوه وړه مسکا یې پر شونډو خپره شوه. هغه څه ونه ویل او بیا یې خپل لاسونه اسمان ته لپه کړل او ویې ویل: «خدایه! د دې نېک بنده په سینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې داسې زړه دی چې ـــ ستا له نافرمانۍ پرته ـــ د خپلې همدمې لور ته الوتل غواړي. نو خپل نعمت پر ده بشپړ کړه او د خپل پيغمبر محمد (ص) په سنتو يې له خپلې محبوبې سره يوځای کړه.»

لا د شيخ دعا نه وه خلاصه شوې چې د ځوان اوښکې وچې شوې، د زړه بړاس يې ووت او په ارامه يې دا جملې په خپله ژبه زمزمه کړې: «الحمدلله، هغه به وينم او واده به ورسره کوم.» شيخ ورته وويل: «ان شاء الله.»

## نهم څپرکی:

د شيخ ابن عبدالسلام پلويانو د باطل د دفع کولو په پار د هغه امر ته غاړه کېښوده؛ هغوی تر هغه ځايه چې وس يې وه، هغه فرنګيان (صليبيان) ترور کول چې د وسلو اخيستلو لپاره دمشق ته راتلل. بالاخره صالح اسماعيل له دې حاله پوزې ته راغی.

هرکله به چې يې يوه ډله ونيوله، بله ډله به راپورته کېدله. کله چې د هغوی په وړاندې عاجز شو، شيخ ته يې کسان ورولېږل او وګواښه چې که د خپلې ډلې فعاليتونه بند نه کړي، وبه يې وژني. شيخ يې پروا ونه کړه او يوازې دومره يې وويل: «هغه چا ته چې تاسو يې رالېږلي يئ، ووایاست: ايا تاسو داسې يو تن وژنئ چې وايي زما پالونکی الله دی؟»

صالح اسماعيل د شيخ له وژلو ووېرېدلو او غوره يې وګڼله چې هغه له خپلې خاورې وشړي ترڅو له شره يې خلاص شي؛ نو شيخ يې جلاوطن (تبعيد) کړ. ورپسې يې ابن‌زعيم ونيوه، لويه جريمه يې پرې کېښوده او د شتمنۍ يوه برخه يې ترې ضبط کړه، خو وروسته يې د هغه د نږدې کسانو د نفوذ له امله ازاد کړ. اسماعيل هر هغه څوک چې د شيخ مينه ورسره ثابته شوې وه، وې نيول؛ ځينې يې زنداني کړل، ځينې يې تبعيد کړل او د ځينو شتمنۍ يې ضبط کړې.

د دمشق له ښاره د شيخ او د هغه د کورنۍ د وتلو ورځ يوه عجيبه ورځ وه. د دمشق خلکو په ژړا او اوښکو هغه رخصت کړ. د هغه منزل مصر و، خو په لاره کې «کرک» ته لاړ او هلته يې د هغه ځای له واکمن، ملک ناصر داوود سره څو ورځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېرې کړې. په دې موده کې يې هغه قانع کړ چې د ده له پلانونو ملاتړ وکړي.
کله چې شيخ ابن عبدالسلام مصر ته ننووت، ملک صالح ايوب د هغه ډېر درناوی وکړ، د «جامع عمرو» خطابت او د مصر د قضاوت چارې يې ورو سپارلې. شيخ هلته د کار لپاره ډګر پراخ وليد او صالح ايوب يې وهڅاوه چې هر څومره ژر چې کيږي د صالح اسماعيل او د هغه د صليبي متحدينو په وړاندې جګړه پيل کړي.
نهم لويي په تېرلو لاسونو «منصورې» ته راوستل شو او د قاضي «فخرالدين ابراهيم بن لقمان» په کور کې بندي شو. «طواشي صبيح معظمي» يې د ساتنې لپاره وټاکل شو. د هغه ورونه، چارلز او الفونس، له نورو بنديانو سره په بل ځای کې وو.

کله چې ملکه شجرة الدر د هېواد له چارو وزګاره شوه، د «مصر» د استازو او د فرانسې د بندي پاچا ترمنځ خبرې اترې پيل شوې. په پای کې پر دې سلا شول چې «دمياط» به بېرته مسلمانانو ته سپارل کېږي او د فرانسې پاچا به د خپلې نيمايي فديې (تاوان) له ورکولو وروسته ازادېږي.

د مصر بيرغ د «دمياط» پر برجونو ورپېد او يو ځل بيا له منارونو څخه د توحيد کلمه او د حق غږ پورته شولو. بندي پاچا د خپلې فديې (۴۰۰ زره ديناره) له ورکولو وروسته ازاد شو او په دمياط کې خپلې سرګردانه مېرمنې ته ورغی ترڅو د خپلې بدبختۍ زېرۍ ورکړي. «مارګريټ» هغه د دې لپاره ملامت کړ چې ځان يې هلاکت ته اچولی و، خو هغه په خواب کې ورته وويل: «چوپ شه! زه هم د هغوی عذاب وزغمم او هم ستا ملامتيا؟ راځه چې ځان وژغورو او له پاتې لښکر سره خپل هېواد ته ستانه شو.»

«دمياط» د اوښکو او مسکا په منځ کې د لويي او د هغه د سرتېرو د وروستۍ بېړۍ د حرکت شاهد و. بېړيو هغوی له هغې خاورې ليرې کول چيرته چې د هغوی لسګونه زره اتلان او سرتېري د مسلمانانو په لاس وژل شوي او ښخ شوي وو. په داسې حال کې چې د مصر شاعر د ماتې خوړلي پاچا په غوږ کې دا نارې وهلې:

> تا ګمان کاوه چې خلک ضعيف او پوچ دي،
> مصر ته راغلی وې چې سلطان شې...
> خو د تېښتې فکر درته ډېر ناوخته شو،
> ماتې دې وخوړه او ورځ دې توره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



> ستا په تدبير ستا ټول جنګيالي او زړور،

> تر خاورو لاندې شول او پاک عيسى ترې خلاص شو.

> که يو ځل بيا مصر ته راغلې،

> نو اې پاچا! پوه شه چې زموږ دروازې ستا پر مخ خلاصې دي:

> د ابن لقمان کور لا هم شته،

> صبيح ساتونکى لا هم خپل کار ته چمتو دى،

> او ستا لپاره زولنې او زنځيرونه تيار ولاړ دي!

>

«عزالدين ايبک» په دولت کې خپل نفوذ زيات کړ. له هغې ورځې چې هغه په «منصوره» کې د شاهي ماڼۍ په دفاع کې ښه ازموينه ورکړه، د شجرة الدر په وړاندې يې لوړ مقام وموند. هغه ورځ چې دښمنانو پرې بريد وکړ، ده او غلامانو يې دښمن د ماڼۍ له دروازې پر شا کړلو، ترڅو نور اميران او سرتېري مرستې ته راورسېدل او د ماڼۍ انګړ يې د تېري کوونکو له مړيو ډک کړ. نو د حيرانتيا ځاى نه و چې شجرة الدر ترې راضي وه او مملوک اميرانو هغه د لښکر مشر وټاکه. د هغه زړښت، تجربه او مېړانه د دې لامل شوه چې نور يې اطاعت وکړي، خو دا يوالى په بشپړه توګه نه و؛ ځکه په دوى کې داسې سيالان هم وو چې ځانونه يې مشرۍ ته وړ ګڼل. د هغوى په سر کې «امير فارس الدين اقطاى جمدار» و، چې «امير رکن الدين بيبرس» يې له پلويانو و. خو هغوى په پيل کې د مخالفت او بغاوت جرات نه درلود او پرېکړه يې وکړه چې مناسب فرصت ته په تمه شي.

ملکې شجرة الدر په غوره توګه د هېواد چارې پر مخ وړلې. په دې کار کې د هغې قومندان عزالدين ايبک، نورو مملوکاو، تجربه لرونکو وزيرانو او د هغې د خاوند پخوانيو جنرالانو ورسره مرسته کوله. که څه هم په «مصر» کې حالات سم وو، خو په «شام» کې ـــ چې د مصر تابع و ـــ کيسه داسې نه وه. کله چې د توران شاه د وژل کېدو او د شجرة الدر د واکمنۍ خبر شام ته ورسېد، د ايوبي کورنۍ اميرانو پر دمشق او نورو سيمو د بريد فکر وکړ. د هغوى مشر د حلب پاچا «ملک ناصر» و، چې دمشق ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغی، هغه يې ونيو او اعلان يې وکړ چې د خپل خپلوان توران شاه غچ به له شجرة الدر او قاتلو مملوکاو څخه اخلي.

کله چې دا خبرونه «قاهرې» ته ورسېدل، هر لور ته انديښنو او وارخطايۍ زور واخيست. ځينو اميرانو ـــ له صالحيه مملوکاو پرته ـــ د ملک ناصر پلوي پيل کړه او هغه يې د ايوبي کورنۍ شرعي وارث وباله. په دې وخت کې د «شجرة الدر» موقف له خطر سره مخ شو او کله چې عباسي خليفه د هغې له سلطنت څخه خبر شو، حالات نور هم خراب شول. خليفې مصر ته يو ليک واستاوه چې په هغه کې يې د دوی دا کار رد کړی و او ورته يې ليکلي وو: «که په تاسو کې کوم ميړه (نارينه) نه موندل کېږي، موږ ته خبر راکړئ چې يو سړی درته واستاوه.»

ملکه هم مجبوره شوه چې د خپل لښکر د مشر او قومندان «عزالدين ايبک» په ګټه له واکه تېره شي. مملوک اميرانو هم دا انتخاب ومانه، له ايبک سره يې بيعت وکړ او هغه ته يې د «ملک معز» لقب ورکړ. هغه يې د «جبل» کلا ته بوتلو او تر هغه چې يې د پاچاهۍ پر تخت کېناوه، تشريفاتي مراسم يې ورته ترسره کړل او ورسره يو ځای پر دسترخوان کېناستل.

د عزالدين ايبک د کارونو ژر سمېدل او د مملوک اميرانو له خوا پرته له ځنډه او مخالفت څخه د هغه منل، د شجرة الدر نفوذ او تدبير ته ورګرځېدل. پر دې سربېره، مملوک اميران له دې وېرېدل چې که په مصر کې د ملک ناصر پلويان پياوړي شي، نو سلطنت به له دوی څخه لاړ شي. همدې خطر هغوی سره متحد کړل او خپلمنځي سيالۍ يې يوې خواته کېښودې او په بېړه يې د ملکې شجرة الدر په خوښه د عزالدين ايبک له مشرۍ سره موافقه وکړه.

خو د ناصر د پلويانو له ځپلو او خپرولو وروسته، کله چې خطر ليرې شو او حالات بېرته عادي شول، نو بيا د دوی ترمنځ کينې او دښمنۍ سر راپورته کړ او پخوانۍ سيالۍ بيا راژوندۍ شوې. د دوی مشر، «فارس الدين اقطای»، پر عزالدين ايبک د بريدونو مشري پر غاړه واخيسته. هغه چې پخپله يې د پاچاهۍ د غوښتلو جرات نه درلود، بس همدومره يې کول چې د خپل سيال کارونه يې ګډوډول. هغه خلک دې ته رابلل چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ايوبي کورنۍ څخه يو داسې امير وټاکي چې ټول پرې يوه خوله وي، ترڅو په دې ډول د ناصر صلاح الدين د دعوې مخه ونيول شي چې ځان يې د ايوبي دولت وارث ګڼه.
د دې نظر په اوريدو سره، خلکو او مملوک اميرانو هغه ومانه؛ ځکه دليل يې قوي و. نو په ښکاره يې اعلان کړ او خلکو په کوڅو کې نارې وهلې: «موږ نه غواړو چې يو مملوک او مريی راباندې حکومت وکړي، موږ د ايوبي کورنۍ پاچا غواړو.»
بيا نو مملوک اميرانو په يوه ناسته کې پر دې پريکړه وکړه چې د ايوبي کورنۍ يو ماشوم پر تخت کښېنوي، ترڅو يوازې د پاچا نوم ولري او دوی د هغه په نوم حکومت وکړي. هغوی «ملک اشرف موسی بن ملک مسعود» وټاکه چې يوازې شپږ کلن و. هغه يې پاچا او د ملک عزالدين ايبک شريک کړ. په دې ډول چې ايبک به د دولت چارې پر مخ وړي، خو د دواړو نومونه به پر حکمونو، فرمانونو او سکو وي او په منبرونو کې به د دواړو په نوم خطبه ويل کېږي.
دواړه پاچاهان (اشرف او معز) پر اسونو سپاره شول او د شاهي بيرغونو تر سيوري لاندې د هغو خلکو له منځه تېر شول چې ننداري ته راغلي وو. معز مخکې و او اشرف ورپسې، او اميرانو يو په بل پسې د پاچاهۍ چتر ورته نيولی و.
فارس الدين اقطای وليدل چې په دې کار سره يې هم ډېر څه نه دي ترلاسه کړي، ځکه د عزالدين ايبک قدرت او نفوذ پر خپل ځای و او هېڅ نه و کم شوي؛ ټولې چارې د هغه په لاس کې وې او ملک اشرف يوازې يو سمبوليک پاچا و. خو اقطای يو څه ارام شو، ځکه ايبک نور نه شوای کولای چې د پخوا په څېر يوازې پخپله پرېکړې وکړي، بلکې اقطای او نورو اميرانو ته دا حق پاتې و چې د هغه پر سياستونو اعتراض وکړي او د هېواد په چارو کې مداخله وکړي. البته هغه د نورو حسابونو خلاصول او د ايبک په ګونډو کول بل وخت ته پرېښودلو.

عزالدين ايبک پوهېده چې اقطای په سر کې څه لري او غواړي چې ده ته ضربه ورکړي، نو د دې لپاره چې هغه بوخت وساتي او له توطئو يې مخنيوی وکړي، د «بحري مملوکاو» قومنداني يې هغه ته وسپارله او هغه يې د دمشق د واکمن «ملک ناصر صلاح الدين» جګړې ته واستاوه، چې قاهرې سره د جګړې لپاره يې لوی لښکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



راټول کړی و. اقطای له دوه زره سپرو سره «غزې» ته لاړ، د ناصر له سرتېرو سره یې جګړه وکړه، هغوی ته یې ماتې ورکړه او په بریالیتوب سره بېرته مصر ته راستون شو. د هغه حال دا و چې عزالدین ایبک ته یې ویل: «زه تر پخوا ډېر ځواکمن درته راغلم.»

خو عزالدین ایبک د شجرة الدر په څېر د یوې قوي ملاتړې په لرلو ډاډه و چې هېڅوک یې ماتولی نه شي او هېڅ مملوک امیر، که څه هم پلویان یې ډېر او ځواکمن وي، نه شي کولای هغه له خپل ځایه بېځایه کړي. که څه هم شجرة الدر په ښکاره له پاچاهۍ لاس اخیستی و، خو لا هم د پردې تر شا واک د هغې په لاس کې و او پر ټولو امیرانو یې نفوذ درلود؛ هر څوک یې چې غوښتل لوړ رتبه یې ورکوله او یا یې راښکته کاوه. ټول پدې هم پوهېدل چې هغه پر عزالدین ایبک پوره باور او اعتماد لري، نو د هغې له وېرې یې له ایبک سره مخالفت نه کاوه.

دوی پدې هم پوهېدل چې شجرة الدر له قدرت او واکمنۍ سره مینه لري او که مجبوره شوې نه وی، هېڅکله یې له پاچاهۍ استعفا نه ورکوله. هغې ځان د حکومت وړ باله او پوهېده چې یوازې د ښځینه توب له امله پر تخت پاتې نه شوه. نو د دې طبیعي ستونزې د حل لپاره یې خپل یو داسې ماتحت (مریی) پر تخت کېناوه چې په اخلاص یې ډاډه وه او پوهېده چې پر هغې بغاوت نه کوي او واک ترې نه اخلي؛ ځکه ایبک له ټولو امیرانو ډېر فرمانبردار و، خپل پخواني بادار (د شجرة الدر خاوند) ته وفادار و او دومره ډېر پلویان یې هم نه لرل چې پر هغې بغاوت ته یې وهڅوي.

خو شجرة الدر نه غوښتل چې یوازې پر ایبک بشپړ تکیه وکړي، نو خپله ټوله مهرباني یې یوازې هغه ته ځانګړې نه کړه، بلکې ځینو نورو ته یې هم پام کاوه ترڅو که چېرې ایبک د هغې نېکي هېره کړي او وغواړي قدرت ترې واخلي، له هغوی څخه کار واخلي. هغې نور امیران په دې خوشحاله ساتل او ورته ښودله یې چې ایبک یې د دې لپاره نه دی غوره کړی چې هغه ډېر تکړه یا ورته ګران دی، بلکې د دې لپاره چې ایبک داسې سختې او استبداد نه لري چې نور امیران ترې ووېرېږي، نو په دې توګه د هغوی مقام هم خوندي پاتې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزالدین پر دې هر څه پوهېده، نو ځکه يې د هغې له خفه کولو ډډه کوله، تل يې د هغې د خوښۍ هڅه کوله او له هغې سره يې له مشورې پرته هېڅ کار نه کاوه. که څه هم عزالدين د هغې او خلکو په وړاندې داسې ښودله چې د خپلواک قدرت په لټه کې نه دی، خو په اصل کې يې ورسره مينه لرله او زړه يې ورته مايل و. له همدې امله يې د هغې مشري او حکمونه په ورين تندي منل او د هغې په اطاعت کې يې خوند اخيست. هغه دومره باحيا و چې په مخامخ سترګو يې ورته نه کتل او په خبرو کې يې د هغې پوره درناوی کاوه، کټ مټ لکه د هغې د خاوند په څېر. په زړه کې يې مينه وه، خو وېرېده چې داسې څه ورته ووايي چې د خپل بادار په ژوند کې يې هغه محال (ناممکن) وه.
د شجرة الدر لپاره د عزالدين د پټې مينې کشفول ګران نه وو؛ هغې دا احساسول او پخپله يې هم ورسره مينه لرله، خو له دې مينې سره يې مبارزه کوله او هغه يې شاته غورځوله، ترڅو تسليم نه شي او د قدرت او سلطنت خوند قرباني نه کړي. هغې غوښتل ازاده پاتې شي او زړه يې پر عقل غلبه ونه کړي.
هو، هغه پوهېده چې يوه ورځ بايد له يو امير سره واده وکړي، ځکه لا دومره نه وه زړه شوې چې د واده هيله پرې کړي او د تل لپاره د کونډې په نوم پاتې شي.
خو چا دا تضمين کاوه چې که هغه له عزالدين سره واده وکړي، نو د هغې واکمنۍ او نفوذ ته به زيان نه رسېږي؟ چا دا ضمانت کاوه چې سلطنت به د عزالدين په لاس کې پاتې شي او کوم پياوړی سيال به يې ترې وانخلي؟ د اميرانو ترمنځ سيالي لا هم په شدت روانه وه، نو هغې غوښتل لږ صبر وکړي ترڅو وګوري چې کوم يو غالب کېږي، بيا به هغه ته د مرستې لاس اوږد کړي. البته په دې ډاډه وه چې لومړی به مقابل لوری د غوښتنې لاس اوږدوي، ځکه داسې څوک نه و چې له هغې سره د واده او د هغې د مينې د خوشبختۍ هيله يې نه لرله؟

سيف الدين قطز خپل استاد «عزالدين ايبک» ته ډېر وفادار و. استاد يې هم پر هغه بشپړ باور درلود او مهم ميشنونه به يې ورته سپارل. استاد يې هم د ده په څېر ديندار او پاکلمنی و؛ هغه يې د دين او عفت له امله خوښاوه او د خپل استاد د مرکز د پياوړي کولو، د پلويانو د راټولولو او د خلکو د زړونو د مايلولو لپاره يې له هېڅ ډول هڅې ډډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کوله.

هغه پوهېده چې استاد یې پیاوړي سیالان لري چې تل ورته په څار کې دي او د فرصت په تمه دي چې هغه را وپرځوي او پر ځای یې واکمن شي. د بېلګې په توګه: اقطای د ملګرو او پلویانو په ډېربښت کې تر ده مخکې و او یو زړور اتل و، چې شاوخوا یې نور مېړني جنګيالي هم راټول وو؛ که په هغوی کې یوازې «بیبرس» هم وای، نو د دوی لپاره یې بسنه کوله. قطز ولیدل چې د استاد نفوذ یې یوازې په «شجرة الدر» پورې تړلی دی ــــ چې ډېر باور پرې نه شو کېدای ــــ ځکه نور ټول امیران هم هغې ته ځان نږدې کوي او لیرې نه ده چې یو یې د هغې زړه لاس ته راوړي او هغه له ایبک څخه مخ واړوي، چې دا کار به د ایبک د زوال سبب شي.

هغه دې پایلې ته ورسېد چې په واک کې د خپل استاد د پاتې کېدو یوازینۍ لاره دا ده چې له شجرة الدر سره واده وکړي. هغه پوهېده چې استاد یې ورسره مینه لري او عاشق یې دی. که څه هم استاد یې ورته څه نه وو ویلي، خو دی پخپله یو داسې مین و چې د بل مین راز یې په اسانۍ کشفولی شو.

هغه پرېکړه وکړه چې له شجرة الدر څخه د خواستګارۍ (مرکې) وړاندیز خپل استاد ته وکړي. نو یوه ورځ ورغی او ورته یې وویل: «باداره! ته ملکه ډېره زیاته وینې، خلک وایي چې ته به ورسره واده وکړې.» دغه وفادار غلام له خپل استاد څخه ګیله وکړه چې ولې له هغه څه بې خبره دی چې عام خلک یې په اړه خبرې کوي؟

عزالدین هغه ته په جدي نظر وکتل، خو داسې ښکارېده چې د دې خبرو په اورېدو خوند اخلي، بیا یې ورته وویل: «د خلکو خبرې مه منه، دا خبر رښتیا نه دی.»

قطز وویل: «بیا به نو تر دې هم غټې خبرې وکړي؛ داسې خبرې چې ستا غلام یې د خپل پاکلمني استاد په اړه د اورېدو توان نه لري.»

عزالدین یې په مطلب پوه شو او ویې ویل: «موږ د خلکو په کارونو کې څه کار لرو؟ پرېږده چې هر څه یې زړه غواړي، هغه دوایي.»

قطز وویل: «دا سمه ده، پرېږده چې هر څه وایي ویې دې وایي، هغوی زموږ په کار نه دي، خو بادار مې له هغې سره مینه لري، نو ولې ترې خواستګاري نه کوي؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزالدين وويل: «چا درته ويلي چې زه ورسره مينه لرم؟»
قطز ځواب ورکړ: «که مريی د خپل بادار په غم او خوښۍ پوه نه شي، نو بيا د بادار د باور وړ نه دی؟»
عزالدين پوه شو چې له خپل غلام څخه د حقيقت پټول ګټه نه لري. هغه د ارامۍ احساس وکړ، ځکه ويې ليدل هغه څه چې د ده په زړه کې د خوب په څېر وو، اوس په داسې حقيقت بدل شوي چې خلک ورباندې خبرې کوي. نو قطز ته يې وويل: «له کومه يې معلومه کړو چې هغه به ما خوښ کړي؟»
قطز وويل: «ايا هغه به تر تا غوره بل څوک ومومي؟»
* «زه د هغې د خاوند مريی يم اې قطزه!»
* «مګر هغه پخپله يوه وينځه (کنيزه) نه وه؟ پر دې سربېره، کوم ايوبي پاچا کولای شي مملوک اميران راضي کړي چې له هغې سره واده وکړي؟ يوازې ملک اشرف پاتې دی، خو ايا هغه به له دغه ماشوم سره واده کولو ته راضي شي؟»
کله چې عزالدين دا واورېدل، وخندل. قطز زياته کړه: «يا ته او يا اقطای له هغې سره واده کولای شئ. ما اورېدلي چې اقطای په دې اړه ورسره خبرې کړي دي.»

د عزالدين له مخه خندا ورکه شوه او تندی يې تريو کړ، په جدي توګه يې وپوښتل: «دا دې له چا اورېدلي؟»
قطز وويل: «له بيبرس مې اورېدلي، هغه ماته نورې خبرې هم وکړې چې زما او د هغه ملګرتيا ماته اجازه نه راکوي چې هغه افشا کړم.»
عزالدين د ډېر وخت لپاره غلی پاتې شو، بيا يې وويل: «خو زه جرات نه شم کولای چې له ملکې سره په دې اړه خبره وکړم. څو ځله مې هوډ وکړ، خو حيا مې ژبه تړي.»
قطز وويل: «که بادار مې خپل زړه ماته وسپاري، زه به خپله ژبه هغه ته ورکړم.»
* «غواړې چې تا هغې ته ورواستوم؟»
* «هو، ترڅو ستا د زړه خبره هغې ته وکړم.»
* «غواړې هغې ته څه ووايې؟»
* «پرېږده چې وګورم حالات څه غوښتنه کوي، خو پوه شه چې ژبه به مې داسې څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونه وايي چې ته پرې راضي نه يې.»
عزالدين ورته وخندل او په ټوکه يې وويل: «زه دې پېژنم اې قطزه! ته غواړې د هغې وينځه، ګلنار وګورې!»
قطز په تبسم سره وويل: «دا خبره له تا پټه نه ده، نه غواړم دروغ ووايم او نه انکار کوم غواړم چې يو ځل هغې ته وګورم. زما په خيال زما بادار به د دې خدمت په بدل کې دا يو نظر ډېر ونه ګڼي. اه، ما يوازې يو ځل هغه ليدلې ده؛ کله چې ملکې د تاج اېښودو په درېيمه ورځ زه وغوښتلم او له ما څخه يې د کانت ډارټوا د وژلو په ورځ د مېړانې له امله مننه وکړه. بيا يې راته وويل: ايا دا وينځه دې خوښه ده؟»
ما وکتل، ګلنار مې مخې ته ولاړه وه. د حيا له امله ما ځواب نه شو ورکولی، د ملکې غبږ راوبيښ کړم چې ويل يې: «غواړې تاسو سره واده کړم؟»
ما وويل: «د ملکې لورينه نه شم ردولی.»

هغې وويل: «غواړې کله دا کار وشي؟» ما وويل: «په نېک کار کې بيړه په کار ده.» ملکې مسکۍ شوه او ويې ويل: «نه، پرېږده چې د سلطان لپاره زموږ د وير (ماتم) شپې پوره شي.» خو باداره! زه نه پوهېږم چې د سلطان ماتم به کله پای ته رسېږي!
عزالدين شېبه غلی شو، هغه د خپل ځوان مريي له جذبې، حماسې او فصاحت څخه حيران پاتې و. په داسې حال کې چې موسکا يې پر شونډو وه، ورته ويې ويل: «د سلطان ماتم هغه وخت پای ته رسېږي چې ملکه واده وکړي.»
قطز وويل: «باداره! که د خپل ځان لپاره ورسره واده نه کوې، نو زما په خاطر ورسره واده وکړه او ما له دغه اوږده غمه وژغوره.»
عزالدين په خندا شو او ويې ويل: «بيا خو نو ته بايد ماته انعام راکړې.»
هغه څه چې قطز له خپل ملګري بيبرس څخه اورېدلي وو، يوازې اوازه نه وه؛ په حقيقت کې اقطای شجرة الدر ته ورغلی و او ورته يې د واده وړانديز کړی و. هغه ډېر زړور و، نو ځکه يې نه ژبه په حيا کې بنده شوې وه او نه د ملکې رعب د دې مانع شوی و چې خپله مينه ورته څرګنده نکړي. ملکه د دغه څرګند او جسورانه غوښتنې څخه لږه هک پک شوه، خو ځان يې کنټرول کړ او په نرمۍ يې ورته وويل چې د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتنه نه ردوي، خو نه غواړي تر هغې د واده په اړه فکر وکړي ترڅو چې د دمشق د واکمن «ملک ناصر» کار یو طرفه نه شي او د مصر او خپل ځان په اړه یې د هغه له ګواښونو زړه ډاډه نه شي. اقطای په دې ځواب قانع شو او ګمان یې وکړ چې دا د منلو یوه وعده ده، نو ارام شو او خپله ټوله هڅه یې د ناصر او د هغه د لښکرو له منځه وړلو ته ځانګړې کړه.

کله چې قطز د خپل استاد له خوا شجرة الدر ته ورغی، ویې نه غوښتل چې په ډاګه د خپل بادار د واده غوښتنه وکړي، بلکې په کنایه کې یې د خبرو په ترڅ کې ورته وویل:

«ملکه دې ژوندۍ وي! زما استاد زه د دوو خبرو لپاره تاسو ته رالېږلی یم: یو دا چې له خپل مریي سره خپله وعده پوره کړې او هغه له خپلې وینځې سره واده کړې، او بل دا چې هغه پوهېږي چې ته له خپلې وینځې ښځه جلا کېدل نه خوښوې او هغه هم نه شي کولای له ما جلا شي؛ نو هیله لري چې موږ دواړو ته اجازه راکړې چې دواړه په ګډه ستا په خدمت کې واوسو.»

ملکه شېبه غلې شوه او د قطز په خبرو کې ډوبه شوه، بیا یې په ارامه غږ ترې وپوښتل:

«ستا بادار له دې دوو کارونو ښځه کوم یو ډېر خوښوي چې زه یې ترسره کړم؟»

قطز له دې امله چې ملکه یې په کنایه پوهه شوې وه، ډېر خوښ شو او ویې غوښتل چې خپله خبره نوره هم روښانه کړي، نو ویې ویل: «دویم کار، ګرانې ملکې!»

ملکې وویل: «ته ښنګه پوه شوې؟»

قطز وویل: «ځکه په دویم کار کې دا دواړه کارونه رانغښتل شوي دي.»

د ملکې مخ له حیا د ګل په څېر سور شو، لاس یې جګ کړ او په زرین جام کې یې اوبه ورته راوړې او ویې ښښلې. کله چې ارامه شوه، قطز ته یې وویل: «خپل استاد ته ورشه او ورته ووایه ترڅو چې د ناصر سرتېري د مصر د دروازو مخې ته وي، زه د واده جشن نه شم نیولی.»

قطز وویل: «ګرانې ملکې! په دې صورت کې زما په حق کې ظلم او له وعدې خلاف ورزي کېږي.»

شجرة الدر حیرانه شوه او ویې پوښتل: «ښنګه؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



قطز وویل: «ایا استاد ته مې وواېم ترڅو چې د ناصر سرتېري د مصر په دروازو کې وي، ملکه نه شي کولای په ماڼۍ کې د واده دوه جشنونه جوړ کړي؟»
ملکې په داسې حال کې چې تندی یې تریو و خو تبسم یې کاوه، ورته ویې ویل: «اې مکار مریيه! هر څه دې چې زړه وي ورته ووایه او له دې ځایه لاړ شه.»
عزالدین د قطز له خبرو پوه شو چې شجرة الدر د ناصر د ماتې په شرط دا وړاندیز منلی دی. مریي یې یوازې د ملکې د خبرو په رسولو بسنه ونه کړه، بلکې خپل استنباط او هغه څه چې د ملکې له مخ څخه یې لوستي وو هم بیان کړل او هر څه یې داسې تفسیر کړل چې ملکه له خپل استاد سره مینه لري او په دې کې هېڅ شک نشته.
عزالدین په دې اړه خپل شک څرګند کړ، خو قطز ورته وویل: «ایا مخکې له دې چې ته ماته ووایې، زه پوه نه شوم چې ته له هغې سره مینه لرې؟»
عزالدین ځواب ورکړ: «هو.»
قطز ورته وویل: «لکه څنګه چې زه ستا په مینه پوه شوم، همداسې پوه شوم چې هغه هم ستا سره مینه لري.»
ملک معز (ایبک) پرېکړه وکړه چې پخپله د ناصر او د هغه د سرتېرو جګړې ته لاړ شي او یوازې د قومندانانو په لېږلو بسنه ونه کړي، ترڅو فارس الدین اقطای په یوازې سر د دغې برخلیک ټاکونکې ورځې بریا په خپل نوم نه کړي.
ملک ناصر خلک د دې لپاره راټول کړي وو چې مصر له مملوکاو څخه واخلي؛ په شام کې یو شمېر ایوبي پاچاهان، له هغې ډلې د دمشق پخوانی واکمن «ملک صالح اسماعیل»، د هغه تر بیرغ لاندې راټول شوي وو. عزالدین ایبک له خپلو سرتېرو او تجهیزاتو سره د هغه په لور وخوځېد او په «رمل» کې د ناصر له لښکرو سره مخامخ شو. سخته جګړه ونښته چې په پیل کې مصري سرتېرو ماتې وخوړه او شاته شول، ان تر دې چې د جګړې په سبا چې د جمعې ورځ وه، یوه ډله قاهرې ته ورسېده. خلک باوري وو چې بریا د ملک ناصر په برخه شوې او د مصر په ټولو جوماتونو کې د هغه په نوم خطبه ولوستل شوه، پرته له هغې جامع جومات څخه چې «شیخ ابن عبدالسلام» په کې خطبه ویله. خو لا جمعه نه وه تېره شوې چې د ناصر د ماتې او دمشق ته د هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېښتې او د ملک معز د بريا زېرى راورسېد. ښار د هغه د هرکلي لپاره ګلفوش شو. هغه په برياليتوب سره د هغو پاچاهانو سره چې بنديان شوي وو، لکه ملک صالح اسماعيل، ښار ته داخل شو. کله چې د دوى کتار د ملک صالح ايوب له قبر څخه تېرېده، بحري مملوکاو د صالح اسماعيل ګردچاپېره راټول شول او نارې يې وهلې: «اې زموږ باداره! چېرته يې چې خپل دښمن اسماعيل وګورې؟»

کله چې معز کلا ته داخل شو، کوچني سلطان «ملک اشرف موسى» د هغه هرکلى وکړ او مبارکي يې ورته وويل. فارس الدين اقطاى ملک اشرف ته په خطاب کې وويل: «هر څه چې مو وکړل، ستا د سعادت او ستا د ملک د پياوړتيا لپاره وو.» په دې سره يې په اصل کې ملک معز ته اشاره کوله چې يعنې بريا زما ده (لور ته وايي چې انګور يې واوري)

قطز د ملک صالح اسماعيل قضيې ته پام وکړ چې په کلا کې بندي و؛ هغه د دغه پاچا خيانتونه ياد کړل چې کله د «دمشق» پاچا و، څنګه يې د مسلمانانو خاوره پر صليبي دښمنانو پلورلې وه او د خداى او رسول له حکمونو څخه يې سرغړونه کړې وه، او څنګه يې شيخ ابن عبدالسلام او د هغه مجاهد پلويان ځپلي وو. نو خپل استاد معز ته يې وړانديز وکړ چې هغه ووژني. کله چې قطز وليدل معز د هغه په وژلو کې زړه نا زړه دى، نو له شيخ ابن عبدالسلام څخه يې د دغه خاين پاچا د وژلو فتوا واخيسته. معز د وژنې فرمان صادر کړ او هغه يې په دار وځړاوه؛ په دې توګه هغه د خپل دين او وطن په حق کې د خيانت سزا ومونده.

فارس الدين اقطاى هم په پرله پسې ډول له شجرة الدر څخه غوښتنه کوله چې خپله وعده پوره کړي. هغه «رکن الدين بيبرس» د خپل استازي په توګه هغې ته ورلېږه. ملکې به هم د هغه هرکلى کاوه او خبرو ته به يې په ځير غوږ نيوه. بيبرس به هغې ته د خپل بادار (اقطاى) مېړانه، شجاعت، د پلويانو ډېرښت او ځواک بياناوه. هغه به په جګړو کې د اقطاى د برياوو او د مصر د ساتنې په لاره کې د هغه د سربښندنو کيسې کولې. د بيبرس ژبه په دغو تشرېحاتو کې ډېره روانه او ښماره وه؛ هغه به داسې انځورګري کوله چې د ملکې زړه به يې راښکلو او داسې احساس به يې کاوه چې ګواکې د تورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرنګ، د نیزو غږ، د غشو ازانګه او د اسونو شیهاره پخپله اوري. هغې ته به داسې ښکارېده چې اقطای لکه د زمرې په څېر غړمبېږي، برید کوي او د دښمن صفونه ماتوي، په داسې حال کې چې تورې یې په لاس کې وي او دښمنان یې چپ او راست په ځمکه رغړي.

خو بیبرس به د خپل بادار د مینې په اړه ډېرې لږې خبرې کولې. کله به چې دغه موضوع ته راغی، نو یوازې څو وچې او بې خونده جملې به یې ویلې چې نه له زړه وتلې او نه پر زړه کېناستلې. بیبرس څنګه کولی شول هغه څه بیان کړي چې پخپله یې نه پېژندل او نه یې احساسول؟ هغه ولې ځان په هغو ټکو ستړی کړی وای چې شجرة الدر یې په وجد نه راوستله؟ نو ځکه به یې ډېره پاملرنه د خپل بادار جنګي مېړانې ته وه.

خو قطز بیا د خپل استاد د هغو صفتونو په بیانولو ډېر وخت نه تېراوه چې ملکې ته معلوم وو، بلکې یوازې به یې د هغه دینداری، پاکلمنی، رښتینولی، امانتداری او اخلاص ته اشاره کوله. بیا به یې د هغه د مینې او د زړه د حال شرحه پیل کړه. هغه به ملکې ته د خپل استاد د زړه د درزا او د هغه د روح د تپیدا غږ ورکاوه. قطز به کله کله د ملکې انځور د خپل استاد په سترګو کې داسې پاک او ښکلی بیان کړ چې د ټولو اخلاقي ارزښتونو لرونکی وي. کله چې به قطز په خبرو کې ډوب شو، نو هېرول به یې چې د خپل استاد په استازولۍ خبرې کوي؛ هغه به خپله محبوبه «ګلنار» په نظر کې نیوله، ګواکې ګلنار د شجرة الدر پر ځای پر تخت ناسته ده او دی ورته د خپلې مینې کیسه، د شکایت تریخوالی او د زړه نرمي وړاندې کوي. د هغه خبرې د ملکې لپاره داسې وې لکه د یوه تږي لپاره چې یخې اوبه وي. ملکې به هم کله کله ځان نه شو کنټرولولی او په پټه به یې اسویلۍ (آه) ایستله، خو غرور یې اجازه نه ورکوله چې د استازي مریي په وړاندې خپله کمزوري وښیي. هغې په ډېر تکلیف خپل احساسات کنټرولول، که نه نو اوښکې به یې روانې شوې وای او په لوړ غږ به یې ژړلي وای.

ډېر وخت نه و تېر شوی چې د ملکې وینځې هم په دې پوهې شوې چې د هغې او د دغو دوو سیالو استازو ترمنځ څه روان دي. هغوی په تمه وې چې وګوري کوم یو به د ملکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه د خپل بادار لور ته مایل کړي. کله به چې له دغو دواړو څخه یو راغی، وینځو به په غوږونو کې یو بل ته بس پسک کاوه او په کرار به د تالار د دروازو شا ته پټې شوې ترڅو خبرې واوري. هغوی هم په دوو ډلو وېشل شوې وې؛ یوه لویه ډله د قطز پلوې وه او بله کوچنۍ ډله د بیبرس ملاتړې وه. په دې دویمه ډله کې د ګلنار کینه کښې وینځې هم وې چې نه یې غوښتل ګلنار او د هغې محبوب یې وګټي؛ هغوی به د قطز او د هغه د استاد مقام ټیټاوه او د بیبرس او اقطای په ستاینه کې به یې غلو (مبالغه) کوله.
ګلنار د دوی په منځ کې غلې وه او د خپل محبوب او د هغه د سیال په اړه یې څه نه ویل. کله به چې د دروازې شا ته ولاړه وه، له وېرې به یې زړه درزا کوله او شونډې به یې رپېدې چې هسې نه بیبرس پر قطز برلاسی شي. یوه ورځ چې هغې د پردې له چاک څخه بیبرس ته وکتل — چې ډېر پخوا پوه شوې وه چې دا هماغه د «حلب» د مریانو د بازار شین سترګی قبچاقي هلک دی — تصور یې وکړ چې بیبرس پر قطز برلاسی شوی، شجرة الدر له اقطای سره واده کړی او بیا ملکې دا بیبرس ته واده کړې ده. په دې فکر سره د ګلنار سر وګرځېد او نږدې وه چې بې هوښه شي. له هغې وروسته ګلنار نور بیبرس ته نه کتل او یوازې به یې د خپل محبوب قطز خبرو ته غوږ نیوه، ګواکې دا د قطز د خپلې مینې خبرې دي؛ نو ځکه یې نه شوای کولی پر خپلو باڼرخوګانو د اوښکو د بهېدو مخه ونیسي.

یوه ورځ هغې واورېدل چې قطز ملکې ته ویل: «اې لویې ملکې! اې له هغو ټولو ښکلې چې د نیل سیند اوبه یې څښلې دي! حیرانیږه مه که زه ونه شم کړای هغه لویه مینه چې نړۍ کې نه ځاییږي، خو د هغه چا په سینه کې ځاییږي چې زه یې تاته رالږلی یم، په سمه توګه انځور کړم. او هکه پکه مه کیږه چې زما بیان ښکلی دی؛ ځکه زما بادار خپل هغه لوی درزېدونکی زړه ماته په پور راکړی او ما خپله وړه او عاجزه ژبه هغه ته په پور ورکړې ده. ډاډه اوسه چې زما ژبه که په انځورګرۍ کې هر څومره ماهره او په بیان کې روانه وي، بیا هم نه شي کولای د هغه خیالمن زړه حال ته ورسیږي، مګر یوازې د هغې مرغۍ د مښوکې د اوبو په اندازه چې له سمندر څخه اوبه څښي.
زما ملکې! اې تر هغو ټولو ښکلې چې د نیل اوبه یې څښلې دي! که زما بادار

(c) ketabton.com: The Digital Library



اورپالونکی وای، نو ته به هغه اور وې چې ده به يې عبادت کاوه؛ او که بت پرست وای، نو ته به يې هغه بت وې چې ده به ورته مخ کاوه. خو هغه يو رښتينی او باايمانه مسلمان دی، نو ته د هغه کعبه او لمونځ يې او ته خدای ته د هغه د نږدې کېدو وسيله يې! زما ملکې! اې تر هغو ټولو ښکلې چې د نيل اوبه يې ځښلې دي! خدای په خپل کتاب کې خلکو ته مثالونه بيان کړي ترڅو هغوی پوه شي. نو د خپل نور لپاره يې مثال داسې راوړی لکه په يو طاق کې چې څراغ وي او هغه څراغ په يوې ښيښه کې وي، داسې ځلېدونکې ښيښه لکه يو روښانه ستوری. دا څراغ د زيتون له هغې برکتي ونې بلېږي چې نه شرقي ده او نه غربي، ګواکې تېل يې بې له دې چې اور ورته ورسېږي پخپله لمبه کيږي؛ نو د خدای هغه نور چې اسمانونه او ځمکه پرې روښانه دي، د دې څراغ په وړاندې به څه وي!

د مينې لپاره يې د يوه شهزاده او يوې شهزادګۍ مثال راوړی دی. دا دواړه د عمه او ماما اولادونه وو چې تقدير هغوی د پاچاهۍ له ناز او نعمت څخه د غلو منګولو ته وغورځول، هغوی يې د مريانو په بازار کې وپلورل. هغوی دواړو د يوه صالح بادار تر سيوري لاندې ژوند کاوه؛ بادار دوی خوښول او وعده يې ورسره کړې وه چې ازاد به يې کړي او واده به يې سره وکړي، خو مخکې له دې چې وعده پوره کړي، هغه وفات شو. هر يو يې پر جلا مالک وپلورل شول او سره بېل شول، هر يو يې يوې بلې سيمې ته لاړل. هغوی ډېر وخت په ناهيلۍ کې د يو بل ليدو ته تېر کړل، تر دې چې بالاخره په يوې ماڼۍ کې سره يو ځای شول او له ناهيلۍ وروسته يې يو بل وليدل او د زړه مينه يې بېرته راژوندۍ شوه. قسم په هغه ذات چې دانه يې پيدا کړې او نسيم يې پيدا کړی، هغه مينه چې زه يې اوس بيانوم، د هغې شهزادګۍ لپاره د دغه شهزاده تر مينې هم لويه ده!»

د لويې ملکې ځواب دواړو استازو ته دا و چې د ناصر خطر لا هم پر مصر کې پاتې دی او تر څو چې دا خطر له منځه لاړ نه شي، د واده په اړه فکر نه کوي. اقطای هم د شجرة الدر د رضا ترلاسه کولو لپاره د ناصر او د هغه د پلويانو پر ضد د څو بريدونو مشري وکړه. عزالدين هم د دې لپاره چې سيال يې په يوازې سر د بريا وياړ ترلاسه نه کړي، کله کله به پخپله جګړې ته تلو او خپل امين مريی (قطز) به يې د هېواد چارو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر خپل ځای پرېښود. تر دې چې د ناصر او دوی ترمنځ سوله وشوه؛ په دې شرط چې تر اردن پورې د غزې، قدس، نابلوس او ټولې ساحلي سيمې به د مصريانو وي او له هغه وروسته سيمې به د ناصر وي.

اوس نو شجرة الدر ته د ناصر په نوم کومه بهانه پاتې نه وه چې له واده څخه ډډه وکړي، خو هغې نه غوښتل د داسې لويې پرېکړې په اړه چې نامعلوم راتلونکی ورپورې تړلی و، په بېړه پرېکړه وکړي؛ نو ځکه يې نورو بهانو ته لاس واچاوه او هغه دواړه سيالان يې لا هم په تمه پرېښودل. هغې دواړه تلل (ارزول) ترڅو وګوري چې کوم يو يې خوښېږي او راتلونکی يې خوندي کوي. هغې وليدل چې د دوو سرېو په وړاندې ولاړه ده؛ لومړی (ايبک) ورسره مينه لري او تر دويم ډېر ورته تسليمېږي، خو د دويم (اقطای) له مېړانې او زړورتيا ډېره خوند اخلي. نو زړه يې لومړي ته مايل شو، خو ويې نه غوښتل چې د ايبک منل قطعي کړي ترڅو وګوري چې کله د اقطای صبر پای ته ورسېږي، د ايبک کار به چېرته رسېږي. هغې پرېکړه وکړه چې هغوی په ښکاره يو بل ته واچوي او د دښمنۍ اور يې بل کړي ترڅو د برخليک ټاکونکې ورځ ژر راشي. نو د عزالدين استازي ته يې وويل: «خپل بادار ته ووايه چې زه له نيمايي پاچاهۍ (شريک پاچا) سره واده نه کوم؛ کله چې هغه بشپړ پاچا شو، بيا ورسره واده کوم.»
عزالدين پوه شو چې ملکه هغه د کوچني پاچا (ملک اشرف) ليرې کولو او د پاچاهۍ خپلواکۍ ته هڅوي. هغه هم له پخوا په دې اړه فکر کړی و او پوهېده چې د هغه په شتون کې د ده د پاچاهۍ بنسټونه نه کلکيږي؛ ځکه مملوک اميرانو او په ځانګړي ډول اقطای به د دغه ماشوم حق د ده د واکمنۍ د مخالفت او مداخلې لپاره بهانه کاوه. کله يې چې وليدل شجرة الدر پخپله دا وړانديز کوي، نو د هغې امر ته تسليم شو او پر خدای يې توکل وکړ.

څو ورځې لا نه وې تېرې شوې چې معز (ايبک) د مصر بشپړه پاچاهي په خپل لاس کې واخيسته؛ د اشرف نوم له خطبو څخه لرې شو، هغه يې ونيوه او په کلا کې يې زنداني کړ. کوچنی پاچا نه پوهېده چې ولې يې پر تخت کېناوه او ولې يې بېرته زندان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



واچاوه؛ ځکه نه یې داسې کار کړی و چې د پاچاهۍ وړ وي او نه یې داسې جرم کړی و چې سزا یې زندان وي.

د ملک معز دا کار پر فارس الدین اقطای ډېر دروند تمام شو او ډاډه شو چې اوس له خپل زاړه دښمن سره د مبارزې وخت رارسېدلی دی. هغه خپل پلویان راټول کړل او برید ته سترګې په لار و، خو ویې نه غوښتل چې بیړه وکړي او په رڼا ورځ برید وکړي؛ ځکه وېرېده چې شجرة الدر احساس د خطر ونه کړي او نور مملوک امیران چې د هغې خبره مني، د ده پر ضد راجګ نه شي. هغه لا هم د شجرة الدر له لوري ناهیلی نه و او د هغې پر وعدې یې باور درلود؛ ځکه د ده استازی بیبرس لا هم مانۍ ته تګ راتګ کاوه او داسې زېری یې راوړل چې ګواکې ملکه له هغه چا سره واده کوي چې په دې میدان کې بریالی شي.

اقطای پرېکړه وکړه چې د ملک معز پر ضد توطئې پیل کړي او په هېواد کې ناامني خپره کړي، ترڅو د ملک معز بې کفایتي ثابته کړي او داسې وښیي چې د اقطای پرته بل هېڅوک نه شي کولای په هېواد کې امنیت او ارامي بېرته راولي.

اقطای خپلو مریانو (بحرې مملوکاو) او پلویانو ته امر وکړ چې په ښار کې فساد او پر خلکو تېری پیل کړي. هغوی په زور د عامو خلکو، ښځو او ماشومانو مالونه لوټل او هېچا یې مخه نه شوای نیولی. د دوی تېری تر دې کچې ورسېد چې حمامونو ته به ننوتل او ښځې به یې په زور وړلې. کله به چې خلکو اقطای ته شکایت وکړ، هغه به ورته ویل: «زما وس پر هغوی نه رسېږي، له ملک معز څخه وغواړئ چې د هغوی مخه ونیسي.»

ملک معز په پیل کې هڅه وکړه چې اقطای راضي کړي، نو مالونه یې ورته ولېږل او د اسکندریې کلا یې هم هغه ته ورکړه ترڅو د هغه له شره په امان کې پاتې شي؛ خو اقطای دا کار د معز کمزوري وبلله او حرص یې نور هم زیات شو.

شجرة الدر د دغو دوو قهرمانانو ترمنځ د سیالۍ پایلو ته کتل؛ هغې په خپل هوښیارۍ سره درک کړه چې هغه وسله چې اقطای یې کاروي (فساد او ظلم)، یوه ورځ به د هغه په خپل زیان تمامه شي؛ ځکه خلک د هغه د پلویانو له فساد څخه پوزې ته راغلي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شجرة الدر د ولس په ځواک او د واکمنانو په برخلیک کې د هغوی په اغېز پوهېده، نو خپله پرېکړه یې وکړه. هغې ملک معز ته خبر ورکړ چې واده ته چمتو ده او ویې غوښتل چې دا کار ډېر ژر ترسره شي.

خلک ناڅاپه د شجرة الدر او ملک معز د واده له جشن سره مخ شول. کلا، قاهره او د مصر نور ښارونه (تزیین) شول، ډولونه وغږول شول او له هر لوري خلک د مبارکۍ لپاره راغلل.

اقطای له یو نوي حالت سره مخ شو؛ هغه ولید چې هیلې یې څنګه په اوبو لاهو شوې او پوه شو چې شجرة الدر غولولی و. د هغه زړه د شجرة الدر له کینې ډک شو او پرېکړه یې وکړه چې غچ ترې واخلي، که څه هم په دې لاره کې خپل سر وبایلي. هغه خپل پلویان راټول کړل، نور مملوک یې وګواښل چې له ده سره ملګري شي او په ښکاره یې د ملک معز له حکمونو سرغړونه پیل کړه. هغه مهمې څوکۍ خپلو کسانو ته ورکړې او ملک معز دومره بې وسه شو چې هېڅ یې خبره نه اورېده. که معز به چاته څه مقرر کړل، اقطای به ترې څو چنده زیات اخیستل. د بهرنیو واکمنانو لیکونه به هم لومړی اقطای ته وړل کېدل او د هغه له اجازې پرته هېچا د لیک خلاصولو یا ځوابولو جرات نه درلود.

دا خو د ملک معز سزا وه، خو هغه غوښتل له شجرة الدر څخه هم غچ واخلي. د هغې سزا دا وه چې هغه د جبل له کلا څخه راښکته کړي او خپله یوه مېرمن چې شهزادګۍ وه، هلته مېشته کړي. ډېر ژر دا خبر خپور شو چې امیر فارس الدین اقطای د حماه د واکمن «ملک مظفر» له لور سره واده کوي. د ملک مظفر لور په یو لوی کتار کې دمشق ته بیول شوې وه ترڅو له هغه ځایه مصر ته راوستل شي او له هغه چا سره واده وکړي چې د مصر واک یې په لاس کې دی.

اقطای له خپلو ملګرو سره په کلا کې ملک معز ته ورغی، هغه یې له دغه واده خبر کړ او ورته یې وویل چې باید د حماه شهزادګۍ ته په کلا کې د اوسېدو اجازه ورکړي. د ملک معز تندی تریو شو او ویې ویل چې په دې اړه به فکر وکړي.

اقطای ورته وویل: «زه په دې کې د فکر کولو اړتیا نه وینم؛ که غواړې له شجرة الدر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره مشوره وکړي، نو زما په خیال هغه به د خپل پخواني بادار د کورنۍ یوې شهزادګۍ ته د ځای په پرېښودلو کې انکار ونه کړي.»
معز غلی پاتې شو. کله چې شجرة الدر دا خبر واورېد، خطر یې احساس کړ او پوهه شوه چې خبره جدي ده. هغه پوهېده چې د اقطای هدف د هغې سپکول او د هغې د غرور ماتول دي. شجرة الدر هم د اقطای له سرغړونو او ځانمنۍ څخه تنګ شوې وه او د هغه د له منځه وړلو په فکر کې وه؛ خو دا وروستۍ ستونزه تر ټولو لویه وه، نو باید مخکې له دې چې اقطای خپل هدف ته ورسېږي، هغه له منځه یوسي.
شجرة الدر خپل خاوند (ایبک) ته مشوره ورکړه چې په ښکاره له اقطای سره مخالفت ونه کړي او د هغه غوښتنه ومني. هغې قطز ته هم دنده ورکړه چې بیبرس ته ووایي چې ملکه حاضره ده کلا شهزادګۍ ته پرېږدي. شجرة الدر دا نقشه په عملي ډول پیل کړه؛ هغه به د ورځې په کلا کې وه، خو د شپې به له خپلو وینځو او خدمتګارانو سره د کلا لاندې بلې ماڼۍ ته تلله او هلته به یې څراغونه بلول. اقطای ډاډه شو چې شجرة الدر ماتې منلې او کلا یې ورته خالي کړې ده. په دې توګه اقطای نور هم مغرور شو او ویې انګېرله چې هر څه د هغه په خوښه روان دي او پاچاهي به ورته ورسېږي.

شجرة الدر د خپل خاوند مربی (قطز) حضور ته ور وغوښت او ورته یې وویل: «زه غواړم خپله وعده پوره کړم او ګلنار ستا نکاح ته درکړم، خو دا مې نه لورېږي چې زما د تر ټولو غوره وینځې د واده مراسم له کلا څخه بهر بل ځای کې وشي. ته پخپله وینې چې مونږ کلا هغه چا ته خالي کړې ده چې قدرت یې تر هر چا زیات دی، ترڅو له خپلې نوې ناوې سره په کې ژوند وکړي.»
قطز سمدستي درک کړه چې ملکه هغه د فارس الدین اقطای وژلو ته هڅوي؛ هغې په کنایه کې ورته ویل چې که هغه د اقطای له شره خلاصه کړي، نو ملکه به خپله وعده پوره کړي. هغه له ځان سره فکر وکړ چې ملکې د همداسې یو خطرناک کار لپاره خپله وعده ځنډولې وه او اوس له ده څخه د اقطای سر د ګلنار د مَهر په توګه غواړي. که څه هم دا یو ډېر دروند مهر و، خو ګلنار تر دې هم ارزښتناکه وه. له بلې خوا، د اقطای ظلم، پر خلکو تېری او په هېواد کې د هغه د پلویانو فساد د هغه وینه مباح کړې وه او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وژل خدای ته د نږدې کېدو وسیله وه؛ پر دې سربېره، د ده د استاد (ایبک) واکمنې تر هغې نه شوای ټینګېدلی ترڅو چې اقطای ژوندی وای.

قطز ملکې او خپل استاد ملک معز ته اعلان وکړ چې د اقطای د وژلو پېره پر غاړه اخلي. هغوی په ګډه پرېکړه وکړه چې اقطای په کلا کې له معز سره لیدنې ته را وغواړي، او کله چې هغه دهلېز ته ورسېږي، قطز به پرې برید کوي او وبه یې وژني.

معز قطز ته وړاندیز وکړ چې یو شمېر باوري مملوک مریان له ځان سره واخلي ترڅو په دې خطرناکه دنده کې ورسره مرسته وکړي، خو قطز وویل: «زه په یوازې سر دا کار کولی شم.»

معز ورته وویل: «قطز! هغه ډېر قوي او بې رحمه سړی دی! پر دې سربېره موږ تاته اړتیا لرو، که هغه ستا له لاسه روغ ووت، نو موږ به ټول له منځه یوسي.» په پای کې معز هغه راضي کړ چې د ده له مریانو څخه دوه تنه (بهادر او سنجر غتمی) د مرستې لپاره وټاکي.

قطز او بیبرس تر هغه وخته ملګري وو؛ کله به چې یو ښکار ته تلو، بل به یې هم ورسره دعوت کاوه. یوه ورځ بیبرس پرېکړه وکړه چې ښکار ته لاړ شي او قطز ته یې هم بلنه ورکړه. قطز پوه شو چې بیبرس له خپلو ډېرو ملګرو او د اقطای له پلویانو سره یو ځای وځي، نو دا یې د اقطای د وژلو لپاره غوره چانس وباله. هغه لومړی د بیبرس بلنه ومنله، خو سبا سهار یې پیغام ورواستاوه او ښېنه یې وغوښته چې د ناروغۍ له امله ښکار ته نه شي تلای.

کله چې قطز ډاډه شو چې بیبرس او ملګري یې له ښاره وتلي دي، خپل استاد ته ورغی او ورته یې وویل چې د نقشې د پلي کولو وخت رارسېدلی دی.

ملک معز فارس الدین اقطای را وغوښت ترڅو د یوې مهمې موضوع په اړه مشوره ورسره وکړي. اقطای پر معز پوره باور درلود، ځکه له هغه یې هېڅ مخالفت نه و لیدلی او شجرة الدر هم د کلا ماڼۍ خالي کړې وه. کله چې د اقطای ملګرو ورته مشوره ورکړه چې کلا ته لاړ نه شي، اقطای د هغوی خبره ونه منله. هغوی ورته وویل: «معز کومه نقشه لري، صبر وکړه ترڅو بیبرس، قلاوون او سنقر له ښکاره بېرته راشي.» خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په خوب کې وویل: «زه د داسې ورې خبرې لپاره هغوی ته نه شم په تمه کېدای؛ هغوی باید زما بېرته راتګ ته په تمه شي.»
اقطای د خپلو ملګرو خبرو ته له پامه پرته روان شو. هغوی وویل: «مونږ دې یوازې نه پرېږدو» او ورسره ملګري شول. کله چې کلا ته داخل شو او د ستنو تالار ته ورسېد، د کلا دروازې يې پورې کړې او د هغه ملګرو ته يې د ننوتلو اجازه ورنه کړه. اقطای خطر احساس کړ او لاس يې د تورې قبضې ته کړ، خو غرور يې اجازه ورنه کړه چې بېرته وګرځي. په دهلېز کې له قطز او د هغه له ملګرو سره مخ شو. اقطای په آمرانه لهجه ورته وویل: «لاړ شئ او زما د ملګرو لپاره دروازه خلاصه کړئ!»
قطز خپلو ملګرو ته وویل: «لاړ شئ او دروازه ورته خلاصه کړئ.»
هغه دوه تنه له اقطای تېر شول او تر شا يې ودرېدل. قطز یو څو ګامه ورسره ملګری شو او ورته يې وویل: «خپله توره ماته راکړه، ځکه دا مناسبه نه ده چې یو تبعه له پاچا سره وسله وال وګوري.»
اقطای په غوسه شو او په داسې حال کې چې د تورې قبضه يې کلکه نیولې وه، چیغه يې کړه: «اې ککړ مرییه! غواړې ما بې وسلې کړې؟»
قطز په خنجر د هغه په پښتۍ کې یو ګوزار وکړ او ويې ویل: «بلکې ستا ژوند اخلم او هېواد ستا له ناپاک شتون څخه پاکوم!»
اقطای وغړمبېد او په داسې حال کې چې په یو لاس کې يې توره وه او په بل لاس يې خپل ټپ نیولی و، پر قطز يې برید وکړ. قطز هم توره کښله او دواړه په جګړه شول.
هغه دوو نورو غوښتل مرسته وکړي خو قطز ورباندې غږ وکړ: «پرېږدئ چې دا 'ککړ مریی' هغه په یوازې سر ووژني، ترڅو خلک ونه وايي چې د معز دریو مریانو هغه وواژه.»
دواړو جګړه کوله او قطز د هغه درانه ګوزارونه دفع کول؛ د قطز هدف دا و چې د اقطای له ټپ څخه وینه لاړه شي او بې سېکه شي. اقطای چیغې وهلې: «اې ملعونه! ودرېږه!»
قطز په خوب کې ورته ویل: «اې د شهزادګۍ خاونده! مقاومت وکړه!»

(c) ketabton.com: The Digital Library



له اقطای څخه ډېره وینه لاړه، پښې یې سستې شوې او د اوښ په څېر پر زنګونونو راولوېد، خو بیا یې هم چپ او راست طرف ته توره وهله.
قطز یې مخې ته ولاړ و او ورته کتل یې. اقطای په ډډ غږ وویل: «د بیبرس ملګریه! رانږدې شه... رانږدې شه.»
ملکه شجرة الدر له خپل بالکون او ملک معز له خپل دفتر څخه ورته کتل. ملکې په داسې غږ چې اقطای یې واورې وویل: «اې مغروره! ایا هغې شهزادګۍ درته ګټه وکړه؟»
کله چې اقطای د ملکې غږ واورېد، هڅه یې وکړه چې بره وګوري ترڅو هغې ته وګوري، خو په شا راولوېد او یوازې یې وویل: «اې خاینې!» او ساه یې ورکړه.

کله چې هغه مملوک مریان چې د کلا دروازې ته ولاړ وو ولیدل چې اقطای را ونه وت، نو باوري شول چې معز د دوی مشر نیولی دی. هغوی دا خبر د اقطای د ټولو پلویانو ترمنځ خپور کړ؛ خبر په ښکارګاه کې بیبرس او د هغه ملګرو ته هم ورسېد. هغوی په منډه بېرته راستانه شول او ټول سره یو ځای شول. بیبرس له اووه سوه سپرو سرتېرو سره د جبل کلا په لور وخوځېد؛ هغوی د کلا مخې ته ودرېدل او غوښتنه یې وکړه چې مشر یې ورته وسپاري. خو ناڅاپه معز د اقطای پرې شوی سر د هغوی په منځ کې وغورځاوه او ورته ویې ویل: «مخکې له دې چې تاسو هم د خپل مشر په برخلیک اخته شئ، خپل ځانونه وژغورئ!»
هغوی په دې کار سره سخت وارخطا شول او باوري شول چې معز د داسې ورځې لپاره بشپړ تیاری نیولی دی. نو په زړونو کې یې وېره خپره شوه، خواره واره شول او په هماغه شپه یې قاهره پرېښوده. یو شمېر یې په «کرک» کې له ملک مغیث سره یو ځای شول، ځینې نور یې له بیبرس سره په «دمشق» کې ملک ناصر ته پناه یوړه او یوې بلې ډلې بیا په «غور»، «بلقا» او «قدس» کې په لارنیونو او غلاو پیل وکړ.
بیبرس به له هغې ورځې وروسته تل ویل: «زما ملګري (قطز) له ما سره دا لوبه وکړه؛ په خدای قسم! هغه به یو له هغو کسانو وي چې زما په لاس به وژل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دولسم فصل:

بله ورځ، ملک معز د «اقطای» پاتې پلویان چې د بحري مملوکونو څخه وو، ونیول؛ خطرناک مشران یې ووژل او نور یې زنداني کړل. خلک د هغوی له تېري او فساد څخه خلاص شول. تر ډېره وخته د سیف‌الدین قطز په لاس د اقتای د وژل کېدو کیسه د مجلسونو توده موضوع وه. خلکو د قطز مېړانه او زړورتیا خوښوله، هغه د دوی په نظر کې لوی شو او له همغه وخته د قطز مینې دا دوی زړونو کې ځای ونیوله. ملک معز هم پر خپل ځان او سلطنت باندې د خپل دغه شجاع او امین مریي احسان هېر نه کړ، نو ځان ته یې نږدې کړ، عزت یې ورزیات کړ، هغه یې ازاد کړ او د نائب‌السلطنه (د سلطنت مرستیال) لوړه څوکۍ یې ورته ورکړه. په مقابل کې، د خپل بادار په وړاندې د قطز اخلاص او سربښندنه نوره هم زیاته شوه.

ملکې شجرةالدر هم پر ځان د دغه شجاع مریي نېکي هېره نه کړه؛ هغې پر خپلې ژمنې وفا وکړه او ګلنار یې هغه ته ورکړه. د هغوی نکاح شیخ عزالدین بن عبدالسلام وتړله. ملکې په خپله ګلنار سینګار کړه او هغه یې تر نائب‌السلطنه، سیف‌الدین قطز پورې بدرګه کړه.

د واده مراسم په «قلعه جبل» کې ترسره شول. ملک معز د نارینه پلاوو هرکلی کاوه چې د خپل وفادار مریي د واده مبارکۍ ته راغلي وو، او ملکې د ښځینه ډلو هرکلی کاوه چې د هغې د ښکلې وینځې د واده مبارکۍ ته راغلي وې.

شپه نیمه شوه، مېلمانه خواره شول، د چنګ او عود موسیقي غلې شوه، ډولونه ودرېدل، نڅاوې ارامې شوې او د څراغونو رڼا کمه شوه. خدمتګارانو دسترخوانونه ټول کړل او وینځې په داسې حال کې چې زړونه یې له خوشالۍ او حسرت څخه ډک وو، خپلو بسترونو ته لاړې. د بختورې خونې پردې راښکته شوې او دوه بختور مینان سره یوازې شول.

دا یوه له خلوص او صمیمیت څخه ډکه لیدنه وه؛ د خوښۍ اوښکې روانې شوې، دوو زړونو سره خبرې وکړې، شکایتونه خوندور شول، راز او نیاز ارام شو او د زماني سختۍ مرورې شوې؛ په یوه لمحه کې پر هغو ټولو د ښېښي قلم راښکته شو. شېبې د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلېدونکو امېل د دانو په څېر تېرېدې چې شیندل شوې وي. هغه سترګې چې د اوږدې جلاوطنۍ له امله بې خوبه وې، د وصال له نعمت څخه برخمني شوې. ارام خوب هغو سترګو ته ورغی چې په نا ارامۍ او پریشانۍ عادت وې، او د بانوګانو په غېږ کې ځای پر ځای شو. بیا دوی دواړه ویده شول، په داسې حال کې چې مینه یې دریمګړې وه او د خدای د رحمت او خوشنودۍ تر سیوري لاندې وو. په ځمکه کې یو خوب رښتیا شو، د یو صالح سړي دعا په اسمان کې قبوله شوه او د هغو دوو ښځو روحونه ارام شول چې په «سند سیند» کې ډوبې شوې وې. کله چې دوی دواړه کوچني وو او د «غزني» په ماڼۍ کې یې لوبې کولې، میندو یې د داسې ورځې هیله ورته لرله.

کله چې سهار شو، ناوې او زوم په وارخطایۍ له خوبه راویښ شول؛ دوی وویرېدل چې ګڼې دا به خوب وي. هغوی د سهار په رڼا کې یو بل لمس کړل او ویې لیدل چې رښتیا هم د یو بل په غېږ کې دي.

دې بختورې جوړې یو څه موده په قلعه جبل کې د خپلو بادارانو تر څنګ تېره کړه، خو بدبخته زمانه تر دې کینه ګره وه چې اجازه ورکړي په هغې کلا کې چې د جشنونو او غمونو شاهده وه، دوه مینان په خوښۍ پکې پاتې شي. ډېر وخت نه وه تېر شوی چې زمانې د دې لویې ماڼۍ په کونجونو کې خپل لاسونه په حرکت راوستلو، مینه یې ګډوډه کړه، تازه ګې یې له منځه یوړه او ارامي ترې واخستله.

معز لا د اقطای او د هغه د ډلې له شره په بشپړه توګه خلاص شوی نه و او لا یې هر څه تر کنټرول لاندې نه وو راوستي، چې د ملکې شجرةالدر واک او نفوذ، له سلطنت سره د هغې مینه او دا ادعا چې قدرت یوازې د هغې حق دی، پر ده باندې درنه تمامه شوه. شجرةالدر چې هر څوک غوښتل لوړول به یې او چې هر څوک یې غوښتل راغورځول به یې؛ د معز امر به د هغې په امر ماتېده، خو د هغې امر د ردولو نه و.

سربېره پر دې، معز له ډېرې مودې راهیسې له خپلې پخوانۍ مېرمنې «ام علي» سره اړیکه پرې کړې وه؛ نو بېرته هغې ته ور وګرځېد او د خپل زوی د راتلونکي او د مصر پر تخت د هغه د کېښېنولو په فکر کې شو. له همدې امله شجرةالدر ترې ووېرېده او پر خپلې بنې یې (حسد) وکړ، ځکه خپله پاچاهي یې د هغې له لوري له ګواښ سره مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیده.

شجرةالدر هم داسې ښځه نه وه چې له پېښو غافله پاتې شي یا ورته اهمیت ورنکړي، ترڅو پر خپل مېړه د زړه واک او د خپل اقتدار کنټرول له لاسه ورکړي. هغې پرېکړه وکړه چې د دغو دوو حقونو د ترلاسه کولو لپاره، که هر څومره ګرانه هم ورته تمامه شي، مبارزه وکړي. نو د خپلو حقونو د دفاع لپاره یې یوه نقشه جوړه کړه: د لومړي حق په اړه یې مېړه ته امر وکړ چې له خپلې بلې مېرمنې جلا شي او اړیکه ورسره پرې کړي، او د داډ لپاره یې معز د هغې پر طلاقولو مجبور کړ. خو دویم حق: چې د هغې لپاره خورا اسان و. هغې یو شمېر «صالحیه مملوکونه» چې له معز سره یې نږدېوالي ته زړه نه ښه کاوه، ځان ته نږدې کړل او بېلابېلې دندې یې ورته وسپارلې. هغې د خپل مېړه کسان او پلویان وپېژندل او د چارو واګې یې د هغوی له لاسونو وباسلې. حالات همداسې روان وو تر دې چې د هغې نفوذ دومره خپور شو چې د هېواد ټولې چارې یې په لاس کې واخیستې او ملک معز یې ان په جریان کې هم نه اچاوه

خو د شجرةالدر دا کار پر ملک معز باندې ډېر درووند تمام شو؛ هغه د خپل زوی د مور (ام علي) طلاقولو ته راضي نه شو، ځکه هڅه یې کوله چې خپل زوی پر تخت کښېنوي. له همدې امله د پاچا او ملکې ترمنځ واټن دومره زیات شو چې معز وېرېده چې هغه به ورته کوم زیان ورسوي. نو ځکه هغه له «قلعه جبل» څخه ووت او په «مناظر اللوق» کې مېشت شو، چېرته چې د ده مېرمن ام علي اوسېدله. معز به یوازې د ورځې له خوا د سلطنت چارو ته د رسېدو لپاره کلا ته تللو.

د پاچا او ملکې ترمنځ د پردې تر شا جګړه لا هم روانه وه او هر یو د بل له شره د خلاصون په فکر کې و. یوه عجیبه خبره دا وه چې دواړو د یوې داسې لارې څخه کار واخیست چې فکر یې کاوه ګټوره ده؛ دا لاره دوی د خپل پخواني مړ شوي دښمن، فارس‌الدین اقطای څخه زده کړې وه، او هغه دا وه چې: دواړو هڅه کوله د ایوبي پاچاهانو څخه د یوه په نزد خپل مقام لوړ کړي.

شجرةالدر خپل یو د راز ساتونکی له قېمتي ډالیو سره د دمشق واکمن، ملک ناصر ته واستاوه او هغه ته یې په لیک کې وړاندیز وکړ چې که د مصر پاچاهي ورته وسپاري او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملک معز د وژلو مسؤلیت پر غاړه واخلي، نو دا به ورسره واده وکړي. ملک ناصر وېرېده چې دا به کومه توطئه وي، نو ځواب یې ورنکړ. له بلې خوا، ملک معز د «حماه» د امیر، ملک مظفر د زوی، ملک منصور د خور د غوښتنې لپاره څوک واستاوه (هغه نجلۍ چې د اقطای کوژدنه وه خو واده یې ورسره نه و شوی). کله چې هغې نجلۍ د خپل پخواني کوژدن له قاتل سره واده ونه مانه، معز د «موصل» امیر، ملک رحیم بدرالدین لؤلؤ ته څوک واستاوه او د هغه لور یې وغوښتله. ملک رحیم دا غوښتنه ومنله او معز ته یې یو لیک ولیکه چې په هغه کې یې دی له شجرةالدر څخه خبرداری کړ او د ملک ناصر سره یې د هغې د پټو اړیکو څخه خبر کړ.

شجرةالدر د موصل د امیر له لور سره د معز د غوښتنې خبره واورېده، کټ مټ لکه څنګه چې معز ملک ناصر ته د شجرةالدر له وړاندیزه خبر شوی وه. نو د دوی ترمنځ واټن او درز نور هم ژور شو، ګواښونه پیل شول او د دوستۍ هېڅ نښه پاتې نه شوه.

شجرةالدر احتیاط پیل کړ او خپلې وینځې، ګلنار ته یې امر وکړ چې نوره په کلا کې خدمت ونه کړي. ګلنار له خپل مېړه، نائب‌السلطنه امیر سیف‌الدین قطز سره، له کلا څخه بهر یوې بلې مانۍ ته لاړه.

قطز د پاچا او ملکې ترمنځ په دې ستونزمنه معامله کې حیران پاتې و. بادار یې ورسره نېکي کړې وه او شجرةالدر هم له ده او مېرمنې سره ښه کړي وو. هغه یو څه موده خپل بادار د موصل د امیر د لور له غوښتنې څخه ځنډاوه او ورته ویل یې چې په کارونو کې صبر او دقت وکړي او په حکمت او نرمۍ مسایل حل کړي ترڅو شجرةالدر هم تسلیم شي، یا که اړتیا وي پر هغې غالب شي. خو بادار یې د خپل زوی د مور طلاقولو غوښتنه بهانه کوله او دا چې نور د هغې د ښکاره دښمنۍ او ځاني پرېکړو په وړاندې صبر نه شي کولی. قطز په دې منځ کې له چوپتیا پرته بله چاره نه لرله؛ خو کله چې د ملک ناصر سره د شجرةالدر له لیکونو خبر شو، د خپل بادار عذر ورته قوي ښکاره شو او په پټه یې د هغه ملاتړ پیل کړ، که څه هم په ښکاره یې د ملکې دوستي د هغې د پخوانۍ نېکۍ له امله پاللہ.

شجرةالدر خبره شوه چې ملک معز هوډ لري هغه له قلعه جبل څخه «دارالوزارت» ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکښته کړي او په دې کار کې جدي دی. نو هغې پرېکړه وکړه چې په چل او فریب سره، مخکې له دې چې هر څه یې له کنټروله ووځي، پر هغه سبقت وکړي. نو هغه ته یې یو کس واستاوه چې قسم یې یاداوه چې ملکه پر خپل پخواني چلند پښېمانه ده او له هغه سره روغې ته لېواله ده؛ او دا چې د هغه د زوی د مور د طلاق شرط یې یوازې د مېړه په وړاندې د غیرت او مینې له امله ایښی و. اوس هغه پوه شوې چې په خپلو غوښتنو کې یې زیاتی کړی او غواړي دا تېروتنه سمه کړي او مېړه بېرته ځان ته رانږدې کړي.

د ملک معز زړه پر هغې وسوځېد تر دې چې ویې ژړل او د پخوانیو ورځو مینه پرې غالبه شوه؛ هو، د ملکې مینه لا هم د هغه په زړه کې ژوندۍ وه. ډېر وخت نه وه تېر شوی چې هغه په دې نرمې ګیلې سره خوشاله شو او کله چې یې د رضایت او روغې پیغام ورواستاوه، نور یې صبر ونشو کړ او قاصد ته یې وویل چې هغه به ورسره روغه وکړي او دا شپه به هماغلته ورسره تېره کړي.
شجرةالدر خپل قاصد ته سپارښتنه کړې وه چې دا پیغام د نائب‌السلطنه (قطز) په وړاندې ونه وایي، خو قطز په دې موضوع خبر شو او خپل بادار یې په کلا کې له شپې تېرولو او د ملکې له مکر او فریب څخه وویراوه؛ هغه ورته ټینګار وکړ چې ملکه بد نیت لري، خو بادار یې د هغه خبرو ته پام ونه کړ.

کله چې قطز ډېر ټینګار وکړ، معز پرې غوصه شو او ویې ویل: «ماته ووایه، که ما ستا او ستا د مېرمنې ګلنار د لیدنې مخنیوی کړی وی، ایا تا به زما خبرې ته غوږ نیولی وی؟»
قطز ورته وړاندیز وکړ چې هغه هم له ځان سره کلا ته یوسي، خو معز ونه منله او ویې ویل: «زما ملګریه! داسې نه شم کولی؛ څنګه ورسره روغه وکړم په داسې حال کې چې پر هغې بدګومانه واوسم (شک پرې ولرم)؟»
قطز تندی تریو کړ او له ځان سره یې وویل: «هر څه چې د خدای رضا وي، هغه به وشي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقدير پوره شو او ملک معز د شپې له خوا په حمام کې د شجرةالدر د يوې ډلې خدمتګارانو په لاس ووژل شو؛ هغوی اوازه خپره کړه چې ملک معز په ناڅاپي ډول د شپې مړ شوی دی.

په کلا کې يو چا غږ وکړ او د معز د قتل خبر يې ورکړ. د معز مملوکونه مانۍ ته ننوتل، خادمان او ښځې يې ونيولې، له هغوی يې اعتراف واخيست او شجرةالدر يې هم ونيوله او د کلا په يوه برج کې يې زنداني کړه. د ملک معز ايبک زوی، نورالدين علي چې يوازې ۱۵ کلن و، په قلعه جبل کې د سلطان په توګه اعلان شو او د «ملک منصور» لقب يې ورته وټاکه. امير سيف‌الدين قطز په خپله دنده (نائب‌السلطنه) پاتې شو او د خپل واړه پاچا د دولت چارې يې په لاس کې واخيستې.

کله چې حالات ارام شول، ملک منصور په لومړي ګام کې امر وکړ چې شجرةالدر د هغه د مور (ام علي) حضور ته بوځي. د هغې په امر، وينځو په څپليو او بوټانو سره پر هغې بريد وکړ او دومره يې ووهله چې ساه يې ورکړه. مړی يې د کلا له دېواله لاندې خندق (کنده) ته وغورځاوه او له څو ورځو وروسته خاورو ته وسپارل شوه. په دې ډول د سترې ملکې، مجاهدې او د ملک صالح د مېرمنې، ام خليل شجرةالدر ژوند پای ته ورسېد.

## ديارلسم فصل:

کله چې بيبرس او د هغه قهرجن ملګري «دمشق» ته ورسېدل، ملک ناصر د هغوی ډېر درناوی وکړ، ډېر مالونه يې ورکړل او د هغوی د مرتبې سره سم يې ورته خلعتونه (قيمتي جامې) ډالۍ کړې. وروسته له دې چې په دمشق کې مېشت شول، ناصر يې هڅاوه چې له معز سره جګړه وکړي او «مصر» ترې واخلي. ناصر به تل هغوی له دې کاره منع کول او غوښتنه يې نه منله، خو ناهيلي کول يې هم نه، تر هغه چې د ده او ملک معز ترمنځ لومړنۍ سوله وشوه؛ په دې شرط چې ملک ناصر به هيڅ کوم «بحري مملوک» ته پناه نه ورکوي. دلته و چې هغوی دمشق پرېښود او په «کرک» کې له ملک مغيث سره يوځای شول، هلته مېشت شول او هغه يې پر مصر باندې بريد ته هڅاوه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاډ یې ورکړ چې په دې برید کې به ورسره مرسته وکړي.

ملک مغیث په پیل کې زړه نا زړه و، خو د ملک معز د مړینې خبر په اورېدو زړور شو او د بېبرس سره یې د ۷۰۰ سپرو سرتېرو یو لښکر واستاوه. امیر سیف الدین قطز د هغوی سره د مقابلې لپاره لښکر چمتو کړ او دواړه لښکرې په «صالحیه» کې سره مخامخ شوې؛ د مغیث لښکر ماتې وخوړه او بېبرس بېرته کرک ته وتښتېد. په دې جګړه کې ماتې پر بېبرس ډېره درنه تمامه شوه؛ ځکه هغه هیله درلوده چې مصر ته ننوځي، هغه له معز څخه واخلي او د خپل مشر «اقطای» غچ له هغه او پلویانو یې، په ځانګړې توګه له خپل ملګري «قطز» څخه واخلي، چې قسم یې خوړلی و په خپلو لاسونو به یې وژني.

کله چې له ماتې وروسته په کرک کې ملک مغیث ته ورغی، هغه ورسره سړه مرسته وکړه؛ ځکه مغیث په دې باور و چې بېبرس دی غولولی او پر مصر برید ته یې هڅولی دی. بېبرس مناسبه وګڼله چې بېرته ملک ناصر ته ورشي، ښایي دا ځل د معز له وژل کېدو وروسته، پر مصر د برید لپاره د هغه هوډ بدل شوی وي. نو ناصر ته یې پیغام واستاوه او ترې یې د امان او سوګند غوښتنه وکړه. ملک ناصر ورته امان ورکړ او ورته یې سوګند وخوړ. بېبرس ناصر ته ورغی او ناصر د هغه ډېر عزت او درناوی وکړ.

په داسې حالاتو کې، د مغولانو خطر د چنګیز خان د دورې په پرتله اسلامي خاورې ډېري ګواښلې؛ ځکه د یوه نوي باغي، هلاکو خان په مشرۍ یو لوی لښکر راروان و. هغوی په ایران کې پر اسماعیلیانو برید وکړ، بیا یې پر «بغداد» حمله وکړه او خلیفه یې په خورا بې رحمانه ډول وواژه. هغوی په وینو تویوولو، بې پتیو، د کورونو، جامع جوماتونو او نورو جوماتونو په ورانولو پیل وکړ. د بغداد په کتابتونونو کې چې څومره کتابونه وو، ټول یې دجله سیند ته وغورځول، تر دې چې له کتابونو یې یو داسې پل جوړ کړ چې اسونه ورباندې تېرېدل. هغوی تر ۴۰ شپو او ورځو پورې ورانکارۍ ته دوام ورکړ. هلاکو امر وکړ چې د وژل شویو کسانو شمېر دې معلوم شي،نږدې دوه میلیونه کسان وو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې دردوونکې غمیزې خبر چې د مسلمانانو سترې پلازمینې ته راغلو،نو هرې خواته خپور شو او ټوله اسلامي نړۍ یې ولړزوله. خدای پاک په دې وسیله د پاچاهانو او امیرانو زړونه و ازمایل ترڅو معلومه شي چې څوک پر خپل دین ولاړ دی او د دې مشرکو ظالمانو پر وړاندې جهاد ته چمتو دی، او څوک مخ اړوي، له مړینې وېرېږي او د دنیا د تېرېدونکو مالونو او زېوراتو لپاره له دې ظالمانو سره لاس یو کوي او د خپل دین، امت او وطن پر ضد له هغوی سره مرسته کوي.

د «موصل» امیر، بدرالدین لؤلؤ له مغولانو ووېرېد او په «اربل» کې یې د خپلو مجاهدو ورونو پر ضد له هغوی سره مرسته وکړه. او د دمشق امیر ملک ناصر، چې د صلیبیانو د ماتونکي زوی و، د خپل زوی ملک عزیز په لاس هلاکو ته ډالۍ ولېږلې ترڅو د مصر په نیولو او له مملوکونو څخه د هغه په ایستلو کې ورسره همکاري وکړي. خو په «مصر» کې – هغه ځای چې په «فارسکور» کې یې د اسلام ساتنه کړې وه، صلیبیانو ته یې ماتې ورکړې وه او نهم لویي یې د ابن لقمان په کور کې زنداني کړی و او په سپکاوي یې بېرته خپلې خاورې ته لېږلی و – یو داسې سړی و چې ګواکې د اسمان جبار (خدای) هغه د ځمکې د جبار (هلاکو) د ځپلو لپاره چمتو کړی و! د مغولانو پر وړاندې له جهاد کولو څخه د ګلنار له مېړه (قطز) پرته بل څوک وړ و؟ هغه څوک چې ټول غم یې دا و چې ژوندی پاتې شي او د خپلې معززې کورنۍ غچ له هغوی واخلي – چې دا یې حق و – او د اسلام غچ هم ترې واخلي – چې دا د ده د دین او ملت حق و

د «مصر» نایب السلطنه (قطز) ته چې کله په «بغداد» کې د مغولانو د بوړنوونکو جنایتونو او د نورو اسلامي خاورو د پرځولو لپاره د هلاکو د یرغل خبر ورسېد، احساسات یې راوپارېدل. هغه ته د خپل ماما جلال الدین او نیکه خوارزمشاه یادونه تازه شول او د هغه وخت جهاد یې وریاد شو چې څنګه د تر ټولو ستر ظالم، چنګیز خان پر وړاندې ودرېدل، خو په پای کې یې سلطنت له منځه لاړ، کورنۍ یې ټوک ټوک او خوره وره شوه او داستانونه یې د خلکو په خولو کې پاتې شول. هغه یقین وکړ چې اوس د ده د هغه لوی رول لوبولو وخت رارسېدلی چې د خوارزمشاه لمسی باید د چنګیز له لمسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه غچ واخلي او د رسول الله ﷺ هغه خوب رښتيا کېدونکی دی. ايا نن دی د مصر حاکم، د دولت مدبر او د چارو واکدار نه دی؟ که څه هم کوچنی سلطان (منصور) يوازې د نوم پاچا و.

د مغولانو وېره له عراق، ديار بکر او شام څخه مصر ته د راغلو کډوالو په ډېرېدو سره په خلکو کې خپره شوه. کډوالو به داسې وحشي کيسې کولې چې په اورېدو يې د انسان بدن لړزېده، احساسات به يي مړه شول، غوږونه به سره شول او زړونه به يې ولويدل.

مصريانو مطمين وه چې د دوی نوبت هم رارسېدونکی دی. په خلکو کې دا اوازه ګډه شوې وه چې مغول ماتې نه منونکي دي، هيڅ لښکر ورته نشي درېدلی او هيڅ کلا يې مخه نشي نيولی. وېره دومره خپره شوه چې ځينو خلکو پرېکړه وکړه له مصره حجاز يا يمن ته هجرت وکړي او خپل جايدادونه يي په خورا ټيټه بيه پلورلو ته وړاندې کړل.

نايب السلطنه (قطز) بايد د خلکو د ډاډمنولو لپاره ډېره هڅه کړې واې؛ هغه بايد خلکو ته دا ور فهمولې واې چې مغول هم د دوی په څېر انسانان دي، بلکې مسلمانان د هغه اسلام په برکت چې الله ورکړی، له دغو بت پرستو ډېر پياوړي دي او بايد د خدای او دين په لاره کې سرښندنه وکړي.

په دې ورځو کې امير سيف الدين قطز په پټه د شيخ الاسلام ابن عبدالسلام کور ته تګ راتګ کاوه او په مهمو مسايلو کې يې ورسره مشورې کولې. کله چې شيخ ترې د مغولانو سره د جګړې د چمتووالي پوښتنه وکړه، قطز ډېرې ستونزې بيان کړې؛ لکه د واړه پاچا شتون او د پاچا په شاوخوا کې هغه کسان او د هغه مور چې د ده او قطز ترمنځ يې اړيکې خرابولې او پاچا يې هڅاوه چې د قطز له پرېکړو سره مخالفت وکړي. ملک منصور هم بې لارې شوی و، د هېواد د چارو پر ځای به يې د جنګي چرګانو په ساتلو ځان مشغولاوه. مور يې په هر څه کې لاسوهنه کوله، حالات ګډوډ شوي وو او خلک ترې پوزې ته راغلي وو. له همدې امله ابن عبدالسلام قطز وهڅاوه چې پاچا له واکه لرې کړي او په خپله سلطنت په لاس کې واخلي؛ بلکې دا کار يې پر ده واجب وګاڼه، ځکه په داسې وخت کې چې د مغولانو بريد ته چمتووالی پکار و، له قطز پرته بل هيڅوک د مسلمانانو د يووالي وړ نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قطز د خپل استاد او ولي نعمت (معز) د زوی د لرې کولو توان درلود، خو په دې کار کې ډېر زړه نا زړه و. هغه غوښتل چې د منصور په شتون کې کار مخته یوسي، خو په داسې حساس وخت کې چې چټکو پرېکړو او یووالي ته اړتیا وه، دا کار ناممکن و. هغه باید د خپل وفات شوي استاد ته د وفادارۍ او د "تلپاتې مصر" ترمنځ یو انتخاب کړی وای. په لومړي حالت کې د مصر امنیت او سلطنت د مغولانو له خوا له خطر سره مخ کېده، او په دویم حالت کې د مصر او نورو اسلامي خاورو د ژغورنې هیله وه. نو یې هوډ وکړ چې منصور له واکه لرې کړي.

په دغو حالاتو کې، د دمشق امیر ملک ناصر کله چې له هلاکو څخه ناهیلی شو، د مصر سلطان ملک منصور ته یې دوه قاصدان واستول ترڅو د مغولانو د برید مخنیوي لپاره د مصري لښکرو مرسته وغواړي؛ ځکه هلاکو ورته لیک لېږلی و چې تسلیم شي. قطز دا فرصت غنیمت وګاڼه او د «جبل» په کلا کې یې د ملک منصور په حضور کې یوه غونډه راوبلله چې د ملک ناصر سفیر هم پکې و. هغوی د مغولانو پر خطر، د جهاد پر فرضیت او د اسلام د مشال پر ساتنې خبرې وکړې. برخه والو په ښکاره د سلطان کمزوري او د داسې سختو حالاتو لپاره د هغه ناتواني ولیده او پوه شول چې یو قوي او هوښیار سلطان ته اړتیا ده چې چارې په لاس کې واخلي ترڅو په خلکو کې اختلاف پیدا نشي.

شیخ ابن عبدالسلام هم په دې مجلس کې و. هغه بې له کومې وېرې خپله رایه څرګنده کړه او وړاندیز یې وکړ چې امیر سیف الدین قطز دې د خپل لیاقت او توان له امله واک په لاس کې واخلي ترڅو مسلمانان متحد شي. حاضرین د شیخ په زړورتیا او صراحت حیران شول؛ ملګري یې ووېرېدل چې هسې نه د سلطان یا هغو امیرانو له خوا چې د قطز مشري نه مني، شیخ ته زیان ورسېږي. مجلس ګډوډ شو؛ معزي او صالحي مملوکونو دا وړاندیز په ښکاره رد کړ او دا یې د ملک منصور پر حق تېری وباله. په دې مخالفانو کې امیر علم الدین سنجر غتمي او سیف الدین بهادر تر ټولو سخت وو.

نږدې وه چې په مجلس کې نښته وشي، خو امیر قطز منځګړیتوب وکړ او خلک په داسې حال کې له مجلسه ووتل چې په خپلو کې یې د پېښې په اړه بحثونه کول. ځینې د قطز

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلوي وو چې اکثریت ولس و، او ځینې د ملک منصور پلوي وو چې ډېری یې امیران وو.

قطز ووېرېد چې امیران به شیخ ابن عبدالسلام ته زیان ورسوي، نو ځینې پیاوړي کسان یې وټاکل ترڅو هغه تر کوره ورسوي او له هغه وروسته به هر ځای له هغه سره ملګري وو

امیر (قطز) د امیرانو له خوا د ښکار لپاره د وتلو فرصت غنیمت وګانه؛ منصور، د هغه ورور قاقان او د دوی مور یې ونیول او د «جبل» کلا په یو برج کې یې بندیان کړل. بیا یې ځان د «مصر» سلطان اعلان کړ، پر تخت کېناست او د «ملک مظفر» لقب یې ځان ته غوره کړ. کله چې امیران له ښکاره راستانه شول او د نایب السلطنه له دې کاره خبر شول، جبل کلا ته ورغلل او د منصور پر لیرې کولو او د قطز پر پاچاهۍ یې اعتراض وکړ. نوي سلطان د هغوی تود هرکلی وکړ، په نرمۍ یې ورسره خبرې وکړې او د مغولانو د لښکر د راخوځېدو خطر او له هغوی سره د دمشق د امیر (ناصر) د یوځای کېدو وېره یې د عذر په توګه وړاندې کړه. هغه ورته وویل: «زما یوازنی هدف د مغولانو په وړاندې د جګړې لپاره یووالی دی او دا کار له یو قوي پاچا پرته ممکن نه دی. کله چې موږ دا دښمن ته ماتې ورکړه، زه به ټول واک بېرته تاسو ته وسپارم چې هر څوک غواړئ سلطان یې کړئ. که په تاسو کې داسې څوک وي چې ځان له ما څخه د مغولانو په جګړه کې پیاوړی بولي، مخته دې شي چې زما ځای ونیسي او ما له دې دروند مسؤلیت څخه خلاص کړي او د خدای په وړاندې د اسلامي خاورو د ساتنې مسؤلیت پر غاړه واخلي.»

ټول امیران غلي شول او یو بل ته یې کتل، بیا له هغه ځایه ووتل. مصر ته خبر ورسېد کله چې د ملک ناصر غوښتنې ته د مصر د پاچا ځواب وځنډېد، هغه بیا له مغولانو سره پر مصر د برید لپاره خبرې پیل کړې دي. دا خبر پر ملک مظفر ډېر درونډ تمام شو؛ د شام سفیر یې راوغوښت او ورته یې وویل: «ایا له خپل امیر څخه شرم نه کوې چې یو ځل د اسلام د دښمن پر وړاندې له موږ مرسته غواړي او بیا زموږ پر ضد له هماغه دښمنه مرسته غواړي؟! که له اسلامه برخمن نه دی، نو مروت او مېړانه یې چېرته ده؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفیر د ملک مظفر غوسه سرہ کړه او ویې ویل: «ښایي د خوب د ځنډېدو له امله وېرېدلي وي چې تاسو به یې پر ضد شئ.»
ملک مظفر په داسې حال کې چې له غوسې سور او.سپین کیدلو ، ورته یې وویل:
«فرض کړئ چې موږ د پخوانیو اختلافاتو له امله د هغه پر ضد یو، ایا هغه د خپل ځان او دین لپاره دا خوښوي چې زموږ او د اسلام له دښمنانو سره لاس یو کړي او زموږ پر هېواد د برید او د دین د تباهۍ لاره برابره کړي؟ په خدای قسم! که له دې خیانته لاس وانخلي، زه به ورشم او تر مغولانو مخکې به هغه له منځه یوسم.»
په دې وخت کې بېبرس په «غزه» کې و. کله چې خبر شو چې زاړه دښمن یې ملک منصور نیولی او ځان یې د مصر پاچا اعلان کړی، نو له خپل زاړه دښمن او پخواني ملګري (قطز) سره یې د روغې جوړې فکر وکړ. هغه ته یې پیغام واستاوه، د هغه سلطنت یې په رسمیت وپېژانده او د خپلې جلاوطنۍ، ذلت، لوږې او آوارګۍ رنځونه یې ورته بیان کړل. هغه د پخوانۍ ملګرۍ په حق ورته وویل چې له تېروتنو یې تېر شي، خدمت یې ومني او اجازه ورکړي چې مصر ته راستون شي ترڅو د مغولانو په جګړه کې د هغه ملاتړی شي.
کله چې ملک مظفر د هغه لیک ولوست، زړه یې نرم شو، ویې ژړل او ویې ویل: «د خدای شکر دی چې زما زوړ ملګری بېرته راغی.» هغه ورته د مینې او محبت ډک ځواب ولېږه، مصر ته یې راوباله او د نېکو چارو ژمنه یې ورسره وکړه.
بېبرس غزه پرېښوده او له خپلو ملګرو سره مصر ته راستون شو. کله چې قاهرې ته نږدې شو، ملک مظفر ورته هرکلي ته ورغی، غېږ یې ورکړه او په ډېر درنښت یې «دار الوزارة» کې مېشت کړ او د «قلیوب» سیمه او اړوند ځایونه یې ورته په واک کې ورکړل. له هغه وروسته ملک مظفر بېبرس ځان ته ډېر نږدې کړ، مشورې یې ورسره کولې او د هغه د افکارو له وېرې یې د هغه په درناوي کې ډېر مبالغه کوله. بېبرس نه وه هېر کړې چې د «اقطای» تر ټولو لوی ملاتړی (بېبرس) د ده په زړه کې څومره کینه لري، نو هڅه یې کوله چې دا کینه یې له زړه وباسي ترڅو د اسلام له دښمنانو سره په جګړه کې د بېبرس له زړورتیا کار واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملک مظفر ځینو نږدې کسانو څو ځله ورته وړاندیز وکړ چې بېبرس ونیسي ترڅو د خطر په وخت کې د شا له خوا ډاډه وي، خو قطز ورسره مخالفت وکړ او ویې ویل: «ما او زما ملګرې بېبرس په خپل حال پرېږدئ، زه نشم کولی مسلمانان د هغه له زړورتیا او ځواک څخه بې برخې کړم.»

بېبرس د خپلې استوګنې په پیل کې د ملک مظفر سره اخلاص ښوده او د همکارۍ اعلان یې کاوه، خو ډېر وخت تېر نه شو چې د مظفر ټول احسانات یې هېر کړل. کله چې یې له «صالحي مملوکونو» سره ناستې پاستې ډېرې شوې (هغه کسان چې باور یې درلود د اقتاې له وژل کېدو وروسته واک د دوی له لاسه وتلی او معزي مملوکونه ورباندې برلاسي شوي)، هغوی بېبرس د مظفر پر ضد راوپاراوه. د هغه کینه یې ورته په زړه کې واچوله، د پخواني سلطان د حق بېرته اخیستل یې ورته ښه وښودل او د خپل مشر «فارس الدین اقطاې» د غچ اخیستلو خبرې یې ورته وکړې. دا خبرې د بېبرس له دننۍ غوښتنې سره سمې وې، خو له هغوی یې وغوښتل چې دا موضوع پټه وساتي او یو مناسب فرصت ته په تمه شي ترڅو په مکر او چل سره ملک مظفر ونیسي او بېبرس یې پر ځاې کښېني.

په هغه وخت کې، ملک مظفر (قطز) د مصري لښکر د پیاوړتیا، د لښکر د پراخولو، په وسلو او جنګي وسایلو د هغوی سمبالولو او د لښکر د لګښتونو لپاره د کافي زیرمو او خوراک په برابرولو بوخت و. څرنګه چې د بیت المال شتمني د دې کار لپاره کافي نه وه، نو د هغه ذهن ته دا خبره ورغله چې د اړتیا وړ پیسو د ټولولو لپاره پر ولس او د هغوی پر جایدادونو مالیات ولګوي. هغه د عالمانو، قاضیانو، امیرانو، وزیرانو او شتمنو یوه غونډه جوړه کړه چې په سر کې یې شیخ عزالدین بن عبدالسلام و. ملک مظفر له عالمانو فتوا وغوښته چې ایا پر ولس باندې د مالیاتو لګول د دې لپاره چې پر لښکر مصرف شي، روا دي که نه؟ عالمان د فتوا ورکولو څخه ووېرېدل؛ ځکه له یوې خوا یې وېره لرله چې که اجازه ورکړي، د عامو خلکو غوسه به راوپاروي او له بلې خوا وېرېدل چې که اجازه ورنکړي، سلطان به ترې خفه او غوسه شي. هغوی په شک کې وو تر هغه چې شیخ ابن عبدالسلام خپله فتوا اعلان کړه او نورو عالمانو سکوت غوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ؛ په دې توګه غونډه پای ته ورسېده.

دا فتوا د امیرانو د مالونو او جایدادونو پر اخیستلو کې خورا ځرګنده وه؛ تر دې بریده چې هغوی باید په جامو او د ژوند په لګښتونو کې له عامو خلکو سره یو برابر شي، او په داسې حالت کې بیا د عامو خلکو د مالونو اخیستل جایز ګرځي. خو د دې کار (د امیرانو د شتمنۍ اخیستلو) څخه مخکې دا ډول فتوا جایز نه ده. ملک مظفر په دې کار کې حیران پاتې شو؛ ځکه که د عامو خلکو د مالونو اخیستل ورته اسانه وو، د امیرانو د مالونو اخیستل بې له شخړې او ګډوډۍ اسانه کار نه و، او دې کار په خپل وار سره په هېواد کې د داسې فتنې اور بلولی شو چې مړه کول یې خورا ګران وو. نو یې یو تن شیخ ابن عبدالسلام ته ورواستاوه او هغه ستونزې یې ورته بیان کړې چې د امیرانو د شتمنۍ په اخیستلو کې پیدا کېدای شي. هغه په نرمۍ او مدارا هڅه وکړه چې له شیخ څخه د عامو خلکو د مالونو د اخیستلو جواز واخلي، خو ابن عبدالسلام راضي نه شو او ورته یې وویل: «زه د کوم پاچا یا سلطان د نظر په خاطر له خپلې فتوا نه تېرېږم.» هغه سلطان ته هغه لوظ ور په یاد کړ چې د عدالت او د مسلمانانو د مصلحت په اړه یې کړی و، او په دومره توندۍ یې ورسره خبرې وکړې چې ناست کسان ډاډه شول چې سلطان به یې اوس بندي کړي.

په دې وخت کې د ملک مظفر په سترګو کې اوښکې راغلې، د ابن عبدالسلام خوا ته ورغی، سر یې ورته ښکل کړ او ویې ویل: «الله دې زموږ او د مصر له خوا تاته نېک بدله درکړي؛ په رښتیا چې اسلام په داسې یو عالم ویاړي چې د حق کلمې په ویلو کې د هیڅ ملامتګر له ملامتیا نه ویرېږي.»

ملک مظفر یو تن امیر بیبرس ته ورواستاوه او په دې اړه یې ورسره مشوره وکړه. بیبرس په پیل کې هغه د دې کار له بدو پایلو ووېراوه او ټینګار یې وکړ چې د امیرانو له نافرمانۍ سره به مخ شي. د بیبرس هدف دا و چې ملک مظفر د ابن عبدالسلام د فتوا نقض کولو ته مجبور کړي، ترڅو شیخ د خپل دین په خاطر غوسه شي او خلک د مظفر پر ضد راوپاروي.

خو کله چې پوه شو مظفر د خپلې فتوا پر سر د شیخ له ټینګار څخه خوښ دی او د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاینه یې کړې، نو بېرته مظفر ته ورغی او ویې ویل: «زه له خپل لومړي نظر څخه تېرېږم او اوس مې عقیده دا ده چې باید د شیخ ابن عبدالسلام پر فتوا عمل وکړې؛ زه به لومړی کس یم چې خپل جایدادونه بیت المال ته سپارم.»
بېبرس په دې کار سره غوښتل امیران د ملک مظفر پر ضد ولمسوي ترڅو هغه له واکه لرې کړي او بېبرس د هغه ځایناستی کړي. هغه له امیرانو سره په پټه وکتل، هغوی یې دې کار ته وهڅول او ورته یې وویل چې مظفر ستاسو ټول مالونه اخلي او تاسو له عامو خلکو سره یو برابر کوي، چې دا ستاسو شرافت او حقوقو ته زیان رسوي.
امیران هغې ورځې ته چمتو شول چې مظفر ورڅخه د جایدادونو د سپارلو غوښتنه وکړي. هغوی ډېر وخت په دې فکر وکړ چې د فتوا د پلي کېدو پر مهال له هغه سره څنګه مخامخ شي. هغوی باوري وو چې قطز به ورسره په سختۍ چلند وکړي، نو ځان یې مقابلې ته چمتو کړ، که څه هم د هغه په وژلو تمامه شي.
دا خبر د مظفر غوږونو ته ورسېد. هغه امیر بېبرس راوغوښت، ورسره یوازې شو او ویې ویل: «بېبرسه! د خپل دین او وطن په اړه له خدایه ووېرېږه. موږ په داسې حالت کې نه یو چې پر سلطنت سره سیالي وکړو؛ موږ د خپل امت او ملت په وړاندې لوی مسؤلیتونه لرو. ته ګورې چې دا وحشي مغول څنګه پر شام ورغلل او اوس زموږ په لور راروان دي. که موږ د هغوی د پرمختګ مخه ونه نیسو، زموږ برخلیک به هم د بغداد په څېر وي. د خدای په لاره کې جهاد پر موږ فرض عین دی؛ نو راځئ لاسونه سره ورکړو ترڅو تمه، هوس، بدګویي او دښمني زموږ ترمنځ تفرقه او جلاوالی رانه ولي.

بېبرس هڅه وکړه چې ځان له دې تورونو سپین کړي، خو سلطان ورته مخکې شو او ویې ویل: «بېبرسه! په خپلو خبرو دا تورونه مه ردوه، بلکې په عمل یې ثابت کړه. پوه شه که ما غوښتل چې تا ووژنم، دا کار ماته د اوبو څښلو په څېر اسان و، خو افسوس کوم چې ستا په څېر مېړه دې د خدای له لارې پرته په بل څه کې ووژل شي. غواړم ته د هغې ورځې لپاره وساتم چې له دښمن سره مخامخ کېږو، ترڅو په هغه ورځ قهرماني او بریا ستا په برخه وي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېبرس په داسې حال کې چې غوسه يې په مخ کې څرګنده وه، وويل: «ای سيف الدين! ايا ما ګواښې؟ په خدای قسم! زما پيروان ډېر پياوړي او شمېر يې هم زيات دی.»

سلطان وويل: «په خدای قسم! زه ستا د کسانو او پيروانو شمېر ته هيڅ اهميت نه ورکوم؛ که دا دره (وادي) ستا له ملګرو ډکه هم وي، له خدايه غواړم چې ما پر تا برلاسی کړي او ستا شر له ما لرې کړي، که څه هم زه يوازې يم. ځکه ماته الله کافي دی، زما قوت له هغه دی او هغه غوره ضمانت کوونکی دی.»

بېبرس د څه وخت لپاره غلی شو. سلطان دوام ورکړ: «ته ماته راغلې، د خدای دې پراخې ځمکې ته وشړلې او د خپل ټول وسعت سره سره دربانديې تنګ شوه. د مرستې لپاره دې لاس را اوږد کړ او ما درسره مرسته وکړه چې په خپلو پښو ودرېږې، ستا عذر مې ومنلو، ځان ته مې نږدې کړې او خپل تر ټولو نږدې ملګری مې وګرځولې چې بې ستا له مشورې هيڅ کار نه کوم؛ د دې خاورې مالونه مې درکړل چې خدمت يې وکړې، اوس ووايه چې له ما نور څه غواړې چې در يې کړم؟»

بېبرس سر پورته کړ او په داسې حال کې چې غوسه يې سړه شوې وه، ويې ويل: «زه ستا پدې نيک ګمانۍ شکي يم چې زما په اړه يې لرې.»

* «دا ته وې چې زما نظر دې بدل کړ، خو که ته د خپل دين او امت په وړاندې خپلې دندې ترسره کړې، زه تيار يم چې بيا در باندې نېک ګمانه شم.»

* «څه وکړم چې ستا بدګماني له منځه لاړه شي؟»

* «لاس راکړه او لوظ راسره وکړه چې د خپلو هغو توطيه ګرو پلويانو په وړاندې به له ما سره يې، کومو چې تر خپلې وسې د امت په ښتمنيو ځانونه ماړه کړل او اوس چې د امت امنيت او سلامتيا په خطر کې ده، د لږو پيسو ورکولو ته هم تيار نه دي.»

* «په خپل شرافت او دين درسره لوظ کوم چې د اسلام د دښمنانو (مغولانو) په وړاندې به تر هغې ستا تر څنګ جنګېږم چې بريا در په برخه شي او يا ستا په دفاع کې ووژل شم. خو د هغو اميرانو په اړه چې تا ياد کړل، زه نه ستا سره يم او نه د هغوی سره؛ نه ستا پر ضد د هغوی مرسته کوم او نه د هغوی پر ضد ستا.»

سلطان لاس ورکړ او په داسې حال کې چې روغبړ يې ورسره کاوه، ويې ويل: «همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د مغولانو په جګړه کې زما سره یې او د امیرانو په موضوع کې بې طرفه پاتې کېږې، ماته بس ده.»
بیا یې ترې وغوښتل چې قسم وخوري او بېبرس هم قسم وخوړ.
ملک مظفر هغه شپه تر سهاره ویده نه شو؛ په دې فکر کې و چې څنګه امیران مجبور کړي چې خپل سره او سپینه زر (سره زر او نقره) بیت المال ته وسپاري. بل سهار یې خپل وزیر یعقوب بن رفیع راوغوښت، ډېره شېبه یې ورسره مشوره وکړه او په پای کې پر یوې پرېکړې سره یوه خوله شول.
هغه د مملوک امیرانو ته بلنه ورکړه چې د کلا مجلس ته راشي. کله چې ټول راټول شول، مظفر ورغی او ټولو ته یې ښه راغلاست ووایه. بیا یې هغه موضوع یاده کړه چې له امله یې هغوی راغوښتي وو؛ د هغه د خبرو یوه برخه داسې وه:
«امیرانو! سرتېري د دولت داسې کسان دي چې د مریانو له بازاره دلته راغلي او هیڅ یې نه لرل. د دې ملت له مال او شتمنۍ نه شتمن شول او خزانې یې له سرو او سپینو زرو ډکې شوې؛ تر دې چې ستاسو په منځ کې داسې کسان شته چې د خپلې لور په جهېز کې یې جواهرات او مرغلرې ورکړې دي او د بیت الخلا لوښي یې هم له سپینو زرو دي. ځینې نور بیا د خپلې مېرمنې بوټونه په ډول ډول قیمتي ډبرو سینګاروي. حال دا چې ملت پر دې هر څه صبر کړی او له تاسو راضي دی؛ ځکه تاسو د هغوی د خاورې دفاع کوئ او هغوی ته مو امنیت او هوساینه برابره کړې ده. مګر اوس دښمن د ملت مخې ته ولاړ دی ترڅو د هغوی دین، شرف، ناموس او شتمني لوټ کړي. د بیت المال شتمني د لښکر د سمبالولو لپاره بسنه نه کوي. موږ مجبور یو چې د امت له شتمنۍ مرسته واخلو، مګر شریعت دا کار تر هغې نه روا کوي ترڅو چې موږ (امیران) هغه شتمنۍ چې له همدې امته مو ترلاسه کړې دي، بیت المال ته ونه سپارو. موږ باید د سرو زرو، سپینو زرو او جواهراتو هغه خزانې چې زموږ له اړتیا زیاتې دي، بېرته بیت المال ته ورکړو. که هغه بس نه وې، بیا به یې د عامو خلکو له مالونو واخلو. ما تاسو دلته د دې لپاره راغوښتي یئ چې لومړی پر ځان او تاسو، او بیا پر امت باندې د شریعت د حکم په پلې کولو کې راسره مرسته وکړئ، ترڅو د خدای په وړاندې له خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ظلمونو خلاص شو او په داسې حال کې جهاد ته لاړ شو چې الله له موږ راضي وي او موږ له هغه، ترڅو مو پر دښمن بريالي کړي او د جګړې په ورځ مو قدمونه ثابت وساتي.»

اميران پوهېدل چې ملک مظفر (قطز) هغوی ولې غوښتي دي. هغوی ټول واک بېبرس ته وسپاره چې د دوی په استازيتوب خبرې وکړي، خو بېبرس د خبرو د ناتوانۍ او کمزوري استدلال پلمه وکړه او ورته يې وويل: «ملک مظفر ډېره روانه او فصيحه ژبه لري، نو په خپلو منځونو کې داسې څوک غوره کړئ چې دليل يې له ما پياوړی وي او زه به ستاسو له پرېکړې مخالفت نه کوم.»

هغوی د هغه عذر ومانه او د خبرو لپاره يې بل څوک وټاکه. کله چې د ملک مظفر خبرې پای ته ورسېدې، د اميرانو په استازيتوب يو تن وويل:

* «زما باداره! ايا ته غواړې چې زموږ شتمنۍ او مالونه رانه واخلې؟»

سلطان ځواب ورکړ: «نه، بلکې غواړم ستاسو له اړتياوو هغه زياته شتمني واخلم چې تاسو د امت له مال څخه اخيستې ده.»

* «ايا ته غواړې ووايې چې دا زموږ مال نه دی؟»

* «هو، دا مال ستاسو نه دی، بلکې د امت دی. که داسې نه وي، نو ووايast چې له کومه مو کړی؟ ايا له پلرونو درته په ميراث پاتې دی؟ که مو په تجارت او کومه بله شرعي لاره ترلاسه کړی؟»

* «زما باداره! دا پر تا حرام دي! ايا غواړې موږ له لوږې مړه شو او يوازې ته د مصر سلطان پاتې شې او ميدان درته خالي شي؟»

سلطان وويل: «تاسو به هيڅکله له لوږې مړه نه شئ؛ ځکه تاسو د امت سرتېري يئ او ستاسو لګښتونه د هېواد له شتمنۍ پوره کېږي. او دا دی ستاسو سلطان (ځان ته يې اشاره وکړه) ستاسو، ستاسو د اولادونو او کورنيو د ژوند د هغو لګښتونو ذمه واري پر غاړه اخلي چې ستاسو شرافت او عزت پکې خوندي وي او دا به له بيت المال څخه ورکول کېږي. زه لومړی کس يم چې خپله سره او سپينه زر بيت المال ته وړاندې کوم. دا دی ستاسو د سلطان د کور وسايل او زيورات (هغه صندوق ته يې اشاره وکړه چې مخې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې اېښې و) چې ما بيت المال ته وسپارل او زما برخه ستاسو له هيڅ زياته نه ده. خو د دې خبرې په اړه چې ميدان راته خالي شي، بايد ووايم چې په خدای قسم! تاسو زما قوت او وزرونه يئ؛ يو سلطان به بې له وسايلو او ځواک څنګه ژوند کوي؟»

وياند غلی شو او ځواب يې نه درلود. نورو اميرانو په غوسه ورته کتل او ويل يې:

«خبرې وکړه، زر شه!»

هغه وويل: «په خدای قسم نه پوهېږم څه ورته ووايم. بيبرس زه په دې بلا کې ګير کړم او خپله ترې روغ رمټ ووت.»

هغوی د بيبرس پسې وګرځېدل، خو هغه په منځ کې نه و. سلطان ته يې وويل: «موږ ته مهلت راکړه چې پر دې موضوع په خپلو منځونو کې مشوره وکړو.»

سلطان ځواب ورکړ: «زه يوازې همدغه نن ورځ مهلت درکوم؛ نو همدا اوس مشوره وکړئ او تر هغې چې پرېکړه مو نه وي کړې، له دې ځايه نشئ وتلی.»

بيبرس تر هر چا مخکې کلا ته تللی و او له ملک مظفر سره يې هوکړه کړې وه چې هغه به د هغې دروازې تر شا کښېني چې سلطان ترې راځي، ترڅو د هغوی خبرې واوري. د سلطان يو شمېر ساتونکو د دې دروازې ساتنه کوله. اميرانو وويل: «موږ بيبرس غواړو چې د هغه نظر هم معلوم کړو.»

سلطان ورته وويل: «بيبرس زما له غوښتنې سره موافق دی او پر دې يې قسم خوړلی دی. هغه همدا اوس د دې دروازې تر شا دی او ستاسو خبرې اوري.»

ټولو چيغه کړه: «بيبرس موږ وپلورلو!» او د هغه د راننوتلو غوښتنه يې وکړه. سلطان هغه راوغوښت، بيبرس تالار ته راننوت. هغوی په سرو سترګو ورته کتل او ورپسې يې چيغې کړې: «بيبرسه! تا موږ پر سلطان وپلورلو!»

بيبرس ځواب ورکړ: «هيڅکله نه! په خدای قسم ما تاسو پر سلطان نه يئ پلورلي، زه ستاسو مسؤل نه يم. تاسو په خپلو چارو ښه پوهېږئ. ما يوازې له سلطان سره عهد کړی چې د مغولانو پر ضد به ورسره جنګېږم او دا لوظ مې ورسره کړی چې نه به ستاسو پر ضد د هغه مرسته کوم او نه د هغه پر ضد ستاسو. دا عهد يوازې پر ما پورې اړه لري. خو تاسو ازاد يئ، هر څه چې مو زړه غواړي هغه وکړئ!»

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی ټولو په یو غږ چیغه کړه: «موږ د سلطان خبره نه منو، خپل مالونه او جایدادونه هغه ته نه سپارو!» بیا یې د تالار دروازو ته وکتل چې پر مخ یې تړل شوې وې. ټول په خپلو ځایونو کښېناستل. په دې وخت کې سلطان له خپل ځای څخه پاڅېد او ورته یې وویل: «تاسو ته یو ساعت وخت درکوم چې مخکې له دې چې د خلکو مالونه په زور درڅخه واخلم، په خپله خوښه یې وسپارئ!» بیا یې د خپل ملګري ببېرس لاس ونیو او د سلطان له ځانګړې لارې له تالاره ووتل.

ملک مظفر له مخکې څخه د خپلو باوري او پیاوړو کسانو یوه ډله چمتو کړې وه چې د امیرانو کورونو ته ورننوځي، خزانې یې ماتې کړي او سره زر، سپین زر او جواهرات ترې راوړي. هرې ډلې ته یې یو کور وښود او امر یې ورته وکړ چې زما اشارې ته په تمه اوسئ. کله چې یو ساعت تېر شو او هغوی په خپلو منځونو کې هیڅ پرېکړې ته ونه رسېدل، سلطان خپلو سرتېرو ته اشاره وکړه او هغوی خپل ماموریت پیل کړ.

په همدې وخت کې، سلطان ناڅاپه پر امیرانو راننوت او ورته یې وویل: «خپلو کورونو ته لاړ شئ؛ الله پر تاسو خپله پرېکړه پلي کړه (یعنې مالونه مو واخیستل شول).»

کله چې امیرانو د تالار یوه دروازه خلاصه ولیده، په ډېره غوسه له هغه ځایه ووتل، خو د باندې د سلطان له سرتېرو سره مخ شول چې د دروازې تر شا ولاړ وو. سرتېرو د امیرانو مشران ونیول او نور یې پر خپل حال پرېښودل. سلطان هغه مالونه حساب کړل چې د امیرانو له کورونو ترلاسه شوي وو، خو بیا هم د لښکر د بشپړ سمبالښت لپاره کافي نه وو. دلته یې امر وکړ چې د امیرانو نور جایدادونه دې هم وپېژندل شي او زکات دې ترې واخیستل شي. همدارنګه یې امر وکړ چې د کرایي ځمکو او املاکو د دوو میاشتو مخکېنۍ پیسې (پیش پرداخت) دې واخیستل شي او د مصر هر هغه اوسېدونکی چې وس لري، باید یو دینار ورکړي. له دې لارې شاوخوا شپږ سوه زره دیناره په بیت المال کې راټول شول.

کله چې ملک مظفر له دې کاره فارغ شو، خپل وزیر یعقوب بن عبدالرضیع او خپل اتابک اقتای مستعرب ته یې د لښکر د سمبالولو، وسلو اخیستلو او جنګي وسایلو د برابرولو مسؤلیت وسپاره. ورته یې امر وکړ چې د پیاوړو مصري ځوانانو، عربو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښتې د اوسېدونکو (بدووانو) په جذبولو سره د سرتېرو شمېر زيات کړي او په دې لاره کې دې شتمني په سخاوت مصرف کړي. ده امر وکړ چې په ټول هېواد کې دې د وسلو، منجنيقونو او نورو جنګي الو د جوړولو لويې کارخانې جوړې شي او د لښکر لپاره دې نجيب اسونه، پياوړې کچرې او ښه اوښان وپېرل شي.

بل خوا، هغه شيخ عزالدين بن عبدالسلام ته وړانديز وکړ چې د خدای په لاره کې د جهاد د بلنې لپاره يو مرکز جوړ کړي. شيخ د جوماتونو يو شمېر خطيبان غوره کړل او هغوی ته يې لارښوونه وکړه چې خلک جهاد ته وهڅوي او د جهاد د فضيلتونو په اړه ورته خبرې وکړي. هغوی به خلکو ته په تفصيل سره هغه جنايتونه او ويجاړی بيانولې چې مغولانو په «بغداد» کې کړې وې؛ د بې ګناه خلکو وژل، د مالونو لوټل، د ناموسونو بې حرمتي، د جوماتونو نړول، د شيدو خوړونکو ماشومانو او سپين ږيرو وژل او د اميندواره ښځو د ګېډو څيرل يې ورته يادول. دې دفتر به کليو ته هم وعظ کوونکي لېږل ترڅو د خلکو په زړونو کې د خدای او وطن لپاره د مېړانې او حماسې اور بل کړي.

شيخ ابن عبدالسلام د ويناوالو د انتخاب معيار د «انفال» او «توبه» سورتونو حفظول ګرځولي وو. له همدې امله په ټولو منبرونو، د جمعې په جوماتونو او د کليو په مجلسونو کې د قتال (جګړې) په اړه د قران اياتونه تلاوت او تشريح کېدل، تر دې چې ګواکې ټولو نارينه وو، ښځو او ماشومانو دا اياتونه حفظ کړل.

په داسې حال کې چې د شام او مصر په زړه کې د«جزيرې» په سيمو کې د مغولانو د پرمختګ خبرونه خپرېدل، ملک مظفر په خورا مېړانه او ارامۍ خپل ټول وخت چمتووالي ته ورکړی و. په دې جريان کې د مغولانو استازي مصر ته راغلل؛ دوی لس او شل تنه وو چې مشري يې پنځو تنو مشرانو کوله چې په عربي ژبه ښه پوهېدل. يو تنکی هلک هم ورسره و. په دوی کې د جاسوسۍ متخصصين هم وو ترڅو د کلاګانو د ننوتلو او وتلو لارې او د ښارونو کمزورې او قوي نقطې وپېژني. هغوی له ځان سره د هلاکو ليک ملک مظفر ته راوړی و. سلطان امر وکړ چې د هغوی ښه هرکلی او مېلمه پالنه وشي. د سرتېرو يوه ډله يې وګمارله چې د هغوی خدمت وکړي او هر ځای ته چې غواړي، له هغوی سره لاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مغولان له هغې ازادۍ چې ورته ورکړل شوې وه، ډېر حیران شول. په هماغه پیل کې ملک مظفر امر کړی و چې له هغو پنځو مشرانو څخه دې یو تن ونیول شي او د کلا په یو برج کې دې زنداني شي. نور مشران د ښار د کلاګانو، دېوالونو او دروازو د پېژندلو په نشه کې دومره ډوب وو چې د خپل ملګري پوښتنه یې هم ونه کړه. کله چې هغوی له خپل کار څخه وزګار شول، ملک مظفر امر وکړ چې هغوی هم په بل برج کې زنداني کړي. خو هغه مغولی هلک په پټه د ساتونکو له سترګو پناه د پاچا ماڼیو ته لاره موندلې وه. یوه ورځ یې هغه د ښځو په برخه کې ونیوه چې د ماڼۍ وینځې ترې چاپېره وې او د هغه په ښه او قوارې حیرانې وې، او هغه هم په ماته ګوډه عربي ورسره خبرې کولې. هغه یې ونیوه او ملک مظفر ته یې راوستلو چې سلطان یې په یوازې سر د زنداني کولو امر وکړ.

سلطان د مغولانو د لیک د ځواب په اړه له امیرانو سره مشوره وکړه. ډېری امیرانو وړاندیز وکړ چې باید هلاکو ته په نرمۍ ځواب ورکړل شي ترڅو یې له شره په امان کې پاتې شي، ملګرتیا یې خپله کړي او ورسره پر دې هوکړه وکړي چې هر کال به جزیه ورکوي خو چې پر هېواد یې برید ونه کړي. هغوی ویل چې د مغولانو په وړاندې مقاومت بې ګټې دی او نرمي ورسره تر سختۍ غوره ده.

ملک مظفر د دې خبرو په اورېدو خورا غوسه شو؛ له ډېرې غوصې یې مخ تک سور شو، لکه وینه چې ترې فواره وکړي. هغه په برنونکی غږ وویل: «لوی خدای په خپل کتاب کې فرمايي: (حَتَّىٰ يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ) [التوبه: ۲۹] (ترڅو هغوی په خوارۍ او ذلت سره په خپلو لاسونو جزیه ورکړي)، په داسې حال کې چې تاسو غواړئ موږ دا ایت سرچپه کړو او ووایو: ترڅو موږ په خوارۍ او ذلت سره په خپلو لاسونو جزیه ورکړو؟» بیا د هغې ډلې د مشر خوا ته ورغی، توره یې ترې واخیستله، پر خپل زنګون یې ماته کړه او  د خاوند مخې ته یې وغورځوله، ویې وویل: «هغه توره چې خاوند یې په هغې له وژلو وېرېږي، د همدې وړ ده چې داسې ماته شي او د خاوند په مخ کې واچول شي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه امر وکړ چې استازي دې ورته راوستل شي او خپلو سرتېرو ته یې وویل: «هغه څه چې ما درته ویلي، ورسره ویې کړئ.» هغوی یې د باندې ویستل او خلک یې خبر کړل. نارینه، ښځې او ماشومان په لویو ډلو کې د سیل لپاره راټول شول. هغوی یې پر اوښانو سپاره کړي وو او په پړي پورې د اوښانو په پالانونو کې داسې تړل شوي وو چې مخونه یې د اوښانو د لکۍ خوا ته وو. یوازې هغه یو تن چې په یوازې سر زنداني شوی و، په یوې کجاوې کې په ځنځیر وتړل شو، ترڅو هغه څه په خپلو سترګو وګوري چې پر خپلو ملګرو یې تېرېږي. سلطان هغه مغولی تنکی هلک هم ازاد نه کړ او امر یې وکړ چې د ده د مملوکونو په منځ کې دې وساتل شي.
دا ډله د ډولونو (طبلونو) په غږولو سره له کلا ووتله او خلک هم ترې چاپېره روان وو؛ خلکو چیغې وهلې، خندل یې او له خوښۍ یې لاسونه پړکول، تر هغه چې د جبل کلا لاندې د اسونو بازار ته ورسېدل. هلته یې یو استازی وواژه. کله چې د «زویله» دروازې ته ورسېدل، دویم یې وواژه، درېیم یې د «نصر» دروازې مخې ته او څلورم یې په «ریدانیه» کې له منځه یووړ. بیا یې نور ټول راکوز کړل او په یو ځل یې ورته غاړې پرې کړې او سرونه یې د زویله پر دروازه وځړول شول.
د سلطان په امر، د هغه ورځې په مازیګر د ریدانیه په میدان کې د لښکر لوی او پراخ نندارتون جوړ شو. هلته د پاچا لپاره یوه جګه خیمه لګول شوې وه. هغه پر یوې څوکۍ ناست و او مهم شخصیتونه، امیران او وزیران ترې چاپېره وو. د لښکر سپاره سرتېري په جلا جلا ډلو کې تېرېدل؛ د هرې ډلې په مخ کې د هغې ډلې امیر په داسې حال کې روان و چې تر غاښونو په وسلو سمبال و او خپل ځانګړی بیرغ یې ورسره و. هره ډله چې به تېرېدله، امیر به یې د درناوي په دود لاس خوځاوه او ملک مظفر به هم ورته راپاڅېده او د درناوي په ځواب کې به یې لاس ورکړ. بیا د پیاده سرتېرو ډله چې هغوی هم پوره سمبال وو، میدان ته راننوتل او د میدان ټوله ساحه یې ډکه کړه. له هغوی وروسته د منجنیقونو ډله راغله؛ منجنیقونه پر هغو څرخونو (ګاډیو) اینسودل شوي وو چې د پیاوړو کچرو له خوا کښل کېدل. ورپسې د «هجانه» ډله په ژېړو لنګیو (عمامو) کې راښکاره شوه. په پای کې د امیرانو مشران او سرداران په خپلو اسونو میدان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلل او اووه ځله یې د اس څغلونې سیالي وکړه. کله چې وروستی پړاو پای ته ورسېد، هغوی له اسونو راکوز شول او خیمې ته راغلل؛ پاچا ورسره روغبړ وکړ او ورته یې ځانګړي خلعتونه (جایزې) ورکړې.

له هغه وروسته، ملک مظفر له خپل ځای څخه پاڅېد، له خیمې بهر راووت او پر خپل سپین اس سپور شو؛ د سپرو سرتېرو په بدرګه یې د جبل کلا په لور حرکت وکړ. هغه د خلکو د هغې لویې ګڼې ګوڼې له منځه تېر شو چې داسې دعاګانې یې ورته کولې: «ژوندی دې وي سلطان! خدای دې د هغه عمر اوږد کړي! د مظفر عمر دې اوږد وي!» کله چې سلطان د کلا دروازو ته ورسېد، امر یې وکړ چې هغه مغولی هلک ورته راولي او همدارنګه یې حکم وکړ چې د مغولانو هغه (بندي) استازی دې د ده په وړاندې ازاد کړي. هغه استازي ته وویل: «لاړ شه او زموږ د ځواک او توان هغه برخه چې تا ولیدله، خپل لعنتي بادار ته ورسوه. ورته ووایه چې د مصر مېړني د هغو سړیو په څېر نه دي چې تا مخکې لیدلي وو؛ او خپل بادار ته ووایه چې موږ دا هلک له ځان سره ساتلی ترڅو کله چې ستاسو خاورې ته راغلو او تاسو مو مات او ټوټه ټوټه کړئ، دی ستاسو پاچا کړو.» بیا یې خپل وزیر، یعقوب بن عبدالرفیع ته امر وکړ چې هغه مغول استازي ته یو مهر شوی لیک ورکړي؛ او خپلو یو شمېر سرتېرو ته یې دنده ورکړه چې د هغه ساتنه وکړي او تر پولې (سرحد) پورې یې ورسوي. په دې توګه، ملک مظفر د هلاکو سره د هغو فتنه ګرو امیرانو د اړیکو هیلې پرې کړې او هغوی یې له یو نوي واقعیت سره مخامخ کړل. مظفر یوازې د مصري لښکر په سمبالولو او له مغولانو سره د مقابلې په لګښتونو بسنه ونه کړه، بلکې دا یې مصلحت وباله چې له هغوی پرته، یوه بله پیاوړې جبهه چې د «شام» د سیمې پاچاهان او امیران پکې شامل وو، هم رامنځته کړي. هغه د مغولانو په وړاندې د هغوی له نه همکارۍ، بې پروایۍ او هلاکو ته د تسلیمۍ او عاجزۍ له تمایل څخه ښه خبر و. نو هر یوه ته یې لیک واستاوه چې پکې یې له مغولانو سره د جګړې لپاره خپله کلکه اراده او د بې شمېره سرتېرو چمتووالی تشریح کړی و. ده لیکلي وو چې هوډ لري اسلامي خاورې د هغوی له منګولو وژغوري او د هغوی له ناپاک شتون څخه یې پاکه کړي. ده وویل چې «شام» د «مصر» د دفاع لومړۍ کلا ګڼي او د مغولانو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



منګولو کې د شام ګير کېدل د مصر د خطر په مانا بولي. سلطان ټينګار وکړ چې دی د شام پاچاهۍ ته هيڅ طمعه نه لري او شام به خپلو مسلمانو پاچاهانو او اميرانو ته پرېږدي؛ د ده يوازنی مقصد له هغوی سره مرسته ده ترڅو شام د هغو فاجرو کافرانو په منګولو کې له لوېدو وژغوري.

په ليکونو کې راغلي وو: سره له دې چې شام خپلو پاچاهانو ته پرېږدي، خو هيڅکله به يو تن ته هم اجازه ورنکړي چې مغولانو ته تسليم شي، بلکې د خپلو مسلمانو ورونو پر ضد له هغوی سره مرسته هم بايد ونکړي. د مظفر، د هغوی او د مغولانو مثال د هغه چا په څېر دی چې د نږدې ګاونډي په کور يې اور لګېدلی وي او دا بايد هڅه وکړي چې اور مړ کړي، او ګاونډی نشي ويلی چې ستا کور له ما سره هيڅ تړاو نه لري. هغه په ليکونو کې په ښکاره اعلان وکړ چې هر څوک چې له دښمن سره همکاري وکړي، سزا به ورکړل شي، او د هغه هېواد به د شام هر هغه امير ته وسپارل شي چې د مغولانو په وړاندې جګړه کې برخه اخلي. او هر هغه څوک چې د دښمن په وړاندې يې د مقاومت وس نه درلود او د ځان ژغورنې لپاره تېښتې ته مجبور شو، بايد «مصر» ته لاړ شي چې هلته ورته د درناوي او هوساينې ټول وسايل برابر دي، ترڅو کله چې د مصري لښکرو د حرکت مناسب وخت راشي، ټول به په ګډه له دښمن سره مبارزه وکړو.

او هر چا چې له دې کاره ډډه وکړه او بې له کوم منل شوي عذر څخه د جګړې له ډګره لاس په سر شو، نو کله چې د مصريانو تورو مغولان له منځه يووړل، هغه به خپله پاچاهي او هېواد له لاسه ورکوي. سلطان يوازې په دغو ليکونو بسنه ونه کړه، بلکې په مصر کې مېشت يو شمېر شاميان يې هلته واستول ترڅو خپل هېوادوال د ملک مظفر له هغو لويو پوځي تدابيرو او لښکرو خبر کړي چې د مغولانو د بريدونو د مخنيوي او له اسلامي خاورو څخه د هغوی د شړلو لپاره يې نيولي دي.

کله چې پر «شام» د مغولانو پرله پسې بريدونه پيل شول، ډېری هغه پاچاهان چې له ملک مظفر سره يو ځای کېدل يې غوره ګڼل، «مصر» ته شاتګ وکړ ترڅو له هغه سره يو ځای د مغولانو پر ضد وجنګېږي. سلطان د هغوی ډېر درناوی وکړ، هر څه يې ورته چمتو کړل، خپل مجلس ته يې نږدې کړل او په مهمو چارو کې يې مشورې ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولې؛ هغوی یې د اسلام په لاره کې د جهاد په پایلو کې شریک کړل او هر یو یې د هغو سرتېرو او مملوکونو امیر کړ چې له ده سره مصر ته راغلي وو، او یو شمېر مصري سرتېري یې هم د هغوی تر قوماندې لاندې ورکړل. خو یو شمېر نور چې خدای ورته په دنیا کې ذلت او په اخرت کې خواری مقدره کړې وه، له هلاکو سره یو ځای شول، تر دې چې ځینو یې د مسلمانانو په وژلو کې له هغه سره مرسته کوله.

## خوارلسم څپرکی:

ملک مظفر د خپلې واکمنۍ په لسو میاشتو کې د هوساینې خوند ونه څاکه؛ هغه د خوب پر ځای یوازې په لنډ استراحت بسنه کوله. په داسې سختو هڅو او کار بوخت و چې ان د خورا پیاوړو خلکو لپاره هم ستونزمن وو. ده باید د فتنو د طوفانونو او د دسیسو د ګډوډیو په منځ کې د خپلې واکمنۍ پایې ټینګې کړې وای، خپلې پاچاهۍ ته یې نظم ورکړی وای، بلواګر عناصر یې له منځه وړي وای او د مفسدو دسیسه جوړونکو لاسونه یې لنډ کړي وای. هغه باید په خپل قوي لاس د سیاست سرکښنه مهار نیولی وای، د مملوک امیرانو اصلاح یې کړې وای او له ځینو سره یې نرمي او له ځینو نورو سره یې توندوالی غوره کړې وای. هغه باید لښکر پیاوړی کړی وای، د سرتېرو، وسلو او مهماتو شمېر یې زیات کړی وای، هغوی ته یې زېرمې او خوراک برابر کړی وای او د دې ټولو لپاره یې باید کافي مالونه ترلاسه کړي وای. ده باید هغو زړونو ته ډاډ ورکړی وای چې د مغولانو له وېرې لړزېدل او د هغو بې شمېره امیرانو په شتون کې یې په خلکو کې د مېړانې روح پو کړی وای چې له مرستې یې نهیلي شوی و او یا یې له مغولانو سره جګړه نه غوښته او ټول یې سولې او تسلیمۍ ته رابلل.

الله تعالی ورته ځانګړې صفتونه لکه پیاوړی بدن، کابو شوي اعصاب، ځلنده هوډ، اوسپنیزه اراده، رښتینی ایمان او کلکه عقیده وربښلې وه؛ ګواکې هغه یې همدې ماموریت ته چمتو کړی و ترڅو مغولانو ته ماتې ورکړي او له اسلامي خاورو یې وشړي. که داسې نه وای، هغه به هیڅکله نه وای توانېدلی چې په دغو څو میاشتو کې هغه څه بشپړ کړي چې نور یې په څو کلونو کې هم له کولو عاجز دي. ده د مصر لښکر بیا ورغاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د مېړانې، سربښندنې او د دين او وطن په لاره کې د مړه روحيه يې پکې ژوندۍ کړه. خپله شجاعت او حماسه يې هغوی ته ورکړه، تر دې چې سرتېري هم د جګړې له حماسي تک سره شول او د خدای په لاره کې جهاد ته يې شېبې شمېرلې. هغه وتوانېد چې د عامو خلکو زړونه، چې د مغول له نامه به لړزېدل، له ارامۍ او ډاډه ډک کړي او په زړونو کې يې د مغولانو د بريدونو په وړاندې د مصر د بريا او له شامه د هغوی په شړلو باوري کړي—هماغسې چې مخکې يې د صليبيانو په شا تمبولو کې بريا ترلاسه کړې وه.

په دې لاره کې، د هغه مېرمنې او محبوبې، ملکې ګلنار هم د هغه ملاتړ کاوه او پر دې ستونزمنه او نااواره لاره يې هغه هڅاوه. هغې به شپې شپې له خپل مېړه سره ويښې تېرولې، د هغه په غمونو او دردونو کې به شريکه وه او په خپلو مهربانو لاسونو به يې د هغه ستوماني لرې کوله؛ په ځانګړي ډول هغه مهال چې سلطان به د هغو اميرانو له لاسه په تنګ شو چې د هغه له امره يې سرکښي کوله، په غياب کې يې ورته دسيسې جوړولې، نفاق يې کاوه او د هغه پر لاره کې يې خنډونه جوړول. کله به داسې کېدل چې سلطان به د کار د ډېرې سختۍ له امله خپله ډوډۍ او اوبه هېرولې، نو ملکې ګلنار به پخپله هغه ته خواړه ورکول. که به د شپې په نيمايي کې بې خوبي ورباندې غلبه وکړه، هغې به پاڅاوه او خپل بستر ته به يې بوته ترڅو لږ استراحت وکړي. هغې به تل د هغه زړه په هغه کار کې چې ده غوره کړی و، پر بريا ډاډمن کاوه، نو د هغه يقين به نور هم زيات شو. هغې خپل مېړه ته ويل: «زه له تا سره د جګړې ډګر ته ځم ترڅو په خپلو سترګو د دښمنانو مړينه وګورم او زړه مې ارام شي.»

ملک مظفر به ورته ويل: «زه وېرېږم چې د هغوی د غشو نښه ونه ګرځې.»

هغې به ځواب ورکاوه: «زه چې ستا په اړه نه وېرېږم، د خپل ځان په اړه هم هېڅ وېره نه لرم؛ او ستا د ډاډ لپاره به د لښکر تر شا په يوې خوندي سيمه کې پاتې شم چې د هغوی له غشو او ګوليو لرې وي.»

* «ايا نه وېرېږې چې د بريد په وخت کې در ورسېږي او بندي دې کړي؟»

* «زه د جلال الدين لور يم او زما د اس په شتون کې به هغوی هيڅکله ماته را ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسېږي. محموده! در په ياد دي کله به مو چې له يو بل سره د اس ځغلونې سيالي کوله، کله به ته رانه مخکې کېدې او کله زه؟»

ملک مظفر به وخندل او په داسې حال کې چې هغه به يې په غېږ کې نيولي وه، ويل به يې: «هو، جهادې! ياد مې دي، څنګه کېدای شي هغه خوږې ورځې هېرې کړم؟»

ملک مظفر د خپلې واکمنۍ د لسمې مياشتې له تېرېدو وروسته وليدل چې لښکر يې بشپړ شوی او د خدای په مرسته د مغولانو سره مقابلې ته چمتو دی. ده غوښتل چې د روژې تر پايه صبر وکړي او بيا لښکر وخوځوي، خو د مصر په لور د مغولانو حرکت تر هغه ګړندی و چې د روژې پای ته انتظار وشي. ځکه داسې خبرونه راغلل چې د دښمن مخکښې ډلې «غزې» او «الخليل» ته رسېدلې دي، هلته يې سرې وژلې، ښځې او ماشومان يې مريان کړي، بازارونه يې چور کړي او د تل په څېر يې خورا ناوړه جنايتونه کړي دي. نو دې چارې سلطان اړ کړ چې د مقابلې او وتلو لپاره خپل هوډ نور هم ګړندی کړي

د روژې مبارکه مياشت راغلې وه او خلکو لا څو ورځې روژه نيولې وه چې په «قاهره» او د مصر په نورو ښارونو او کليو کې د خدای په لاره کې د جهاد او د رسول الله ﷺ د دين د نصرت غږ پورته شو. دا لوی غږ په هر ځای کې خپور شو او په خلکو کې يې داسې يو عجيب احساس پيدا کړ چې پخوا يې سارې نه و ليدل شوی. هغوی داسې احساس کاوه چې ګواکې نور مخلوقات دي او په داسې يوه زمانه کې ژوند کوي چې د دوی خپله زمانه نه ده؛ داسې ښکارېده لکه د اسلام د صدرِ اول دوره وي، هغه وخت چې صحابه وو (رضی الله عنهم) د رسول الله ﷺ بلنې ته لبيک وايه او په سپک او درووند (هر ډول حال) کې به د جګړې ډګر ته وتل او د هغه تر څنګ به يې له مشرکانو سره جګړه کوله، ترڅو د کافرانو خبره ټيټه او ذليله کړي، په داسې حال کې چې د الله کلمه تل لوړه او برلاسې ده.

دا احساس پر عامو خلکو داسې غالب شو چې ان فاسقانو له ګناهونو لاس واخيست، شراب خورو د شرابو څښل پرېښودل، جوماتونه له لمونځ کوونکو ډک شول او په ټولو کورونو، مجلسونو، جوماتونو او لارو کې يوازې د جهاد خبرې اترې په ژبو جاري وې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملک مظفر امیرانو او قوماندانانو ته امر وکړ چې سرتېري راوغواړي او د «صالحیه» په لور د حرکت لپاره یې چمتو کړي، او هر څوک چې پټ شي، باید په دورو (تازینو) ووهل شي. دی پخپله تر ټولو مخکې روان شو ترڅو صالحیه ته ورسېږ او هلته د ټول لښکر راتګ ته په تمه شو. کله چې لښکر بشپړ شو، ده امیران خپل حضور ته وغوښتل، خو دا یې حس کړه چې هغوی د تګ زړه نه لري او غواړي همدلته پاتې شي. نو ده له دښمن سره د مقابلې لپاره د حرکت په اړه خبرې ورسره وکړې، خو ډېرو یې سرکښي وکړه او د ملک مظفر له امره یې غاړه وغړوله؛ هغوی دا پلمه کوله چې غوره ده همدلته پاتې شو ترڅو مغولان راشي او په همدې ځای کې ورسره وجنګېږو. ملک مظفر د دې خبرو په اورېدو سخت غوسه شو، ان له ډېرې غوضې یې د یوې شېبې لپاره ژبه بنده شوه. بیا یې په لوړ غږ چیغه کړه: «دا څومره بده او بې ځایه کمزورې رایه ده! په خدای قسم! یوازې د هغو غاړو د پرې کېدو وېره او وحشت چې د خلکو له مالونو نه ډکې او غټې شوې دي، تاسو دې کار ته مجبور کړي یئ! ای بدو امیرانو! ایا نه پوهېږئ هر هغه ملت چې په خپل کور کې وربادې برید وشو، هغه ذلیل او خوار شو؟ ای مسلمانو امیرانو! دا ډېره موده کېږي چې تاسو د بیت المال مالونه خورئ، خو له جهاده بد ورځئ!»

«دا ننني شپه څومره له پرونۍ سره ورته ده او تاسو څومره د رسول الله ﷺ د زمانې هغو منافقانو ته ورته یئ چې الله تعالی یې په اړه فرمایلي دي:

﴿وَلَوْ أَرَادُوا الْخُرُوجَ لَأَعَدُّوا لَهُ عُدَّةً وَلَكِن كَرِهَ اللَّهُ انبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ وَقِيلَ اقْعُدُوا مَعَ الْقَاعِدِينَ * لَوْ خَرَجُوا فِيكُم مَّا زَادُوكُمْ إِلَّا خَبَالًا وَلَأَوْضَعُوا خِلَالَكُمْ يَبْغُونَكُمُ الْفِتْنَةَ وَفِيكُمْ سَمَّاعُونَ لَهُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ﴾ [التوبه: ۴۶-۴۷]

ژباړه: «او که هغوی (جګړې ته) د وتلو اراده لرلای، نو د هغې لپاره به یې څه توښه او سامان برابر کړی وای، خو الله د هغوی وتل بد وګڼل، نو هغوی یې (له حرکته) ودرول او ورته وویل شول: له ناستو کسانو سره کښېنئ. که هغوی ستاسو په منځ کې وتلي وای، نو ستاسو له فساد او خرابۍ پرته به یې بل څه نه وای زیات کړي، او ستاسو تر منځ به

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې په فتنه اچولو کې ډېره منډه کړې وای، او ستاسو په منځ کې داسې کسان شته چې د هغوی خبرو ته غوږ نیسي، او الله پر ظالمانو ښه پوهېدونکی دی.

ې زما ملګري دي، د خدای د دښمنانو جګړې ته ځم؛ نو له تاسو څخه چې هر څوک جهاد غوره کوي، له ما سره دې راشي او څوک چې نه غواړي، خپل کور ته دې ستون شي، پر هغه هیڅ جبر نشته او الله پرې ښه خبر دی، او د مسلمانانو د ښځو مسؤلیت د هغو کسانو پر غاړه دی چې جګړې ته نه راځي!»

ملک مظفر چې څنګه خپلې خبرې پای ته ورسولې، هغو کسانو ته یې اشاره وکړه چې له ده سره یې د جګړې هوډ درلود ترڅو په یو ګوښه کې راټول شي، او له هغوی یې وغوښتل چې له مغولانو سره پر جهاد ورسره بیعت وکړي. هغوی تر مرګ پورې ورسره بیعت وکړ او نور امیران هم بې چاره شول، نو یو په بل پسې له هغوی سره یو ځای شول تر دې چې ټولو ورسره بیعت وکړ.

د شپې مهال «صالحیه» د خیمو او څادرونو په یو لوی ښار بدله شوه چې د سلطان خیمه یې په منځ کې وه. هغه اوښان او کچرې چې تجهیزات، زیرمې او درانه وسایل وربانديې بار وو، لا هم په حرکت کې وو. ملک مظفر امر وکړ چې سرتېري دې لږ ویده شي او استراحت دې وکړي، او د ساتونکو لویې ډلې یې وګمارلې چې له لښکرګاه څخه لرې ویښ پاتې شي، په ځانګړې توګه د شام په لور، ترڅو د دښمن د مخکښو سرتېرو د ناڅاپي برید مخه ونیسي. د سلطان د خیمې مخې ته شاهي ساتونکي ولاړ وو چې ډېری یې د سلطان خپل باوري مملوک وو. خو د نورو امیرانو خیمې یې په لومړی کرښه کې چې د شام په لور وه، ولګولې او یوه لاره یې د سلطان له خیمې سره وتړله چې د پاچا قوي ساتونکو یې ساتنه کوله او له امیرانو پرته بل چا د تېرېدو اجازه نه لرله.

د ملک مظفر په خیمه کې امیر بیبرس، وزیر یعقوب بن عبدالرفیع او اتابک اقطای مستعرب ناست وو او نږدې ورته د پناه غوښتونکو شامي پاچاهانو خیمې وې. سلطان پر دښمن د برید د نقشو په جوړولو کې له هغوی سره مشوره کوله، خپل نظر یې ورته وایه او بیا به یې وربانديې بحث کاوه. هغه به نیوکو او وړاندیزونو ته غوږ نیوه، ځینو ته به یې په نرمۍ ځواب ورکاوه او د ځینو نظر به یې وستایه؛ بیا به یې له هغو ټولو څخه یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوې نظریه راویستله او د هغې په پلي کولو به یې هوډ کاوه، خو امیرانو ته به یې دا احساس ورکاوه چې دا د دوی د ټولو ګډه پرېکړه ده، نه یوازې د سلطان. کله چې دا کار پای ته ورسېد، سلطان بېبرس او نورو ته وړاندیز وکړ چې لږ استراحت وکړي او ورته یې وویل: «ښایي تاسو سبا له سهاره تر بیګاه د خوب وخت ونه مومئ.» هغوی ترې مننه وکړه او هر یو خپلې خیمې ته لاړ، یوازې اتابک اقطای مستعرب له سلطان سره پاتې شو. له لږ چوپتیا وروسته، سلطان له ده سره په داسې سختو حالاتو کې د امیرانو له نه همکارۍ شکایت وکړ او هغوی یې د نفاق، اختلاف او د هغې مسؤلیت په وړاندې د بې پروایۍ له امله ملامت کړل چې د وطن دفاع او د اسلامي خاورو ژغورل دي.

اتابک ورته وویل: «زما باداره! ارام اوسئ، ځکه ستاسو هوډ د هغوی نهیلي او مخ اړونه له منځه وړې ده. هغوی اوس ستاسو امر منلی او اطاعت یې کړی، نو پر دې کار یې صبر وکړئ ځکه تاسو ډېر زغم لرونکی یئ.»

سلطان وویل: «ښایي زه د قدرت او امن په وخت کې دا کار وزغمم، خو د سختۍ او جګړې په وخت کې یې نشم زغملی. زه له تا یوه پوښتنه کوم، بې له کومې دوکې ځواب راکړه؛ د امیر بېبرس په اړه دې نظر څه دی؟»

اقطای وویل: «زما معلومات د هغه په اړه تر تاسو زیات نه دي.»

سلطان بیا وپوښتل: «زه غواړم پوه شم چې ایا هغه لا هم په پټه له نورو امیرانو سره په اړیکه کې دی او هغوی زما په ضد هڅوي؟»

اتابک ځواب ورکړ: «فکر نه کوم زما باداره! زه یوازې دومره پوهېږم چې هغه د کلا له هغې ورځې راهیسې چې له تاسو سره یې د مغولانو پر ضد د جګړې لوظ کړی، پر خپل عهد ولاړ دی. نه یې هغوی سرکښۍ ته هڅولي او نه یې ترې منع کړي دي؛ او که د هغوی په منځ کې و او څه یې اورېدلي وي، نو چوپتیا یې غوره کړې او ګډون یې نه دی ورسره کړی.»

سلطان وویل: «خو همدا چوپتیا یې زه ستړی کړی یم ای اقطای!»

اتابک وویل: «خو زما بادار د هغه پر چوپتیا راضي و.»

سلطان وویل: «هو، زه یې پر چوپتیا راضي شوم، خو ګومان مې کاوه چې وروسته به

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه لاره غوره کړي او په پوره اخلاص به ځان دې کار ته وقف کړي. هغه څنګه د ده د سترګو او غوږونو په وړاندې هغوی له دسیسو او سرکښۍ نه منع کوي؟ اقطای، ایا ته هم له ما سره همغږی يې چې که بيبرس او د هغه دا بې طرفي نه وای، نو ملګرو به يې د داسې کارونو جرات نه شوای کولی؟»
اقطای وویل: «امر ستاسو دی جناب سلطانه! که وغواړئ، ستاسو امر به د دې لښکر پر تر ټولو لوی قوماندان هم پلي کړم (یعنې بيبرس به هم سزا یی کړم).»

سلطان وویل: «نه اقطای، موږ بيبرس ته اړتیا لرو. زه نه غواړم مسلمانان د دې سړي له میړانې او ځواک څخه بې برخې کړم. ما د مغولانو په جګړه کې د هغه رښتینې لېوالتیا او هیجان لیدلی دی، ښایي الله تعالی د هغه په لاس مسلمانانو ته ستره بریا ور په برخه کړي.»
سلطان خپل اتابک ته اشاره وکړه چې لږ ویده شي ترڅو استراحت وکړي، او دی پخپله هم په خپل بستر کې په سپک خوب لاړ او اتابک هم همداسې وکړو.
کله چې د شپې یوه برخه تېره شوه، سلطان له خوبه راویښ شو، اتابک یې هم ویښ کړ او ورته یې وویل چې سرتېرو ته د حرکت امر وکړي. په لښکرګاه کې ټول کسان راویښ شول او د حرکت لپاره چمتو شول. په همدې وخت کې سلطان ته خبر ورسېد چې ځینې امیران یو ځل بیا د حرکت لپاره پلمې او عذرونه کوي، خو ده هیڅ پاملرنه ورته ونه کړه او هیڅ یې ونه ویل، بلکې له خپلو نږدې کسانو سره پر اس سپور شو او ویې ویل: «زه پخپله له مغولانو سره مخامخ کېږم!» کله چې هغو پلمه ګرو امیرانو د سلطان دا حال ولید، نو له ځانه وشرمېدل او په ناعلاقه توګه ورپسې روان شول.
سلطان امیر بيبرس ته امر کړی و چې د لښکر په سر کې له یو شمېر سرتېرو سره مخکې لاړ شي او د مغولانو په اړه معلومات راټول کړي. بيبرس او ملګري يې په پټه او پوره احتیاط سره روان شول، تر دې چې «غزې» ته ورسېدل؛ هلته د مغول لښکر مخکښې ډلې مېشتې وې. دوی ورباندې برید وکړ او مغولانو د دې تصور له امله چې ګواکې تر شا يې یو ستر لښکر دی، ماتې وخوړه او غزه يې بيبرس ته پرېښوده. امیر بيبرس هلته پاتې شو ترڅو سلطان له خپل ټول لښکر سره ورسېد. سلطان د لښکر د

(c) ketabton.com: The Digital Library



راټولولو او پلان جوړولو لپاره یوه ورځ هلته پاتې شو.
په دغه ځای کې ملکه ګلنار له سلطان سره یو ځای شوه؛ هغې د امیرانو جامې اغوستې وې او پر مخ یې د تورې وریښمینې ټوټې نقاب اچولی و، چې له دې پرته د هغې او نورو امیرانو تر منځ هیڅ توپیر نه ښکارېده. دوه حبشي وینځې چې پر کچرو سپارې وې او د تورو غلامانو یوه ډله چې د هغې ساتنه یې کوله، هم ورسره ول. د سلطان د خیمې تر شا هغې ته یوه ځانګړې خیمه ودرول شوه او سلطان به کله نا کله د هغې پوښتنې ته ورته.
سلطان ته معلومه شوه چې «عکا» د فرنګیانو په لاس کې ده او ښایي هغوی د مسلمانانو او مغولانو د جګړې پر مهال له شا څخه برید وکړي. نو مصلحت یې وګاڼه چې د هغوی لاره وتړي. هغه «عکا» ته د څو استازو له لېږلو وروسته د ساحل له لارې د هغې خواته روان شو. کله چې خلک د سلطان له راتګ خبر شول، په ډېرو ډالیو او نذرانو د هغه هرکلي ته راووتل. سلطان ورته وویل چې دی کوم بد نیت نه لري او له هغوی سره د جګړې لپاره نه دی راغلی، بلکې د مغولانو مقابلې ته روان دی او هغوی باید په پوره ډول بې طرفه پاتې شي. هغوی ترې ووېرېدل، په نرمۍ یې خبرې ورسره وکړې او د وفادارۍ ډاډ یې ورکړ؛ ان وړاندیز یې وکړ چې د دوی د لښکر مېړني دې له ده سره ملګري شي. خو سلطان مننه ترې وکړه او ویې ویل: «زما لښکر مرستې ته اړتیا نه لري.» بیا یې پر هغوی قسم یاد کړ چې نه به د ده په ګټه او نه به یې په زیان کې برخه اخلي، او سوګند یې وخوړ چې که کوم سپور یا پلی له عکا څخه د مسلمانانو د ځورولو لپاره ورپسې راغی، دی به له مغولانو سره تر جګړې وړاندې بېرته راګرځي او له هغوی (فرنګیانو) سره به جنګېږي.
فرنګیانو تر دې وړاندې له مغولانو سره لیکونه تبادله کړي وو او له مسلمانانو سره یې په جګړه کې د هغوی د ملاتړ اعلان کړی و؛ خو کله چې یې د مغولانو د مخکښې ډلې ماتې او له غزې څخه شاتګ ولید، نو د مسلمانانو له ځپلو ووېرېدل او د دوستۍ لاره یې غوره کړه. سلطان یوازې د هغوی پر ژمنو بسنه ونه کړه، بلکې شرط یې ورباندې کېښود چې د ده یو شمېر سرتېري به د عکا پر هغو جګو برجونو مېشت کېږي چې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښار برلاسي دي، ترڅو د هغوی بې طرفي تضمين شي؛ هغوی هم له خپلې خوښې پرته دا شرط ومنلو.

سلطان له عکا څخه ووت او په يوې لرې سيمې کې يې لښکرګاه جوړه کړه. هغه ټول اميران، قوماندانان او مخکښ سرتېري راټول کړل، پر اس سپور شو او هغوی ته يې وينا وکړه. ده هغوی له دښمن سره مبارزې ته وهڅول او هغه مصيبتونه يې ورته ياد کړل چې پر نورو سيمو تېر شوي وو (لکه قتل عام، غلامي او اور اچول). بيا يې هغوی د شام د ژغورلو او د اسلام د نصرت لپاره وهڅول او په جهاد کې د سستۍ په صورت کې يې د الله له عذابه ووېرول. ټولو اورېدونکو وژړل او له مغولانو سره يې په جګړه کې د رښتينې مېړانې عهد وکړ. په دغه وخت کې يې امير بېبرس راوغوښت او امر يې ورته وکړ چې د لښکر د مخکښې ډلې (هرول) په توګه حرکت وکړي. بېبرس د سلطان امر ومانه او تر هغه روان و چې له مغولانو سره مخامخ شو؛ دا خبر يې سلطان ته په ليک کې واستاوه او جګړه يې ورسره پيل کړه. هغه به کله پرمختګ کاوه او کله به يې د هغوی د حرکت مخه نيوله؛ د ده هدف دا و چې هغوی په وړو نښتو بوخت وساتي ترڅو له هغوی سره په يوه پرېکنده جګړه کې ښکېل نشي (تر هغه چې سلطان را رسېږي). هغه همدې کار ته دوام ورکړ تر دې چې په «عين جالوت» کې سلطان ورته را ورسېد او له خپلو سرتېرو سره په يوې تيټې سيمه کې مېشت شو. کله چې د مغولانو مخکښو سرتېرو د مصر د لښکر راتګ وليد، خپل ځايونه يې ونيول او د خپلو نورو ډلو بشپړېدو ته په تمه شول.

لښکر له «صالحيه» تر «غزې»، له «غزې» تر «عکا» او له «عکا» تر «عين جالوت» پورې دا سرود تکراروه:

په توره، کمان

په نېزه، په ستان

د غليم په ځان

کړو بريد د زمريان

کړو به يې اسير

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه مړی شپړ

دا مغل تاتار

دا غداره کفار

موږ یو جنګیالي

موږ یو توریالي

زموږ متې دي پیاوړې

موږ شېران یو د ببرې

دوی به کړو تري تم

لکه سېلۍ او د خزان غم

دا مغل تاتار

دا غداره کفار

د جمعې شپه وه، د روژې د میاشتې له پای ته رسېدو ته پنځه شپې پاتې وې. سلطان او لښکر یې په ټیټه ځمکه کې اړولي وو. لږ اخوا، د شپې په اوږدو کې د مغولانو لښکر هم راټولېده. دواړه خواوې د سبا ورځې په تمه وې او پوهېدل چې سبا یوه برخلیک ټاکونکې ورځ ده. ملک مظفر هغه شپه په بستر کې ویده نه شو، بلکې ټوله شپه یې د سرتېرو په منظمولو، د ځایونو په ټاکلو او قوماندانانو ته د امرونو په ورکولو تېره کړه. کله چې پرې ستوماني ډېره شوه، پر خپله چوکۍ یې لږ سترګې پټې کړې، خو ویده نه شو. هغه مدام ذکر کاوه او د قران کریم هغه سورتونه یې تلاوت کول چې یاد یې وو. کله نا کله به د خپلې مېرمنې خیمې ته ورغی، د هغې احوال به یې وپوښت او بیا به بېرته راووت.

هلاکو د خپل ورور «منکوخان» (د مغولانو پاچا) د مړینې د خبر په اورېدو سره «حلب» پرېښی و او خپل هېواد ته ستون شوی و. هغه خپل لوی قوماندان، «کتېبغا» د مصر د برید لپاره خپل ځیناستی ټاکلی و. خو کله چې هلاکو د فارس خاورې ته ورسېد او خبر شو چې د مصر سلطان له یو ستر لښکر سره راوځي، نو هلته پاتې شو او د پېښو په تمه کېناست.

کله چې سباوون شو، دواړه لښکرې یو بل ته مخامخ ودرېدې. هېڅ لوري په برید کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیره نه کوله؛ ځکه مغولان د خپل مشر «کتبغا» راتګ ته په تمه وو، او مسلمانانو د سلطان په امر د جمعې د لمانځه وخت ته انتظار کاوه، ترڅو په داسې حال کې جګړه پیل کړي چې خطیبان پر منبرونو هغوی ته د بریا دعاګانې کوي.

کتبغا له غرمې یو ساعت مخکې راورسېد او سمدستي یې خپلو سرتېرو ته د برید امر وکړ. په دغه وخت کې ملک مظفر هم خپل صفونه منظم کړي وو: امیر رکن الدین بېبرس په کیڼ اړخ کې، امیر بهادر معزي په ښي اړخ کې او سلطان پخپله د لښکر په زړه (قلب) کې و. د ده شاوخوا ته نږدې ملوک او مېړني ولاړ وو او هغه مغولی هلک هم پر اس سپور سلطان ته نږدې و. سلطان هغه خپل ملوک کړی و او یو څوک یې ورته ګمارلی و ترڅو دیني فرایض ور زده کړي. سلطان د هغه له ځیرکتیا خوښ و او ورته ویل به یې: «ته د مغولانو پاچا یې.»
ډېر ژر دواړه لښکرې سره نږدې شوې او د مغولانو غشو د مسلمانانو صفونه وڅیرل. کله چې وضعیت سخت شو، سلطان د برید امر وکړ. جګړه اوج ته ورسېده او دواړو خواوو په مېړانه توره وهله. په دغه شېبه کې مسلمانان پر دښمن برلاسي ښکارېدل. سلطان په ډاډه زړه ننداره کوله او له دې امله خوښ و چې سرتېرو یې د مغولانو هغه وېره له زړونو ایستلې وه چې ګواکې هغوی نه ماتېدونکي دي.
هغه مغولی هلک له سلطان څخه د جګړې اجازه وغوښته. سلطان په مسکا ورته وویل: «وړاندې لاړ شه ای د مغول پاچا!» هلک د مسلمانانو له صفونو تېر شو او پر مغولانو یې برید وکړ، څلور پنځه تنه یې ووژل او بېرته د سلطان تر څنګ خپل ځای ته راغی. سلطان ورته وویل: «مرحبا ای د مغول پاچا!» هلک دا کار څو ځله تکرار کړ. کله به چې هغه د غشي په څېر د مغولانو لور ته تلو، مسلمانانو به ورته لاره خلاصوله او د هغه پر مېړانه به یې چیغې وهلې: «برید وکړه ای د مغول پاچا!»
خو په حقیقت کې، دې هلک هر ځل چې برید کاوه، مغولانو ته یې په لښکر کې د سلطان دقیق ځای ښود او ورته ویل یې چې کله زه بېرته ستنېږم، تاسو راسره راشئ ترڅو سلطان ووژنئ.
ملکه ګلنار چې یوازینۍ اندېښنه یې د خپل مېړه ساتنه وه، د سلطان تر شا له یوې لوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډۍ څخه دا صحنه څارله. هغه د دې هلک پر تګ راتګ شکمنه شوه. په دې وخت کې هلک یو ځل بیا برید وکړ، خو دا ځل پنځه تنه مغول سپاره ورپسې وو او د سلطان په لور یې د غشي په څېر هجوم راوړ. سلطان او ملګري یې غافلګیر شول، خو سلطان خپله توره راوښکله او درې مغولان یې په ځمکه وغورځول.

ناڅاپه مغولي هلک له شا څخه پر سلطان د نېزې برید وکړ، نېزه د سلطان پر ځای د هغه پر اس ولګېده. سلطان له اسه راوغورځېد او دوه مغولان ورته نږدې شول. سلطان هڅه کوله چې ځان وژغوري، هغه د یو مغول د اس پښې په توره ووهلې او هغه یې راوپرځاوه، خو بل مغول غوښتل پر سلطان ګوزار وکړي چې په همدې وخت کې یو نقاب لرونکي سپاره هغه له سلطانه لرې کړ. دواړو توره وهله او دواړه په ځمکه راولوېدل.

نقاب لرونکي سپاره په لوړ غږ چیغه کړه: «پام کوه ای د مسلمانانو سلطانه! زه تر تا مخکې جنت ته لاړم!»

دې نقاب لرونکي سپاره لا پخوا د هغه مغولي هلک سر له تنې جلا کړی و.

د سلطان ساتونکي راورسېدل او هغه مغول یې وواژه چې سلطان یې اس ټپي کړی و.

سلطان د نقاب لرونکي سپاره غږ وپېژانده، په شک کې شو او ورغی، چې نقاب یې ترې پورته کړ، ناڅاپه یې ملکه ګلنار ولیده چې ساه یې ختله. سلطان سخت ووېرېد او هغه یې په غېږ کې پورته کړه. بېبرس ته یې پیغام واستاوه چې د لښکر د زړه قومانده په لاس کې واخلي او پخپله د خیمې په لور روان شو. د خیمې په دروازه کې یې اتابک اقطای ولید او ورته ویل یې: «مه وېرېږه، ملکه ټپي ده، لاړ شه طبیب او وینځې راوله!»

اقطای لاړ ترڅو هغوی راولي. سلطان ګلنار په خپل بستر کې کېښودله او په داسې حال کې چې اوښکې یې پر مخ بهېدې، د هغې تندی یې ښکلاوه او ویل یې: «ای زما مېرمنې! ای زما ګرانې!»

ملکه په هوښ راغله، مخ یې را واړاوه او په ډېر کمزورې او پرې شوي غږ یې په داسې حال کې چې ساه یې ختله، وویل: «مه وایه (ای زما ګرانې)! ووایه وا اسلاماه (ای زما اسلامه)!» له دې جملو ویلو وروسته، کله چې دواړه حبشي وینځې او طبیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



راورسېدل، هغې ساه ورکړه. سلطان د هغې پر تندي وروستۍ ژوندي کېنودي، خپلې اوښکې یې پاکې کړې او خپله شهیده مېرمن یې طبیب او وینځو ته پرېښوده ترڅو یې کفن او دفن ته چمتو کړي. دی پخپله له خیمې ووت، پر اس سپور شو او بېرته د جګړې ډګر ته ستون شو.

د ملکې ګلنار د مړینې خبر د مسلمانانو په منځ کې د وچو لرګیو د اور په څېر خپور شو او د ټولو غوسه او غم یې راوپارولو. داسې آوازې هم خپرې شوې وې چې سلطان ملکه لښکرګاه ته بیولې او بیبرس یې خپل ځایناستی کړی، خو کله چې لښکر سلطان ولید چې بېرته خپل ځای ته راغی، ټولو په یو غږ چیغه کړه: «الله اکبر!» د ملکې مېړانه د هغوی لپاره یو درس شو او هغوی یې پوه کړل چې د دښمن په وړاندې سستي نه ده په کار، نو په سرتېرو کې د حماسي اور بل شو او په پوره مېړانه یې جګړه پیل کړه.

کله چې مغولان – چې د سلطان په نشتوالي کې خوشحاله وو او فکر یې کاوه هغه وژل شوی – یو ځل بیا له داسې سخت مقاومت سره مخ شول، هغوی هم تر وروستي حده بریدونه پیل کړل. په دې ترڅ کې د اسلامي لښکر ښي اړخ چې مشري یې امیر بهادر کوله، ګډوډ شو؛ د مسلمانانو صف داسې کږه کرښه شوه چې کیڼ اړخ یې (د بیبرس په مشرۍ) مخکې او ښی اړخ یې وروسته پاتې شو، او د لښکر منځنۍ برخه (قلب) د مغولانو تر سختو بریدونو لاندې راغله. مغولان پوه شوي وو چې سلطان په منځ کې دی، نو هلته یې دومره فشار راوړ چې د مسلمانانو منځنۍ کرښه یو څه شاته شوه.

په دې نازک وخت کې، سلطان یو څه وړاندې لاړ، خپل وسپنیز خول (خود) یې له سره لرې کړ او په ځمکه یې وویشت او درې ځلې یې په لوړ غږ چیغه کړه: «وا اسلاماه!» بیا یې له خپلو ملګرو سره یو ځای ربښتینی او مرګونی برید پیل کړ. دا غږ په ټول میدان کې انګازې وکړې او نورو سرتېرو هم همدا جمله تکراروله او داسې برید یې وکړ چې ښی اړخ یې بېرته پیاوړی کړ او د مغولانو د محاصرې هڅه یې شنډه کړه.

سلطان د مغولانو قوماندان «کتبغا» ولید چې په مېړانه یې تورې وهلې او هر وخت به یې چې اس مړ شو، بل به یې بدلاوه؛ هغه په دې تمه و چې د سلطان تر حریمه ځان ورسوي. په دې وخت کې امیر بیبرس خپل ملګري جګړې ته هڅول او د سخت فشار

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره سره يې هغوی شاته تګ ته نه پرېښودل. بېبرس به کله د صف مخې ته تلو او د دښمن له نوميالیو سره به يې جګړه کوله او بيا به بېرته خپلو سرتېرو ته راتلو او هغوی به يې یو موټی کول. هغه په ډېر ځيراکت د دښمن هر حرکت څاره او کله به يې چې د دښمن کوم پياوړی سپور ليده، په داسې ګوزار به يې له منځه وړه چې کله به يې اس او سپور دواړه نيم کړل.

د بېبرس د مېړانې له امله، دښمن خپل کيڼ اړخ پياوړی کړ او ښی اړخ يې کمزوری شو. بېبرس چې دا وليدل، خپلو سرتېرو ته يې د هلالي (نيمه دايره) شکل د جوړولو امر وکړ ترڅو دښمن په تدريجي ډول محاصره کړي او د هغوی د تاوېدو لاره بنده کړي.

ملک مظفر قطز په داسې حال کې چې سر يې لڅ، مخ يې سور او ويښتان يې خپاره وو، تر مرګ پورې جنګېده. هغه لکه د اور لمبه د دښمن صفونه يو په بل پسې څيرل. هر وخت به يې چې توره کېره شوه، بله به يې غوښتله او لومړۍ به يې پر دښمن ويشتله او په هر ګوزار به يې «الله اکبر» وايه. د ده دا سربښندنه د ملګرو لپاره سخته وه، نو ځينو مېړنيو پرېکړه وکړه چې د سلطان لپاره سپر شي او د هغه شاوخوا يې حلقه جوړه کړه.

په دې وخت کې یوه نېزه د سلطان په لور راغله، ده د خپل اس واګې وکاږل او اس پر دوو پښو ودرېد، نېزه د اس په سينه کې ښخه شوه. سلطان له اسه راکښته شو، د اس يال ته يې لاس تېر کړ او ويې ويل: «د خدای په لاره کې ای زما ګرانه ملګريه!» سلطان په پلي حالت کې جګړې ته دوام ورکړ او چيغې يې وهلې: «اس راته راولئ!» يو ملګري يې غوښتل له خپل اسه راکښته شي او سلطان ته يې ورکړي، خو سلطان ورته وويل: «پخپل ځای پاتې شه، زه نه غواړم په داسې حال کې د مسلمانانو په خدمت کې ستا خنډ شم.»

سلطان په پلي حالت کې جنګېده تر دې چې يو نجيب اس يې ورته راوست، هغه ورباندې سپور شو او د لښکر له نيمايي زياتې برخې سره د دښمن د زړه او کيڼ اړخ ترمنځ ننووت. هغه امير بهادر ته هم پيغام واستاوه چې د دښمن د محاصرې لپاره د شرق او شمال لور ته خپل ځواکونه خواره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملک مظفر قطز خپلو ملګرو ته پرله پسې روحیه ورکوله ترڅو د دښمن د صفونو ترمنځ ایجاد شوې درز (فاصله) نوره هم پراخه کړي، ترڅو د مغولانو د لښکر کیڼ اړخ د نور لښکر څخه په بشپړه توګه جلا کړي. ډېر ژر د اسلامي سرتېرو په بریدونو دا فاصله ودانګل شوه او د دې درز په دواړو غاړو کې سخته جګړه ونښته؛ په ځانګړې توګه د دښمن د لښکر په منځنۍ برخه (قلب) کې، چې هلته کتېبغا د یو لېوني سپي په څېر غېږېده او په خپله توره یې جګړه کوله. د هغه وفادارو سرتېرو ځانونه د هغه لپاره سپر کړي وو او یو په بل پسې د هغه په وړاندې په ځمکه راغورځېدل.

سلطان قطز د دښمن د زړه په ټولو برخو کې په حرکت کې و، تر دې چې کتېبغا هغه ولید او له خپلو څو مېړنیو سره د سلطان په لور راوړاندې شو ترڅو په هغه درز کې ننوځي. سلطان وغوښتل چې په خپله ورسره مخامخ شي؛ ملګرو یې د دلسوزۍ له امله وغوښتل چې د ده مخه ونیسي، خو سلطان ورته وویل: «ما پرېږدئ! له ما پرته به بل څوک هغه ونه وژني! غواړم په خپلو لاسونو یې هلاک کړم!»

کله چې هغوی ونه توانېدل د سلطان مخه ونیسي، نو یو مېړنی امیر چې جمال الدین آتوش شمسي نومېده او د سلطان تر څنګ یې جګړه کوله، داوطلب شو. هغه یو خالي ځای وموند او د مغولانو د قوماندان په لور یې برید وکړ او په لوړ غږ یې سلطان ته غږ کړ: «زما باداره! زه ستا لاس یم، د خدای دښمن مې ستا په لاس وواژه!» هغه خپله توره د هغه سرکښ (کتېبغا) پر اوږه داسې ورکښته کړه چې لاس یې ترې پرې کړ. کتېبغا په بل لاس هغه ته ګوزار ورکړ او له اسه یې راوغورځاوه، خو امیر آتوش په همغه حال کې خپله نېزه د هغه په غاړه کې ښخه کړه. کله چې کتېبغا له اسه راپرېووت، نېزه یې په ستوني کې ننوتې وه او لاستی یې د آتوش په لاس کې و. امیر آتوش په داسې حال کې چې د دښمن تورو ښنه کړی و، په لوړ غږ تکبیر ووایه. سلطان او شاوخوا سرتېرو هم تکبیرونه پیل کړل.

مسلمانان پوه شول چې کتېبغا ووژل شو، نو ټولو په یو غږ داسې «الله اکبر» وویل چې د مغولانو زړونه له وېرې ډک شول. د هغوی په صفونو کې ګډوډي او ترهه خپره شوه او په شا تګ یې پیل کړ. سلطان خپلو سرتېرو ته امر وکړ چې د دښمن پاتې برخه محاصره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. ډېرى مغولان په دوو لويو کړيو کې محاصره شول او د تېښتې لاره يې نه لرله؛ مسلمانانو هغوى يو په بل پسې له تيغه تېر کړل، تر دې چې د جګړې ميدان د هغوى له ټوټه ټوټه جسدونو ډک شو. يوازې يو شمېر محدود کسان چې د لښکر په وروستى برخه کې وو، په تېښته بريالي شول. يوه بله ډله نږدې غونډۍ ته پناه يوړه او له هغه ځايه يې پر مسلمانانو د غشو باران جوړ کړ؛ که څه هم هغوى پوهېدل چې ماتې يې خوړلې، خو جګړې ته يې دوام ورکړ. مسلمانان ور وختل او د غونډۍ په سر يې هغوى هم تيت او پرک او له منځه يووړل.

جګړه پاى ته ورسېده او د مسلمانانو څېرې د هغې لويې بريا له امله چې الله تعالى ور په برخه کړې وه، له خوښۍ ځلېدې. همدا راز د جګړې غنيمتونه هم بې شمېره وو؛ ځکه مغولانو د نړۍ له شتمنو ښارونو څخه ډېر مالونه غلا کړي وو چې اوس د مسلمانانو لاس ته ورغلل. دا يوه داسې بريا وه چې په هغه زمانه کې يې سارى نه درلود

ملک مظفر قطز د دې ستر نعمت په شکرانه کې د خپل رب دربار ته سر په سجده شو او خپله سجده يې ډېره اوږده کړه. بيا يې په داسې حال کې سر له سجدې پورته کړ چې اوښکو يې ټوله ږيره لنده کړې وه؛ لمونځ يې تمام کړ، سلام يې وګرځاوه او په خپل اس سپور شو. هغه خپلو سرتېرو ته داسې خطاب وکړ:

«اى مسلمانانو! زما ژبه ستاسو د مننې کولو څخه عاجزه ده او يوازې الله تعالى دى چې تاسو ته پوره او غوره بدله درکولى شي. تاسو په رښتيني توګه د خداى په لاره کې جګړه وکړه، نو ځکه الله ستاسو لږ شمېر د دښمن پر ډېر شمېر برلاسى کړ. الله تعالى فرمايي:

﴿إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرۡكُمۡ وَيُثَبِّتۡ أَقۡدَامَكُمۡ٧﴾ (محمد: ٧)

«اى هغو کسانو چې ايمان مو راوړى! که تاسو د الله (دين) سره مرسته وکړئ، هغه به له تاسو سره مرسته وکړي او ستاسو ګامونه به ثابت وساتي.»

او فرمايي:

﴿كَم مِّن فِئَةٖ قَلِيلَةٍ غَلَبَتۡ فِئَةٗ كَثِيرَةَۢ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ﴾ (البقرة: ٢٤٩)

«ډېر ځله داسې شوي چې يوه وړه ډله د الله په حکم پر يوې لويې ډلې غالبه شوې ده، او

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله له صبر کوونکو سره دی.»

پام کوئ چې پر دې بریا مغرور نه شئ، بلکې د الله شکر ادا کړئ او د هغه د قدرت او جلال په وړاندې عاجزي وکړئ؛ ځکه هغه ډېر پیاوړی او متین دی. تاسو څه پوهېږئ، ښايي د منبرونو پر سر ستاسو د ورونو دعاګانې په هغه شپه کې چې تاسو پر دښمن برید کاوه – په دې مبارکې جمعې او د روژې په میاشت کې – ستاسو له تورو، نېزو او غشو څخه ډېرې کارنده ثابتې شوې وي.

پوه شئ چې لا هم جهاد پای ته نه دی رسېدلی، بلکې اوس تازه پیل شوی دی. الله او د هغه رسول به هغه وخت له تاسو راضي شي چې دښمنان د نورو اسلامي خاورو څخه هم وشړئ؛ هغه ورځ به مومنان د الله په نصرت سره ربښتینې خوښي کوي.

نو پر خپلو هغو ورونو درود او رحمت ووایئ چې الله یې د زړونو له خیر او ایمان څخه خبر و؛ الله هغوی ته شهادت او جنت ور په برخه کړ او تاسو ته یې بریا او بقا نصیب کړه ترڅو د هغه په لاره کې جهاد وکړئ، او هغه څه چې د الله په وړاندې دي، ډېر غوره او پاتې کېدونکي دي. همدا راز پر ملکې (ګلنار) هم درود او سلام ووایئ، چې هغې له خپل رب سره کړی عهد ربښتینی کړ او هغه څه یې چې د الله په وړاندې دي، پر هغه څه غوره کړل چې د الله د بنده (قطز) په وړاندې وو!»

په دې وخت کې سلطان نور خپل ځان کنټرول نه کړای شو، سخت یې وژړل او د ژړا غږ یې لوړ شو. ورسره ټولو مسلمانانو په لوړ غږ وژړل او ویل یې: «الله دې پرې رحم وکړي! الله دې یې وبښي!»

بیا سلطان دا آیتونه تلاوت کړل:

﴿وَلَا تَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمۡوَٰتَۢاۚ بَلۡ أَحۡيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمۡ يُرۡزَقُونَ١٦٩ فَرِحِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦ وَيَسۡتَبۡشِرُونَ بِٱلَّذِينَ لَمۡ يَلۡحَقُواْ بِهِم مِّنۡ خَلۡفِهِمۡ أَلَّا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ١٧٠﴾ (آل عمران: ۱۶۹-۱۷۰)

«او په هغو کسانو چې د الله په لاره کې وژل شوي، هېڅکله د مړو ګومان مه کوئ، بلکې هغوی ژوندي دي او د خپل رب په وړاندې روزي ورکول کېږي. هغوی په هغه څه خوښ دي چې الله ورته له خپل فضل او کرم څخه ورکړي دي، او د هغو کسانو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړه زیری ورکوي چې لا تر اوسه له دوی سره نه دي يو ځای شوي، چې پر هغوی به نه وېره وي او نه به غمجن کېږي.»

## پنځلسم څپرکی:

له جګړې وروسته، ملک مظفر قطز د هغو مسلمانو بنديانو محاکمه پیل کړه چې له مغولانو سره ملګري شوي وو او له «شام» څخه د دښمنانو په صف کې د خپلو مسلمانو ورونو په ضد راغلي وو. هغوی يو يو د سلطان حضور ته وړاندې کېدل؛ سلطان به د هر يوه نوم، د پلار نوم، ښار، دنده او اقتصادي حالت پوښتل. بيا به يې د مغولانو په اړه د هغوی نظر غوښت؛ که سلطان ته به ثابته شوه چې دغه کس پرته له کوم جبر، اکراه او يا ناپوهۍ په خپله خوښه له دښمن سره مل شوی، نو د مرګ امر به يې کاوه. خو که د هغوی عذر به پر ځای و، نو د خپل کار په بدوالي به يې پوهول او توبه به يې کوله؛ بيا به يې له هغوی سره احسان کاوه او په خپل لښکر کې به يې شاملول.

په بنديانو کې د آل ايوب د کورنۍ يو پاچا هم و چې له مغولانو سره يو ځای شوی و او د مسلمانانو په ضد يې سخته جګړه کړې وه. سلطان امر وکړ چې هغه په زولنو کې راولي. سلطان د دغه خاين پاچا د خيانت او فسق په سزا کې هغه په خپلو لاسونو وواژه، ترڅو هغو نورو پاچاهانو ته عبرت شي چې د خپل امت او دين له دښمنانو سره لاس يو کوي.

بيا ملک مظفر له خپل لښکر سره د «طبريه» په لور روان شو. له هغه ځايه يې دمشق ته يو ليک واستاوه چې په کې د اسلام د بريا او د دښمن د نابودۍ خبر ورکړل شوی و؛ سلطان ورسره ژمنه وکړه چې ډېر ژر به راشي او د عدل نظام به جاري کړي. سلطان د دمشق خلکو ته امر وکړ چې د مغولانو پلويان او جاسوسان ونيسي ترڅو دی پخپله ورشي او محاکمه يې کړي.

سلطان بل ليک خپل پخواني بادار «ابن زعيم» ته واستاوه چې د دمشق په شاوخوا کې پټ و. ابن زعيم له هغې ورځې چې قطز له خپل خادم (حاج علي فراش) سره دمشق پرېښی و، د هغه احوال څاره او کله نا کله به يې ورته ليکونه لېږل او د نبوي زېري

(c) ketabton.com: The Digital Library



(بریا) په اړه به یې هڅاوه. کله چې قطز پاچا شو، ابن زعیم ورته د مبارکۍ لیک ولیږه او په پای کې یې داسې لاسلیک کړی و: «و یې ژړل او ویې ویل: شکر هغه خدای لره چې خپل بنده قطز یې د مسلمانانو والي او سرپرست کړ.»

ابن زعیم به تل سلطان ته د دمشق د حالاتو او د هغو امیرانو او پاچاهانو په اړه معلومات ورکول چې له مغولانو سره یې دوستي یا دښمني کوله؛ سلطان هم د دغو معلوماتو په رڼا کې د شام خاوره له مغولانو پاکه کړه.

ډېر ژر، د روژې د مبارکې میاشتې په وروستۍ ورځ ملک مظفر د دمشق دروازو ته ورسېد او هلته یې خیمې ووهلې. ابن زعیم هم ورغی؛ دواړو یو بل په غېږ کې ونیول او د ډېر وخت لپاره یې د خوښۍ اوښکې تویې کړې. سلطان هلته د اختر شپه تېره کړه او د شاوخوا کلیو پر غریبانو یې خواړه ووېشل. د اختر لمونځ یې په لښکر کې ادا کړ او دواړو (قطز او ابن زعیم) ارمان کاوه چې کاش شیخ ابن عبدالسلام دلته وای ترڅو د خلکو امامت یې کړی وای.

کله چې سلطان دمشق ته ننووت، خلکو په بې ساري ډول د هغه هرکلی وکړ؛ ښار یې ښکلی کړ، ډولونه یې وډنګول او د سلطان تر پښو لاندې یې ګلونه وشیندل. له دمشق وروسته، سلطان یو ستر لښکر د امیر بیبرس په مشرۍ ولېږه ترڅو تښتېدلي مغولان تعقیب کړي. بیبرس هغوی تر «حمص» پورې وځغلول، ډېر یې ترې ووژل او حمص یې هم فتح کړ. نور پاتې مغولان د ساحل له لارې وتښتېدل، خو عامو خلکو به په لاره کې نیول او وژل؛ هیڅ مغول روغ پاتې نه شو. د حمص واقعه په شام کې د مغولانو د واکمنۍ د پای ټکی و؛ هغوی هر څه پرېښودل او یوازې د خپل ځان ژغورلو لپاره خپل هېواد ته وتښتېدل.

کله چې هلاکو ته (چې په فارس کې و) د خپل لښکر د ماتې او د قوماندان (کتبغا) د وژل کېدو خبر ورسېد، ډېر سخته پرې تمامه شوه؛ ځکه تر دې وړاندې د هغه لښکر هیڅکله ماتې نه وه خوړلې. د هغه غوسه تر هغه وخته سړه نه شوه ترڅو یې چې هغه ټول خاین پاچاهان او د هغوی زامن ونه وژل چې له ده سره ملګري شوي وو. هغوی د هغه چا په لاس ووژل شول چې د خپلو مسلمانو ورونو په ضد یې ورسره مرسته کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه؛ یوازې یو تن ترې پاتې شو چې د هلاکو مېرمن وربانديې مينه شوې وه او شفاعت يې ورته وکړ، نو د هغه ژوند د يوې کافرې ښځې احسان شو! هغه مغولی سرکښ (هلاکو) په داسې حال کې خپل هېواد ته ستون شو چې د خدای او د ټولو مسلمانانو لعنت ورپسې و.

## شپاړسم څپرکی:

ملک مظفر تر هغه وخته خپل غم او اوښکې په ډېر صبر سره کنټرول کړې وې. تر څو چې د مغولانو خطر په «شام» کې موجود و، هغه خپلې اوښکې په زړه کې وساتلې او د غم لمبې يې پټې کړې. خو کله چې د «حمص» له پېښې وروسته مغولان وتښتېدل او خطر له منځه لاړ، سلطان د شام د چارو لپاره لازم تدابير ونيول او واک يې هغو پاچاهانو او اميرانو ته وسپارل چې له ده سره يې په مېړانه جګړه کړې وه.
سلطان داسې احساس کړه چې د الله تعالی له لورې د فرض شوې مسؤليت (جهاد) د ترسره کولو لپاره يې د خپلې مېرمنې پر مړينه پوره صبر کړی دی، ترڅو شخصي غم يې د هغه لوړ هدف مخه ونه نيسي چې له خپل رب سره يې يې تړون کړی و. خو اوس چې هر څه ارام شول، هغه بېرته خپل ځان ته متوجه شو او د خپل مصيبت په اړه يې فکر پيل کړ. ده وليدل چې د ګلنار په له لاسه ورکولو سره يې په ژوند کې د سکون او ډاډ يوازينی سرچينه له لاسه ورکړې ده. هغه غم چې ده په خپل زړه کې زنداني کړی و، يو ځل بيا راوپيښ شو او سلطان يې دومره بې وسه کړ چې د کنټرول واک يې ترې واخيست.
سلطان دومره وژړل چې د سترګو بنو يې تپونه وکړل. نړۍ ورته توره تمه شوه او دا پراخه ځمکه پرې تنګه شوه. هغه د ګلنار د ساه ورکولو شپېې رايادې کړې؛ دا چې څنګه يې هغه تر خيمې ورسوله، څنګه هغې هغه تاريخي جملې وويلې چې په سختو شېبو کې د لښکر لپاره د برېا کيلي شوې. هغه ته دا فکر ورغی چې کله بېرته «مصر» ته ستنيږي، ګلنار به ورسره نه وي. د خلکو په خوښيو، د ډولونو په غږ، د بيرغونو په رپېدا او د ګلونو په شيندلو کې به هغه له ده سره شريکه نه وي. دی به يوازې د «جبل قلعې» ته ننوځي او بيا به د واکمنۍ هغه دروند بار په يوازې سر په اوږو وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده له ځانه وپوښتل: ایا حکومت له دوکو، غمونو او د کینه ګرو له حسد پرته بل څه هم لري؟ هغه څنګه کولی شي په داسې مات زړه او کمزورې ارادې د مملوکو امیرانو د سرکشی مخه ونیسي چې یوازې د مقام او چوکۍ لپاره په خپل منځ کې په دښمنۍ اخته دي؟ ایا واک بېرته هغوی ته وسپاري ترڅو هېواد بیا د پخوا په څېر په فساد او ګډوډۍ کې ډوب شي او هغوی د ملت پر مالونو او شتمنیو خېټه واچوي او د هېواد له ګټو غافل شي؟ ده ولیدل چې دغو امیرانو څومره په بې میلۍ او مجبورۍ د مغولانو ضد جګړې ته زړه ښه کړی و او که د الله نصرت نه وای، د هغوی سرکشي د هرې قوي ارادې د ماتولو لپاره کافي وه.

په نړۍ کې د ده یوازینۍ هیله ګلنار وه چې د دې لارې ستړیاوې به یې ورته اسانولې او د ژوند سختۍ به یې ورته هوارولې؛ خو اوس هغه هیله د تل لپاره ورکه شوه. چېرته ده هغه ګلنار چې د ده په غمونو کې ورسره شریکه شي، په خپل مهربان لاس یې شکایتونه پاک کړي، ناهیلي ترې لرې کړي او په زړه کې یې د ژوند او مېرانې لمبې بلې کړي؟ د ګلنار پرته د ژوند خوند څه دی؟ د هغو سترګو پرته چې دی یې څاره او د ده په خاطر به ویښې پاتې کېدې، اوس به دی د څه لپاره د عزت او لویۍ په لټه کې وي؟

ګلنار د هغې کورنۍ یوازینۍ نښه وه چې مغولانو وژلې وه؛ ده که څه هم د هغوی او د اسلام غچ له مغولانو واخیست، خو په کومه بیه؟ نړۍ د هغو کسانو لپاره څومره سپکه او بې ارزښته ده چې اصلي څېره یې ویني او د دې فاني نعمتونو په زرق او برق نه غولېږي. الله تعالی نړۍ داسې پیدا کړې ده چې هر کمال یې له زوال او هره ګټه یې له زیان سره مل ده.

دې بې کچې غم د هغه پر قوي روح برید وکړ؛ هغه پولادي اراده یې بې وسه کړه او هغه لوړه همت یې بې وزر او بې پره کړ. ملک مظفر نور په ژوند کې هېڅ هیله نه لرله او د ژوند سیورى ورته دروند او وخت یې ورته ډېر اوږد ښکارېده. د ده دا ارمان و چې کاش د ژوند پاتې ورځې یې د خپلې شهیدې محبوبې تر څنګ، د حقیقي مالک (الله) په وړاندې په هغه تلپاتې ځای کې تېرې کړې وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه چا چې مغولانو ته ماتې ورکړې وه او د «عين جالوت» واقعه يې د اسلام د تاريخ د سترو برياوو لکه بدر، احد، قادسيې، يرموک، حطين او فارسکور په لړۍ کې ورګډه کړې وه، دا يې نه وو هېر کړي چې که څه هم دی پخپله له واکمنۍ ستړی دی، خو بايد د اسلام او مسلمانانو راتلونکي ته وګوري. هغه بايد د مسلمانانو له منځه يو پياوړی سړی غوره کړی وای ترڅو د واکمنۍ بار وروسپاري او د خدای په وړاندې خپل مسؤليت ادا کړي. ورځو تېرېدې او ده په اميرانو کې د داسې چا لټون کاوه چې دا درونډ بار پورته کړي؛ په پای کې يې نظر يوازې پر خپل زاړه ملګري، سختدريځه سيال او د جهاد پر ملګري امير رکن الدين بېبرس ودرېد. سلطان سره له دې چې د بېبرس له مکر او د رياست پر سر له پخوانۍ دښمنۍ خبر و، خو هغه يې تر هر چا مناسب او د دې جوګه وګاڼه چې د مسلمانانو عزت وساتي او د دښمنانو په زړونو کې د اسلام هيبت قائم وساتي. نو پرېکړه يې وکړه چې له واکمنۍ تېر شي او د مصر تخت بېبرس ته پرېږدي. خو سلطان دا مصلحت وګاڼه چې تر څو بېرته مصر ته نه وي رسېدلی، دا خبره پټه وساتي؛ ځکه وېره وه چې د اميرانو ترمنځ به فتنه او اختلاف رامنځته شي. په ځانګړې توګه «معزي» اميران (د معز الدين ايبک پلويان) ځانونه تر هر چا حقدار ګڼل. هغوی لا وړاندې له سلطان څخه ګيله من وو چې ولې يې په شام کې ځمکې «صالحي» اميرانو ته ورکړې دي. هغوی په پټه سره سلا مشورې کولې چې خپل حق له سلطانه وغواړي او که اړتيا شوه، په زور يې ولسي کړي؛ خو له دې وېره وو چې صالحي اميران به د سلطان ننګه وکړي، نو ځکه يې دا موضوع مناسب وخت ته وځنډوله.

بل لور ته، امير بېبرس له سلطان څخه د «حلب» د امارت غوښتنه کړې وه او سلطان هم ژمنه ورسره کړې وه. خو کله چې سلطان په خپل زړه کې پرېکړه وکړه چې ټول حکومت (مصر او شام) بېبرس ته وسپاري، نو د حلب د وړوکي امارت ژمنه يې هېره کړه او هغه ځای يې بل امير ته ورکړ.

کله چې بېبرس له دې خبر شو، سخت غوسه شو او په زړه کې يې کينه پيدا شوه. هغه داسې فکر وکړ چې سلطان د ده پر مېړانې او د مغولانو په ماتولو کې د ده پر رول حسد کوي؛ بېبرس انګېرله چې سلطان د ده له محبوبيت څخه په وېره کې دی او غواړي هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپک او ذلیل کړي.
د بېبرس دا شک دوو خبرو نور هم پیاوړی کړ: لومړی دا چې بېبرس په رښتیا هم غوښتل په حلب کې خپلواک شي او بیا له هغه ځایه د مصر د تخت لپاره له سلطان سره سیالي وکړي (ځکه حلب له مرکزه لرې و او د بغاوت لپاره مناسب ځای و). دویم دا چې بېبرس ته خپل پخوانی کار رایاد شو چې څنګه یې په مصر کې امیران د سلطان پر ضد راپارولي وو؛ هغه فکر کاوه چې سلطان هغه پخوانۍ ګناه نه ده بښلې او اوس چې د مغولانو خطر ختم شوی، نو غواړي غچ ترې واخلي.
بېبرس د سلطان له نېک نیت او اصلي پرېکړې (چې غوښتل یې دی خپل ځایناستی کړي) بې خبره و. سلطان هم نه غوښتل دا راز ورته ښکاره کړي، ځکه باور یې درلود چې بېبرس دا راز نه شي ساتلی او که خبره خپره شوه، په لښکر کې به ګډوډي جوړه شي.
دا یوازې د بېبرس نظر نه و، بلکې د هغه ملګرو او صالحي امیرانو هم د سلطان پر ضد د هغه غوږونه ډکول او ورته ویل یې: «که ته نه وای، سلطان مغولانو ته ماتې نه شوای ورکولی؛ اوس چې هر څه سم شول، هغه د شام ولایتونه پر هغو کسانو ویشي چې ستا د پښو خاورې ته هم نه رسېږي، او تاته د حلب د امارت ورکولو څخه هم ډډه کوي؟ دا ستا سپکاوی دی! هغه غواړي لومړی ستا سر تر اوبو لاندې کړي او بیا زموږ هر څه رانه واخلي.»

بېبرس په داسې حال کې چې خپله غوسه یې په سختۍ کنټرول کړې وه، د ملک مظفر قطز حضور ته ورغی. هغه پر سلطان نیوکه وکړه چې ولې یې خپله ژمنه ماته کړه او «حلب» یې هغه چا ته وبخښه چې د مغولانو په ضد جګړه کې یې د ده په پرتله لسمه برخه زحمت هم نه و ګاللی.
سلطان ورته وویل: «بېبرسه! زه په جګړه کې ستا مېړانه نه شم ردولی او له دې وروسته به درڅخه هېڅ شی هم دریغ نه کړم. خو وېره لرم که تا پر حلب مقرر کړم، په هغه لیرې ځای کې به وغولېږې، د خپلواکۍ اعلان به وکړې او د نورو سیمو د لاندې کولو هڅه به وکړې؛ په دې توګه به د مسلمانانو یووالی له منځه لاړ شي. بېبرسه، ما ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ازمایلی یې! ستا په نیتونو او موخو ښه پوهېږم.»
بیبرس ناارامه او وارخطا شو، ځکه سلطان د هغه د زړه پرده پورته کړې وه او په ډاګه یې کړه چې د هغه له پلانونو خبر دی. خو خپله ترهه یې ښکاره نه کړه او سلطان ته یې وویل: «زه درته قسم خورم چې نه به خپلواکي اعلانوم او نه به ستا پر ضد پاڅون کوم.»
سلطان وویل: «ستا نفس ډېر سرکښ دی، بالآخره به داسې لاره ومومې چې زما سره خپل قسم مات کړې.»
بیبرس په توندئ وویل: «که غوښتل دې چې د حلب امارت را نه کړې، نو بیا دې ژمنه ولې راسره کوله؟»
سلطان ځواب ورکړ: «هغه وخت مې مصلحت په ژمنه کې لیدلی و، خو اوس مې چې د مسلمانانو د تیت او پرک کېدو وېره ولیده، نو ځکه یې درته نه درکوم.»
بیبرس وویل: «نو بیا ماته د دمشق امارت راکړه، چې تر حلب تاته نږدې دی.»
سلطان ورته وویل: «هغه څوک چې د شام پر یوې برخې دربانډې باوري نه وي، څنګه به د ټول شام پلازمېنه تاته وسپاري؟»
بیبرس په داسې حال کې چې غوسه یې له ورایه پر تندي کې ښکارېده، وویل: «نو ستا هدف یوازې زما مخالفت او زما د حق خوړل دي. هر څه چې دې په زړه کې وي هغه وکړه، زه هم پوهېږم چې څه وکړم.»
سلطان په لنډه خندا سره وویل: «زما ملګریه! ته زما په وړاندې سرکشي او نافرماني کوې، نو که له ما لرې شوې څه به وکړې؟! اې بیبرس! تر کومه ځایه چې زه پوهېږم، ته توندخویه یې او ډېر ژر غبرګون ښیې، ښایي خدای په دې کې د مسلمانانو لپاره خیر ایښی وي، نو هڅه وکړه چې دا توندخویي پر خپل ځای وکاروې. پوه شه چې له تا سره زما د بحث موخه دا وه چې عقل دې سر ته راشې او خپله ګټه د امت او دین تر ګټې غوره ونه ګڼې. پوهېږې، ښایي یوه ورځ د مسلمانانو سلطان شې، نو که ستا هوس پر تقوا غالب شي، د مسلمانانو چارې به څنګه سمبال کړې او هغوی به پر کومه لاره بوځې؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیبرس وویل: «باداره! د خدای روی ومنه نوري ملنډې راباندې مه وهه، ځکه زه ښایي د خپل حق له لاسه ورکول وزغمم، خو د ملنډو زغم نه لرم.»

سلطان وویل: «پر خدای قسم چې زه پر تا ملنډې نه وهم اې بیبرس! ځکه په حقیقت کې ته د مسلمانانو د سلطنت وړتیا لرې، البته که وکولای شي خپل هوس تر پښو لاندې کړې. خو اوس د سلطنت خبره پرېږده، خدای پخپله پوهېږي چې څوک د مسلمانانو رهبر کړي. غوږ شه چې څه درته وایم؛ حقیقت دا دی چې ما له تا څخه "حلب" یا "دمشق" نه سپمولو مګر نه غواړم چې ته له ما لرې واوسې. زه په "مصر" کې ستا په څېر یو کس ته اړتیا لرم. ته وینې چې د ملکې مړینې زه څومره غمجن کړی یم او وېرېږم چې غم راباندې غالب نشي او د رعیت په وړاندې د خپلې دندې له ترسره کولو مې ونه ګرځوي، نو غواړم چې زما نیمګړتیاوې پوره کړې.»

بیبرس د سلطان دځواب په فکر کې ډوب شو او د هغه مخ ته یې کتل، لکه غوښتل یې چې د هغه په نیت پوه شي، خو د ماتېدلو، خپګان، اخلاص او ریښتینولۍ له نښو پرته یې بل څه ونه لیدل. هغه په خپله پرېکړه کې حیران پاتې شو او وویرېد چې هسې نه دا ټول مکر او چل وي. نو ویې ویل: «آیا د وزیر، اتابک او یارانو ترمنځ یې داسې څوک نشته چې زما ځای ناستی شي؟»

سلطان وویل: «زه هغوی ټولو ته اړتیا لرم، ځکه هر یو یې ځانګړی مسؤلیت لري، خو هیڅ یو یې هغه کارونه نشي کولای چې ته یې زما لپاره کوې.»

بیبرس وویل: «ته زما په څېر له یو ضدي او توندخویه انسان څخه څه غواړې چې ان د یوې کوچنۍ او لرې پرتې سیمې په اداره کولو کې هم پرې ډاډ نشي کېدای؟»

سلطان وویل: «ته لا هم هغې کوچنۍ سیمې ته تمه لرې، په داسې حال کې چې نه پوهېږې ما تر هغې او ان تر "دمشق" هم غوره ځای تاته په پام کې نیولی دی؟!»

بیبرس وویل: «ښایي هغه د "قلیوب" کلی وي چې ما ته دې ټاکلی؟»

سلطان وخندل او ویې ویل: «نه زما ملګریه بیبرس! بلکې تر هغه ډېر غوره، هغه د جبل کلا ده، ... کلا...»

په دې وخت کې سلطان غلی شو او خپله خبره یې بشپړه نه کړه. یوه شیبه په غوسه شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګواکې بیبرس ته په دې څرګندې خبرې پښېمانه شوی وي. بیا یې خپلو خبرو ته دوام ورکړ او ویې ویل: «څه او ډاډه اوسه زما ملګریه! ځکه زه تاته له خیر او ښېګڼې پرته د بل څه نیت نه لرم.»

کله چې امیر بیبرس له سلطان څخه ووت، ملګري یې چې ورته په تمه وو، مخې ته ورغلل. هغوی هغه تر پخوا ډېر غمجن او حیران ولید او د هغه څه په اړه یې ترې پوښتنې پیل کړې چې د ده او سلطان ترمنځ شوي وې. ده هم ورته کیسه وکړه تر دې چې خبره یې د سلطان دې جملې ته ورسېده چې ویل یې: «هغه د جبل کلا ده.»

هغوی ورته وویل: «نور څه غواړې؟ سلطان هغه څه چې په زړه کې یې وو درته وویل: یعنې ته به هلته وژل کیږې، کټ مټ لکه ستا ملګری "اقطای" چې هلته ووژل شو. پر خدای قسم چې هغه ستا په وړاندې څومره سپین سترګي کړې او ته یې سپک ګڼلی یې، تر دې چې دا خبرې یې په خندا او ملنډو درته کړي ده.»

بیبرس په ځواب کې ورته وویل: «خو هغه د دې خبرو له ویلو وروسته بیا ونه خندل او یو څه وخت په غوسه او خپه و.»

هغوی وویل: «هغه له دې بې غوری او ستا په مخ کې د قتل له یادولو پښېمانه شوی دی.»

بیبرس په داسې حال کې چې له ډېرې غوسې یې سترګې سرې شوې وې، وویل: «د جبل کلا! پر خدای قسم! مخکې له دې چې سترګې یې پر جبل کلا ولګیږي، هغه به خپلې مېرمنې ته (قبر ته) ور ولېږم! ولې ماته ځیر ځیر ګورئ؟ ستاسو نظر څه دی؟ مشوره راکړئ!»

هغوی وویل: «بیبرس! ته ژر بدلیږې او موږ وېرېږو چې په دې خطرناک کار کې که له تا سره یو ځای شو وروسته، به ته بیا له هغه ووېرېږې او موږ به د سلطان منګولو ته ورخوشې کړې چې محکوم مو کړي!»

بیبرس په غوسه وویل: «افسوس پر تاسو! زه به تاسو د هغه په منګولو کې پرېږدم په داسې حال کې چې ستاسو په وړاندې مې د هغه د وژلو قسم خوړلی دی؟»

هغوی وویل: «تا د اقطای د وژل کېدو پر وخت هم داسې قسم خوړلی و، خو خپل قسم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې مات کړ، هغه ته ورغلې او پناه دې ترې وغوښته، هغه هم د "قليوب" کلی درکړ؛ موږ څه پوهېږو چې ښايي بيا همداسې وکړې او هغه د جبل کلا تاته درکړي؟!»

بيبرس چيغه کړه: «بس ده بس ده!»

ټول چوپ شول، يو څه وخت غلي وو تر دې چې بيبرس ورته وويل: «خو د "معزيانو" په اړه ستاسو نظر څه دی؟ له هغوی سره څه وکړو؟»

هغوی ځواب ورکړ: «الله د هغوی بوج ستا له اوږو پورته کړی؛ هغوی ټول له سلطان څخه ناراضه دي، ځکه ده د ځمکو په وېش کې زموږ او د هغوی ترمنځ مساوات وکړلو. هغوی نه پوهېږي چې سلطان دا کار يوازې زموږ د غلي کولو لپاره کړی و. که هغوی زموږ مخالفت هم وکړي پروا نکړي، ځکه کله چې موږ د دوی د مشر سر پرې کړو، ټول به ارامه شي. ايا در په ياد نه دي چې کله يې د "اقطای" سر زموږ مخې ته راوغورځاوه، موږ اوه سوه سپاره وو او له هېواده وتښتېدو؟»

بيبرس وويل: «څه فکر کوئ چې "اقطای مستعرب" هم له ځان سره ملګری کړو؟»

په دې اړه اختلاف راغی. يوه ويل چې هغه هم صالحي دی او لاره به راته هواره کړي، خو بل ويل چې هغه د سلطان مخلص ملګری دی، کله چې موږ سلطان ووژنو، هغه به په خپله موږ ته تسليم شي. په پای کې پرېکړه وشوه چې مصر ته په لاره به په کمين کې کېني او سلطان به په ښه کړي. هغوی دوه معزي اميران (سيف الدين بهادر او بدرالدين بکتوب) هم له ځان سره شريک کړل ترڅو معزي اميران وروسته د غچ اخيستو هڅه ونه کړي.

سلطان قطز د شام د چارو له تنظيم وروسته د مصر په لور روان شو. په لاره کې امير بيبرس ورسره و، خبرې يې ورسره کولې او داسې يې ښودله چې ډېر خوښ دی. کله چې سلطان "صالحيې" ته نږدې شو، يو ځنګلي سوی يې وليد. سلطان په ناڅاپي ډول په سوی پسې اس وځغلاوه. په هغه شېبه کې ده داسې انګېرله چې ګلنار يې هم تر شا په اس سپره ده، لکه څنګه به چې په هند کې په ښکار پسې وتل. هغه دومره لرې لاړ چې يوازې بيبرس او شپږ نور اميران ورسره پاتې شول.

بيبرس سلطان ته وويل: «زما باداره! يو احسان راباندې وکړه، هغه مغولی وينځه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


پرون مې يې په اړه درسره خبرې کړې وې، ماته وښنه.»
سلطان په مسکا وويل: «زه پوهېدم چې ته له ښځو سره مينه لرې، هغه ستا شوه.»
بيبرس مننه وکړه، له اس راکوز شو او د سلطان لاس ته نږدې شو چې ښکل.يي کړي.
کله چې سلطان لاس ور اوږد کړ، بيبرس د هغه لاس کلک ونيو (دا د نورو اميرانو لپاره اشاره وه). يو امير په توره د سلطان پر غاړه ګوزار وکړ، بل له اس راوغورځاوه او دريم يې پر سينه کې نيزه ور ننباسله.
سلطان هيڅ مقاومت ونه کړ، يوازې يې وويل: «حسبي الله ونعم الوکيل! زما ملګريه بيبرسه! ايا ته ما وژنې؟ په داسې حال کې چې ما غوښتل تا خپل ځايناستی سلطان وټاکم؟»
بيبرس چې دا واورېدل، لړزې واخيست، خو نورو اميرانو غوښتل کار يې تمام کړي. په همدې وخت کې د سلطان ځانګړي ساتونکي راورسېدل او اميران يې ونيول. سلطان چې په وينو کې لت پت و، په سختي سره يې ساه اخسيتله ويې ويل: «بيبرس خوشې کړئ! هغه ستاسو سلطان دی، ما هغه پاچا وټاکه، د هغه اطاعت وکړئ!»
بيبرس چې دا وليدل، توره يې وغورځوله، د سلطان په پښو کې پريووت او په چيغو يې وويل: «زما باداره! ما ووژنه! هی افسوس پر ما، ما د مسلمانانو سلطان ووژلو! ما د مغولو ماتونکی ووژلو! ما خپل نږدې ملګری ووژلو!»
سلطان په داسې حال کې چې د شهادت کلمه يې ويله، بيبرس ته وويل: «بيبرسه! ما ته او ستا ملګرو ته بښنه وکړه. ما تاسو وبښلئ. مننه چې زه مو له خپلې ګلنار سره يو ځای کړم.»
بيبرس په اوښلنو سترګو وويل: «زما پاچا! زه وېرېدم چې ته به ما ووژنې، ځکه مې مخکې ګوزار وکړ.»
سلطان وويل: «ما خو درته ويلي وو چې د جبل کلا به تاته درکوم.»
بيبرس وويل: «ما فکر کاوه چې ته ما په هغې کلا کې وژنې!»
سلطان په وروستي ځل وويل: «بيبرسه! د اسلام له دښمنانو سره وجنګېږه. دا زما وصيت دی.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا يې د اسمان په لور وکتل، یوه ژوره ساه يې واخیسته او د خپلې محبوبې شعار(اې زما اسلامه) په ويلو سره يې روح حق ته وسپاره:
سلطان قطز (محمود) ساه ورکړه او روح يې حق ته وسپاره. د هغه ملوک او سرتېرو په ژړا او فریاد هغه خاورو ته د سپارلو لپاره یووړ.

بیبرس په داسې حال کې چې د شهید سلطان ساتونکي يې مخکې او شپږ امیران يې تر شا روان وو، «صالحیې» ته ورسېدلو. هلته يې اتابک «اقطای مستعرب» ولید. کله چې اتابک د سلطان د مړینې کیسه او د هغه وروستی وصیت واورېد، ډېر غمجن شو. هغه د سلطان پر دې لویوالي حیران و چې د خپل قاتل لپاره يې د سلطنت وصیت کړی و.
اتابک که غوښتل، بیبرس يې نیولی شو، خو د سلطان وصیت ته يې درناوی وکړ او یوازې يې بیبرس ته وویل: «الله دې پر سلطان رحم وکړي؛ له تاسو چا هغه وواژه؟»
ټول چوپ شول، خو بیبرس په غمجن غږ وویل: «ما وواژه!»
اتابک ورته په ملامتیا وکتل او ويې ويل: «زما باداره! لاړ شه او د هغه پر ځای پر تخت کښېنه.»
بیبرس د مصر پر تخت کښېناست او د «ملک قاهر» لقب يې غوره کړ، خو وروسته يې د بد فال له وېرې دا لقب په «ملک ظاهر» بدل کړ. کله چې د قطز د مړینې خبر خلکو ته ورسېد، ټوله قاهره په ویر کې ډوبه شوه. خلکو د خپل عادل او زړور سلطان لپاره ډېرې اوښکې تويې کړې.
کله چې ستر عالم شیخ ابن عبدالسلام د خپل شاګرد (قطز) د مړینې خبر واورېد، ويې ژړل او ويې ويل: «که هغه ژوندی وای، د اسلام ځواني به يې بېرته راګرځولې وه. تر عمر بن عبدالعزیز وروسته داسې عادل او نېک پادشاه چا نه دی لیدلی.»
سلطان ملک ظاهر بیبرس د سلطان قطز د وصیت سره سم د اسلام د دښمنانو او صلیبیانو په وړاندې خورا قوي مبارزه وکړه او مصر يې په یوې سترې امپراتورۍ بدل کړ. یوه ورځ چې بیبرس د سلطان قطز کاغذونه کتل، یو لیک يې وموند چې «ابن زعیم» قطز ته لیکلی و. په لیک کې داسې راغلي وو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مصر پر تخت ستا د کېناستلو د مبارکۍ د لیک ځواب راورسېد؛ هغه لیک چې په هغه کې تا کلکه اراده کړې وه چې خپل هغه اصلي نوم او شهرت ته وګرځې کوم چې ستا پلار «امیر ممدود» درته غوره کړی و، خو د «ممالیکو» د امیرانو د بغاوت له ویرې —— که چیرې ستا له اصل او نسبه خبر شي —— له دې کاره تېر شوی وې او له ما دې مشوره غوښتې وه.
زه هم ستا له نظر سره موافق یم؛ ځکه نوم او نښان د عبرت او ارزښت معیار نه دی، بلکې خصلتونه او عملونه د اعتبار وړ دي. الله تعالی پخپله پوهېږي چې ته محمود بن ممدود، د سلطان جلال الدین بن خوارزمشاه خوره یې، او هغه ښځه(ګلنار) چې ستا مېرمن ده، ستا د ماما جلال الدین لور ده. نو د خدای له لوري همدا درته بسنه کوي.
خلک هم داسې انګېري چې ته یو «مملوک» (غلام) یې چې ستا همت، وړتیا او صلاحیت لوړ مقام ته رسولی یې، تر دې چې د مسلمانانو یو له سترو او عادلو پاچاهانو څخه ګرځېدلی یې؛ د خلکو له لوري هم همدا درته کافي ده.
زما او ستا امین خدمتګار «حاج علي فراش» سلامونه پر تا او زموږ پر شیخ «عزالدین بن عبدالسلام» وایو، او د الله رحمتونه او برکتونه دې پر تاسو وي.
دا لیک په «دمشق» کې د ۶۵۸ هـ ق کال د محرم په پیل کې لیکل شوی دی. ستا د فرمانبردار خدمتګار «ابن‌زعیم» له لوري.

کله چې ملک ظاهر بیبرس دا لیک ولوست، دوه غټې اوښکې یې له سترګو را روانې شوې او په ږیره کې یې ورکې شوې. هغه په پرله پسې ډول په ارامه غږ زمزمه کوله:
«ای زما ګران ملګری، قطز! د خدای رحمت پر تا شه. ستا پر لاره تللو زه څومره ستړی کړم! له دې ټولو هڅو وروسته یوازې ستا د ترسره کړو کارونو، یوې کوچنۍ برخې ته ورسېدم.»

# پای

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library